
زړهٔ مې تا ته دَ الفت په سجده پروت دے
نهٔ جلسه کړي نهٔ قعده اؤ نهٔ قيام

دیوانِ
سیّد محمد اسمٰعیل
بابا



اسمٰعیل هم ستا په مخ باندې شيدا يم
ستا جلوو يما اور کړي اکبرپوره

اوّل جلد

زړۀ مې تا ته د الفت په سجده پروت دے
نۀ جلسه کړي نۀ قعده اؤ نۀ قيام

دِيوانِ سيد محمد اسمٰعيل بابا

اسمٰعيل هم ستا په مخ باندې شيدا يم
ستا جلوه بيا اور کړي اکبر پوره

اوّلُ جلد

دکتاب نوم ———— دیوانِ سیّد محمّد اسماعیل

دشاعر نوم ———— سیّد محمّد اسماعیل

کتابت ———— ضیاء الرّحمٰن نورؔی سیفی تاروجبه

دچاپ خائے ———— رضوان پرنٹنگ پریس
حیات آباد پېښور

دچاپ کال ———— یکم رمضان المبارک سنهٔ ۱۴۳۶ھ

تعداد ———— ۵۰۰

سائز ———— ۸/۲۰×۳۰

هدیه ———— ۵۰۰ روپے

جلد ———— اوّل

د ملاویدو پته

(۱) نهروالا بادشاه صاحبؒ نزد اخوند پنجو باباؒ

ډاکخانه اکبرپوره تحصیل پبّي ضلع نوښار

(۲) ضیاء پینټ سټور جي ټي روډ ـ تاروجبه

پیر محمّد اسمٰعیل صاحب چشتی نظامی ؒ
یو دَروېش او دُروېش شاعر

حضرت پیر سید محمّد اسماعیل بابا ؒ زما پیر او مرشد دے. دَ ډیر ښکلي صورت او سیرت خاوند دے. په خبرو کښې ئې ډیر لوئې روحاني او علمي قوت دے. هر نظر ئې یو زبردست تاثیر او اکسیر لري. دَ تصوّف او بیا په تیره تیره دَ وحدت الوجود دَ مکاشفاتو او دَ مشکلاتو ډیر آسان تعبیرونه وړاندې کوي. دغه رنګ اکه زما غونډې ډیر تږي په دې "آب حیات" خپل زړونه خړوبوي.

نو څومره چې دَ صاحب دَ شاعرئ تعلق دے نو هغه دَ تصوّف او حقیقي عشق دَ غمونو، دردونو، مزلونو او منزلونو یو داستان دے دَ الفاظو، ترکیباتو او دَ اصطلاحاتو ژبه ئې ډیره عام فهمه، ساده او خوږه ده خو سخنویت ئې ډیر ژور سمندر دے. او هر غواص ترې دَ خپل همت مطابق ملغلرې راوباسي.

دَ پیر صیب په شاعرئ کښې چې دَ موسیقیت کوم توکي شامل دي که هغه صوتي موسیقیت دے او که معنوي دَ وَجد او استغراق بې پناه تاثیر لري. خصوصاً کله چې دا شاعري دَ سماع دوران کښې څوک اوري نو دَ خپل وجود دَ اِسرارو او دَ حقیقي وجود دَ اِسرارو یو داسې نطابق ومومي چې دَ وحدت الوجود دَ کیفیت معرفت ترلاسه کړي.

حسن بصري ؒ فرمائي۔

"سماع چې چا په نفس سره واوریده هغه زندیق شو او چا چې په

روح سره واوریدو هغه حق ته اورسیدو".

امام قشیري فرمائي چي" سماع (د الله له اړخه) ندا ده او په وجد کښي (د بنده له اړخه ارادتاً د دې آوازن) قبلیده ده ".[1]

ابوعلی رودباري فرمائي چي" د محبوب د مشاهدې په مخ د ارادو ظاهریدل سماع ده ".[2]

علی محمد مخلص د سماع په باره کښي لیکي:

سرود تسبیح آوازکه	له سامعه سره رازکه
دغه راز کاته نه اوري	د سامع په زړه حلازکه
سړے یولی کل وحق ته	هر آواز بانگ نمازکه
شنوایان به پرې پوهیږي	چي د زړه غوږونه وازکه
دغه ساز بعید نه اوري	وقریب ته ساز اغازکه
هرآواز تسبیح د "هو" که	غافل ولې احترازکه

د صاحب شاعری لکه څنگه چي ما وړاندې وئیلي دي چي د عشق د حاصلاتو یو خزانه ده. دوئي د حُسن او عشق په یو داسې مقام باندې ولاړ دي چي هلته د مجازی حُسن او عشق او د حقیقي حُسن او عشق بیلتون ختم شی. بناًسَت چي چرته وي که په ظاهر کښي وی او که باطن کښي یو رنگ وینیس.

یو مشهور فلسفي هیگل (Hegal) لیکي چي:

" د حُسن د خالق دوه حیثیته دي یو هغه حیثیت چي مطلق دے یعنی د غیب په حالت کښي دے او هغه په حواسونه بنکاره کیږي.

---

[1] امام قشیري رسالہ قشیریه (اُردو) ۵۲۶ مخ

[2] محمد عبدالنصیر بن عبدالبصیر علوی. تصوف انسائیکلو پیډیا ۵۱۱ مخ

دویم حیثیت ېې دَ نمود او جلوې دے چې په حواسو ځان منکشف کوي" دا خبره که مونږ دَ تصوّف په ژبه کښې بیان کړو. نو دَدې مطلب به دا شي چې مجازي حُسن دَحقیقي حُسن (مطلق حُسن) نمود او جلوه دکا. په مجاز کښې چې چرته حُسن دے هغه دَحقیقي حُسن مظاهر دي.[1] دَ دې حالت داخلي او خارجي حقیقت چې پیر صیب په کوم ندرت او جدات سره وړاندې کړے دے. دَ دې مثال دَ پښتو شعري ادب کښې نشته او دا ځان له وضاحت هم غواړي.

دوئي ېیکي چې:

ے دَتفسیر پانې مې نشته په لوح ییک دَ

په یو مخ باندې تفسیر په بل تصویر دے

هر ساعت ئې ماته دواړه مخه ینکاري

زهٔ کا تهٔ کړمه تصویر ته چې تحریر دے

له تحریره ئې زهٔ لولمه عالم ته

پکښې ښائمه تصویر چې بې نظیر دے

اسمٰعیل دَ بې نظیره نظیر وړکومه دا نظیر راله راکړے زما پیر دے

ے ستا دَ حُسن نظارې دي په هر مخ کښې

راته جوړې ننداري دي په هر مخ کښې

چې په تا باندې په کومه وړځ مئین شوم

له هغې راته تارې دي په هر مخ کښې

په هر مخ کښې دې لټوم ځکه دلبره

دَ وصال دې اشارې دي په هر مخ کښې

[1] نصیر احمد ناصر: تاریخ جمالیات (جلد دوم) ۱۱۵ مخ۔

دَ حضرت پیر محمّد اسمٰعیل صاحبؒ تول روحاني ژوندکي دَ عشق نه عبارت دے، او داسې عشق چې هیڅ غاړې او حدونه نهٔ لري. حبیب مبارکؐ دَ دې دَ پاره کله دَ بیابان او کله دَ جوړ سمندرا استعارې پکار راولي. لکه چې وائي۔

چې حاصل کړې څوک زیبا انعام دَ عشق
همیشه ئې وي په خُله کلام دَ عشق

مدام کړځي په دیدن پسې لیـــوالـه
ورته کیږي دَ دیدن الهام دَ عشق

په دریاب دَ عشق غرقاب وي لتون کاندي
نامعلوم دے همیشه انجام دَ عشق

اسمٰعیل دَ عشق قانون نولم کتاب کښې
حیران کړے یمه دې نظام دَ عشق

دې شعرونو کښې باباجیؒ یوه ډیره ښکلې او حقیقت کشا خبره کړې ده او هغه دا چې "نامعلوم دے همیشه انجام دَ عشق" او بله دا چې عشق یو ډیر وسیع نظام لري حکمتونه لري معرفتونه لري. ځکه چې دَ دې دریاب غواص خپله ورته حیران دے۔

"حیران کړے یمه دې نظام دَ عشق"

زیاتره صوفیائے کرام "حیرت" دَ روحاني ارتقاء او دَ مشاهدهٔ دَ ذوق بلند ترین مقام کښې دَ حیرت په حقله "اصطلات صوفیه" کښې لیکي چې:

"سالک کا مرتبہ احدیت میں محو ہونا اور تجلی اسم "ھو" کا مشاہدہ کرنا اسکے لیئے مقام حیرت ہے"۔[1]

[1] خواجه شاه محمد عبدالصّمد ۔ اصطلات صوفیه ۴۸ مخ

په "فرهنگ اصطلاحات وتعبیرات عرفاني" کښې ليکي:

"در اصطلاح اهل الله امری است که بر قلوب عارفین در موقع تأمل وحضور وتفکر انها وارد می شود وانها را تامل وتفکر، حاجب می گردد،" [۱]

ژباړه: "حیرت د اهل الله په نزد يو داسې امر دے، چې د تفکر او حضور په وخت کښې د عارفينو په زړونو باندې وارد ديږي او بيا تأمل او تفکر د هغوی د پاره يو حجاب وګرځي"

کله چې مونږ د باباجي رح د شاعرۍ مطالعه کوو نو دا حقيقت جوت ښکاري چې هغوی د حيرت "مقام" ته رسيدلے عارف دے او هم د دې لا مکاني فضا باشنده دے.

د حيرت په بيابان کښې د جمال په تماشه يم
د دلبر ادا ته ګورم د کمال په تماشه يم
د زيبا مخ په کتو يې زما تن همه ستي شو
هميشه مې داسې حال وی د دې حال په تماشه يم
اسماعيل يم له پخوا راسې راګير د عشق په جال کښې
نور به څۀ وکړم دې جال کښې د دې جال په تماشه يم

د حيرت په زولنو کښې بنديوان يم
په جانان پسې مدام په هائے سوران يم

د حيرت په بيابان کښې اوتر ګرځم
ساه نيولے په ارمان د دلبر ګرځم

---

[۱] دکتر سيد جعفر سجادی رح "فرهنگ اصطلاحات وتعبيرات عرفاني" ۳۳۱ مخ

ے په طلب دَ عاشقۍ کښې حيران کړځم
له پخوا په طلب دَ جانان ګرځم

ے تحيّر به ولې نهٔ کړمه دې حال کښې
چې وسيږم دَ حيرت په بيابان کښې

دَ باباجيؒ دَ شاعرۍ نه دا اندازه هم ډيره په آسانه لګي چې دَ "فراق وصال" په حالت کښې وسي. دا حالت دَ عاشق دَ شديد اضطراب او پريشانۍ وي. داځکه چې عاشق دَ لِي مَعَ اللهِ وَقتٌ. له مخه دَ وصال په درياب کښې غرق وي. خو دَ کُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْن" حالت ئې په يوُحال کښې نهٔ پريږدي. دَ هجر او فراق عالم سره ئې مخ کړي. دلته دَ عاشق دَ ژړا او خندا فرق ختم شي. دا رنګ عاشق هم محب وی هم محبوب لکه څنګه چې رحمان باباؒ وائي.

ے هغه څهٔ پوښتې له هجره له وصاله
چې پخپله هم محب شي هم محبوب

لکه څنګه چې دَ باباجيؒ دَ شاعرۍ نه اندازه لګي چې داعشق دَ هغهٔ مشرب دے. هغه هرڅهٔ په عشق کښې موندلي دي. عشق دَ هغهٔ باطن هم دے او ظاهر هم. دَ هغهٔ ټول حال تولهٔ شاعري دَ "فراق وصال" عالم دے. دوئي هم کله دَ ظهور نه بطون ته او دَ بطون نه ظهور ته لاړ راشي.

ے څنګه اوايم چې دايم چې نهٔ يم
چې نهٔ يم نو بيا څهٔ يم فنا کښې فنا يم
دے زهٔ او زهٔ دے يم بيل نهٔ يم يوځائې يم
دے دے او زهٔ زهٔ يم وفا کښې وفا يم

اعلیٰ ډیر اعلیٰ دے زۀ ئې ځان کښې اعلیٰ کړم
اعلیٰ کښې اعلیٰ یم اعلیٰ نه ادنیٰ یم
هم دۀ کښې فنا یم هم دۀ کښې جدا یم
له څۀ نا آشنا یم له څۀ نه اشنا یم

دَ بابا جیؒ دَ شعرونو نه دا صفا اندازه لګی چې دوئ دَ وحدت الوجود دَ مکاشفې او مرتبې نه اشنا شوي دي. او بیا دَ سُکر دَ حالت نه صحو مقام ته یعنی دَ بقا باالله په مقام کښې حاضر دے. دوئ دَ وجود او شهود دَ دوارو سیرنو ساتڼ دي.

زۀ خپلې خبرې پدې دُعا سره ختموم چې الله تعالیٰ دې دَ بابا جیؒ درجې نورې هم وچتې کړي. الله تعالیٰ دې دَ دوئ په وسیله مونږ دَ معرفت سره اشنا کړي. او مونږ دې دَ خپل توحید په اسرارو او رموزو ونمانځي. امین

پروفیسر ډاکټر پرویز مهجور
پښتو تخوا سټډي سنټر
باچاخان پوهنتون
چارسده



ځانګړے شاعر ځانګړې مرتبه

پیر صیب حضرت سید محمد اسماعیل د اخوند پنجو بابا په مریدانو کښې راځي. او هم په دغه مقام د درګاهِ عالیه چشتیه نظامیه نهر والا بادشاه صیب سجاده نشین دے. محترم احسان الحق چشتي نظامي صیب لیکي چې "د شعر د آغاز نه اګاهو ورته خپل مرشد والد بزرګوار حضرت سید مولانا عبدالسبحان چشتي نظامي فرمائیلي وو چې اسماعیله! تا نه به الله تعالیٰ د پښتو ژبې یو ستر شاعر جوړ کړي.

څو کاله وړاندې د پیر محمد اسماعیل صیب زوئ عطاء الرحمٰن چې زمونږ په یونیورسټۍ کښې سبق ویلو. یوه ورځ ئې د پیر بابا د شاغلو کتابونه ماله راوړل او ورسره ئې د پیر صیب محترم له خوا د ملاقات بلنه هم راوړه تو ما سمدستي د ملاقات وعده ورته کړه خو چې کله مې شاعري ولوسته نو د لیدو کتو شوق مې ورزیات کړي. دغه زمونږ د مینې آغاز وو، او بیا یو وخت داسې راغے چې زړه د پیر صیب په شاعرۍ او روحاني شان وشوکت داسې مئین شوم چې دغه مینه ورځ ترورځه زیاتیږي، کمیږي نه، او دغه حال د پیر صیب له خوا هم ښکاري.

کله چې ینیادم د پیر محمد اسماعیل صیب شاعري لولي یا اوري نو دهغه خامخا داګمان راځي چې شاعر ډیر اعلیٰ تعلیم یافته، په منطق او فلسفه پوهه او د ژوند په اسرار او رموز خبر دے په حقیقت کښې دغه ټول کمال او قدرت دوي ته د تصوف په لاره فطرت عطا کړے دے. دغه کمال ما په ورومبي ځل د حمزه بابا په ذات مبارک کښې لیدے

وو۔
پیر صیب محترم یو ډیر رُعب داره دروند پښتون، میلمه دوسته او خوش گفتاره بنیادم دے۔ لیرې لیرې خبرې کوي خو دَ مینې محبت ډکې او دَ اخلاص په توکو پوره خبرې وی۔ هر وخت دَ کنړ شمشیر مریدانو په مینځ کښې لکه دَ گلاب دَ گل ځلیږي۔ ما ئې په سوونو مریدان لیدلي دي، چې راځي په ډیر اخلاص دَ دوي لاسونه ښکلوي او غلې یو اړخ ته کینني۔ دَ دوئ شجره مبارک دَ حضرت سید علی غواص ترمذي (دَ بونیر پیر بابا) په لاره حضرت امام حسین رض ته رسي۔
پیر محمد اسماعیل صیب که یو خوا دَ ساداتو مباره کورنۍ لوي نوبل خوا دَ چشتیه نظامیه سلسلې روحاني پاکي لري او دَ دغې دواړو خویو نه پس دَ شاعرۍ لوړه مرتبه ئې هم په قسمت رسیدلې دَه۔ شاعري ډیر خلق کوي، خو د عرفان او تصوّف په اعلیٰ خوبیاتو برجقه شاعري نه یواځې تل تر تله ژوندۍ پاتې کیږي، بلکې خپل لوستونکي او اوریدونکي په پاکو خویونو او دَ الله او دَ رسول صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم په مینه مست او دَ انسان په غم غمژن ساتي۔
په دغه دَ غم او دَرد بې قرارۍ او بې یقینۍ په ډکه دنیا کښې که دَ اطمینان او اُمید څیره چرته ښکارې نو هغه هم دغه صوفیان او اولیان دي۔ که تاسو یقین نه کوئ نو چرته دغه رنګ محفل ته لاړشئ او غمونو او دردونو وهلي خلق په قرار او اطمینان وونیئ نو یقین به موشي چې دُنیا وهلي خلق دَ خپلو روحاني مشرانو په در کښې ځان دَ الله تعالیٰ او رسول ص په مینه کښې څومره مست او مسرور ساتي۔
صوفیان دَ مسلکونو او عقیدو نه بالا دَ خدائے پاک نزدیکت له ځان رسوي او نور خلق هم په دغه نور کښې دَ ځان سره رانغاړي

صوفیان دَ نفس په ځائے دَ روح په لمسه زغلي. دَ ځان دَ سپاره ومري خو دَ نور و خلقو دَ پاره دَ ژوند لارې چارې لټوي او معلوموي. مذهب په دلیل اډانه وي او تصوف/عشق دَ مذهب، مکتب، محراب او منبر دَ حدونو او قیدونو نه ازاد خپل منزل ته زغلي. په دؤ دؤ مزل کوي. په ظاهر کا خو دَ جسم او روح ترمینځه دَ څو دقیقو مزل دے خو کله کله په دغه مزل کښې کالونه او پیړۍ هم ولګي.

تصوّف هغه علم دے دَ کوم په وسیله چې دَ نفس پاکي، دَ اخلاقو صفائي او دَ ظاهر او باطن دَ سمونو او پاکولو لارې چارې معلومیږي دَ الله تعالیٰ پیژندګلي، دَ الله تعالیٰ دَ نزدیکت او رضا لارې پیژندل او په هغو تر اخره تلل دَ سلوک مقصد دے او دغه کار دَ مجاهدې نه بغیر نه کیږي. مجاهده جهاد ته وئیلے شي. دَ جهاد معنیٰ محنت، کوشش او زیار دے. دَ جهاد اعلیٰ قسم دَ خپل نفس خلاف جهاد کول دي چې "جهادِ اکبر" بللے شي.

دَ تصوّف پرانسته (پیل) دَ حضرت آدم ؑ نه کیږي. کله چې هغوي دَ خپلې کوږوالي حوّا ابيٰ سره دَ الله تعالیٰ په دربار کښې خواست وکړو ربنا ظلمنا انفسنا وان لم تغفرلنا وترحمنا لنکونن من الخسرین ه

ترجمه: اے زمونږ ربه! مونږ خپل ځان باندې ظلم کړیدے او که چرې تا مونږ ونهٔ بخښلو او په مونږ مو رحم ونهٔ کړو نو واقعي چې مونږ به ډیر زیات وزیانیږو.

دغه دَ تزکیه نفس دَ پاره وړومبے درخواست وو. ښکاري چې الله پاک انسان کله دې دُنیا ته راولیږلو نسو په دې ئې پوهه کړو چې کله ستا نه په شریعت کښې کوتاهي وشي نو ته په طریقت دَ دغې

کوتاهي ازاله کولے شي. نو دَ اکثر صوفیائے کرامو دا خیال دے چې شریعت او طریقت دَ یو بل سره جُخت تړلي دي.

حضرت داتا گنج بخش فرمائیلي دي. "ظاهر دَ باطن بغیر نه منافقت دے او باطن دَ ظاهر نه بغیر زندقه" علم باطن حقیقت او علم ظاهر شریعت دے. دَ علم حقیقت درې برخې دي. دَ الله تعالیٰ دَ ذات علم، دَ صفاتو علم او دَ حکمت او افعال علم. خو دَ شریعت درې ارکان دي. کتاب، سُنت او اجماع.

دَ دې باوجود ملامتي صوفیان هم شته او په خپله خبره هم تینګ ولاړ دي. په هرحال دغه دَ انسان او دَ الله تعالیٰ په خپلو کښې تعلق دے. مونږ دَ دغې نزاکتونو او رازونو نه بې خبره یو.

فقیرې او درویشي په هر رنګ کښې ډیره قیمتي او لوړه مرتبه ده. دَ پیر محمّد اسماعیل صیب شاعري دَ درد، سوز او ګداز نه ډکه، دَ جذبې په مانګه نمکینه، دَ تخیّل په فراخه وزرو په اوچت الوت او دَ فني نزاکتونو په رنګ رنګینه ده. دَ دوي اکثره شاعري او اصطلاحات بیخي نوې او دَ خپل رنګ دي. په شعر ئې دَ هیچا اثر نهٔ بښکاري. نهٔ رسمي اعلیٰ تعلیم لري او نهٔ تنقیدي کسب خو چې هر څهٔ وائي، نو دَ منطق، فلسفې او ادراک مزې لري. دغه شاعري دَ شاعرانو دَ پاره تکور، دَ عاشقانو دَ پاره آئینه او دَ صوفیانو دَ پاره دَ لارې توښه ده. شاعران ئې ښکلوي، عاشقان ئې په زړهٔ پورې نیسي او صوفیان ئې په پیټکي پورې تړلې ګرځوي.

دَ حقیقي حُسن او مینې مفسر پیر محمّد اسماعیل صیب دَ پښتو یو ځانګړے په وې. کار ئې هم ځانګړے دے او مقام ئې هم ځانګړے

دے۔ منته
په درناوي

نیټه : ۳۰ مئ ۲۰۱۵ء

اباسین یوسفزے
چیرمین پښتو څانګه
اسلامیه کالج
پختونخوا پېښور



دَ سرخبرې

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ٥ ټوله ثنا صفت هغه الله جَلَّ جَلَالُهٗ لره ده چاچې دَ قلم په ذريعه دَ انسان ذهن روحانه کړو. اودرود اوسلام په هغه نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې دَچا په ذريعه چې الله تعالىٰ دَ انسانانو دَ نفس تزکيه اوفرمايله. امابعد!

شکر دَ مولاکريم جَلَّ جَلَالُهٗ اداکوو. چې دَ مسلمان په کورکښې ئې پيدا کړو. او بيائې دَ حضور پُرنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ په اُمت کښې شمار کړو. او بيائې دَ امام اعظمؒ مقليدين وګرزولو. او بيائې دَ اوليائے کرامو دَ دربار غلامان او خدمتګار جوړکړو.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ثُمَّ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ چې دَ اهلسنّت والجماعت غونډې ټولګي سره زمونږ تعلق دے. پس دَ ثنا صفت نه خپلې موزوته راحمؒ دَ پيرصيب مبارکؒ دَ شاعرئ ديوان "ديوانِ محمّد اسمٰعيلؒ" کوم چې ستاسو په لاس کښې دے. دَ ډير محنت نه پس تکميل ته اورسيدو. الله تعالىٰ جل دَ دوي داسعي په خپل دربار کښې قبوله اوفرمائي.

اوليائے کرام اکثر په دوؤ حالاتو سره مخ وي. چې يؤ ته قال وئيلے شي. اوبل ته حال وئيلے شي. دا شاعري چې څومره شوے ده دا په حال کښې شوې ده. ځکه چې په قال کښې انسان دَ دماغو نه کار اخلي، اوپه حال کښې دَ انسان رُوح او زړه باندې يؤ کيفيت جاري وي. په دې دَ تصوف خاوندان ښهٔ پوهيږي. ځکه چې په خپل قدرت به يؤ شعرهم څوک جوړ نهٔ کړي. بلکه دا دَ الله تعالىٰ

يو پرزونه او عطا ده. چې چا ته نصيب شي.
زۀ په دې موقع باندې ټولو مريدانو او د پير صيب رح سره مينه لرونکو خلقو ته مبارک باد پيش کوم چې هڅوى ته دومره ښکلې ديوان ترلاسه شو.
الله تعالىٰ دې وړله سره زمونږ د صاحب مبارک رح ډير عمر ورکړي. او الله تعالىٰ دې زمونږ په سر د دې اولياۓ کرامو دا سايه هميشه اولري.


* آمين ثم آمين *

کاتب: ضياء الرحمٰن نورى
ايم اے - ايم ايډ
ګورنمنټ پرائمرى سکول غزا تاروجبه
ضلع نوښار
نيټه: ۱۵ جون 2015ء





بسم الله الرحمن الرحيم

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ



یا دَ وې را باندِ ځان هم تهٔ پخپله
لویه وې پرِ زما شان هم تهٔ پخپله
دا احسان هم تهٔ پخپله په ما کاندې
بیا ئې زما ګڼړې احسان هم تهٔ پخپله
عجیبه زیبا قانون دې دے حیران یم
جوړه وې ځان له خوبان هم تهٔ پخپله
هم پخپله په خپل ځان باندِ شیدا ئې
نور په ځان کړې عاشقان هم تهٔ پخپله
اسمعیل لتانه تا غواړم اے عشقه
کړې دا سوال په ما هر آن هم تهٔ پخپله






زهٔ خو صفتخوان دَ خپل محبوبِ الٰهی یمه
زهٔ ئې دَ عشق دام کښې له پخوا راسې بندی یمه
ما خو ورته لارې ډیرې اُختارلې سترے شومه
داسې په دلبر پسې عالمه فریادې یمه
ما دَ یار په عشق کښې هُنر زدهٔ کړو هنرمند شومه
ځکه دَ عشق باب باندِ دا زهٔ داسې حاوي یمه

پروت په بیابان کښې یم زړې زړې په یار پسې
وېشتې ئې په غشو د مژګانو پنهړې یمه

چرې په روغ نه شم د دُنیا په طبیبانو زه
غوارم ئې مرهم د وصل ډېرې ئې ارمانې یمه

ما اسمٰعیل څکه ګرېوان روغ په دُنیا خوش نه کړو
داسې ګرېوان څیرې زه اوس نه یم ازلې یمه





لتا زار لتا قربان زما مرشده
ته مې یاد ئې په هر آن زما مرشده

رهنما د کاملانو ئې کامله
لاره خائې د سُبحان زما مرشده

ته هم یار ئې هم ربیار ئې ما د یار ره
کړه واصل مې د جانان زما مرشده

رب درکړې دانائې د حقیقت ده
معرفت لرې روخان زما مرشده


کرامات لتا څرګند دي بې مثاله
په دې توان ئې پهلوان زما مرشده

فخر کړم په غلامئ دا ستا په درکښې
دا په ما د رب احسان زما مرشده

ستا په درکښې جولئ ډکه لتا غوارم
ستا درګاه دے عالیشان زما مرشده


پائنده ستا په کرم زړه اسمٰعیل یم
بې لتا څهٔ په جهان زما مرشده





یمه ناست د خپلو اوښکو اسطخر[1] ته
پکښې ګورم د اشنا ښکلې بشرته
کهٔ مدام معلوموومه اُصطُرلاب[2] کښې
معلومیږی همه حسن د یار چرته
امتحان کښې مې له ویرې ځنکدن شهٔ
ممتحن مې په انداز ولاړ دے سرته
په تکمیل د امتحان یه مرګے راشي
ما به بیائي خنده رویه د یار دړته
سیلا نے به یم مدام د یار په دړ کښې
اسمٰعیل به چرې راشم په بیرته





چې دلبر راکړو د مینې خطاب ماله
تېر په زړهٔ کړو د هجر دریاب ماله

---

[1] اُسطخر معنیٰ ده "تالاب"
[2] اصطرلاب : یوه آله چې پرې د نمر او ستورو بلندی او مقام معلوموی۔

سیلابونه تړي دا وخکو راسپیري
راځئ کله د دي او خکو حساب ماله

نهٔ پوهیږم په دې راز زهٔ لا ترا اوسه
کهٔ ئې کړلې د تن غوښې کباب ماله

د یار مینې بندیوان په بیابان کړم
دے بندون د یار په مخ دا نقاب ماله

په ازل چې کله وېش کیدهٔ د برخو
کړو ئې په برخه دا د عشق انتخاب ماله

خنک به ما ته د همه عشق سبق یاد شي
چې راکړے ئې نا تمامه کتاب ماله

یار مې ماته دا د عشق سبق راښائي
کړو ئې همېش خبرې کړیوان په دا باب ماله

کهٔ وهمه زهٔ ناري مدام و یار ته
یار مې کله د نارو که جواب ماله

جل وهلے او چې شونډې ځکه کړځم
دے ځائے کړے ئې په زړهٔ کښې افتاب ماله


کهٔ هر څو دا ما کوله مینه پټه
آخر پوه ته کړو دې مینې حجاب ماله

اسمعیل د ساقي در کښې توبے پروت یم
کهٔ ساقي راکړهٔ د مینې شراب ماله

پہ مکتب دَ عاشقۍ کښې حیران ګرځم
له پښتو نه پہ طلب دَ جانان ګرځم
چې ساقي راله شراب دَ مهر راکړه
مستانه له هغې راسې ناتوان ګرځم
سرې لمبې دَ بیلتانهٔ دې پہ ما پورې
همیشه دَ سپین بشر پہ ارمان ګرځم
دَ وصال نارې وهمه پہ هر لوري
وار خطا یمه پړ نمه چشمان ګرځم
اسمٰعیل به چرې جار نهٔ اوځم له عشقه
کهٔ هر څو مره غمزه دا پہ جهان ګرځم

پہ صحبت دَ درویشانو ځان خمار کړه
محبت تر نه حاصل دَ کر دکار کړه
عمر تیر کړه تول پہ عشق الٰهي کښې
هر قدم کښې دې یا دونه دَ خپل یار کړه
کهٔ دیدن غواړې دَ یار پہ دوامه کوڼه
درویشان چې کوم خواځې پسې رفتار کړه
کهٔ چمن کښې اوسیدهٔ همیشه غواړې
نهٔ قبول دَ درویشانو هر ګفتار کړه

معطر به په وصال دَ خپل جانان شي
ځان په باغ دَ دروېشانو کښې ماليار کړه
که وائې نوش مې کړے شراب دَ يار دلبو
اسمٰعيل غوندِ کړيوان تول تار په تار کړه



کړمه يار پسې دَ خلقو نه وير پېټ
ځي له ستر کو مې دَ اوخکو بهير پېټ
هر ساعت ئې کړم يادونه صبر يم
ليک په زړه مې دَ يادونو تحرير پېټ
سپين رخسار يه ئې له ما څنګه هير بى
کرځوم چې ئې په زړه کښې تصوير پېټ
دَ زيبا ستر کو په غشوئې يمه ويشتے
دا زخمونه دى زما په تقدير پېټ
په هر وَل باندِ ئې دَ زلفو زړه بندى يم
دا بندونه مې دے دَ غيرله ضمير پېټ
ما شراب دَ مهو نوش کړه پرموږ نه شوم
کوم نور وپسې هم لا شو کير پېټ
اسمٰعيل کړمه دَ يار مينه په پېټ
يار مې څکه کوى ما ته تقرير پېټ

نهٔ قرار شهٔ نهٔ قرار شهٔ نهٔ دیار شهٔ زما زړهٔ
کړی له ورایه دیدنونه چې خمار شهٔ زما زړهٔ
چې خمار شهٔ مدام ژاړی دلبروینې خنده رویه
هر ساعت دَ غنچه فم په انتظار شهٔ زما زړهٔ
چې دلبر به کله لوکړی دا نقاب له خپله مخه
دَ بیلتون په زولنو کښې ګرفتار شهٔ زما زړهٔ
بې له اوره ئې تراوسه څهٔ اونهٔ لیده دُنیا کښې
عزرائیل ته انتظار کښې ډوب په نار شهٔ زما زړهٔ
زما زړهٔ چې اسمٰعیل ئې دعوه کیږینم زمانه وو
چې دَ چاوو هغه یوړو چې سنګار شهٔ زما زړهٔ

دَ خپل یار دَ یاره مینه دَ عالم کړم
قبول څکه دَ هر چا په ځان ستم کړم
په لټون دَ ګل زخمی په خارستان شوم
تمنا دَ یار دَ وصل دَ مرهم کړم
هر ساعت په خپل دلبر پسې ژړیږم
دَ بُلبل په شان غږونه زیروبم کړم
په مقراض دَ صبر خپل زړګے غُسوومه
ستم ګر و سره مینه په هر دم کړم


زړه به چرې له وعدې نه نه ځار اوځم
په دې مینه که هر څو زړه قلم کړم
که هر څو جفا له ما سره څوک کاندي
دا وفا کړم چې مینه د صنم کړم
اسمٰعیل به له چا څنګه ګیله مند شم
چې بندي په تورو زلفو محترم کړم

په چاپېر[1] د غم ناست یمه دلګیر زړه
حیران ګوره هر لوري ته کوم وِیر زړه
په شنا له بحره راغلمه دې تون[2] ته
انتظار کښې یم د فلک[3] دلته زهیر زړه
مددګار مې بې له خدایه بل څوک نشته
تنهائي لوم لیکلي په تقدیر زړه
په څو واره طوفانونو یم زرپلے
د یار غم کښې د ځان نه وینم نظیر زړه
اسمٰعیل د یار په یادو پائنده یم
دا دولت لوم په دا یمه امیر زړه

راښکاره چې دِ رخسار کړو بیا راغلي
لږ ساعت له دِ بهار کړو بیا راغلي


۱ـ چاپیر: ګیر چاپیره. ۲ـ تون: وطن، ځای. ۳ـ فلک: بخت، نصیب.

چې دِ وار دَ تیرو تورو په ما اوکړو
تن دِ ټول زاله پرهار کړو بیا رانغلې
خدائې دَ پاره سپین بشو دِ راڅرګند کړه
زما عمر دِ په دار کړو بیا رانغلې
چې تر څو به انتظار کړم ستا دَ سترګو
تل په ما دِ انتظار کړو بیا رانغلې
اسمٰعیل دِ همېشه لاړې ته ګوري
چې دَ لار دِ پهره دار کړو بیا رانغلې




زۀ چې دا زړې زړې اهونو کړم
دا ستا په بېلتون کښې دې یا دونو کړم
زۀ چې ګرځومه دا ګریوان څيرې
دا زۀ دیوانه دې ستا غمونو کړم
سر په زنګانۀ یم شو کېږي کړمه
داسې زۀ دَ اوښکو سیلابونو کړم
زخمي دِ کړم په غشو دَ مژګانو زۀ
کېر دِ زۀ دَ زلفو په دامونو کړم
حُسن دِ سیوا دے ټول عالم باندِ
حُکه دِ زۀ سر په تورو غرونو کړم
هر ځه مې نارې وهي بید تا پسې
رنګ دَ بیابان زۀ فریادونو کړم

ښنکه چې پتنګ په شمع ځان سیزي
داسې په خوار ستي اورونو کړم
ست چې د کوثر ما اسمٰعیل ته کړي
قبول به ئې په ادا اؤ په نازونو کړم




زۀ به ستا د در غلام یمه تر عمره
طمع دار به دِ د جام یمه تر عمره
د بیلتون دف دِ مدام راته غریبي
ستا وصال ته لاس په نام یمه تر عمره
کړ د غبار د بیلتانۀ کړه له مالري
زۀ خادم ستا د خدام یمه تر عمره
ستا په ښنګ کښې او سیدۀ له ربه غوا ړم
زۀ سائل د دې انعام یمه تر عمره
اسمٰعیل مدام ریبار ته لاړې ښارم
انتظار کښې د پیغام یمه تر عمره



چې ستا مینه مې په زړۀ کښې راپیدا شوه
خواتوړی[له] مې د دُنیا له هر اشیا شوه

له خواتوړی: نفرت

ستا دَ مینې په اَتش کښې ډېر سوخته[ل] شوم
راته جوړه له وفا لوبه بلا شوه
دې بلا دَ بېلتانه چې کړمه نوش زړه
ستا په نوري دا روانه په صحرا شوه
هر ساعت وایم چې اوس به دلبر راشي
همه عمر مې ملګرې دا سودا شوه
انتظار دَ اسمٰعیل اسمٰعیل څه کړو
لېتومه ئې ستا په مینه ئې دا سزا شوه



دَ تن وینې مې کړې اوچې بېلتانه
ډېر غمونه مې په زړه دي مېلمانه
ستي پروت دَ عشق په اور کښې دَ یار غم کړم
زړه خبر دَ خوشحالۍ یمه لانه
ډېرې اوښکې مې جړکې یارېسي لاړې
لا تر اوسه مرور دې پښلانه
ترې ترې شومه زړه په بیابان کښې
زړه عادت یم په وفا په جفانه
اسمٰعیل دیدن دَ یار غوارم که راشي
چرې کړې ما دَ بله سودانه

ل سوخته۔ ستي

پہ مکتب چې شوم درون د محبّت
راته یې اوښوده قانون د محبّت
امتحان چې مې شروع شهٔ پہ مکتب کښې
لیک پہ زړهٔ مې وومضمون د محبّت
ممتحن دا امتحان لہ ما نہ اخلی
څې لہ سترګو مې سیحون[1] د محبّت
د یادونو دې سبق یم حیران کړے
داسې کړمہ دې بیلتون د محبّت
امتحان د محبّت همیش جاری وی
ځکہ زهٔ شومہ مجنون د محبّت
اسمٰعیل کومہ کړ د خپلو اوښکو
چې دا تخم شی زرغون د محبّت




د خپل زړهٔ کتاب کښې لولم ستا یادونہ
ورو پہ ورو مې پر زیاتیږی پرهرونہ
ستا لہ یادو مې خیال بل خوانۂ جارُوځی
کۂ هر څو مې پہ دې اور سوزی هډونہ

[1] سیحون: د یو دریاب نوم دے.

اے دلبره په دا چاره پاتنده یم
هم دی مالره مرهم اوهم داغونه

زه دغم دسمندر دفلک ملاح یم
له فلکه مې هم برلاره اهونه

اسمٰعیل دِ لټوی نا آشنا وطن کښې
ستا دَ وصل که پرِ اولګی بادونه



دَ ژوندن په خارستان کښې ګلستان لټوم زه
توره شپه چې پرِ رڼا شی دا سامان لټوم زه

دَ ریبار له خلې خبریم چې لټون به کوم ترمرګه
پس له مرګه چې موندې شی دا جانان لټوم زه

زه الله جل دَدې دَ یاره په ویران جهان پیدا کوم
په ویران جهان کښې ګرځم تل ودان لټوم زه

دَ آشنا دیدن له ځمه په سلګو سلګو ژړیږم
ورک له ځان یم دې سفر کښې خپله ځان لټوم زه

که دِ ځان اوموند جانان دِ تا سره دے اسمٰعیله
ځکه ځان پسې هر لورته دا جهان لټوم زه

زړه به هاند[۱] کوم ترمرګه ستا دَ مینې
هم هر چا لره دا برخه عطائي دَه

چې مدام مې پر نه څښې دَ زړه ګی وینې
اے دلبره عجیبه دې دانائي دَه

په دا لاره چې تلے نه شمه بیل زړه
دا چې څم پرې دا خوستا رهنمائي دَه

هالې[۲] څه دی بې له مینې چې به ئې اوکړم
دې سفرکښې بس هم دا یو ګډائي دَه

عاقبت به په دا چاره دولتمند شم
ما منلې په ځان څکه دا خوارې دَه

په هامون[۳] کښې چې کړم یون زړه دَ یار دَرته
دا په ما اسمٰعیل ستا مهربانی دَه


دَ غمونو توره شپه ده سحر نشته
لا تراوسه مې مرهم دَ پرهر نشته

پرهر جلے یمه پروت په بیابان کښې
لا طبیب له زما خواشه ګذر نشته

---

[۱] هاند: کوشش [۲] هالې: دلته [۳] هامون: بیابان

پرهرونه مې لا ورو په ورو زيات تېرې
هيڅ تجويز ئې ما سره د ځنځ نشته
د بېلتون په نمو ورستېږمه خدايه
له مودو راسې مې سوري په سر نشته
اسمعيل به وايه ښكه شم بې غمه
چې په ښنګ كښې مې زړه پورې دلبر نشته



چې توقع دِ د ديدن لرمه
ځكه ښلګې د زنګدان لرمه
د بېلتانهٔ په بيابان كښې مدام
په زړهٔ ارمان سنا د چمن لرمه
تا چې يوٌ وار اوكړهٔ كاتهٔ د ميني
ځكه اهونه په دهن لرمه
ګله زخمي دِ په اغز وشومه ډېر
په وينو سره ځكه لمن لرمه
زهٔ اسمعيل به بې وفا نهٔ شمه
مدام به ستا په لور رفتن لرمه

چې توبه نهٔ که له بدو نباهی ده
بې توبې ئې په خلهٔ هسې مریدی ده
دَ لباس په طریقت کامیابي نشته
چې په لار دَ حقیقت ځی کامیابي ده
نابینا به معرفت څهٔ رنګ له اوکه
چې پرده ئې په چشمانو ګمراهي ده
چې په دام دَ تورو زلفو بندی نهٔ وی
کهٔ دعوه کاندی دَ عقل کم عقلي ده
هوښیارتیا دَ عشق مکتب نه حاصلیږی
په دُنیا بس دغه چاره کمالی ده
اسمٰعیل دَ عشق هُنر له ربه غواړم
ما منلې دَ خپل پیر رهنمائي ده

په هر دم اؤ قدم ستا دَ زلفو هر خم یادوم یا نبیؐ
زړهٔ زما شهٔ قلم ستا په هجر صنم شومه ډیر پړی
ستا دیدن نه لیوال یم حبیبه
دا مرهم لتا غواړم طبیبه
دا ناری زړهٔ وهم ځی له ستر ګو مې نم یم بلبل سحری

انتظار کښې مې عمر تېر شو پر


زما تن په دې اور کښې سوزېږي
يو ارمان دا لرم چې بس تا اوينم دا مې سوال دے عمري
ستا رخسار مې يادېږي جانانه
بې لتا عمر ګوان دے بې شانه
په دې خوږمه قسم زما زړه ترتم کښې سنا غوارې يارې
د دُنيا دې ژوند ون ته حيران يم
ځنګ به تير شي ډېر تنګ په جهان يم
مبتلا په دې غم اسمٰعيل يم محکم سيد يي مرشدي





که بهار غواړې ړومبے ترخزان شته
ځان زخمي کړه په اغزونو ګلان شته
کومه لار چې د يار د ړته ده ورغلي
طوفانونه په دې لاره د هجران شته
هر ساعت پکښې د غم نوبت غږېږي
دې سفر کښې د بيلتون مطربان شته
دا سفر دے د يادونو په صحرا کښې
هر عاشق لره د اوښکو باران شته
د ديدار په لاس به يار نځي هم دړکړي
خو بدله کښې ورکول د د ځان شته

اسمٰعیله چې دَ یار په لوري دروځې
وایه مه چې بل څهٔ هم په جهان شته



چې حاصل کړي څوک زیبا انعام دَ عشق
همیشه ئې وي په خلهٔ کلام دَ عشق
مدام کوځې په دیدن پسې لیواله
ورته کیږي دَ دیدن اِلهام دَ عشق
تل ژړا کاندي له خلقو نه په پټه
چې څوک اَوخیژي یو وار په بام دَ عشق
په دریاب دَ عشق غرقاب وي لټون کاندي
نامعلوم دے همیشه انجام دَ عشق
صبح و شام غواړي شراب دَ یار دَ لبو
بې افطاره ئې وي جاري صیام دَ عشق
دَ دهٔ مرګ په دهٔ اختروئ دا قانون دے
ورته اوشي دَ هلال پیغام دَ عشق
اسمٰعیل دَ عشق قانون لولم کتاب کښې
حیران کړے یمه دې نظام دَ عشق



پہ واٹی[1] دِ ډیر ھجوم دَ زلفو خوړ دے
پہ زړګی مې ځکہ پوړې مدام اوړ دے

پہ څو واړ مې دړتہ خواست دَ دیدن او کړ
کوړہ منظور ئې پتا خاش[2] یم حال مې نور دے

لہ عالمہ پټ دَ عشق مړګو نو شغول[3] کړم
صریخ[4] مړک بہ راله راشی ستا پہ لوړ دے

ستا جھت تہ دړ روان یم خوښہ سیمتا دہ
چې څہ واڼې زړہ مې تا پسې نسکوړ دے

اسمٰعیل بہ دا وفا مدام کومہ
دَ دُنیا لہ نوړ و چاړ و مې زړہ توړ دے

خواجہ غریب نوازہ زما دَ زړہ آرامہ
ساقی ئې دَ خوارانو سیراب مې کړہ لہ جامہ

دیدن تہ دِ لیوال یم مئین دِ پہ جمال یم
دلبرہ بې مجال یم قائل ستا دَ کمال یم


ھر آن دې یادومہ قربان دِشم لہ نامہ

بیلتون دِ کړم زھیر یادیږی مې اجمیر
رھبرئې بې نظیر زیبا بدرِ منیر

---

[1] واٹی : رخسار [2] خاش : عاشق [3] شغول : دفن [4] صریح : بنکارہ

چینه ئې دَ فیوضاتو تېکاره نا تمامه
محبوب دَ پاک اکبرئې زما لخت جگرئې
عجب بشکلے بشرئې بښکاره لکه دَ نمرئې
همېش مې اقتداء دهٔ په تا پسې امامه
سلطان الاولیاء ئې ځلنده رهنمائې
تیرَ و لره رڼائې خواجه مردِ خدائې
صفت دِ نا تمام دے عاجزیم له کلامه
والله ډیر غنچه فم ئې چشتیانو له مرهم ئې
دَ ټولو محترم ئې یادئې په هر دم ئې
اسمٰعیل لره قراره مهربانه گل اندامه



دَ جمال په کمالاتو کښې غرقاب یم
له موډو راسې لاهو په دې دریاب یم
دَ رواج پردو کښې پټ سوزم له خلقو
په خپل ځان باندِ کواه یمه کباب یم
په ناره ناروې حلق اوچ شهٔ له نمه
ځکه پروت هسې بې دمه لاجواب یم
روغ به نهٔ شم چرې هم بې له وصاله
څه مېن په ډیر زیبا عالی جناب یم
دا راز ونه چاته نهٔ دی دَ ویئیلو
اسمٰعیل ځان ته پخپله په خطاب یم

خبر نهٔ يې چې دا کوځې پريشان ولې
کوځې دا د لستوڼي ماران ولې

چې پالنه د د زړهٔ ټوټې نهٔ شي
ورکوې يې نهٔ ټوکه په زبان ولې

خلاص به نهٔ شي له کړاوه دي ياري کښې
ډير حيران يم چې دښمن يې د ځان ولې

وفادار دُنيا کښې شته لټون يې اوکړه
کړې د ټپي په ځائے ته دا تاوان ولې

اسمٰعيل وايئ خرابې پريږده راشه
هيروې په دې چمن کښې طوطيان ولې



په خيل ښکلي کښې که ته خوش د ديار نهٔ وے
راکښلا به د هجران به بازار نهٔ وے


که مو تدل د ګل کيدے شوے بې کهوونه
بيا به چرې هم په ښکلي کښې يې خار نهٔ وے

بې ژړاکهٔ د يار در ته څوک ورتللے شوے
عاشقان به يې په زړونو پرهار نهٔ وے

بلبلانو به چغار نهٔ کهٔ دُنيا کښې
اوريدے يې کهٔ صفت د ماليار نهٔ وے

بوراګان په خزان نهٔ وو داسې زېلي
ګوځېدهٔ کهٔ ئې په طلب دَ بهار نهٔ وے
کهٔ ليدے ورنه په شمع کښې يار نهٔ شوے
پتنګ چرې به هم سوے رُخسار نهٔ وے
کهٔ يار نهٔ وے څهٔ به نهٔ وو بې له خدايه
اسمٰعيل له به ئې هم انتظار نهٔ وے





جنجړ[1] دَ جنجالي[2] دَ ګل په څير شومه ميره کښې
شومه په جوغن[3] کښې ښهٔ ميده په ميکده کښې
جند[4] چې مې په خوا کښې شهٔ تما ورته حيران شوم
شهٔ مې دَ جنان[5] سره پيوند په توره شپه کښې
دَ يار مې همه حُسن په دې تُون کښې ليدے تشې
څنګه چې وی شمع بله شوې په پرده کښې
جوق[6] دَ پتنګانو چې چوړلک وهٔ له دهٔ نه
دے وو خنده رويه هر پتنګ ته اندازه کښې
واچوهٔ جولان[7] ما اسمٰعيل ته دهٔ بخله
اوړې ګړلو پوړې په جوړق[8] زما سينه کښې




[1] جنجړ: مړاوے [2] جنجالي: يو بوټي چې زيړ ګلونه نسي. [3] جوغن: لنګوټ
[4] جند: لخت جګر (معشوق) [5] جنان: زړه [6] جوق: ټولي [7] جولان: ټولني [8] جوړق: دَ پوښتې غټې (زړه)

د دُنیا په هر ساعت کښې ژړا اوکړه
مسافرنې خپل وطن له کډا اوکړه
چې ئې کړې کډائې لتانه وړاندې
دې بادشاه پسې د عشق اقتداء اوکړه
اے نادانه د حسد کاروبار پرېږده
په بازار د محبّت کښې سودا اوکړه
دې سودا لره پیدا ئې په دُنیا کښې
هره چاره بس د رب د رضا اوکړه
اسمٰعیل د رب رضا همیشه غواړم
خپل مرشد مې داسې چاره په ما اوکړه


غم په ښکنک اوپېژنمه چې زهٔ غم شوم
بندیوان په تورو زلفو د صنم شوم
په ما ئې غشي د مژګانو راوریږي
نښانه د یار د غشو په هردم شوم
فریادونه کړم شراب د لبو غواړم
طمعه دار ئې همیشه د دې مرهم شوم
سزا وار داسې دې عشق کړم په دُنیا کښې
ستي پروت لکه په اور د جهنم شوم

اسمٰعیل ناري وهمه په دې اور کښې
تماشه د ښار په مینه د عالم شوم




نه یو ګل مې د چمن ستا بې اغزو اولیده
نه مې ځان په آئینه کښې بې ځلکو اولیده
د حیرت په بیابان کښې ستا د مخ په ارمان ګرځم
که ښار مې ستا د لور په اشارو اولیده
که د دار په سر کیدے شوے دید نو نه دُنیا کښې
په خوواړ مې ستا د زلفو په رسوا اولیده
نه مې توان د بیلتا نه شته نه زه توان لوم د صبر
تن مې تل ستا په منقل کښې په لمبوا اولیده
اے نګاره اسمٰعیل خو ستا د مینې اور اېره که
بیا په روغ شي ستا رخسار که ئې اېرو اولیده






د خیل مرشد په مینه همه جهان لټوم
دے مې رهبر د مینې څکه جانان لټوم
په بحر و بر ګرځمه زه لرو بر ګرځمه
زخمي جګر ګرځمه ډیر په هنر ګرځمه
د خیل دلبر د وصل هغه بوستان لټوم


چې ئې زخمی په غشو زړهٔ دَ مږګانو یمه
غلام دَ دَهٔ په مینه زړهٔ دَ خوباتو یمه
کړمه یادونه دَ یار بشکلی چشمان لټوم
یم آرمانی ئې دَ دِر لری ډیر بشکلی بشر
زلفان ئې دِی معطّر هیڅ دی پرِ مشک وعنبر
چې نرِ شرمیږی دا نمر هغه تابان لټوم
دَ بیلتانهٔ په توره چې ئې پرهر یمه زړهٔ
په انتظار دَ هغه لختِ جګر یمه زړهٔ
وریږی ژارم مدام ګلِ خندان لټوم
په غلامئ کښې دَ یار خوښ یم کهٔ یمه په دار
خیردے په اور دَ مینې کهٔ سوزم لیل النهار
زهٔ اسمٰعیل دَ مینې دَ هنرتوان لټوم



دَ دار سر باندِ ولاړ زهٔ داسې خهٔ یم
دَدې دار راته وئیلی خپل اشنا دی
دَ هابیل غوندِ وړومبے مقتول زهٔ نهٔ یم
دَ عشق تیغ داسې وژلی هزار ها دی
قاتلان مې عجیبه وژل زما که
زما زړهٔ کښې ماته پټ دی رهنما دی
په خو وارهٔ ئې وژلے یم عالمه
داسې مری په خوخو وارهٔ چې شیدا دی

عاقبت به مې مرګ ېیائی آشنا لــه
عاشقان مدام اخته په دې سـودا دی
رحمان دِ پس له مرګه مبارک شــه
اسمعیله مخکښې نښته دا رښتیـا دی





په شرابو چې شوم زۀ خُمار دَ عشق
هغه دم شۀ په ما پورې نار دَ عشق
ډیر غمونه مې له زړۀ نه راتوکیږي
ما خوړلے دے په زړۀ کښې ازار دَ عشق
دَ بلبل په شان نارې وهم فریاد کرم
نارې نۀ اورې زما مالیار دَ عشق
زما مخ باندِ ولې جوړې کړے اوښکو
لا هو کوي یمه دې آبشار دَ عشق
زۀ غرقاب دَ عشق دریاب کښې تل اوسیږم
چرې نۀ لرې دریا قرار دَ عشق
دے سفر مې عجیبه دَ عشق په لاره
جوړه شوې مې په زړۀ دکه لار دَ عشق
زړګ په ښکلو وهم دَ عشق له بوجه
چې کړوي تیر زما په تن دیوار دَ عشق
په بل څۀ به ښکلګ زما تنده شي ماته
له بخوا یم عادتي میخوار دَ عشق


جار به نهٔ اوځم چرې زهٔ له وعدې خپلې
چې ځې کړې دے نو وار اقرار دَ عشق
تاج اؤ تخت کهٔ دَ دُنیا ؍ اله څوک راکړي
زهٔ به ئې کړمه په یو آن کښې زار دَ عشق
بې له عشقه په ژوندے به مرحساب شم
یمه خوښ پړِ کهٔ زهٔ یم په دار دَ عشق
اسمٰعیل به څنګه بله سودا اوکړم
چې په زړهٔ کښې مې دے جوړ بازار دَ عشق


کله چې دِ تختے یم دَ مینې په دې دام
هغې راسې نهٔ یم زهٔ هیڅ کله په آرام
ماوې کهٔ ته به راشې ته راغلې زهٔ به څهٔ کړم
خدائې خبر چې څهٔ دے زما پس له دې انجام
ملوک چې کچکول واخست به بدرئې پسې روان شهٔ
زما کچکول په غاړه دے ستا مینه کښې مُدام
چې کله به جانانه ستا دیدن زما نصیب شي
زړې زړې به تاپسې زما شهٔ هر اندام
لارې ته دِ ګورمه چې کله به ته راشې
خوبه دې جانانه یم راستلو ته په قیام
کله رسیدے شي خوبان تا ته په ښائست کښې
ډیر ښکلے آقائې دے ښائست په ستا تمام

هر یو پیغمبر ؑ وئیل چې لیدے مې جانان وے
څکه شوې په شپه دَ معراج تهٔ دَ دوئې امام
عیسیٰ ؑ وئیل اُمتی مې دَ حبیب کړه ذوالجلاله
دا سوال دَ دهٔ قبول کړو ذوالجلالِ والاکرام
هم کړې ابتداء ئې دَ عالم وه ستاله نوره
هم دَ رسالت ئې بیا په تا کړو اختتام
زبور دے کهٔ تورات دے کهٔ انجیل دے واړه حق دی
نازل په تا قرآن دے نشته داسې بل کلام
صفت دِ ناتمام دے پوره کیږی نه هیڅ کله
بس وایم اسمٰعیل مدام په تا درود سلام

چې په اور کښې دَ مرجان وی زړهٔ به ئې څهٔ کړم
بې منزله کهٔ جانان وی زړهٔ به ئې څهٔ کړم
بنهٔ پوهیږم چې منزل ئې دلته نشته
کهٔ څکاتهٔ ئې راته حیران وی زړهٔ به ئې څهٔ کړم
دَلحد تورو تیرو کښې ژوندے پروت یم
کهٔ روښانهٔ درست جهان وی زړهٔ به ئې څهٔ کړم
همیشه چې غم خوری کړم دا مې پت وی
چې مې دغسې ګرزان وی زړهٔ به ئې څهٔ کړم
زړهٔ خو وایم چې مدام وے دَګل ځنګ کښې
چې مابین کښې خارستان وی زړهٔ به ئې څهٔ کړم


اسمٰعیل دَ یار دَ دړه په لښتون کړځم
بې له یاره که خوبان وي زڼه یه نۍ ځه کړم





تورې شپې مې دَ غمونو په نصیب دي
نارې ځکه مې په شان دَ عندلیب دي
دَ دلبر په تورو زلفو بندیوان یم
خورې کړې ئې په مخ دا په ترتیب دي
کوم طبیب نه چې نارې وهمه خلقه
دا وارونه په ما کړي دې طبیب دي
سپین رخسار مې دَ نګار راته بعید دے
بس یادونه ئې هر آن راته قریب دي
اسمٰعیل دَ عجیبه مکتب طالب یم
دا لیکل راله په زړه کړي خطیب دي






دَ شبنم په شان لاړ نه شې دَ آفتاب په راختلو
رنګ اخستے دے ګلانو هم په داسې سوزیدلو
وفائی خوځان سیزل دی بس هم دا لوئې غنیمت دے
بې له اوره سوو له نښته بل یو شے دَ پا ځکولو

دَ زړګو په لاس ځان پاک کړه خیرن لاړنهٔ شي دلبرله
دا زړګو هم ستا مرشد دے په واضحه دلائلو

معرفت خویږلوئ اور دے زغم دَ اور ځان کښي پیدا کړه
زړ چي پاک وی څهٔ ئ پاک وی بیا دَ اور په تاؤخوړلو

پیدا کړے پاک الله ئ معرفت لره دُنیا کښي
بي پروا تړولي کړيځي هسي خوشے په ځنګلو

اسمٰعیل دُخپلې مولا نه دا انعام دَ مینې غواړم
زهٔ دا سوال کوم په پټه هم ښکاره شو په غزلو



په دړیا کښي انتظار کړمه عبور ته
وارخطا له وړا یه ګورمه ستا نُور ته

په جلوو دِ ستي کیږم هم ئ غواړم
لکه څنګه چي موسیٰ تلو کوهِ طور ته

هله پوهه په ګفتار دَ راز و نیاز شوم
چي ګذار شوم کله ستا دَ عشق تنور ته


کهٔ هر څو مره دَ عالم ګناه وی ډیره
ستا له رویه به ئ رب نهٔ ګوری قصور ته

په جنّت کښي به همه واړه داخل شي
اے دلبره چي دي ګورمه منشور ته

دَ کوثر پیاله په لاس چي راته ګوري
په سُرور کښي یم دَ هغه وخت سرور ته


اسمٰعیل به ستا تصویر زړه کښې ځکږومه
دَ محشر په ورځ به ئې بنایمه غفوره ته






اے دَ بحروبر په مخ دلبر خواجه ثانی
اخوند پنجو تا مدار ه محبوب سُبحانی
تهٔ دَ اولیاءُ په ټولی کښې سر بالائې
تهٔ دَ اجمیری خواجه په غیبِ کښې یؤ ډنائې
تهٔ دَ دغه دره دیاره ماله رهنمائې
داخل مې کړه دې دره ته اوکړه دا مهربانی
ستا دَ محبّت په باغیچه کښې زهٔ اوسیږم
ستا بشکلی بشرپسې زهٔ شپه اؤ ورځ ژړیږم
ستا دَ بیلتانهٔ په اور کښې پروت یمه سوزیږم
اے نګاره ستا دَ دیدن ډیر یم ارمانی
تهٔ ئې دَ فیوضاتو یؤلوئې بحر بې پایانه
اوکړه یؤ نظر دَ کرم ما ته عالی شانه
ستا دَ ګلستان ګلان زهٔ غوارمه لتانه
ستا په محبت کښې مې دِ پاک رب کړی فانی
په تا مې څوک شیدا شی دَ دُنیا نه بې پرواشی
وی په حقیقت کښې شهنشاه مې ستا ګدا شی
رضا تِرِ ستا له رویه پاک رسول اؤ پاک مولا شی
وریږی رحمتونه ډیر په ستا لامکانی

ما ته د خپل در په غلا ما نو کښې قبول کړه
دوړ رانه د وصل په مرهم د زړګی نول کړه
دا سوال مې منظور نه په خاطر د پاک رسول کړه
چې نه شم اسمٰعیل په دواړه کوڼه تاوانی




ستا د زلفو په هر ول کښې بندیوان دے زما زړه
ستا د سپین مخ پلوشو نه ډیر حیران دے زما زړه
زړه په ستا د نورو سترګو په تکل کښې مدام کړم
د لیدو ئې له پخوا نه په ارمان دے زما زړه
د ژوندون په هر ساعت کښې به دِ هیر نه کړم دلبره
ستا تصویر مې دے په زړه کښې پرودان دے زما زړه
ستا په یاد کښې نمر شپو نمې نه چې زړه کور مه ژړېږم
شپه او ورځ را بانډ یو دی په لرزان دے زما زړه
اسمٰعیل به له خپل زړه نه د کوم غم تپوس کومه
چې ستا غم کښې د غمونو بیابان دے زما زړه



د هجران په دریاب ډوب یم راته یار پکښې لیدے شی
جواب نه راکوی ماله بنې ناړې مې اوریدے شی

یم دیدن پسې ئې لیواله لیتُوم جانان دَ مینې
په مکتب دُ ننه ناست یم دَ عشق باب رانه ښودے شي
داسبق ریبار راښائي ځي له سترګو مې رود ونه
ښنګ چې زهٔ ربیارنه ژړام داسي څوک بل ژړیدے شي
کوي جانان راته خبري په سرولښو په مُسکا کښې
ارماني ئې دَ ګفتار یم چې به دا کله کیدے شي
دَ بیلتون په ژړنده دَل یم په خزان کښي تل اوسیږم
ګلان ښهٔ په سترګو وینم وایم داکهٔ پسرلے شي
اسمٰعیله چې یارغواړې ستي پروت اوسه په اور کښې
بې له اوره به چوړ کله دَ زړګر په لاس کانړے شي






چې شناخت مې کله ستا دَ رخسار اوکهٔ
په لمبو دَ سوزیدو مې اقرار اوکهٔ
په لید وچې دِ یوُ واري په ژړا شوم
دَ خندا مې پس له هغې انکار اوکهٔ
بې منزله ښنګ خندا اوکړمه یاره
په بیابان مې ستا دَ عکس چې دیدار اوکهٔ
زهٔ دا عکس دِ ګرځومه په هرلوري
قبولیت دَ دې یارے کهٔ دِ یار اوکهٔ
ډیر ګروُن کښې دِ لښون پسې ګرځیږم
ماتپوس دِ په څو وار په بازار اوکهٔ

په چغار لکه بلبل کړمه ستا مینې
دا چغار په ما فرقت کښې مالیار اوکړ
اسمٰعیل مدام صحرا کښې له خدایه
غوارم تا کړ مې دیدن په گلزار اوکړ





پائنده په میخانه یم ستا دَ حُسن
جلوه کړه پروانه یم ستا دَ حُسن
پلوشو دِ ډیر داغونه دی راکړی
دَ لعلونو خزانه یم ستا دَ حُسن
نا خبر له خوشحالے یمه دُنیا کښې
زهٔ بندی په جیلخانه یم ستا دَ حُسن
ستا دَ مینې په مقراض مې زړکے غُش دے
تل ژړیږم دیوانه یم ستا دَ حُسن
بې لتا مې بل څه نشته په گفتار کښې
اے دلبره افسانه یم ستا دَ حُسن
لتومه دِ هر در کښې دَ خُوبانو
زهٔ ملنګ په زمانه یم ستا دَ حُسن
اسمٰعیل به ستا جمال څنګه هیرومه
چې دَ عشق نشانه یم ستا دَ حُسن



لاړ نهٔ شي خيبرن له دي وطنه خوب رويانوله
هغه سرو ګلانوله
ځان دَ نيک عمل په سيحون پاک کړه نوبيا ژړه
شمع يله شوې ده دُنيا کښې پتنګانوله
رناله صادقانوله
تن په دې ستي قابل دَ خاک کړه نوبيا ژړه
ولې لړې لړې له ګلانو ګر ځيده ګوې
ډير ده ته حيران يم اے کم بخته داته څهٔ کوې
څهٔ چې ده ته وائي خپل دلبر هغه ته تهٔ کوې
ولې تړپه لوړه دَ کړنګونو پاندِ ستلهٔ کوې
هغه ګلستان دے رب جوړ کړے ماليانوله
خپلو عاشقانوله
زړهٔ دَ عشق په تيغ دلته دردناک کړه نوبيازه
دلته مسافرئي غم دَ کوره اوکړه سنادانه ستهٔ
ځان سره توبنه دَ نيک عمل يوسه دُنيانه تهٔ
ولې نهٔ ويريږې مسلمانه دَ مولىٰ نه ستهٔ
ځان په دې سفر کښې کوره پيچ کړه له ناوانه تهٔ
اور دَ جهنم دے تيار شوے ناوانيانوله
دې دَ دين ټګانوله
نفس دَ حُب په توره ته هلاک کړه نوبيازه

تا نه رب دُنیا کښې ډیره مینه دَ جناب غواړې
تا نه ستا دَ اوښکو ستا کړیوان بانډِ سیلاب غواړې
تا نه به محشر کښې دَ دې ژوند پوره حساب غواړې
تا نه به په قبر کښې منکر نکیر جواب غواړې

راځوئ په قبر کښې کروزونه منکرانوله
دغې بدکارانوله
مخکښې له اَجله خلۀ په واک کړه نوبیا ژړه

زړ شه په بازار دَ محبّت کښې سوداګر شه ته
اے مسلمه روږد پوره معموړ په دې هنر شه ته
سور په دې سور لې شه باخبر له بحر و بر شه ته
پرېږده دَ دُنیا دا محبت بس قلندر شه ته

جوړې په عدن کښې دی ماڼې قلندرانوله
دې دَ رب دوستانوله
خوئ دَ یار په مینه مینه ناک کړه نو بیا ژړه

ادا که دَ ساقی دَ جام ته دلته زده کول غواړې
ځان که ئې دَ دَر له رواجو نو خبرول غواړې
ته که اوسیدو له خوبو یانو سره تل غواړې
خاوړې کړه هستی خپله که ځان زرغونول غواړې

جوړه دروازه دَ یار دَ در ده خاکسارانوله
داسې ځوان مردانوله
ځان دَ اسمٰعیل په شان خاشاک کړه نو بیا ژړه



په بقا پسې فنا شه د بقا په لوری درومې
په وفا مرد د خدا شه ځان را اوباسه د لومې

چې ترڅو به داسې کرځې په دنیا کښې بې وصاله
نا آشنا ئې ځان آشنا کړه نا آشنا به ئې ټرکومې

یار خو وائې زر را درومه زما خوا له ډیر په مینه
چې روان تر په بل لوری ئې نو دا یار به څنګه مومې

چې په اور د مینې ئې زړونه سوی نه وي په دنیا کښې
په جیبونو د سینو کښې کرځوی تشې رجرومې

اسمعیل په زړګ داغونه لرم پټ ډیر په سینه کښې
نشانې ئې په کفنار زما عالم ته شوې معلومې



تا چې د کلانو سره دا اغزي پیدا کړه
تا پر عاشقان هغې خندا له په ژړا کړه

خوښه د ژړا ده لږ ساعت له او خندا مدام
دوا ړو له د دلته خوبرویان په ځان شیدا کړه


ستا د عشق دې یاب دا عاشقان ډیر حیران کړې دی
ځکه په عالم کښې له عالمه تا جدا کړه

ژوند د عاشق د وی هر خوکه وی کړون پکښې
تا د عشق په چاره ډیر ادنی عالم اعلی کړه

زهٔ هم يو زخمي په دې اغزو يم فويا دونه کړم
غواړمه ګلان لتا ماليار که دِ راکړهٔ
ډير شکر ګزار يم په دا برخه اسمٰعيل ربه
ډير زړې زړې زما هم ونه ستا رضا کړهٔ




چې داخل کله دَ يار په دروازه شوم
دَ يار حُسن ته حيران په ننداره شوم
يار مې ماته خوشخبرې دَ راتګ اوکړې
په خبرو مې دَ يار زهٔ ديوانه شوم
سپين رُخسار ته ئې زهٔ ګورم بې خودئ کښې
په نشه ئې دَ شرابو مستانه شوم
په دُنيا کښې به خنګ ګوره مه بل لور ته
چې عادت زهٔ دَ دلبر په ميخانه شوم
لږ ساعت له اسمٰعيل نهٔ ووم راغلے
همه عمرئې په در کښې نذرانه شوم




څهٔ په ماکهٔ يمه په دريا کښې ملغلره
چې لوې يم پرته داسې دا زهٔ دَ يار له دره

داسې بند یوانه یم چې ژوندمې تول په بند کښې دے
یم ځکه دَ دُنیا له دې رواجه بنا خبره
چې زۀ له ځۀ خبریم، نه دې خلق خبر له هغې
خبریم له موجونو، دې په ما له سمندره
دریاب کښې تصویرونه دَ آفتاب مهتاب لیدے شي
پوره ته پسې تلے نهٔ شمه یمه بې هنره
ارمان مې هم دایؤ دے چې وے تل دَ یار په در کښې
چرې به مې مخ نهٔ وو کړځوے ئې له بشره
ژوندے ئې بشیږې کړې یمه قبر مې صدف دے
ځکه به مې برخهٔ ساقي او که له کوثره
چیو دَ سمندر سره بلد یم اسمٰعیل
رپېمه ډیر ځکه دَ عقبیٰ ده په ما ویره




پورې مې لمبې په تول بدن شوې که راځې
یاره علامې دَ زنکدن شوې که راځې
وایمه خلکو کښې چې جانان به مې اوس راشي
اوښکې مې له سترګو په رفتن شوې که راځې
عمر تیرومه ستا یادونو کښې دلبره
یاتې انساني مې په وطن شوې که راځې
ستا ګلابي مخ پسې زخمي په خارستان شوم
وېنې مې توئې ځکه په لمن شوې که راځې

تا چې اسمٰعیل سره وعده دَ دیدن کړې وه
ځکه دا نارې ئې له دهن شوې کۀ راځې



ما یه ژړا دَ کائناتو سره نۀ کوله
تاکۀ په غشو دَ بیلتون باندِ وېشتلے نۀ وے
دلبره ما یه بې لتا دا مینه څۀ کوله
کۀ ستا له رویه مې دا مینه پېژندلے نۀ وے
نۀ په ژړا باندِ خوشحاله ئې دلبره زما
هیڅ تر خبر نۀ ووم کۀ تا راته خندلے نۀ وے
ستا په رضا زما رضا ده دا اقرار کومه
په ژوند مې څۀ کۀ دِ دَ عشق په اور سېزلے نۀ وے
ستا په دیدن پسې کچکول په غاړه ګرځمه زۀ
داسې به نۀ ووم کۀ تا راته کتلے نۀ وے
ما اسمٰعیل کۀ دُنیا پرېښې نۀ وے ستا په مینه
دا به مې تښه وه کړیوان به مې شلیدلے نۀ وے






دَ نیکئ په شکموخې[1] سینه کړه پاکه
مخ دِ ولې دے اړولے له ادراکه

---

۱ شکموخې : ریګمال

په استوګنه دَ ستري[1] لا خفه نهٔ ئې
خلهٔ دِ روګدي[2] ده لا هغسې بې واکه
دُوباره دِ راتلهٔ نشته بې غم خوُيه
هسې نهٔ چې سزا دره کاندی دره دناکه
دَملّاح سره نزدې کينه بېړے کښې
چې خبر دِ کړي ملاح له ژوُند وژواکه
په دَکلو[3] به خلاص نهٔ شې اسمٰعيله
نهٔ دِ رَوَدَ ټيښتې شته له دغـــه خاکه






دَهجران په سرو لمبو مې تن ستې شولو دلـــداره
ستا دَ مينې کاروبار کښې بې اسرې کوځم نـــګاره
کتاړو دَ انتظار کړم په خوار توټې توټې ناره
مد دغواړم ستا دَ وَصل چې شم خلاص له انتظاره
مدام وينم ستا تصوير دَ خيلوا ونکو په تالاب کښې
هېر به کله زمانهٔ شي ګل بدنه جـــلوه داره
دَخزان بادونو يوړم لکه پانـــړه بيابان تـــه
ستا يادونه کړم ژړيږم زما نشته بله چـــاره
حيران ګرځم ستا په لوری وايم اوس به طبيب راشي
بې لتا کله رغيږم راځرګند شه رب دَ پـــاره

---

[1] ستره : په بېړئ کښې دَ خاروُو او دره ولوبيل ځائے [2] روګدي: عادت [3] دَکل منت

یم شیدا په تا دلبره اسمعیل له هغې راسي
چې یو وار دِ نقاب لوکړو لره ساعت له دَ رخساره





دا په عشق کښې دیوانه نهٔ یم توښهٔ یم
زهٔ دَ شمعې پروانه نهٔ یم توښهٔ یم
په خمار کښې زهٔ تا لره وهم له خیاله
دا عادت په میخانه نهٔ یم توښهٔ یم
په نشه نشه کانهٔ کړمه هر لوره ته
په شرابو مستانه نهٔ یم توښهٔ یم
دَ ساقي په دره کښې پروت یم بې مجاله
داځي په دره کښې نذرانه نهٔ یم توښهٔ یم
درست جهان په ما توره تم دي عاشقي کړو
زهٔ بندي په جیلخانه نهٔ یم توښهٔ یم
ما نه جوړه په ژوندون مرے دَ لحد دے
په صدف کښې چې دانه نهٔ یم توښهٔ یم
اسمعیل په زړهٔ غلبیل یم یاره دَ لاسه
چې دَ عشق دَ نشانه نهٔ یم توښهٔ یم



O

درياب کتاب غرقاب کړمه دحُسن په چپوکښې
آفتاب مهتاب خطاب راته کوی په اشاروکښې

روان د يار په لوريمه سلګی وهم ژړيږم
يادومه په هر دم اوُ په قدم صنم سلګوکښې

غمونه مې په زړهٔ باندې بسيار دخپل دلبر دی
سکورشوم دحضور دعشق په اور په توروشپوکښې

عمرنيروُمه په دُنيا کښې دهجران نه ګټه
ګل مې په خوځل وژل زما کوی پردوکښې

غواړم ئې وصال دے طلبګارئې له پخوانه ډير
دے دليل جميل د اسمٰعيل په دې مصرعوکښې

O

په شمه زړهٔ نال کوُمه ستا د ياد و
چې رالوئې شی دا ونې د شمشادو


په شرابوئې د مينې کړم پالنه
ډيردی چارئې بوی ايستم د لادوبادو

کهٔ بندونه مې ډيراوتړل خپل زړهٔ ته
کړهٔ لاهودې زما ستر کو پُرعنادو

په لمسون دغليمانو نهٔ ستيروُوهُم
کهٔ هرځودے راته کړے نامرادو

اسمٰعیله کهٔ کرم دَ الله نهٔ وے
چیچے نهٔ شي دا نیني دې دَ فولادو





اے خدایه چې تورتم په ما جهان دے
نه پوهیږم چې چمن کهٔ بیابان دے
په لمبو کښې مې دے عمر پرستي شوم
دَ یار مخ مې په زړګي باندِ ارمان دے
دَ یار مخ چې مې شغلي کړې زړهٔ یې لوګے کړم
نن له هغې مې په یار پسې ګذران دے
چې دَ یار دِ څوک یارې که دا نه یې حال وي
لکه څنګه چې زما ژوند په لړزان دے
په دریاب چې دِ لاهو کړمه پوې واړي
لا تراوسه مې لاهو په دریاب ځان دے
کهٔ هر څومره مې داتن خاورې ایرې شي
خپل دلبر به یادوم چې دِ جانان دے
سلسله دَ یار دَ عشق کله ختمیږي
که هر څومره مې شي عمر دَ هجران دے
اسمٰعیل له خوشحالی کښې برخه اوکړه
دغه سوال یې له مودونه په زبان دے



پیدا کړې رب طالب دَ یو مطلب یم
داخل ځکه زۀ دَ عشق په دې مکتب یم

زۀ دَ عشق هُنر زده کومه مدام ښارم
له اَزله دې هُنرله منتخب یم

خپل مُرشد مې دا هنر ما ته را ښائي
دې مکتب ته زۀ داخل په دې سبب یم

په ظاهر کښې زۀ حنفي مذهب لرمه
په باطن کښې زۀ دَ خپل پیر په مذهب یم

اسمٰعیل کړمه ګدا دَ یار په دَر کښې
لو مودو راسې فائز په دې منصب یم



مسافر یم ځکه ژاړم دَ یار غم را سره مل دے
بې پروا په ښنګه ګرځم چې دَ یار وطن مې بیل دے


لا چارې ده غم خوړې ده خوشحالي په دُنیا نشته
دَ یار مینه مې په زړۀ ده ځکه اور را باندِ بل دے

زۀ چیو دَ سمندر کړم بې مجاله ځکه چُپ یم
داسې غم زما په برخه رب لیکلے په اَزل دے

زۀ په داسې مخ مئین یم چې ثاني یې چرته نشته
هر یو تار یې دَ زلفانو تورله تورو دَ سُنبل دے

اسمٰعیل به په دُنیا کښې چرې هم اونهٔ خندیږم
ما خوړے په زړهٔ غشے برابو بنهٔ مکمل دے





دواړه کوَنه په قدرت اِنشاء اللّٰه [1]
په سپین مخ دَ پاک حضرت اِنشاء اللّٰه
اِنس وجن ئې عبادت لره پیدا کړهٔ
هم هُنر دَ محبّت اِنشاء اللّٰه
شریعت ئې په دُنیا باندِ حاوی کړو
طریقت اؤ حقیقت اِنشاء اللّٰه
څوک چې تلے په دا لار دَ حقیقت دے
دے صاحب دَ معرفت اِنشاء اللّٰه
اسمٰعیل دَ خپل مُرشد په دړ کښې ژاړم
ما دَ پاره دا نعمت اِنشاء اللّٰه




ان شاء اللّٰه
رب به ما کړی ستا دیدار ~~اِنشاء اللّٰه~~
کړی لتانه به مې نراس ان شاء اللّٰه
زهٔ لائق ستا دَ یارئ نهٔ یم خوبرویه
ستا لډ رویه به شم یار اِن شاء اللّٰه

[1] اِنشاء اللّٰه : جوړ کړهٔ الله

خاړستان کښې ستا د دړ په لور روان يم
شم داخل به په ګلزار ان شاء الله
ستا د مينې کاروبار غواړم له رب
شي نصيب به مې دا کار ان شاء الله
اسمٰعيل به ستا طلب چرې پرېږدم
شم عشاقو کښې به شمار ان شاء الله






پرې دِښو دستور د خيبر وائي زه پښتون يمه
هسې کوې لاف چې زه ماتحت د دې قانون يمه
ستا آباواجداد چې په کوم لوړې باندِ ستلي دي
هغوئ په دغه لاره خپل منزل ته رسيدلي دي
نه ځې په هغې ته ډېر خفه دِ يه بېلتون يمه
خالد بن وليد له ئې ورکړې وو سيف الله خطاب
خوښ وو د الله او د الله د دوست عالي جناب
هير دِ کړو بهادر نيکه په دې غم دِ مجنون يمه
داسې بې پروا ولې له ځانه اوله وروره شوې
ولې مرور له خپل وطنه او د کوره شوې
نه پوهيږم زه دِ ناخبر له دې مضمون يمه
ډېر کړم غمزده ستا د دې غم چارې پښتون شه ته
د داسې بې وفا دستور له بنده زړ بيرون شه ته
غواړم اسمٰعيل وفا مدام په دې کړون يمه

ستا دې حُسن مستانه کړمه دلبره
تا عادت په میخانه کړمه دلبره
سپین رُخسار دِ لکه شمع تل بلیږی
په کاتهٔ دِ پروانه کړمه دلبره
په خوږو دِ کړم ستې او نهٔ صبریږم
تا بندي په جیلخانه کړمه دلبره
مخ دِ پټ زانه په تورو زلفو نهٔ کړې
تا رُسوا په زمانه کړمه دلبره
په لمبو به دِ ځان سیزمه ترمرګه
چې دِ مینې دیوانه کړمه دلبره
ستا په مینه باندِ پایهه دُنیا کښې
ځکه خونِ نهٔ شاهانه کړمه دلبره
اسمٰعیل شوم قلندر ستا په شرابو
دَ خپل دَر دِ سندرانه کړمه دلبره

لاړې لکه پرخه دَ سحر دَ نمر ختو سره
ولې بې وفا شوې تهٔ زما دَ غم لیدو سره
خیال کوه دې لاړې ته اَغزی دې پرِ نخې نهٔ شې
خیر دے زهٔ بلدیم له پخوا راسې اَغزو سره

غم خوشحالي دواړه وړور اوخوږ دي هیڅ پروا نشته
یه خندا رویه داسې ځکه دَ سلګو سره
غمونه مې په برخه رسیدلي له اَزله دي
ژوند وی دَ بېړۍ مدام دریاکښې له چپو سره
رب دې بې وفا ما اسمٰعیل نهٔ کړي دا سوال کوم
عمر دې زما وی دَ پتنګ په شان لمبو سره




ستا دَ حُسن نظارې دي په هر مخ کښې
راته جوړې ننداري دي په هر مخ کښې
پلوشې دې په هر لور دي خورې کړې
پړکیدونکې ئې زړې دي په هر مخ کښې
چې په تا باندې په کومه ورځ مئین شوم
له هغې راته ښارې دي په هر مخ کښې
په هر مخ کښې دې لټوم ځکه دلبره
دَ وصال دې اِشارې دي په هر مخ کښې
اسمٰعیل ستا په جلوو ورو ورو سوزیږم
خط وخال زما ایرې دي په هر مخ کښې

ما ته دَ هجران په تورو شپو کښې هم ليدے شې
داسې جلوه دارې په پردو کښې هم ليدے شې
ستا دَ پلوشو په لوړې بو دمه قدمونه زهٔ
حسينه دَ بېلتون په سرو لمبو کښې هم ليدے شې
داسې لاهو شوے ستا دَ مينې په دريا کښې يم
دَم په دَم دَ غم په دې چپو کښې هم ليدے شې
کله په اغزو دِ شوم زخمي لو رانه اوکوره
ځلکې دړته وهمه په ځلکو کښې هم ليدے شې
ستا په محبّت دَ اسمٰعيل زړهٔ کے قلم شو لــو
ځکه ئې دَ غزل په دې مصرعو کښې هم ليدے شې

هم غرقاب دَ عشق دريا ب کښې هم مجـرم يـم
هم سرهسک اوړم له شوقه هم نـادم يـم
هم ديار دړ پسې ژاړمه مـدام زهٔ
هم بادشاه دَ ديار په دړ کښې هم خادم يـم
ډير حيران يمه دَ عشق دې کاروبار ته
نهٔ خارج يم له دې کاره نهٔ قـائـم يـم
غمزده دُنيا کښې اوسمه عالـمـه
زهٔ خوراک اوڅښاک کومه اوصائم يـم

اسمٰعیل دَعشق مکتب کښې سبق وایم
هم جاهل اؤ هم طالب اؤ هم عالم یم




دَ زیبا مخ په شغلو دِ داجهان همه روښان شهٔ
چې خزان وو ډیر زیړلے تل بهار په ګلستان شهٔ
نهٔ ګل وو نهٔ بلبل وو نهٔ مالیار وو په دُنیا کښې
اے دَحق دَباغ مالیاره داچمن په تا ودان شهٔ
تا دَ زلفو په هر وَل کښې ډیر بندی کړهٔ سوی زړونه
هر عاشق په څوڅو وارهٔ ستا په سپین بشر قربان شهٔ
دَ ادم دُعا قبوله ستاله رویه شوه حبیبه
ستا دَ اسم په لیدلو ترِنه دور همه خفګان شهٔ
کهٔ ته نهٔ وے څهٔ به نهٔ وو بې له رب العالمینه
کُل عالم ئې کړو پیدا چې شیدا په تا سبحان شهٔ
ستا دَ در په ګدائئ کومه هزار هزار شکرونه
کوم فخر په دا برخه چې صدقه مې لتا ځان شهٔ
اسمٰعیل به همه عمر ستا دَحُسن صفت خوان یم
بې لتا مې په دُنیا کښې اے دلبره ژوندون ګران شهٔ

ای ساقي دَ جام ادا زده كول غواړم
په نشه كښې دَ عشق بام ته ختل غواړم
اوچې شونډې مې دَجام څښلو ته پرېږده
نور مې څۀ له كړونې څې ئې څښل غواړم
په خپل ژوند به ترِنه خلۀ چرې لرنۀ كړم
ستا په دَرِ كښې هميشه اوسيدل غواړم
يمنى عقيق چشمان مې ستا پيا ديږي
خيلو ليچوله ستا زلفې سُنبل غواړم
بې لتا مې بل ارمان په زړكې نشته
ستا دَ مخ په شمع تل سوزيدل غواړم
اسمٰعيل ستا بيلتانۀ زړې زړې كړم
له ريباړه ستا په مخ ستاليدل غواړم

غمونه مې په زړۀ باندِ ځائې كيږي نه اهونه شُو
مل ئې له كوګله دَ هجران تاؤ دۀ ساونه شُو
لاړه دَ فلك په نور داخل دَيار په دَر شُو تول
جور ترِ دَيار دَر كښې ما دَ پاره بيا سازونه شُو
بيا له دې سازونو مې په زړۀ كښې جور آهونه شي
داسې په داچاره مې زړې زړې هرونه شُو

ماته تصویر و نه دَ آشنا ښکاړي دي سانسره
یا تې له ما ځکه دَ دُنیا توړ رواجونه شُو
زهٔ خو دَ یادونو په صحرا کښې عمزده کرځم
جوړ مې دَ یادونو لهٔ خمیره غزلونه شُو
خیر دے اسمٰعیلهٔ دا نیکي په تقدیر دي ستا
پورته دَ بلبل پښتان دَ غلي دِ اوازونه شُو





په تپوس تپوس دِ ستړے په بازار شوم
ډیر زخمي دَ بیلتانهٔ په خنډ وخار شوم
دیوانه له هغې ورځې یم دلبره
چې مئین دِ په زیبا ښکلي رخسار شوم
له سپین مخه دِ نقاب لرکړه خوبرویه
ستا دیدن پسې ستې په سورانګار شوم
دے کچکول زما په غاړه ستا دَ مینې
ستا دَ در په درشل ځکه څوکیدار شوم
اسمٰعیل به تا یادوم چې څو ژوندے یم
دا سې توړ لکه دَ سکور په انتظار شوم




په چمن کښې ګرځېدۀ کړمه له ورایه
خپل دلبر ته ژړېدۀ کړمه له ورایه
چې دلبر را ته مُسکا اوکړي نشه شم
بې خودۍ کښې لړزېدۀ کړمه له ورایه
شومه تورلکه بورا په بیابان کښې
دَ خپل ګل زۀ بوئېدۀ کړمه له ورایه
اَرمانې دَ یار دَ دریم له پخوا نه
په سایه ئې اوسېدۀ کړمه له ورایه
چې په غشو اسمٰعیل له ورایه لګم
زۀ به څنګه خندېدۀ کړمه له ورایه


کۀ څوک ټول عمر په تا پسې ژړېږي
چرې ستا دَ یارۍ حق نۀ ادا کېږي
چې شیدا شي څوک په تا یارانِ دلبره
تل دَ مینې په اور سوزي نۀ صبرېږي
ستا لټون کښې شي کنار له دې دُنیا نه
دَ یادونو په دریا ورو ورو ډوبېږي
اے صنمه مدام ستا په انتظار وي
انتظار ئې بې له مرګه نۀ ختمېږي


اسمعیل دَ عزرائیل لاري ته ځورم
چي به کله دغه زیري په ما کیږي






نهٔ خزان دے نهٔ بهار دے سور انګار دے سرهٔ ګلان
نهٔ خفه یم نهٔ خوشحاله داسي ژوند ته یم حیران
په اغزوي زخمي کیږم ګلان وینم خنده رویه
په شنو پاڼو ئ خپلي وینې اوچوم یمه خندان
نهٔ قریب یم نهٔ بعید یم نهٔ ژوندے یمه نهٔ مړمه
دَ حیرت په زولنو کښي هسي پروت یمه ناتوان
زهٔ دَ صبر باغیچه کښي امیدوار یم له خدایهٔ
په دي صبر مي داحال شهٔ چي ئ کړمه بندیوان
چي دلبر سره به کله ملاقي زهٔ اسمعیل شم
په دیدن پسي ئ هر لور ته ګرځوم ځیري ګریوان







تن مي وریت شولو همه دَ بیلتون نمرته
خوږ اشنا مي راله رانهٔ غے په بیرته
دَ اه چنګ به نرکومه په سر نیسم
لټومه به دمي له سور ے چرته

دَ ږيځې کږيوان تارونه مې بيا د يـوړه
په لګړه سينه ځمه دَ يار دړتـــــه
که توفيق ئې دَ ليدو راله رب راکړی
هميشه به ئې زړه کښوړمه بشـر ته
بنه په پام به دم قدمونه په دا لاره
ډير حيـيران يم اسمٰعيل دَ عشق هُنر ته





زړه مې ستا دَ توروسترګو په تکل دے
داسې نيک مې خدائے کړے په ازل دے
لټوم دِ په هـر لوری دل آرامــــه
ستا ليدو پسې مې کړې توکّل دے
له بل څهٔ په څنګ خبر شمه دنيا کښې
چې دِ اور دَ بيلتانهٔ راباندِ بل دے
ستا يادونو خيژوے يــمه دارتــــه
ماليدے په څو واره دا اجل دے
اے دلداره رب دَ پاره راخرګند شه
ماخوښے په زړهٔ عشق مکمّل دے
بل هيڅ غم دَ اسمٰعيل زړهٔ باندِ نشته
بس يو غم دے ستا دَ وصل چې ئې مل دے





ستا دَ لورې چې په ما بانډِ نظر شۀ
ما هلال دِ په محراب اولید اختر شۀ
روژه دار وُم ستا دیدن ته له پخوانه
زړۀ مې یخ ستا دَ سرو لمبو په کوثر شۀ
بیا دِ ولې رانه مخ پټ په نقاب کړو
دوباره زما زړے غوڅ په خنجر شۀ
دَ حجاز په لورې کوم چې په راشې
انتظار مې تاته بیا شام و سحر شۀ
اسمٰعیل په کرم وفا چې څو ژوندے یم
ستا په مینه کښې مې زده داسې هُنر شۀ



بس دې دَ چل تلل کړه بس دَ چل سره دې تللو کښې
ځان دِ کړه ذ دې، چل دے دَ عمر په ځنکلو کښې
کار دَ دې دَ پاره دَ جناب په خوښه ویش کړه
تول عمر هر امرته قبول دَ دې در ویش کړه
داسې بهترین خدمت کښې ځان ته دګا نه پیش کړه
ماله دِ دَران ارمان ستې کړو په سیزلو کښې
وایمه مدام چې ته تازه لکه نرګس وے
پریخے دِ کار ونه داهمه وامره عبث وے

زړۀ چې دِ ګویا دَ یار په یاد لګه جوش وے
ولې دِ خوش ته دی دید نو نه په سرو ګلو کښې
لارې دَ شوک مار وکړه ته بند او کوړه ځان ته
مینه دَ خوبانو په زړۀ یوسه ګلستان ته
پیش ئې په ادب کړه ته نبی آخر زمان ته
الله دِ کړه رئیس په زمانه دَ الوتلو کښې
وایم دا اشعار زۀ اسمٰعیل بنهٔ په جور خیال
خیال مې تصویر ونه دی دا راکړۀ دَ پدر خیال
داسې مې پدر له دی ورکړی دَ حیدر خیال
مدام یه مې خیالونه وی په مینه یادولو کښې





دا دَ عشق په دام بندی یم یار دلاسه
دا بې اوره چې ستی یم یار دلاسه
زۀ په دام کښې دَ خپل یار په تکل اوسم
خوړم داغونه خوپتی یم یار دلاسه
همه عمر چې بندي په جیلخانه وی
دا زۀ دغسې قیدی یم یار دلاسه
له خندا په ټنګ خیر شمه دنیا کښې
په ژړا چې زۀ عمری یم یار دلاسه
زۀ په هوش نۀ یم همیش بې هوشه پروت یم
عشق دَ یار کښې خماری یم یار دلاسه

چې الله باندې توکل دَ مینې کاندې
زۀ هغه توکّلی یم یار دلاسه


په ژړا چې ئې خوراک ښکناک دَعشق سبق وې
دا زۀ هغه سبقي یم یار دلاسه

په سبق دَ مینې ډیر وهل مې یار کړه
زۀ په وینو رنګ ساقي یم یار دلاسه

یار دلاسه په دریاب دَعشق غرقاب یم
زۀ دَ عشق دَ باب قاري یم یار دلاسه

اسمٰعیل خیري ګرځوان ګرځم په عشق کښې
په دې برخه ډیر راضي یم یار دلاسه





دَ حیرت په بیابان کښې دَ جمال په تماشه یم
دَ دلبر ادا ته ګورم دَ کمال په تماشه یم

دَ زیبا مخ په شغلوئې زماتن همه ستي شۀ
همیشه مې داسې حال شۀ دَ دې حال په تماشه یم


ګنګو سے چې ښکله ګل سره بورا کوي دَ مینې
داسې یار سره مدام دَ قیل وقال په تماشه یم

په خیالونو کښې غرقاب یم مرور یم له دُنیا نه
بل څۀ نۀ وینم په سترګو دَ خیل خیال په تماشه یم

اسمٰعیل یم له پښوا راسې راګیر دَعشق په جال کښې
نور به څۀ او ګورم دې جال کښې بس دَ جال په تماشه یم

پہ سکروتو خپل دلبر یمه نیولے
پہ څو وارہ ئې پرِ زړګا یمه داغلے
دَ رواج پہ نقاب پټ یمه له خلقو
اندرون راله دے اور څکه سیزلے

پہ لتون دَ صنم کړځم مدام ژاړم
دَ حیرت پہ سور لئی سور یم چرته تلے
دَ یار حُسن راته ښکاری پہ هر لوری
چرې داسې حُسن ما نهٔ دے لیدلے
میخانه کښې دَ یار ناست یم بې مجاله
نش جاموته خلې ته نیسم جَنل وَهلے
کهٔ شراب راله دلبر دَ مینې راکړه
له یخوا نهٔ ئې زړه دړته یم راغلے
اسمٰعیل دَ عشق دَ باب ماهر استاد یم
ما ته دا سبق ماهر استاد ښودلے



پکار کهٔ دِ زما په زړهٔ دَ یار پېشان وفا کړله
زما دِ هم بُلبل سره بوځائې په دې چغا کړله
ناآشنا یمه تراوسه لا دَ مینې نه جانانه زړهٔ
تا زما په لوری یو زړه غوندِ بریښنانه کړله


دا څهٔ چې کیږی دا خو دَ بیلتون په تماشه یمه
ځکه دِ زما دَ حال زما په خُلهٔ وینا کړله

په باغ کښې دَ ګلانو زهٔ او سیر مه په پانړو کښې
خو بیا دِ هم ژړا زما ګلانو ته نما کړله

دلبر چې تا ته او وئیل په باغ کښې دې مالیارشی دے
نو تا پخپله سیمه کښې دَ نورو هم سودا کړله

رضا په دې سودا یمه یو اځې به ما څهٔ کول
جانانه په دې چاره دِ بیا ما ځکه خندا کړله

غوارمه مدام لتا زهٔ اسمٰعیل دا وفا
اے زما کریم خدا کهٔ تا نوره دارا کړله



دا سبق دے خومره ګران دَ محبّت
وی طالب څیرې کړیوان دَ محبّت

څوک چې زده کړه دَ دې باب کاندې ژړیږی
یادوی پکښې جانان دَ محبّت

شپه او ورځ دَ محبت په غشو لړی
تیروی داسې ګذران دَ محبّت

هر قدم دَ خپل دلبر په لټون اخلی
کړځوی په زړهٔ سامان دَ محبّت

اسمٰعیل دَ محبّت په دام بندی یم
کوم ځکه دا بیان دَ محبّت

چې تر کومه زړه ژوندے یمه جهان کښې
ته روغ ځائے به مې اونه وینې ګریوان کښې
همیشه به ئې ګرځومه لوند په اوښکو
اوچ به نه شي چې ترخویم په هجران کښې
په څلکو څلکو مې تا پسې زېړه ژاړې
بې لتائې بل څه نشته په بیان کښې
زړه به ولې بې لتا خندا کومه
خندا نه کوي بوړا چرې خزان کښې
په صحرا کښې مې د تن غوښې ورستې وي
یم په طمعه همیشه د ګلستان کښې
اسمٰعیل دِ په دیدن پسې زګېروم
ځنکدن کښې چې مې پرې نږدې ارمان کښې


ښک خوشحاله په دنیا شم چې مې یار په دنیا نشته
راته بیا بیا ریباړ وائي دلته هغه وفا نشته
د حیرت په بیابان کښې د هجران په لمبو سوزم
تل ژړېږم ما د یاره یو ساعت له خندا نشته
هر ساعت بس تصویرونه شکلومه د جانان زړه
د دنیا په دې بازار کښې ماله بله سودا نشته

په نصیب مې ګدائي ده کوم فخر په دا برخه
ما په شان د یار په مینه لوغړن بل ګدا نشته

مسافر یم په دُنیا کښې له وطنه یم ډېر لرې
ډېر ارمان د خیل وطن کړم لا د رب مې رضا نشته

زړه له دا داړه ورکومه چې یو ورځ به رب رضا شي
بې د خیل رب له رضا نه بله چاره زما نشته

زړه مې هلته او زه دلته هر ساعت په ما د غم دے
اسمٰعیل له په دُنیا کښې له دې لویه سزا نشته



ستا په لوري به زه ولې نظر نهٔ کړم
هېر به څرې دا ستا بشکلے بشر نهٔ کړم

چې په تا بانْدِ شیدا شومه دلبره
هغه راسې هیڅ پروا د بل در نهٔ کړم

غلامي به ستا د در کوم تر مرګه
همه عمر به تر بل خوا ګذر نهٔ کړم

د پتنګ پشان په ځان تا بانْدِ سیزم
بې له عشقه به زه بل یو هنر نهٔ کړم

چې یو وار مې خیل زړګے تا لره در کړو
اسمٰعیل به دا بیا چا لره ورنهٔ کړم

ستا دَ مِنې په لمبو باندِ کسکریم
هم رنګونه دَ صحرا هم سمندریم

په هر لوری ستا دَ مینې سرې لمبې دي
توان ئې نهٔ لرم دلبره بې هُنریم

لاهو شوے یم دَ هجر په دریاب کښې
بې مجاله په ارمان ستا دَ یشر یم

سپین رُخسار دِ یاد وُم هره شلګے کښې
دیوانه کړمه ستا مینې قلندریم

په کړیوان مې باران ووری له چشمانو
اسمٰعیل دَ بیلتانهٔ په تیغ پرهر یم



خهٔ بریکهٔ زهٔ ژاړم په ژړاې دَ یار خهٔ
یمه زګه په دار په واویلا دَ نګار خهٔ


صدف کښې ملغلره کهٔ پرته وی په دریاکښې
مدام کهٔ وی دریاکښې دَ دریائې په بار خهٔ

په برخه له ازله چې تیاره دَ شپې نصیب ده
خوره کهٔ شی هر څومره په تیاره دَ سحار خهٔ

اورچې څوک ستې کړې هم هغه چغې سُوړې که
هر څوک کهٔ ژړا کاندې په ستې بیا دَ نار خهٔ

ګلان چې شوکوي څوک په اغزوې زخمي کیږي
ګلان ورته خنداکه د ګلانو په بنار څه
بلبل که فریادونه شپه اوورځ په ګلستان که
که ډیر کړي فریادونه په بلبل د مالیار څه
کړیږي که بورا مدام لټون کښي د ګلانو
تورلکه د سکور شه په بورا د ګلزار څه
پتنګ که ډیر په مینه ځان ستی کاندي په شمع
د شمعې د پتنګ په دغه سوي رخسار څه
یار چې مې خمار کړمه یو وار په خپله مینه
کړیږم زه د یار مې اوس زما په خمار څه
د یار مې خوبان ډیر دي زه یې خس هم نه یم درکښي
اسمعیل غوندې لاچار ه په غریب او په خوار څه







په بازار د محبت کښې سوداګر شه
عندلیب غوندې مدام په چغو سر شه
بې هوده ژوند دې ژوند نه دے که پوهیږې
ناخبرې له خیل ژوندونه باخبر شه
د سینې عظیم مکتب دې دے شار کړے
بنا اوکړه په سبق یې منور شه
همه عمر ځان مطلوب پسې طالب کړه
په څو وار ه ورپسې غوږ په خنجر شه

دَخپل شان نه ځان خبرکړه چې ته څهٔ يې
دَحيوان خوئونه پرېږده شابه زړ شه

دَ ساقي نه جام دَ مهر مدام غواړه
په دې مست اوسه دُنيا کښې قلندر شه

ادا زده کړه دَ دې جام دَ نوش کولو
دا تپوس له اسمٰعيله اوکړه ور شه





عشق بس عشق زهٔ لتا غواړم خدايه
بل څهٔ به زهٔ څهٔ کړم همه بل څهٔ دي بې ځايه

خوښه مې ژړا ده هميشه به زهٔ ژړا کړم
وايم څکه داسې چې تا وئيلي دي داوايه

خندا مې هم ژړا ده په بندګيې څهٔ خندا وي
نوره نوره غواړم راته نوره يا ره بينايه

عشق يې ته پخپله ځکه برخې دَعشق غواړم
ډير دې په دې برخويسې کړهٔ دُځان ګدايه

هرڅوکهٔ چاله ورکړې تهٔ دا برخې نهٔ مرېږي
ځکه وايم بيا بيا دَ ساقي دړته مې بيايه

هغه څنګه انسان دے چې لتا به مينه نهٔ غواړي
په شمع پتنګ چرې هم ستي نهٔ دے له ورايه


هرڅو وار کهٔ ستي يم بيا به څو وار دِستي شم
ستا مينه اسمٰعيل لره آفتاب دے هم ده سايه

سپین رُخسار ته چې دِ کله په کاته شوم
هیڅ خبر نهٔ شوم له ځانه چې بیا څهٔ شوم
لا تراوسه پورې ورک یمه له ځانه
داسې غوښ دِ په خنجر دَ بیلتانهٔ شوم
دَ یادونو په دریاب کښې دِ لاهو یم
ستا دَ وَصل په کنار تِر کنارنهٔ شوم
ښهٔ پوهېږمه چې ورو ورو نور ډوبېږم
په چپوکهٔ یې هر څومره په ښاتهٔ شوم
اسمٰعیل چې کوم دیدن لټانه غواړم
امکان نشته بې له مرګه پوهه ښهٔ شوم



لکه ګل چې په بُلبل کوي نازونه په چمن کښې
دا دستور صنم کړي ما سره زما دَ زړګي وطن کښې
سازونه مې سینه کښې دَ یار حسن ته غږېږي
پاتې نهٔ شهٔ له دې اوره خلقه ځائے زما په تن کښې
څنګ به وایمه داحال زهٔ چې الفاظ یې زمانهٔ زده
چې کوم زده مې دي هغه هم کړي ښکلے پاتې دهن کښې
خبر نهٔ یم له دې چې زهٔ په کوم وطن روان یم
نا اشنا یمه پس کوم خیل اشنا ته په رفتن کښې

ارمان د یار د در کوم زما په چرې هیرنهٔ شي
ژوندے په مرحساب یم د یا دو نو په کفن کښي
اشنا ته له مودو راسي دا سوال کړم اسمٰعیل
چې مې پرې تېر دې د لدار ه بې نوا په زنکدن کښې




کهٔ دیدن د دلبر غوارې خبردار شه
په دُنیا له هر وبدو توبه ګار شه
د نیکۍ په کالو ځان دلته سنګار کړه
خپل دلبر نه بیهٔ صورت کښې نمودار شه
محبّت د ذوالجلال کړه په هر آن کښې
له دې ځایه ته د هغه باغ مالیار شه
هر قدم دِ په هنر بړده خارستان دے
په طریق د قُدسیانو د ګلزار شه
طریقت د حقیقت د پاره اوکړه
خپل مرشد پسې دِ هر دم په رفتار شه
معرفت په نیک عمل دلته مونده شي
په دې فضل د الله شکر ګذار شه
دا ګفتار د اسمٰعیل چرې هیرنهٔ کړې
بیهٔ ئې پوهه په الفاظو د ګفتار شه

کهٔ وائې چې زړهٔ مؤمن شوې ځان خیر کړه له خپل شان
زما دغه وینا ده ځان کړه دلته بندیوان
مونده دِ دَ دلبر داسې آسان نهٔ دی نادانه
مونده شي خو چې ته وړپسې خیرې کړې کریوان
هسې په خلهٔ وائې چې لیدلے مې جانان وے
نهٔ لرې په زړهٔ کښې لږه مینه دَ جانان
پرهیز له ناره واؤ کړه همیش ترِ روښانه دا ره شه
رابه شي اختر لکه اختر پس له رمضان
په تیغ دَ محبّت باندِ حلال شه چې قبول شي
قبول دی چې چاکړے له چشمانو دے باران
مړک دی وِلې هیر دے احمقانو دے هیر کړے
خلاص به شې له غمه چې دِ یاد وی هر زمان
پاتې دا دُنیا ده له هر چانه لکهٔ لوهیرې
خاؤرې کړه دې خاؤرو ډیر کلونه دَ بوستان
وینا دَ اسمٰعیل کهٔ هیره نهٔ کړې نهٔ ترمړکه
روښانه به شې ستا پرِ هغه عمرِ جاودان

بیلتانهٔ مې په جنان[1] کړلو اوږ پورې
بې له آهه مې خبرې نهٔ زده نورې

[1] جنان: زړهٔ

زړه په ولې فریاد نه کوم دې غم کښې
په نقاب چې ئې کړې پټې سترګې تورې
د بورا په څیر خزان کښې نسې ګرځم
پسرلے که مې ځکړې بیا وتې سمسورې
کاش چې ناست وے زړه مدام د یار په څنګ کښې
اندیښنې په وې زما تولې نسکورې
اسمٰعیله ښه خیریم چې ئې نه راشې
بیا په چرې هم بل لورې ته نه ګورې



چې په یار پسې ژړیږي دا پرزیرے د خندا دے
په دې چاره ترِ رضا شی دا قانون عجب زیبا دے
چې وی خوښ د خپل دلبر خوښ کې په ژړا به مدام سروی
چې ترمړګه پورې ژاړي دغه کس مردِ خدا دے
خنده رویه هسې ښکاري زاړه ئې ژاړي چې قبول وی
په ظاهر که وی عالم کښې په باطن کښې ترِ جُدا دے
د دُنیاله رواجونو ناخبر وی په دُنیا کښې
لوړ رواج د مینې ئې زړه وي په دې کسب د مولا دے
اسمٰعیل د خپل مولا نه نور هنر د مینې غواړي
له پښواړي پرِ زده کړے دا د خپل پیر په دُعا دے

کۀ په یار پسې زړۀ اوکړې نو ښۀ دہ
دا زړۀ دِ چرې هم بې ځایه نۀ دہ

هغه تخم دے زړۀ چې زرغونیږي
داسې تخم چې هم تخم هم اوبۀ دہ


ملغلرہ ئې له هر ځا څکې جوړیږي
په دریاب کښې ئې صدف کښې تپکاونړہ دہ

جوهري چې ئې بیرون که له دریابه
بیس له هغې دَ شاهانو په ولکه دہ

ملغلرې چې دِ جوړې شي له اوښکو
دابه ستا وي تا به شاه کړي دا ئې فائده دہ

بادشاهي به کړې مودام په دواړه کونه
دې انعام لرہ زړۀ ستا وسیله دہ

اسمٰعیله غمزدہ اوسه دنیا کښې
غمزدو له ډیرہ لویه مرتبه دہ



ماالید ے غنچه فم دے ځکه یادمې په هر دم دے
اے خدایه مینه غم دے داپښا هم ستا کرم دے
نیم ولاړم په سر دَ دار

تل ژړېږم بیابان کښې په فراق دَخپل جانان کښې
ځاې مې اوچ نشته ګرېوان کښې دَنو دواو ښکو باران کښې
ډیر ځلکو کړم ناقرار

زهٔ غوټۍ شوے په خنجرم ارمان دَخپل دلبر یم
په دې مینه قلندر یم سیلاے دَ بحر و بر یم
چرې نهٔ موم قرار

همه عمر به وفا کړم چې له خلقو دِ جُدا کړم
تنها کړځم داګدا کړم تار یکونه دَ صحرا کړم
ستا دَ مینې شوم یادګار

اے زما دَ رنځ طبیبه خوبرویانو کښې عجیبه
زما زړهٔ لوګ خطیبه زما زده له عندلیبه
ستا دیدن یسې چغار

صبح وشام کړمه فریاد زهٔ ډیر دِ مینې کړم برباد زهٔ
زړهٔ کښې تالوم مراد زهٔ یم په تا پائنده یاد زهٔ
یادومه دِ رخسار

دَ بورا په شان خزان کښې ژوند تیرومه په ارمان کښې
نکه یم چې په نیران کښې ستا دَ وصل ګلستان کښې
شوم زخمي په خندو سبار

ستا دَ زُلفو په دامونو ستا دَ سپین مخ په یادونو
شومه سر په تورو غرونو دَ هجران تودو بادونو
کړو ګرېوان مې تار په تار

ستا دَ مینې له کبله غمزده یم تل تر ستا له
خبر نهٔ یم له اجله چې په راشي ماله کله

دے هم دا مې انتظار

ستا په مینه شوم مجنون زهٔ ژړند تیر ومه دکړون زهٔ
داسې کړمه ستا بیلتون زهٔ په دریاب دعشق دړون زهٔ

هم نشین یمه د نار

دُدُنیا په دې بازار کښې دغمونو کاروبار کښې
یمه تل زهٔ په خمار کښې شومه خاوړې دعشق لار کښې

هم پړ یمه پهره دار

اے خوبرویه گل اندامه خبرنهٔ یم له انجامه
بهترینه دل آرامه کړه سیراب مې زړه له جامه

وایم دا لیل النهار

نمر سپوږمې لتا شرمیږي ستا دې حُسن ته پسخیږي
هر عاشق لتا زاریږي د پتنګ په شان سوزیږي

ته چراغ ئې جلوه دار

اے دلبره بې مجال یم ستا دیدن ته پیرلیوال یم
ستي کړے ستا جمال یم نیر لتا له سروما ل یم

زهٔ کومه دا اقرار

محترمه نازنینه گل بدنه گل رنګینه
په حسینو کښې حسینه نا تمامه ده ستا مینه

اسمٰعیل یمه لاچار



زړه به ستا په انتظار یمه ترمرګه
داسې خوښ په دې انکار یمه ترمرګه

ستا په یادو مې هر ونه تول ایره شوه
خومحکم به په اقرار یمه ترمرګه

دهجران یاد مې ایرې خورې ورې کړې
په هر ځائے به دِ یادګار یمه ترمرګه

پس له مرګه به یارې راسره اوکړې
دې وصال ته طمعه دار یمه ترمرګه

اسمٰعیل مرګې ته ځکه خوشحالیږم
چې په عشق به دِ بیمار یمه ترمرګه




دا مې په زړګې باندِ ارمان دے له پخوا راسې
اوبه کړم دیدن کله ډیرګران دے له پخوا راسې

زړه دګلستان په طمع ګرځم چې به کوم ځائے دې
ځائے مې په دې طمع بیابان دے له پخوار راسې

چرې نه صبریږم له جانانه په دې پوهیږم
تصویر زما په زړه کښې دجانان دے له پخوا راسې

نه پوهیږم دا مینه که هرڅو په دې کړیمه
ځکه دا بیان مې په زبان دے له پخوا راسې

مینه دَجانان چې دلته نهٔ کوم نوخځهٔ به کړم
زړهٔ زما په دې بانډِ ودان دے له پښواراسې
مینه چې څوک نهٔ کړي دَ صنم اوځان اِنسان بولی
پوهه شه په دې چې دے حیوان دے له پښواراسې
واوره اسمٰعیله چې داچاره ګورے پرینیږه دې
جوړ دَ دې دَ پاره داجهان دے له پښواراسې




داپه عشق باندې زړکے زما کباب شهٔ
روان ځکه مې له سترګو نه دریاب شهٔ
په دریاب دَ خپلو اوښکو کښې لاهو یم
هم نشین مې دَ زړګي عالی جناب شهٔ
کنار په ژوندانهٔ مالره نیشته
همه عمر مې دریاب کښې دَعشق باب شهٔ
ډیر غریږ ونه مې دریانه یار ته اوکړهٔ
غرقاب اوسه داد یار ماته جواب شهٔ
محبت مې دَ همه عمرووغو ښتي
هر اندام مې ستي ځکه په آفتاب شهٔ
یم پتي پت به کومه زړهٔ ترمرګه
انار جوړ په ما په ژوند کښې دَ ثواب شهٔ
اسمٰعیل دَغم په تاڵ همیشه زانګم
مرور لما نه ځکه زما خواب شهٔ

زۀ دَعشق دَ لویه گنجه دولت مند شوم بې بـهـا
دَ هجران په خنجر وبنار کښې کړم داچاره له ښخوا
دَ بُلبل پشان ژړا کړم دَ مالیار په انتظار کښې
اے عالمه خبر نهٔ یم لاٰ تراوسه له خـنـدا
زۀ نکل په توکّل کړم داکوهر په دې موندے شي
تل ربیار ماته راښائے دا هنر نازو ادا
دَ ژوندون په هر ساعت کښې یا دومه زۀ دلبر خپل
دارون کار دِ کړي نصیب زما مدام کریم خـدا
زۀ دَ یار په بیلتانهٔ کښې دَ رنجو په څیر اوړۀ شوم
توري ستر ګې به ئې لمانه هیرې نهٔ شي دَ وفـا
ملاقې مې دَ دلبر کړه اے زما غنی خـدایه
په خاطر هم دَ هغه مې کړه قبوله دا دُعـا
اسمٰعیل کهٔ دَ یار غمنک کښې وے پړواري ځائے موندے
بیا به چرې ئې هُم له څنګه خلقه دے نهٔ و وجُدا

تل فراخه تنږه اوسه په دُنـیـا کښې
پس له مرګه چې بیا اوسې په رنـړا کښې
دې سفر کښې هر ساعت سخاوت اوکړه
چې بنې لوړې ماتړۍ در کاندی عقبٰی کښې

بخیل نهٔ شي بخیلي سړی توب نهٔ دے
دَ بخیل ځائے جهنم دے په جـزا کښې
دا دنیا خو امتحان لـره دهٔ جـوړه
ښهٔ ژغورنه[1] دِ دَ ځان کړه هر کاسا کښې
ښهٔ عاقل يې دَ ښو بد وتمـیز اوکړه
غواړه فضل له خدایه په ژړا کښې
کهٔ مسکن جنت کښې غواړې اسمٰعیـله
دَ نیکۍ په شناړ سوړ شه دې دریا کښې






زندګی طاعت کښې تیره دَ مولا کړه
خوئ خصلت دَ نیک عمل ځان کښې پیدا کړه
بد وچاروته نزدې چرې هم نهٔ شې
ځان لاهو دَ خپلو اوښکو په دریا کړه
دا سفر دَ توکّل بیړۍ کښې اوکړه
بل څهٔ مهٔ کوه مدام دَ رب رضا کړه
کهٔ دوستي دِ دَ رب غواړې نو ذاکر شه
صبح وشام دَ ذاکرانو ملګرتیا کړه
مدام اوسه آرزومند دَ رب دَ فضل
دې انعام لره له خلقو ځان جُدا کړه

[1] ژغورنه : کتل ـ حفاظت

له ساقي نه تل شراب دَ میني غواړه
همه عمر په دنیا کښې دا ګدا کړه
که په ځان دِ دَ عدن اوسیده سودوی
په دې مینه سرتاپایه ځان زیبا کړه
مرتبه په عاجزۍ باندِ موندے شي
خپل ځوګل له تکبّره بنهٔ صفا کړه
دَ آشنا په لوري دروم بل خوامهٔ زه
نور کارونه دی عبث وار وته شا کړه
ګلستان لره چې ځې له دې خبر شه
خارستان کښې ئې وروميے ته زده ادا کړه
اسمٰعیله دَ ګل رُخ جانان دَ پاره
په څو وار دَ عشق په لار کښې ځان فدا کړه






ما سره دلدار دے څهٔ پروا دَ چا لرم
زړه مې پرسنګار دے، دے ګویا په ترنّم
له هیبته مې زړګا پریوزي، کړي جانان ئې زرالوړته
وروميے ئې زار کړي له سپین مخه بیا دَ زلفوله هرخم
داسې مینه مې نصیب ده داسې نور مینه غواړم
داسې سوال کوم جانان ته په هر دم اوپه قدم
چې ربا رموشي ترمنځه نور که مینه موسیوا شي
ډیر خوشحاله په دې کار یم هم به کړم ترمرګه غم


تور و ستر ګو ته ئې چې ګورم د حیا نه کتے نۀ شم
نۀ ثانی ئې په عرب شته نۀ عالمه په عجم
زۀ ئې وینم لکه شمع چې وی بله په پرده کښې
په وصال کښې ئې دے وصال ته جوړ په ما څکه ماتم
اسمٰعیله ډیر ناتوان شوم د یار مینه بې بها ده
خبر نۀ یم چې تر کومه به داغوانه د اسې خورم





دلبره د وفا په لاره تېر کوم وفا پسې
ویښ یمه له خوابه په دنیا کښې په عقبیٰ پسې
نۀ یمه بې تنګه تل به تنګ کومه تا باندې
یمه د پتنګ په شان زۀ ستا د مخ رڼا پسې
ځان به په تا سیزمه ادا د مینې زده زما
نوره زده کول غواړمه کرشمه ادا پسې
وینې مې د مینې نمر ته او چې بیابان کښې شوې
راشه دیدن راکړه دا مې حال شۀ ستا رضا پسې
پرېښې دا دنیا ده ستا په مینه له پخوانه ما
چرې به ستون نۀ شم ستا له دره په دنیا پسې
خیر په مات کچکول کښې لنا غواړمه که راد کړو
دره په دره زۀ ستا دره پسې کرشمه په تا پسې
تا ته په نارو شوم بې مجاله ځکه غلے یم
بس دے دیوانه شوم اسمٰعیل ستا په بنګلا پسې


عبادت د محبّت دریاب کښې اوکړه
عاجزي د سترګو لوئ سیلاب کښې اوکړه
د رباله خیري ځان په توبه پاک کړه
حاضري تل د مولا جناب کښې اوکړه
د زیبا نګار د حکم په تعمیل کښې
هره چاره دِ د عشق آفتاب کښې اوکړه
چې شیطان درته لمسون د بدو کاندي
ته نیکي د دې لمسون جواب کښې اوکړه
لږ ساعت له ئې راغلے بیا به درومې
دا استوګنه ته د ځان حساب کښې اوکړه
د جانان د بیلتانه دې بیابان کښې
غم د وصل د خپل زړه کتاب کښې اوکړه
اسمٰعیله چې د مینې کاروبار کړې
له عالمه ئې ته پټ نقاب کښې اوکړه



په مقراض د غم زړګے خپل غسُومه
نه پوهیږم چې به داکوم تر کومه
د جانان نقاب مې سنځو و نه نیولے
له رخساره ئې ورو ورو ولرې کومه

یو نقاب چې تر کوم لوی بل څوک ندشی
داسې عمر په دې غم کښې تیروُمه
په نصیب مې ډیر غمونه دی خدایه
خپلې اوښکې به تر کومه اوچوُمه
کوم داچاره د هجران په شکوانے کښې
د یار درته په دې لار معلوموُمه
ملغلرې مې د یار د در دی موندی
سپین بشر به ئې زړه خنکه هیروُمه
د فرقت په غشو لګم څکه ژاړمه
تورې سترګې ئې ژړا کښې یادوُمه
اسمٰعیل په کتارو تیوتې شه
اوس ئې غوښې نذرانه کښې ورتوُمه


*



غوښ په تیغ د بیلتانه شه که د وصل طلبګار ئې
ځان ستی کړه په دې اور کښې که دمینې دعوه دار ئې
د برزخ رنړا د یاره اور د مینې په ځان بل کړه
داسې لاره نه شي تیروته چې رنړا ته بیا لاچار ئې
بنه ئې په یام بړده قدمونه په تحقیق د خپل جانان کښې
په دقیق نظر کاتنه کړه خار ستان کښې په رفتار ئې
اراده د باغستان اوکړه روان شه له دې سرا ئې
اره مه کوه چې هلته بیا د یار د باغ مالیار ئې


په تلاش کښې دَ ځان اوزه وړک له ځانه ئ په ځان کښې
که دِ ځان اؤموند خبرشه بنه پیوست ځان کښې دَیاړئ
اسمٰعیله ځان مونده کړه دَ جانان دیدن دَ پاره
دادولت دے ستا په ځان کښې که دِ اونه موندو خوارئ

―――――✲―――――




نه ژوندے یمه نه مړم دَعشق دریاب کښې
یوه پخه مې په زمین بله رکاب کښې
له زمینه به کړم بله هله پورته
عزرائیل چې راته او وائي خطاب کښې
انتظار کړم دَ پیشوا قدم بوسئ ته
کړم تطهیر دَ ځان دَ اوښکو په تالاب کښې
په خپل زړه کښې زه تصنیف دَ دلبر لولم
دائې لیکلے دے زما دَعشق په باب کښې
دَ هر حرف په کتابت باندِ ما سیزی
خبر نه یم چې نور څه لیکي کتاب کښې
دې کاتب زما په ژبه ځان گویا کړو
چرې نشته داوینا زما په تاب کښې
اسمٰعیل یمه حیران دې امتحان ته
څه به وایم ممتحن ته په جواب کښې

―――――✲―――――



آتش زن راله اور پورې کړو سینه کښي
سرو لمبو له ئې زګګ ورڅکړمه ولکه کښي
د آهونو هدیه چې ئې ماله راڅکړه
شوم ګذار د آتش زن په دروازه کښي
له هیبته مې تن رلې ډیر ویریږم
بندیوان ئې کړم د مینې جیلخانه کښي
له اثره مې د زړګ نول دے په برخه
یادوم صنم د غم په ترانه کښي
جانان غشي وروي زما په لوری
یم اخستے ئې له څخوا په نشانه کښي
اسمٰعیل چې خنک زخمي دے په دې غشو
هیڅوک نشته په دا شان دې زمانه کښي



چې د حُب دلبندي برید اوشۀ په ما
د اه کور شولو په زړۀ کښي جوړ زما
چې له فمه مې راوځي ځي په پورته
نور راولیږئ دې کورته له سما
له دې کاره به زګګ خنکه اونه کاریږم
چې ملګري د هر آه دۀ هره سا

دَغفلت له خوابه دوئ يم بيدار كړے
مقرر ده بيدارئ له دا غـــذا


دَ قاصد په انتظار يم څهٔ به وائ
چې څهٔ اُوائ نور غم مې شي سِـــوا

دَ اُلفت مكتب مې جوړ دے په كوكل كښې
پكښې وايمه سبق زړهٔ له پخـــوا

له همه ؤچار و كران دَ عشق سبق دے
په څو واره كړمه دې چار ې فنا

فن دَ عشق په زده كوم چې څوڅ ژوندے يم
كهٔ هر څو كړم فـريـا دونه واويلا

اسمٰعيل ډير كارنده شوم په دا چـارهٔ
كارنده پسې مې كړې اقـتـداء



چې دَ چا په ليچو كيوځئ تورې زلفې دَ جانان
هغه دم به شي مدام له هر يؤتار ته ډيرحيران


دَ يار زلفې دی خوشبويه مشک عنبرلری له مايه
داسنگار ور له پخپله خوښه كړے دے سبحان

رب دَ ځان اؤ دَ عالم مينې دَ يار ه يار سنگار كړو
بيائې دَ يار په خلهٔ عالم ته دَ دې كار اوكړو فرمان

چې څوک مينه دَجانان كړی دغه مينه دَمولا ده
دی لازم او ملزوم دواړهٔ دَعشق كار كښې دی يكسان

دَ بنګلا ثاني ئې نشته په اطرافو دَ کونین کښې
دا بنګلا دَ دَه نصیب ده دا بنګلا ده دَ رحمان
له صفته ئې لاچاره کُل عالم دے اسمٰعیله
ته به څهٔ په ماته خلهٔ کړې دا صفت دَ یار بیان





زهٔ دَ عشق دَ لویه کاره اوزګار نهٔ یم
دَ ناصح بیان ته ځکه تیار نهٔ یم
ما جانان سنګار وی په خپلو لاسو
له بل څهٔ نه زهٔ یه دې خبردار نهٔ یم
په سنګار جانان له برمه یم پرې ایستے
تش په نوم ئې دَ یارئ طلبګار نهٔ یم
له زیبا مخه ئې مخ جار ایستے نهٔ شم
بې له عشقه په دُنیا دَ هیڅ کار نهٔ یم
دَ اُلفت په غشو لګم دَ یار څنګ ته
له دې وجې دَ یار څنګ کښې قرار نهٔ یم
چې په کله قرار او موسم عالمه
له تراوسه زهٔ بې غمه میخوار نهٔ یم
اسمٰعیل به دَ وفا په لاره درومم
زهٔ راغلے په دُنیا جفاکار نهٔ یم



د ابروان[1] لیندۍ ماته دکه راشکلي
نه ور تلے شم نه تیږ تلے شمه داوولي

چې غېږ اوکړې وائي رالنډه شه قدم واخلم
په نصیب مې داسې چاره د لیکلي

د هر غېږ سره کېدار سم په ما اوکړي
هرکېدار ته ئې سینه دکه ما نیولي

له نباتو[2] راته جوړ زهر قاتل شوګ
د هجران خامار مې غوښې اوخوړلي

افرین په ما جانان وائي دې حال کښې
داسې مینه مې په برخه رسیدلي

اسمٰعیل مدام مرهم د وصل غواړم
کومه ورځ به وي طبیب راله تالکلي

کړه آگاه مې ته خدایه چې څه اولیکم ستا شان کښې
بې لتا لیکلے نه شم رهنما مې شه هران کښې

ته ئې مینه ته ئې علم دواړه ماله دلته راکړه
ته ئې حسن لتا غواړم ډیر زینت په دوجهان کښې

---

[1] ابروان : روځې [2] نبات : مصري ـ خوا ږه


انس اؤ جن دِ پیدا کړی تعارُف له په دُنیا دی
هر عارف له دَ شناخت ځائ جوړ کړو تا دَ هغه ځان کښې

دَ ژوندون په هر ساعت کښې په هیر نهٔ کړم تا خدایه
دا طاقت راله پیدا کړه تهٔ په زړهٔ اؤ په زبان کښې

ماعدن کښې خوبرو یا نو سره لوڅائے کړه کریمه
کرم دا سوال دَرنه اے ربه په دې خوشي بیابان کښې

دَ حساب په ورځ خدایه دا امید لرم لټانه
چې په ما کړې بې حسابو کښې تهٔ شمار په لوئ میدان کښې

اسمٰعیل یم ارزومند ستا دَ دیدار تهٔ مې نصیب کړه
بل ارمان مې په زړهٔ نشته یم مدام په دې ارمان کښې



چې مې خواته رانزدې شولو بیا غلے
داسې حُسن ما دَ چا نهٔ وو لیدلے


توري زلفې چې ئې لرکړې له رُخساره
هغه دم مې پر زړګے دے خپل بائیللے

محترم چې شهٔ روان زما له خواته
په ماجوړ شهٔ په ژوندون دَ خاورو ځلے

دَ آقا دیدن ته خاوره وکښې لغړیږم
لا تر اوسه تر قاصد نهٔ دے راغلے

دَ فرقت په توره هر ساعت ژوبلیږم
پرهرونه مې دی ډیر نهٔ شم شمارلے

دَ هجران په تورو شپو کښې ځلا غواړم
بیا به کله ړانما شي هغه شبکلے
پام لرنه ئې کومه زه دَ لاړې
دي بلا دَ انتظار سیمه خوړلے
تسلي زړه له ورکوم چې اوس به راشي
چرې نه شه له ژړا نه په دې غلے
دا یقین لرم چې ړا به شي خو کله
همه تن مې دې سکروټو دے داغلے
محبت عجیبه اور دے لیدے نه شي
که هر څو پرِ روح او تن وی سوزیدلے
تول بدن آخلي پخپله احاطه کښې
دغه اورې په زړګي وی لګیدلے
اسمٰعیل په غم له اوره سره یار له
که یؤوارې ئې زه ځان نه وے بیللے



ته مې نګهبان شه اے زما کریم خدایه
دروممم دَ صنم په لوریم ستا دَ درګدایه
ستا دَ جانان مینه مې په زړه کښې دہ خبرې ته
تا راله پخپله دا راکړې دہ اکبرې ته
پخپله له هر چا نه پیر شیدا په ناز پروري ته

له ځلا : رنړا

ځکه دې همه واړو عشّاقو له رهبرۍ ته ځۀ
غواړمه لتانه نور کا مینه راته ښایه

مینې زۀ لتانه مینه غواړم بل څۀ نۀ غواړم
ستا په مینه ستا دَ مینې بام ته زۀ ښاته غواړم
مدام زۀ له دې بامه دَ جانان مخ ته کاته غواړم
چې دانۀ غواړم ربه په دُنیا کښې په نور څۀ غواړم
دَ مینې په آفتاب کښې لټوم دَ مینې سایه

ما دَ خپل جانان سره یو ځائے کړه په عدن کښې ته
ما دَ دۀ په لوری ښۀ قائم لره رفتن کښې ته
ماله ئې دیدن راکړه په وخت دَ زنکدن کښې ته
مخ راله پټ نۀ کړې بې دیدنه په کفن کښې ته
ما دَ دۀ په مینه ویرستی کړه سرتاپایه

تا په کُل عالم کښې پیدا کړے بهترین دے ډیر
ځکه په همه واړو خوبانو کښې نازنین دے ډیر
دے دَ عاشقانو سوو زړونو له تسکین دے ډیر
ځکه دِ ستا ښُلے رحمت اللعالمین دے ډیر
راغلے دې دنیا ته دے نبیؐ له هغه ځایه


تا ورله په سرتاج دَ لولاک ایښے عظیم دے
تا دَ خپل معشوق کړے پخپله ډیر تکریم دے
نورئې پیدا کړے تاله هر څۀ نه قدیم دے
بیا دِ رالیګلے په دُنیا بادِ نسیم دے
کړم به دیدنو ته اسمٰعیل ترخوله ورایه

—————✻—————

لوئ جا کیږي شهٔ په برخه دَ وفا
راعطا کړو په انعام کښې خپل مولیٰ
زهٔ ئې نیش کړم بیا په شتهٔ شم چې وفا کړم
دا وفا ده هم فنا او هم بقا
نوم نشان دَ سړي ورک کړي بیا ئې پیدا کړي
لکه تخم چې زرغُن شي بیش بها
افسانې ئې خلق وائي په دُنیا کښې
چې خوړلے وي دَعشق توره بلا
وي عادت په میخانهٔ دَ یار دَ حُسن
دا نشه ئې کړي له خلقو نه جُدا
له چشمانو ئې لښکرې ځي دَ اوښکو
وي ترمو که پوره ډوب په دې دریا
ارمانې دَ نور و ستر کو دَ لیدو وي
په دیدن پسې ئې ګرځي په صحرا
دَ هجران په ارغنداب[1] کښې تل او سیږي
ارغوان[2] له ریبه غواړي په ژړا
دَ موجونو له سیره و سره مخ وي
هر عاشق وي په دې حال کښې یک تنها
اے ریباره یار ته وایه چې زر راشي
شومه دَل دَ بېلتانهٔ په آسیا[3]

[1] ارغنداب: یو دریاب دے (قندهار) [2] ارغوان: دَ یو ګل نوم دے [3] آسیا: ژرنده

د یار د رته چې د روان څو یوری نهٔ یم
اسمٰعیل به یم ترهغې په غــوغـا



لاس فراخې د سکوتو انبار راکړو
په سینه کښې ئې راله ځائے جوړ د غوغا کړو
د ارمان ځلې ته ناست یمه په ځان کښې
زما لاش ئې دفن ما کښې په بیدیا کړو
همه عمر د خپل ځان په تماشه شوم
نور عالم ئې هم زما په تمـاشا کړو
سپین بشرې د آفتاب په شان را اوښود
په ورېځ د بیلتانهٔ ئې بیا فنــا کړو
نرګسی ستړګې چې ئې مرې را واړولې
هغه دم ئې زما زړهٔ لما ته غلا کړو
تش کوکل ورپسې کړځمه هر لورته
که ئې ځان راته پخپله رانمـا کړو
تور و زلفو د خیال تیاره وهلې
اسمٰعیل ئې په هر ول تالا والا کړو

○

دَ ژوَندون په هر ساعت کښې دَغمونو سره مخ یم
زۀ دَ عشق په لوئ دریاب کښې دَموجونو سره مخ یم
دَجانان دیدن دَپاره دَ امید بیړئ کښې ناست یم
قرار نۀ مومم دَ هجر دَیادونو سره مخ یم
دَیار مینې په دُنیا کښې له هر کار ه یمه وتیستے
شپه او ورځ دَیار په یادو فریادونو سره مخ یم
بیلتانۀ سره چې مخ یم خوشحالی په ښکته اوکړم
زۀ دَ خپلو تودو اوښکو سیلابونو سره مخ یم
او دَ مینې مې کوکل کښې تل بلیږی پرستی شوم
دَ اور دویه یار دلاسه دَ اورونو سره مخ یم
مینه اور نۀ دے نوځۀ دی هر عاشق په دې ګواه دے
اسمٰعیل ځکه مدام له دې ویرونو سره مخ یم

○


دَ خواګی[1] خبرې پټې کړځوم زړۀ کښې
زۀ مدام دا شمعې ځان ته بلوم زړۀ کښې
په یادونو دَ خوبام تن ور تیرې
دې مهمان له خپلې غوښې ورکوم زړۀ کښې

---

[1] خواګے : پټ ملګرې

ما دَ زړهٔ په فرش جانان ته خوان خور کړے
هر ساعت پرِ خپل جانان زهٔ اُزړ وم زړهٔ کښې
همه عمر مې دَ عشق خُوږ کښې تیریږی
له خولو نه ځان په صبراوچوم زړهٔ کښې
بې له عشقه عظیم غم په دُنیا نشته
له دې غمه شنې مانړئ ودانوم زړهٔ کښې
نوړه غوښته دَ دې غم کوم له خدایه
داسې بیا بیا خپله ځان قوبانوم زړهٔ کښې
دَ دلبر عکس مې دَ زړهٔ آئین کښې ښکاری
دغه عکس ئې صبح وشام زهٔ ښکلوم زړهٔ کښې
په ژړا ژړا دَ یار دیدن دَ پاره
دَ ربابه په وینا ځان سنګاروم زړهٔ کښې
اسمعیل دَ عشق دستور له برمه پرې ایښم
سرهٔ ګلونه خپل جانان له تولوم زړهٔ کښې





خړې غرونه دَ خیبر مې دی په زړهٔ کښې
شهنشاه ځکه په ژبه دَ پښتو یم
زهٔ تصویر دَ خپل وطن وینم هر څهٔ کښې
ډیر مئین دَ پاکستان په سرحدو یم
دَ بیرغ په رڼا ئې زړهٔ زما رپیږی
پائنده ئې دَ بیرغ په رپیدو یم

خوړېګونه به يې په سروګلو وړنهٔ کړم
زهٔ عادت د ريګستان په ميکدو يم

ځې له سترګو مې روودونه سمندر شته
سيلانې زهٔ د وطن د ښسکو غرو يم


ټول سيندونه چې يې څنګه دي يوُ شوي
ارمانې داسې د قام د يوُکيدو يم

مسلمان خوښه يوقام دے بيل نهٔ دی
غمزده د مسلمان په بيليدو يم

د غليم لارې شاړل دِ ولې پرېښوګه
په دې چاره دِ مدام زهٔ په سلګو يم

اسمٰعيل به خپل وطن چرې هيرنهٔ کړم
د پتنګ په شان عادت په سرولمبو يم





بېديانے شوم ستا د مينې په غمونو
سر مې ايخے په بالين[1] دے د يادونو

ستا رخسار مې په زړهٔ نقش دے ورته ګورم
بېچاوتړه په څان خوږومه د آهونو


د فرقت بادونو يوړم ستا له څنګه
دړته ستړے شومه ډير په آوازونو

د عشق بريخ مې راوچت دے له سينې نه
بې مجاله کړم صنمه فريادونو

[1] بالين ؛ بالخ


افتابي يم ستا دَ مينې په دُنيا کښې
سوړ ے غواړمه زهٔ ستا دَ ديــدنونو
په مدفن دَ عاشقۍ کښې زهٔ مدفون يم
ډير زړيلے يم دَ هجر طوفـانـونو
اسمٰعيل ته دَ غم دَ ف مدام غـريبۍ
خنک خبر شي دَ دُنيا له رواجـونو






لوړ په لوړ کړم دلبر پسې زحمت کښې
داسې چاړ ه ده راپيښه محبت کښې
زهٔ دَ حُسن په درياب کښې مستغرق يم
دا سزائې راته اوړلي عدالت کښې
نهٔ وسيے شم نهٔ اوړمه نهٔ تښتلے شم
داسې حال مې شهٔ دَ مينې په قيامت کښې
دَ جانان خمار و ستر کو ديوانه کړم
ماليدلي دي دا سترګې حقيقت کښې
يم سپاړ ے ئې دَ غمونو لوئې بحـيرته
دا بهيږۍ دُ جانان په سلطنت کښې
ملغلرې پکښې موسم دَ يار درلـه
دي پرتې په صد فونو دَ فرقت کښې
دَ زړهٔ کوړ ترته په وړ و وړ و ډکومـه
خپل دلبر لره ئې بدمه حفاظت کښې

په دُنیا دَ جانان مینه لویَ دولت دے
راعطا ئې کړو دَ مینې مشقت کښې
اسمٰعیل په ګدایئ کښې شاهجهان شُوم
دا ګدا اکرم په بازار دَ طریقت کښې



صبح و شام خوږمه سیبړې دَ هجران زهٔ
عادت ګکه یم دَ اوښکو دَ باران زهٔ
په ګریوان مې اوښکې دړومې دَ یار دړته
پکښې وینم دَ یار مخ پسې ارمان زهٔ
تحیّر به ولې نهٔ کړمه دې حال کښې
چې اوسیږم دَ حیرت په بیابان زهٔ
دَ الفت په زولنو یم کلک تړلے
دَ یادونو په وطن کښې خپل جانان زهٔ
دَ قربت په امید ژوند زما تیریږي
پیش قدمي کړمه په لوړ دَ عالیشان زهٔ
دَ تعظیم ادا ئې وړو وړو زدهٔ کړمه
یم فائز په دا منصب په خارستان زهٔ
دَ اخلاص کوشش رښتوږ کړمه دې فن کښې
دروغ به نهٔ شم له دې رنګه په جهان زهٔ
دَ یار غم کښې پریر دهشت یمه اخستے
په دیدن پسې ئې ګرځمه پریشان زهٔ

قیام کاه دَ بیلتانهٔ کښې تل اوسیږم
سکونت به څنګ کوم دَ اطمینان زړهٔ
اسمٰعیل له خپل شباب خبرنهٔ یم
پیر زړے یم دَ مینې دې طوفان زړهٔ




کړمه تراه له بیلتانهٔ هم مې آشنا دے
وایه زغابنت[1] له خپله سوړې کړے چا دے
چې دَ تیغ لاره دِ نیشته له بلا نه
بس ورځه غاړه په غاړه چل نې دا دے
دَ جانان دیدن له تلهٔ څهٔ اسان نهٔ دی
هر عاشق وړومبے خوړلے دې بلا دے
دَ یار ستر کوله راغلهٔ سخه ځوان مرد دے
چې اوړهٔ دَ بیلتانهٔ په اسیا دے
چې څوک توخ دَ بیلتانهٔ دَ لوړې کاندی
مدعی بیا دے دَ بلې مدعا دے
دا دُنیا ده پیدا شوې بیلتانهٔ له
دې تشویش کښې تفتیش تا لره اولی دے
دې خواهش لره له خپل خواهشهٔ دُورشه
فکر او کړه چې کوم تا لره زیبا دے
قناعت دَ بیلتانهٔ په تشریح کاندم
نا معلومه تل انجام دَ دې دریا دے

[1] زغابنت: نیشته

اسمٰعیل له بیلتانهٔ نه خلاصے نیشته
دا ئې بیکلے په ازل دهٔ له پخوا دے

—— ✻ ——



په دوستۍ دَ کمینو به کمینه شې
ځان ساته له کمینو چې خائسته شې
دَ حیا په ځادر پټ دَ ځان اَشنا کړه
چې دے تاله اوته دهٔ له آئینه شې
دَ حسد کور کښې څرقاؤ دَ مینې اوکړه
چې له دغه گرد غباره پاکیزه شې
له مکارو خلقو دُور اوسه دُنیا کښې
چې په خُلهٔ دَ هر وکړی ترانه شې
سبهٔ دریافت دَ ځان کوه له نیکو خلقو
په دا چاره به پخپله ځان مونده شې
په دربار دَ نیکو کارو کښې خادم شه
چې مخدوم دلته دَ دوئ په وسیله شې
دُښمنی نوره له ځانه سره مهٔ کړه
نور به تور لکه دَ تیغنې په سینه شې
شکسته ځان به دِ دروغ رمښ شې درومه
کهٔ یؤ وارې ته عادت په میخانه شې
اسمٰعیل په دې شرابو مستانه یم
مدام څښه چې په دې نهٔ هم مستانه شې

چې دَ یار په تورو زلفو بندیوان شوم
دَ سینې په مزکه ځان لره دهقان شوم

تول چې کل مې خپل دَ عشق په یوه وار وُ
دَ ځان تخم زهٔ پخپله دَ خپل ځان شوم

له چشمانو پرِ دَ اوښکو باران ووری
زهٔ عادی دَ خپلو اوښکو دَ باران شوم

زړ غنیږم په هله چې جانان راشی
هسې خاوړې په هجران دَ خپل جانان شوم

زهٔ په ځان کښې ځکه شیه اوُ ورځ ځان ګورم
چې پخپله یم آئین ځان ته حیران شوم

خپل دلبر هم پکښې وینمه له وړایه
په خپل ځنګ کښې به ئې وینم کهٔ روان شوم

اسمٰعیل به تل همدم یمه دَ یار خپل
صفت خوان ئې مدام ځکه په لسان شوم




چې پایمال ترڅو دَ حسن په توان نهٔ شي
تر نفعې به نهٔ په غیږ دَ جانان نهٔ شي

دَ دلبر تصویر دَ زړهٔ په تاخ کښې کیږدہ
ورنه ګوره ترِ غافله یوآن نهٔ شي


سلطنت کۀ دَ کوُنین ځان لره غواړې
بې له عشقه به تۀ چرې سلطان نۀ شې
فتحیاب په خپل دلبر تا څنګه بولې
پرهرې چې په تلوار دَ هجران نۀ شې
هر پرهر باندې به پیښې دې دَ صبر
بې له صبره په مالیار دَ بوستان نۀ شې
چې لطف غواړې تل دَ فکر په تال ځانګه
بهار کوم دے چې خیر له خزان نۀ شې
چې دَعشق په اور دِ ځان سیزے نۀ وې
اسمٰعیله هیڅ خبر به له ځان نۀ شې





په خوُبانو کښې دلدار زما اعظم دے
دَ ښائست ثانی ئې نیشته غنچه قم دے
دَ لولاک تاج ئې په سر ذوالجلال یخے
پیدا کړے رب له هر چا مقدم دے
په ظاهر کښې ئې آدم نیکه بیلے شی
په باطن کښې دے آبا دَ دې آدم دے
کل نبیانو ئې وو دیدار له ربه غوښتے
مقتدی دَ همه وارو محترم دے
ابتداء دَعالم شوې ده له دګـنـه
دے رحمت ځکه دَ پاره دَعالم دے

ډیر شیدا یه دګه له هر چا ذوالجلال دے
لامکان کښې ځکه دګه سره منضم دے
اسمٰعیل دَ دګه دَ دَر غلامی غواړم
دې مخدوم پسې مدام یه ما ماتم دے



په اتش مې زړه اتش تش په لیدو شهٔ
په تول تن مې په وروو په خوریدو شهٔ
ډیر ناتوان دَ بیلتانهٔ دې تشدّد کړم
همه عمر مې په دې دَ کړیدو شهٔ
کارنده شوم سرولمبو کښې سرولمبوله
کاړنده نه اور په ما په زیاتیدو شهٔ
هم پرِ سوزم هم ئې غواړمه حیران یم
دَ تسخیر سوړے په ما په لوئیدو شهٔ
هر ځے زړهٔ مدام وایمه دې اور سته
دَ آه چتر مې په سر په سوزیدو شهٔ
دَ یادونو په یوکو مې ډیر کبری کړو
ځکه ما ته خپل زړګے په ژړیدو شهٔ
په ډیر غم دَ اسمٰعیل اوښکې شوې اوچې
په دریاب کښې دَ غم نور په ډوبیدو شهٔ

چې له اوښکو مې دَ اوښکو دریاب جوړ شهٔ
پس له هغې مې له زړهٔ نه کتاب جوړ شهٔ
مدام لولم دا کتاب په دې دریاب کښې
عداوت ځکه زما او دَ خواب جوړ شهٔ
پکښې لولم تل یادونه دَ جانان زړهٔ
له ډیر خوږه دَ یادونو رباب جوړ شهٔ
ترنّم زما سینه همه قبضه کړه
پکښې کوم زما دَ ښکلې جناب جوړ شهٔ
همنشین سره په قیل وقال کښې مست یم
قیل وقال زما دَ مینې په باب جوړ شهٔ
په خیرو دَ آشنا په ښکه مور شم
چې په زړهٔ مې لوئې مرکز دَ خطاب جوړ شهٔ
دَ خوبا دَ حُسن نمر بانډې وړ ستیږم
په دې نمر زما له تنه کباب جوړ شهٔ
اسمٰعیل دَ یار په غم دنیا کښې خوش یم
غم سبب زما له دَ هغه شباب جوړ شهٔ

چې بندي مې زړهٔ دلبره ستا په دام شهٔ
دَ حیرت په بیابان کښې مې قیام شهٔ

ستا دَ زلفو په ځنګل کښې يم ورک شوے
په رېا مې ډير له ويرې هر اندام شهٔ

دَ هجران دَ شير مخانو سره مخ يم
ستا په مينه کښې زما دغه انجام شهٔ


ستا دَ لوړې په ما ووړې له مُژګانو
تير وغشو سره ژوند زما مدام شهٔ

دَ زخمونو تاب مې نشته نور په ځان کښې
بې تابي کښې مې هم ستا په لور اقدام شهٔ

پتنګ چرې له چراغه نهٔ جار اوځي
په څو واره که ستي يم دا مې کام شهٔ

اسمٰعيل ستا دَ رخسار لمبو سوخته کړم
ستا له رويه ستۍ لمبې زما انعام شهٔ






چې کېدار په تاترين کښې دَ هجران شوم
ورک په دې زړهٔ له عالمه په جهان شوم

زړهٔ جانان جانان نارې مدام وهـه
تالانے دَ سرومال په خپل جانان شوم

تا ترين کښې مې تالاب دَ اوښکو جوړ کړه
ډير حيران پکښې تصوير ته دَ خپل ځان شوم

اژدها دَ بيلتانهٔ يم په خُلهٔ کړے
دَ يار غم کښې ښکلے لعل دَ بدخشان شوم


دَ یار دِرته به مې خُلهٔ کښې ورو ورو یوسی
ترهغې به مې زورې په داسې شان شوم
دااستوګنه مې په برخه دهٔ پوهیږم
همیشه پکښې دَ سپین مخ په ارمان شوم
دَ ناصح له نصیحته ځیله دور شوم
چې دَ یار په تور وزلفو بند لیوان شوم
بې له مرګه مې ضامن دَ خلاصې نشته
دې ضامن ته انتظار کښې په لړزان شوم
جوهری له به مې مُفت ورکړې لالې کښې
هغه وخت ته له پخوا په هاءٔ سوزان شوم
اسمٰعیل خونهٔ ژوندے یمه نهٔ مرمهٔ
زهٔ خیل ځان لره دَ مینې لوئې برهان[ا] شوم




دَ حیرت په تماشهٔ کړم قدرمن زهٔ
کړم بهرټې دَ دُنیا له انجمن زهٔ
په وطن کښې له وطنه بهر اوسم
جوړومه انجمن دَ بل وطن زهٔ
له اغیارو ئې پټهم ترون کومه
کړانې چارې کړمه ډیرفکرمن زهٔ
دَ سلطان دَ سلطنت په نوکرئې کښې
لوئې فنکار شومه دَ عشق په دې فن زهٔ

[ا] برهان، دلیل

په فیشن دَ ګدایئ کښې بادشاهي کړم
دې ګدا نه یمه ډیر آرزومن زړګه
قدردان راته دا چل دَ ګدا بشائ
زخمي کیږم په اغزو دَ چمن زړګه
دا زخمونه مې پنهان دې لیدے نهٔ شي
هم پنهان کړځم له خلقو غمژن زړګه
زما زړګه یاند تصنیف غنچه فم لیکي
په تصنیف شومه نافه دَ ختن زړګه
عنقریب دِه اسمٰعیل به ملاقي شم
له واکمن سره یه شمه واکمن زړګه






نابلدې له الفته ځان بلد کړه
په دي پاک له سینې خیرے دَ حسد کړه
دَ سینې په لوح به تاله لیکل اوکړې
ځان دَ مینې له مکتبه مستند کړه
مدرس شه تل دَ مینې په مکتب کښې
بې له دې نه نور کارونه همه رد کړه
ستا زبان به شي قلم زړونو دَ یاره
لیک په زړونو دَ عالم احد احد کړه
دَ عظمت دستار به تاله په سر کیږدی
هر ساعت کښې پیروي دَ محمدؐ کړه


اسمٰعیله کهٔ یاری په دُنیا غـــواړې
په دُنیا کښې همیشه خوئ دَ ابد کړه






په دلبر پسې له وړایه خوار و زار شوم
کنج دَ مینې له ما جوړ شهٔ پُراسرار شوم
په تمغه دَ راز داړې ئې اونما تخلم
چې ورو ښې تر په څو واره جان نثار شوم
دَ زړهٔ تاخ کښې مې تمغه دَ مینې ایښې
دې سند باندې دَ یار دَ باغ مالیار شوم
شنهٔ طوطیان پکښې خوړ دن دکشمش کاندې
سیلانے مدام دَ داسې لاله زار شوم
ځې له ستر کو مې رودونه دَ یار درته
په ژړا ژړا آشنا دَ گلعذار شوم
په فریاد فریاد ئې زهٔ غیرې له لاړم
پس له هغې زهٔ دَ یار دَ غاړې هار شوم
په مزه مزه مې دواړه لاس ترناؤ کړهٔ
په ځلکو ځلکو آشنا ته په گفتار شوم
په دمه دمه مې حال ورته خپل اووې
په انداز انداز ئې پښو کښې راکذار شوم
ډیر ساعت ئې میار کو پښو کښې پروت ووم
په ورو ورو پورته په لاسو دَ خپل یار شوم

اسمٰعیل په گفتگو دَ یار مشغول یم
میکده کښې دَ یار څنګ ته زهٔ میخوار شوم



مابه په یار پسې خدایه دا ژړا نهٔ کړله
تاکهٔ دَ یار سره په مابانډِ وفا نهٔ کړله
زهٔ ناخبر وُمه له مینې تا خبر کړم له دې
کهٔ دِ راښودے نهٔ وے دا مینه به ما نهٔ کړله
دَ ژوندانهٔ په هر ساعت کښې لتا غواړمه دا
کهٔ ستا کرم نهٔ وے نو ما به دا کډا نهٔ کړله
ستا دَ محبوب په وسیله هم ستا محبوب غواړمه
کهٔ دا مې فعل نهٔ وے ما به ستا رضا نهٔ کړله
ستا په رضا زما رضا ده ډیر رضا شه له ما
بې له رضا ستا به مې چرې دا ادا نهٔ کړله
دَ هاشمي دلبر دَ در غلامي غواړم لتا
کهٔ شیدا نهٔ وُم ما به چاړه دَ شیدا نهٔ کړله
دَ اسمٰعیل دَ زړهٔ له حاله خبر داریٔ الله
کهٔ زخمي نهٔ وے بیا به ئې پټه واویلا نهٔ کړله





یا عبد القادر جیلانی مخ دِ آفتاب دے
د رکوے رب محبوب سبحانی عظیم خطاب دے


ډیرئ نازنین پیره اے زما برین پیره
هر چا لره ئې تسکین پیره بغداد کښې ئې مکین پیره
ستاله فیوضاتو پیره ډیر عالم فیض یاب دے

اے د شریعت گله اے د طریقت گله
د ډیر لوئې سلطنت گله د پاک رب د الفت گله
ستا په مخ شیدا د مدینې عالی جناب دے

نسبے د مصطفیٰ ئې ته پیرانو کښې بالائی ته
ډیر ښکلے آقائی ته د مینې لوئې دریائی ته
جاری ستاله سینې نه د انوارو لوئې دریاب دے

لور په لور دِ ستائی خلق افسانې دِ وائی خلق
یو بل ته دِ ښائی خلق ستا په مینه پائی خلق
وائی په چمن کښې زموږ پیر گل د گلاب دے

غوث الاعظم عهده لرې عظیمه مرتبه لرې
لویه سلسله لرې شیرِ خدا استانه لرې
ستا په سپین رخسار پسې ډیر اسمٰعیل بې تاب دے



تل کشاده تندره اوسه بخیل نهٔ شي
دجانان د دره د لوري تبدیل نهٔ شي

دخپل نفس له تصرفه ځان آزاد کړه
واخله نفس په تصرف کښې چې ډیل نهٔ شي

د الفت توره را واخله جنګ د ساره
بې له دې نه په تهٔ چرې جمیل نهٔ شي

دحسد خونه ویرانه کړه له زړهٔ سته
په دې کور کښې به تر عمره اصیل نهٔ شي

په دې عمر باندې څهٔ په دې جهان کښې
چې دلبر لوره د مینې دلیل نهٔ شي

د دلبر په محبت کښې مستغرق شه
په دې فتح به کونین کښې ذلیل نهٔ شي

اسمعیله د پښتنګ په شان ځان سیزه
بې له عشقه به رښتیا اسمعیل نهٔ شي



د الفت په چاره زر زر آغاز اوکړه
پوخ طلب سپکښې د یار حجاز اوکړه

د دنیا د خواهش سیند کښې یې ډوب شوې
ځان له غم د معرفت د شناز اوکړه


معرفت له ئې پیدا بل څۀ له نۀ ئې
په دې پَرو دُنیا دې ته پرواز اوکړه
ځان قربان له خپل جانانه کړه دُنیا کښې
طریقه په ځان دَ عشق دَ جانباز اوکړه

په ژړا ژړا دِ زړۀ خپل پاکیزه کړه
دَ بُلبل په شان مالیار ته آواز اوکړه
دَ دلبر دَ در ادا هم دلته زده کړه
دَ عشق تله کښې دَ هر څۀ انداز اوکړه

میخانې نه بهره مۀ اوځه ترمرګه
خپل آشنا سره خبرې دَ ناز اوکړه
په دُنیا کښې هسې مۀ اوسه بې ننګه
ځان له غم دَ هغۀ عمرِ دراز اوکړه

اسمٰعیله راز ونیاز کښې مشغول اوسه
سینۀ پالنه همیشه دَ هغۀ راز اوکړه





دا کاروانه دِ ټول خوښ دَ رهبرنۀ دی
ستا توښې لره جوګه دَ سفر نۀ دی
ناخبره له توښې کړځې ورک شویه
ځان مونده کړه ویرېا دغه ګوهر نۀ دی
اے تش لاسیه دَ ځان غم در څخه نشته
دا غمونه دِ لا ولې په سر نۀ دی

په توبه د سینې لوښے بنه کنګال کړه
تول رکونه دِله هیڅه خبر نه دی

تل د عشق په نمر کښې کړځه سربېرے
ملاق دلته د یار بې هنر نه دی

له پتنګه هنر زده کانده ستې شه
سوزیده تالره هیڅ د ضرر نه دی


د ضرر له تیرې راشه دې رهنا سته
تا لیدلی خوبرویان یو نظر نه دی

همیشه به ئې له څنګه چرته نه ځې
لا خوړلی دِ خواږه د دلبر نه دی

مدام خیر غواړه د عجز کچکول کښې یارنه
داسې خلق مې یار شړلی له در نه دی

اسمعیله د یار در چوپې پرېنږدې
بهر خلق دِ طبیبان د پرهر نه دی






په انبار د بیلتانه مې ورمیږ مات شه
له مودو راسې دیدن ماله قات شه

د زیبا جانان دیدن ته ډیر لیوال یم
ورک لما ئې د دیدن هغه اوقات شه


تلوسو مې له سینې زړه دے شړلے
په صحرا کښې ارماني د ملاقات شه

دَ زینت په تماشه به ئې شمه کله
دَ هجران په طماچې مې ځان وفات شهٔ
دَ خنجر په سُوکه تهول پوټې پوټې شوم
لکه ځان چې مې په یار پسې خیرات شهٔ
دَ وفا دې دستور دا کانې راوَ کړې
دې دستور باندِ مې ځان ځان ته میرات شهٔ
خپل میرات زما میراث دے ترِ خُردن کړم
لما یاتې دا میراث خپل په کرّات شهٔ
صدقې ترِ په میزان دَ زړهٔ ورکومه
کهٔ پوره مې پرِ دَ مینې هر حاجات شهٔ
زړهٔ مې مروړی مینه، مینې پسې ژاړم
په مروړ نو ډیر عادی دے په صفات شهٔ
اسمٰعیل یم خپلو اوښکو کښې ډوب شوے
جوړ له اوښکو مې په یار پسې فرات شهٔ




چې غرقاب زړهٔ دلربا په رودِ نیل کړم
بس له هغې ئې عالم کښې اسمٰعیل کړم
په دریاب کښې دَ جانان وطن لټومه
دا لټون دَ خپلې مینې په دلیل کړم
کهٔ مې در دَ دلبر بیا موندهٔ خدایه
غلامي به تل ترتله دَ جمیل کړم


په څو واره مې ترځان دے قربان کړے
داسې ځکه ترانې دَ خپل خليل کړم
له جانانه چې مې چل زده دَ بازئ کړو
جانبازئ لره ئې صحرا ته زګا تبديل کړم
اسمٰعيل به له دې نيله په مرګ اوځم
ښهٔ پوهيږم ترهغې به پکښې ډيل کړم



چې دَ عشق په تيغ ترکومه پرهر نهٔ ئې
سر و لبانو له جوکه دَ هنر نهٔ ئې
دَ ساقي جام نوش کول دِ لا زده نهٔ دي
وروغ رمتې ئې لا زخمي په جګر نهٔ ئې
دَ عبرت ځاے کښې ئې پاتې بې عبرته
هيڅ خبر لا تهٔ له مشک وعنبر نهٔ ئې
دَ يار زلفي کهٔ دِ کيونې په ليچو
بيا به داسې بې پروا مسافر نهٔ ئې
دَ منزل په لور چې تش تور داسې درومې
تهٔ مئين دَ ګل جمال په پدر نهٔ ئې
نوراني چهره ئې څنګ ده لتاهيره
ښهٔ پوهيږم خواهشمند دَ کوثر نهٔ ئې
دَ شبنم غوندِ له نمرة تيښتنه مهٔ کړه
په تاخهٔ چې سوزيدلے په نمر نهٔ ئې


مستانه په میخانه دَ مهر اوسه
دې نعمت لره ته ولې نهٔ ږ نهٔ ئې
سینهٔ پاکه کړه لهٔ مکره چې نهر شي
ته عادت دَ یار دَ در دَ ثمرنهٔ ئې
کهٔ یو وار دِ دا شراب خدائے نصیب کړه
بیا به اَر په دې شرابو په سرنهٔ ئې
اسمٰعیل په بل ځه ځه کړم دا دی هرځه
اے ناصحه ما پشان قلندر تهٔ ئې





په ما کړے خپل دلبر عظیم تسخیر دے
راته پټ ئې شروع کړے اوږ دنفتر یر دے
ډیر اثرئې په ما اوکړو ځکه ژارم
رسیدے مې په برخه داسې ویر دے
دَ دُنیا چارې همه شوې لما پاتې
چورِ له غمه مې له ځایه ته خمبیر دے
ټول تقریر راته دَ غم په موضوع کاندی
په سینه کښې مې ځائے شوے لوئې تفسیر دے
دَ تفسیر پاڼې مې تشتنه په لوح نیک دے
په یو مخ باندې تفسیر په بل تصویر دے
هر ساعت ئې ماته دواړه مخه ښکارې
نهٔ کاتهٔ کړمه تصویر نهٔ چې تحریر دے

له تحریره ئې زړه لولمه عالَم ستـه
پکښې ښایمنه تصویرچې بې نظیر دے
اسمٰعیل دَ بې نظیر نظیر ورکومه
دا نظیر راالله راکړے زما پیر دے



معتبرتال ره ډیر دَ حال دا قال دے
اے بې حاله له چا واوره دا کمال دے
مرتبه به دِ په دې قال شي بلنده
دَ حال ځائے ته دروه دا مې درته سوال دے
له نیکانو دَ حال قال زده کړه په مینه
ورعطا دوئ ته په حال کښې لوئ جمال دے
دَ نیکانو صحبت ډیر کانده چې نیک شې
دغه قال بدل په حال کوي دَ سیال دے
رب دِ سیال کړه دَ سیالانو په تولی کښې
نقش په زړه باندِ دَ هر سیال دغه حال دے
نفس تابع کړه دَ خیل ځان تابع دَحق شه
غور زوے ابلیس سیال ته توره ډال دے
تل دَ نیک خیال په دریاب کښې غرقاب اوسه
حال نصیب دَ نیک خیالانو په نیک خیال دے
اسمٰعیله دَ جمال کمال ته ګوره
ستا راوتے له پښوا راسې دا فال دے

کوم ساعت چې شوم داخل باغ دلدار ته
هغه دم يې کړم ګذار نار رخسار ته

په کبرئ اور کېنې اوسېږمه زګه اور شوم
مرګ ته مرګ کېنې يم ډېره ديدن ديار ته

مرګ مې ډېر داسې مرګونه په ماتېر کړه
مدام کوړمه په مرګ کېنې د مرګ لار ته

مرګ په ماله دې مرګونو څخه خلاص کړي
ځم به يار له د تسکين بشکلي ګلزار ته

له مودو راسې اوبهٔ د ديدن غواړم
هر ساعت وايم اوبهٔ اوبهٔ ديدار ته

ځنکدن کېنې انتظار کړم ځنکدن ته
خېژولے يمه يار هميشه دار ته


نور به څهٔ اوږد ځنکدن کېنې چاته وايم
چې د عشق کلمه وايم انتظار ته

اسمٰعيل نهٔ کهٔ د عشق دليل نهٔ غواړي
په ديوان د اسمٰعيل کښې يې ګوره کار ته




زهٔ دَعشق په مدرسه کښې سبق وایم
چې څهٔ زده کړم په قلم ئې بل ته ښایم
دا سبق وایم دَحُسن په کتاب کښې
لا هو شوے زهٔ په داسې لوئې دریایم
سیلابونه مې مدام ژړي دَ هجر
په دې حال کښې توري ستوګې دَیار ستایم
لټومهٔ خط وخال په دې دریا کښې
دَیار زلفو کښې یم ښښتے په ژړا یم
ځنې ځنې ته مې کیږي په آئین کښې
په دې غم باندې او ښتے له پخوا یم
دَ بیلتون خامار مې غوښې خوري غصّه دے
له خپل یاره زهٔ په دې سبب فدا یم
دَکوثر پیاله به ماله ساقي راکړي
دَ دُنیا له خلقو دې پسې جُدا یم
دَ بیلتون چارې په ماله سنګارشي
دَیار در کښې به په ناز و په ادا یم
دَ ریحان غنچې به هر وخت بوئیږمه
له دې ځایه په هغوئ باندې شیدا یم
شیدایان به سره یوشو په چمن کښې
زهٔ به هم په شیدایانو کښې نمایم

دَ حرمت په لوټې بازار کښې به تل کړځم
دَ اُلفت په دم به دم وهم وفایم
اسمٰعیل په دې کړنګ کښې ټنګ خوشحال شم
چې دَ حُسن په وارونو زړګه تباه یم



مدرسه دَ عشق تعمیر په مزکه نۀ ده
له ازله جوړه شوې دا په زړګه ده
دَ توبې په کنجي ور دَ دې لر کیږی
هرې خښته ئې پخه په بیلتانۀ ده
دَ عشق باب پکښې چاپ کیږی له بل زړۀ نه
دغه چاپ باندِ عالم شي دائې قاعده ده
هم ئې لولي دا سبق عاشق په ژبه
زخمي شوې په حرف حرف دَ دګا سیته ده
دَ هجران په کرسۍ ناست وی په مکتب کښې
دَ حیرت په بیابان کښې ئې ټکانه ده
دَ اُلفت دَ باغیچې ډیر ارماني وی
شرابې دے ترِنه ورکه میخانه ده
دَ یادونو په سُور اور کښې ستې پروت وی
فریادونه ئې دَ مینې ترانه ده
دَ بُلبل په شان غږونه زیروبم کړی
له سینې ئې جوړه شوې سازینه ده

اسمٰعیل هم سازینه لری سینه کښې
پښه غوږېږي سازینه ئې شاهانه ده




زما اوښکې ستا د یاره دي که نه دي
دا روانې ستا په لاره دي که نه دي
اے دلداره جلوه داره ښاسته وایه
دا مې ستا د مخ له ناره دي که نه دي
زه په تاپسې له ځانه یم ورک شوے
ستا په شمار کښې دا له شماره دي که نه دي
د خپل شمار کتاب را اوښایه لږ ما ته
چې مې وینې له تلواره دي که نه دي
ستا د هجر د تیرو تورو په ښکر کښې
دا ناړې چې مې بې واره دي که نه دي
ستا د حُسن په خنجر پرهر پرهر یم
ښه څرګند مې له اشعاره دي که نه دي
د محمد اسمٰعیل د زړه قراره
ورځې شپې مې ناقراره دي که نه دي

پیدا کړے رب بادشاه ئې له خپله نوره
له قدیمه دَ پاک رب په دربار منظوره
مکمل ئې په خپل علم ئې نما نځلے
باخبرئې دَ الله دَ رسول منشوره
ته په حسن رسیده ئې ډیر ښکلیه
دا انعام دے په تا شوے له غفوره
دَ الله سره پیوست دَ الله رازئې
اے دَ پاک رب له دربار ګاه پور معموره
ستا په حسن ډیر عُشّاق دی ستی شوی
ډیر په تا پسې کړیږی له دستوره
ته بلبل لره ما لیار بورا له ګل ئې
ته پتنګ لره ئې شمع مشهوره
اسمٰعیل هم ستا په مخ باندِ شیدا یم
ستا جلوو په ما اور کړې اکبرپوره

په هجران دَ مکرم زړه در په در شوم
دَ پتنګ په شان په شمع خاکستر شوم
په بستر دَ بیلتانه کښې مې ځان نغښتے
همه عمر دَ بیلتون دَ اور نوکر شوم

له قادره یاره مدام سمدستي غواړم
داسې غم بانډې کړ دَ منوّره شوم
لا تراوسه مې دلبر چرته اونه لید
خبر نهٔ یمه چې څهٔ شوم ناخبر شوم
بې خودئ کښې مطّهر مطّهر وایم
په دې ښاره کښې څکه وړک له پښېور شوم
دَ نشې په ښاریه کښې پسې ځکرځم
څوک ئې نهٔ اوړي مدام په چغوسر شوم
اسمٰعیل څکه ناره مدام وهمه
چې مئین زهٔ په زیبا شمس وقمر شوم



دَ افسوس په ښاریه کښې مې مسکن دے
دَ کاش کاش ناره وهمه دامې فن دے
دَ نواز اوره کښې په زده کړه شین لوګے شوم
دَ هجران لوئ بیابان زما وطن دے
دَ صنم دَ دره په لاره بانډې تله کړم
همیشه مې په دا لاره ځنکدن دے
ځنکدن کښې دَ دیدن پیاله تل غواړم
په زبان زما هر آن عدن عدن دے
اسمٰعیل په داسې ولې غمژن شهٔ یم
چې دَ زړهٔ په تخت مې خوړ راته کفن دے

دا زما دَ زړهٔ قصه کتاب کښې په ژړا شوله
زهٔ دَیار اؤ یار زما یوه خبره دا شوله

دا هغه خبره ده چې ټوله قصه دې کښې ده
له دې نه وړاندې وروستو دا قصه جوړه زما شوله

اوس هم لا پوره نهٔ ده داسې به جارې وی دا
بس به شی پخپله کهٔ یؤ واری په خندا شوله

غم کښې به قصه دَ غم تو ره هم اوږده شی بښهٔ
لنډه به په څهٔ شی خوشحالی تړنه جُدا شوله

آخر به خوشحالی راشی دَ غم قصه به ختمه شی
هغه به تل جاری وی دا قصه ئې رهنما شوله

د واړه یؤ قصه ده وړاندې غم بیا خوشحالی پسې
خومره چې دا ستا شی بس هم هومره هغه ستا شوله

بس کړه اسمٰعیله دا قصه خوله غم بس نهٔ کړې
ډیر به شم خفه کهٔ دا ادا له تا قضا شوله



نهٔ وایم خو اُووایم دا خو وائی تهٔ اُووایه
زهٔ وایمه نهٔ ښایم خو دا راته وائی او ښایه

زهٔ به تل رضا دَ دې کومه چې خفه نهٔ شی
هیڅ به په دُنیا کښې بې له خونه زما زده نهٔ شی

ځکه ورته وايمه چې ماځان څخه بيايه

نۀ يمه خبر له دې چې نور به راته څۀ وائي
بس له دې خبر يمه چې څۀ وائي نوښۀ وائي

شومه هميشه زۀ دَ دې خو دَ در ګدايه

زۀ به مات کچکول کښې دَ دې خوښيا تولومه تل
ځان څخه ئې به زړۀ کښې پټه پټه بيايادومه تل

دا ګدا به يرځه ده زما له هغه ځايه

زۀ دَ دې ګدا به يت ګدا لره پټې شومه
ګرځمه به نمر کښې تل به دې پسې ستې شومه

غواړم له اميره دَ امير دَ ديدن سايه


زۀ دَ خپل امير دَ باغچې نورې ما نړې لټوم
غم شومه له غمه ځکه ځان لره ښادئ لټوم

پټ به به ښادو کښې کړې اميرې سرتاپايه

ستا به لوبه مينه مينه ناک شومه اے مينې زۀ
ستا دَ بيلتانۀ به نمر اوچومه خپلې وينې زۀ

نوره نوره غواړم اسمٰعيل لتا خدايه






محبوبِ سبحانی نظام الدّين دهلوی کله

ډير خوشبويه ګل ئې ته ګل کړے ئې هادی ګله

اے سراجه بل ئې ته له فريد الدّين سراجه
ستا نظرِ کرم ته ډير مدام يمه محتاجه

اے طبیبه ستا په در کښې پروت یم لاعلاجه
ما په خپل بوستان کښې کړه د ځان سره مالی کله
ستا په لور پرواز کوی ډیر صبح وشام بادِ حجاز
ته په خوبرویانو کښې مقام لرې بالا د ناز
ډیر په تا شیدا دے اجمیری خواجه غریب نواز
ته ئې په میخانې د چشتی کښې خمارې کله
ستا له میخانې دی جوړې شوې میخانې ډیرې
ستا د مخ رڼا باندِ ستی دی پروانې ډیرې
وائی بلبلان دِ په بوستان کښې ترانې ډیرې
دور لتا غموته دی په تا ده تل بنادی کله
سلطان الاولیاء ئې ته ډیر لوی سلطنت لرې
ته د پاک محبوب په طفیل تاج د ولایت لرې
خپلو مهرویانو سره ته ډیر محبت لرې
ته د اسمٰعیل نګی د پیاره ئې ساقی کله






زۀ په دام کښې دام بۀ دم پکښې دام کړشوم
دام کوی کرمه دام کړله زۀ ئې لوکړشوم
د غم دام کښې مې هنر زده کړو غمژن یم
د فیاض په قینچې غوښ د زړۀ په سرشوم
د یزدان سره پیوست یزدان نه ژاړم
زۀ د ځان د ډوبیدو ستر سمندر شوم


ډېر جوهر پکښې لټوم د نان سلطان له
دې کيميا پسې له ځانه زه بهر شوم
قد قامت د جواهر و معلوم مه
ستوماني لره په بحر مقر شوم
د هجران په اله ئې کوره په خوب کښې
په دې کار کښې مړنې د بحر و بر شوم
د خندا قاعده مې هېره دې روزګار کړه
په ژړا نږ همه عمر مسر و بر شوم
د سبحان وطن کښې هر وخت سفر کاندم
بل وطن ته د سبحان څمه خبر شوم
لوئې انبار د جواهر و راځخه دے
زه پېر نور پوده مرېږم ته نهر شوم
او که تکے په زه بل وطن ته لاړ شم
بنه به مور شمه چې دلته دېره در شوم
اسمٰعيل به دا کدا چرې پرېښر دم
په کدا باندې بادشاه او کدا اکر شوم


٭



تا چې ماله په سينه کښې د عشق بريخ که
دا دې ځان پسې زما رکونه وليښ که
چې له خوابه دې بيدار کړمه بيا نه وې
خپل يا دونه دې زما په زړه کې سليخ که

له غمونو مې محل دَ خاطر ډک شــهٔ
راحتونه تر یه تیښته زما شـیخ کهٔ
ورځ په ورځ مې داغمونه سیواکیږي
وړ نهٔ شي تا مې زړهٔ کښې داسې میخ کهٔ
ټول غمونه ستا دَ حُسن صفت کاندی
نور صفات يې له زړهٔ ویران له بیخ کهٔ
جیلخانه کښې به موړ تهٔ شي په شرابو
اسمعیله کهٔ خدائے دې باندِ پیښ کهٔ






ځائے په ځائے مې جوړ له اوښکو شوهٔ ډنډونه
وروپه وروپېر شوهٔ سـیوا زما غمـونه
زړهٔ مې شین دَ شین ګنبد په شین تصویر دے
سپین رخسار تر ورَوی په ما اور وسـنـه
زنګانهٔ باندِ مې سـر له غمـه ا یښے
دَ قبلې په لور مې مخ دے کړم وِیرو نـه
زهٔ به چرې دَ قبلې نه مخ وانـهٔ ړوم
دې ادا کښې ادا کومه نور نموځـونه
دریابونه له ډنډونو څخه جـوړ شـوهٔ
دَ جانان په لوری ځي وهي موجـونه
زړهٔ مې ډیر دَ دلربا غیرې ته کیږی
کله ښکل به يې کړم خدایه قـدمونه

په دریاب دَ عشق لاهو یم تن مې اُسوځه
دَ یار درپسې کرم سوې ارمانونه

بتول زړګې مې دَ عشق نمر کړلو کړمکي
ځکه غواړم دَ وِصال ستا نړه باد ونه

اسمعیل تل دَ حجاز لارې ته ګوري
ځي دَ پاسه پرې زما سوی آهونه



اخ په ولې زما سخت نهٔ وې له بخته
له هر اخ سره مې زړهٔ اوړي په خخته


له دې اخه مې اه جوړشي پور ته درومي
دَ عشق چاره شوله ماله ډیر کا سخته

دَ ضیاء ځځ په وفا مې داسې حال شهٔ
هر ساعت خورمه وَهل دَ غم په لخته


عاشقي دَ عشق دَ دار په سر موندې شي
ورختلې یمه دار ته زړهٔ له وخته

دَ آشنا دَ یاره تل په دار خوشحال یم
ډیر مې خوش دے دَ دار سوله تاج وتخته

اسمعیل په تل په یار ځان قربانومه
ما منلے دے خپل ځان دَ یار منخته



ستا دیدن دلبره غواړمه تل زړه
دَ هجران په ژړندَه ډیر شومه دل زړه
دَ اهونو په لوګو مې تالو تور شهٔ
ستا له حُسنه چې په زړه کا شومه بل زړه
دَ سینې میره مې تَوله په اور اُسوه
پکښې ښکار شوم همیشه دَ اَجل زړه
ستا په ننګ باندِ مې ځان په تا شهید کهٔ
په ویر نهٔ لرمه ځان پسې خپل زړه
اے حسینه خدائے ته اګوره ژر راشه
خبر نهٔ یم چې به څو کړم بلل زړه
دَ خپل حُسن باغیچې ته مې ژر بیایه
یمه تا پسې صحرا کښې بلبل زړه
طوفانونو ډیر زپلے یم دلبره
مدام خوړمه ستا له هجره وَهل زړه
ستا فراق مې له ازله دے په برخه
تا لرم ځان له غمخوار له ازل زړه
په غزونو مې حلق اوچ شو لوله تندې
ډیر اخستے یمه تا پسې جل زړه
اسمٰعیل چې ستا په باغ کښې کشمش خورشم
څهٔ کومه بیا دَ غم په غزل زړه




دَ شیطان سره په ځان کښې ښۀ په جنګ شه
په خپل یار پسې ځړاکوه ملنګ شه
دَ یادونو کچکول واچوه خپل څنګ ته
په عالم کښې له عالمونه په څنګ شه
دَ حاکم نظام په سر سترګو قبول کړه
ښۀ خبرې دَ تیرې توړې له شرنګ شه
دَ بیلتون توره به تا ډیر واره مړکه
په دا توره هر ساعت په وینو رنګ شه
ځان په وینو کښې لت پت دَ بیلتانۀ کړه
په خپل یار باندِ فدا داسې په ننګ شه
دَ رخسار له اوره چرې تیښته مۀ کړه
ځان په دې شمع ستی کاندِه پتنګ شه
اسمٰعیله کۀ بوستان دَ دیدن غواړې
دَ بوستان مانړۍ ده هسکه وړته ډنګ شه



زۀ اوُختے په مرض دَ لوئې ناسور یم
په خپل یار پسې له حده تیر رنځور یم
بې څلکو مې یوُ ساعت چرې تیر نۀ کۀ
ډیر لاچار له زۀ دَ عشق له دې دستور یم

په قسمت مې محبّت دے رسيدلے
هرې ساعت کې پۀ دې برخه مسرور يم
زۀ مئين لکه دَ قيس په ليلىٰ نۀ يم
زۀ فدا په دلربا دَ خپل غفور يم
تل دَ مينې په تازه اور بانـدِ سوزم
لکه ونه شوې دَ تازه اور په تنور يم
دَ نګار په بيلتانۀ مې تن ايره شۀ
سوزيدلے لکه زۀ دَ کوهِ طور يم
دَ ديدن باران له خدايه غواړم
دَ فراق په سوکړه زۀ له ياره دور يم
اسمٰعيله والله زړۀ دِ دَ کتو دے
بنۀ خبر دِ اوس دَ مينې له منشور يم





دَ مسلم په کور حملې دَ غليم کيږي
خبر نۀ يم چې په دے کله خبريږي
رنګارنګ وارونه ئې اوکړۀ صبر نۀ شۀ
رنګارنګ جواب که ورکړے شي ستنيږي
دُښمنانو ته دوستان احمقان وائي
عجيبه ده چې له دې به څۀ جوړيږي
په خپل کور کښې ئې دَ ځان په ويراخته کړۀ
دوئي لا بيا هم له هغو نه قربانيږي

دَ غیرت توره يې خرڅه په دُښمن کړه
په دولت يې ځکه شپه ورځ نهٔ مړيږي

ما تحتي يې دَ ما تحت دره اختيار کړي
ځائے په ځائے يې دا ما نړۍ ځکه نړيږي

دَ مسلم قوم به يې له ويرې په خُله نهٔ اخست
اوس مُسلم يې دَ وطن له نام ويريږي

دَ الله څنګ کښې يې طاقت دَ الله هير کړهٔ
کهٔ يې ياد کړهٔ درست جهان پرِ فتح کيږي


له مشرقه ترمغربه غافل پروت دے
مزرى لره دا خواب څنګه ښائيږي

اے مغلوبه تهٔ غالب وې بيا غالب شه
بيا مغلوب نهٔ شې کهٔ دا دِ په زړهٔ کيږي

دا ظلمونه به څنګ هيرشي له مردانو
په هر ظلم دَ سړي زړګے غوټيږي

دَ دُنيا په هره سيمه مُسلم يوٌ دے
له ځان ورک دی په وفا به مومندے کيږي


اسمٰعيل به چرې هم مُسلم هير نهٔ کړي
په اُلفت دَ پاکستان ورته ياديږي



اوريدهٔ بې له خپل يار ره کوے نهٔ شم
زهٔ خبره دَ بل چا اوريدے نهٔ شم

اے ناصحه زۀ په دوارو غوږو کونړ یم
یۀ ذره دِ په ګفتار پوهیدے نۀ شم
دَ دلبر خبرې اورمه په زړۀ کښې
ستا ګفتار ته یۀ ساعت سمیدے نۀ شم
سماعت مې بې له دې بل کیدے نۀ شي
له دلبره چرې مخ اړوے نۀ شم
ذهانت ما نیول له دې سماعت زده کۀ
زۀ دا ګنج د رومو جان پریښودے نۀ شم
زۀ په امر د رموجان ورکوم بل له
بې له امره دَ تاجدار ورکوے نۀ شم
تاج وتخت بادِ به څۀ کوم چې دا شته
یۀ دانه په تاج وتخت بدلوے نۀ شم
ما موندلی دا ګوهر دَ عشق په لاره
له دې لارې چرې بل خوا وتے نۀ شم
اسمٰعیل به دَ ګوهر و شاه له لاړ شم
په دیدن به ئې همیشه مړیدے نۀ شم





دَ جلوو مهرویانو دَ سر ګله
دَ هر چا په حقیقت کښې ډیره خپله
ستا له مخه یه رب ځان مخلوق ته ښائی
ستا له مخه به دوئ او بخښې پخپله


ستا له مخه یې معرفت دنیا کښې جوړ که
خپله مینه یې په ستا ده مکمله

د دې مینې مینه ته یې مینه ناکه
هر څه ځکه ذوالجلال ستا له کبله

له ازله یې مخکښې خوښ یې له قدیمه
چې ته نه وې ستا قیصه یې ځان ته کوله

خپله مینه یې پیدا کړې په اول کښې
پس له هغې یې په نورو اوښتله

پټ بشر کښې نور راغلې یې دنیا ته
اسمعیل په تا شیدا یم له ازله



چې پخپله څو خوشحالاله زار نه شي
تر هغې به هیڅ خبر له دلدار نه شي


باغیچه چې دِله زړه نه جوړه نه وي
دیار دړپسې به ته په رفتار نه شي

مالیاری زده کړه د زړه په باغیچه کښې
دیار باغ کښې به ته هسې مالیار نه شي

مالیار ئې له خپل یاره یې رالېږلې
بې له مینې به آشنا د نګار نه شي

غمخوری کوه ته هغه خوشحالې له
بې غمخویه د دنیا په بازار نه شي


سودا کړه شه تل دَ عشق دَ سرو سکروتو
یار موندہ شه په دُنیا کښې بیکار نهٔ شي
له خپل ځانه بهر اوځه دَ یار لار ته
څنګ به ئې مومې چې دَ لار پهره دار نهٔ شي
یار ته لار چرقاؤ وه مدام په او ښکو
ملاقی به بې له دې انتظار نهٔ شي
فواري دړ نه دَ ستر کو نښي نهٔ شي
له یادونو څخه ئې چرې قرار نهٔ شي
منتظر خطاب چې یار تالره دړ که
اسمٰعیله بیا جُدا به له یار نهٔ شي



په الفاظو کښې مې نشته چې ئې بیان کړم
داسې چارې له پیدا تا په جهان کړم
کوم دَ پوهې مې په دې څهٔ پوهه نهٔ شهٔ
کړه مې پوهه په دا پوهه دا ارمان کړم
ستا دَ حُسن انتها نشته خدایه
دغه حُسن له دِ دلته بندیوان کړم
له خپل حسنه دِ پیدا ځان له حسین کهٔ
دړ په دړ دا زړهٔ په دهٔ پسې هجران کړم
کل عالم حسن دَ دهٔ له حسنه مونده
ځکه تا دَ خپل حبیب زهٔ صفت خوان کړم

ستاله حُسنه په داوړ کړه څه کم نهٔ شی
په یوُ حال ئې ځکه سوال له تا هران کړم
اسمٰعیل ستا په حسین حبیب عاشق یم
ډیر زخمی ئې زړهٔ په غشو دَ مژګان کړم





دَ شفقت په پت مې ځان له دُنیا اوخکهٔ
دَ زینت په لوړ مې ستر کوډ بیا اوخکهٔ
دَ نصیب په دام بندی یم دَ غم زور کښې
ځان مې ځان نه دَ دې غم په غوغا اوخکهٔ
تن وطن مې سره دواړه جانان یوړهٔ
توړې شپې ته ئې مدام له صبا اوخکهٔ
توره شپه کښې په امسا دَ شفقت کړځم
تول عکسونه ئې زما دَ وفا اوخکهٔ
په وفا نوره وفا له وفا غواړم
په وفا پسې مې زړهٔ دلبر با اوخکهٔ
دَ چمن په لوړې یؤړو په خپل زړهٔ کښې
همیشه ئې زما زړهٔ لهٔ خندا اوخکهٔ
نن ګوګل زړهٔ دَ چمن په لوړی دروم
ډیر زوزان ئې له بیابانه په ما اوخکهٔ
اسمٰعیل تل دَ الله په توکل کرځم
کهٔ غمونه ئې له زړهٔ نه زما اوخکهٔ

ستا بیلتون مې دے نصیب حسنِ عجیبه
خیر نهٔ یم دې نصیب کښې له نصیبه
دَ غوغا په بنارېه کښې منصب دار یم
ما زده کړې ده غوغا له عندلیبه
دا غوغا مې دَ ثنا په ځائے قبلیږی
اوریدے دا فرمان ماله خطیبه
ستا دَ شان په ننداره کښې مې نن سوزی
شان شوکت دِ تول جوړ شوے له ترتیبه
هر یو تار دَ تورو زلفو دِ لوئې دام دے
یمه نښتے په همؤ کښې حبیبه
مستند کهٔ شم له بنده ستا دیدن له
شي طبیب به مې په هغه ورځ طبیبه
نامعلوم قید دِ په ما دے خیژوے
اسمٰعیل لره له وړایه ډیر قریبه



دَ دلدار دَ تورو زلفو په دام خوښ یم
دَ حیرت دَ لوئې شپې په قیام خوښ یم
ما ته تمام کړمه ګلشن پسې بلبل نړه
دَ زیبا په دې ډیر ښکلی انعام خوښ یم

مسلّط په ما غمونه دَ انعام دي
دَ یار غم کښې زۀ په داسې ناکام خوش یم

ما فرقت دیدن دَ یاره دے خوښ کړے
خپلې تندې لره ځکه په جام خوش یم

موړ به نۀ شمه په جام یم جَل وَهلے
ستا له اَمره په داجل زۀ مدام خوش یم


دَ وفا قیامت مدام په ما تېرېږي
دې قیامت کښې زۀ دَ مرګ په دانام خوش یم

زما مرګ کښې به دیدن زما نصیب شي
زۀ له حده تېر دَ مرګ په پیغام خوش یم

هر ساعت دَ مرګ ساعت ته یم لېواله
زۀ په ځان باندِ په داسې نظام خوش یم

هر کلے به عزرائیل ته بیا بیا وایم
ترهغې زۀ اسمٰعیل په صبام خوش یم






نۀ مې دیدار نۀ مې دلبر اولیدۀ
ځان مې په یار پسې پرهر اولیدۀ

زۀ چې دیدار کړمه په طمعه دَ یار
نۀ مې شبنم نۀ مې سحر اولیدۀ

خدائے خبر دواړه به کله راشي
نۀ مې شوقدر نۀ اختر اولیدۀ

دَ یار په غم کښې به ترڅو کړخمه
ماخو دَ اوښکو سمندر اولیده
دَ شنهشاه لاړې نه کوړم مدام
خُخ مې دَ زړه په سر خنجر اولیده
بې له فکرونو زما کار نشته بل
دالوئ دریاب مې ښهٔ جوش اولیده
دَ کُل عالم حُسن لوګې شه لـه دګ
کړمه ارمان که مې دا نمر اولیده
ما اسمٰعیل نه دُنیا پاتې شوه تل
چې مې دَ مینې دا منتر اولیده



دلدار که تور دَ سترګو دِ عقیق یمنی دی
له تور وې چا پیره سپین کلونه یاسیني دی
زلفې دِ سنبل زما دَ دل دَ یار که دام دے
ستا په سپین بشریې زما څکه صیام دے
نقش زما په زړهٔ دلبره ستا دا ښکلے نام دے
وایمه درود سلام په تا هم دام کام دے
ستا دَ فم خبرې همه وارهٔ رحمانی دی
ستا ښکلې بشریې عشاق په غرونو سر شوه
زړونه یې په تیغ دَ بلیتانهٔ باندِ پرهر شوه
ډوب په محبّت کښې دَ هجران په سمندر شوه


ستا دَ مینې اورکښې دا همه وارَه کسکرشوَهٔ
نارې ئې په دې اور کښې یارسولِ مدنی دی


ستا په محبّت کښې انتظار دَ محبّت کوی
دوئ په انتظار کښې په ځان چارې دَ قیامت کوی
حرص دَ نیک عمل په دغه لاره هر ساعت کوی
خوش بیابان کښې دَ عدن هغه عادت کوی

خویونه ئې په تا پسې دلبرهٔ عدنی دی

ستا دَ عشق سکروټو نه مې ډکه دهٔ سینه همه
نهٔ شمه لوټلے ستا دَ علم خزانه همه
نهٔ شی تمامولے څوک دَ مینې میخانه همه
څکه اسمٰعیل دِ وئیلے نهٔ شم ترانه همه

وایم همیشه چې دا چشمان دِلا ثانی دی





دَ دلربا سترګې یا دیرې زما
ډیر په یادونو زړهٔ خوږیږی زما

زما او دَ یار تر مینځه لږ مزل دے
لکه په زړهٔ کښې چې پیتیږی زما

کوم ځائے به کرشمه په ځان پسې زهٔ
چې ځان مې یار پسې ورکیږی زما

کله ئې ځائے راته دیبار اوښائی
کله دیبار هم پټ اوسیږی زما


کله دَ ځان په تماشه شمه زړګه
کله مې ځان ته ځان ژړېږي زما

دا لږ مزل راته الله اوبږد کړے
یوُ ورځ به دا سفر غوځېږي زما

لاړه دَ مینې مې په زړه ګ جوړه دګه
آخر به یار پرِمونده کیږي زما

اے اسمٰعیله شا به نور هم چاق شه
له یاره زړګه کله صبرېږي زما






تش په نوم دَ مسلمان نور ګرځه مه
دَ غفلت په بیابان نور ګرځه مه
دَ ابلیس خبیث له بنده خلاص شه
ته په خوښه دَ شیطان نور ګرځه مه
دَ شیدا قاعده کړه خپله چې قائد شې
بې دَ لارې دَ سُبحان نور ګرځه مه
دَ صبا په لور روان شه له دې شپې نه
په تیاره کښې سرګردان نور ګرځه مه
نقاب پوش سره په هوش خبرې اوکړه
بې واکۍ کښې دَ زیان نور ګرځه مه
محترم به معظّم خطاب درکاندی
له دې شان نه په بل شان نور ګرځه مه


دا روزګار به دِ محروم که له حرمته
په بازار کښې دَ ناوان نور ګرځه مه
دَ عجیب خطیب خطبه دِ رایه یاد کړه
هیرَوُو نګے یٌ له بیان نور ګرځه مه
باغ دَیار کښې به مالیار شي کهٔ یٌ غواړې
بې له یادو دَ جانان نور ګرځه مه
دَ ضمیر واګې قابو کړه اړتاؤ نهٔ شي
په چقړ وکښې دَ ځان نور ګرځه مه
اسمٰعیله ګرځیدهٔ چرې پرې تېر دي
خو بې عشقه په بل ثوان نور ګرځه مه





لرې دَ یار له میکدې خفه یم
زهٔ شرابي یم بې نشې خفه یم
خفه خفه په بیابان کښې ګرځم
خفه ریګونه دي په دې خفه یم
څهٔ ته چې ګورمه زخمي لیدے شي
ډیر زهٔ په داسې حادثې خفه یم
وایمه هر وخت میکده میکده
داسې له ډیرې زمانې خفه یم
په بیابان کښې بیابان شوم دَ غم
لکه بوراږې یا غیچې خفه یم

مالا تراوسه سحر اونهٔ لیدهٔ
دَ انتظار په اوږدې شپې خفه یم
ساقي مې جام ډک دے نیولے اوُرې
زهٔ اسمٰعیل وره ته دلې خفه یم




ستا رُخسار زما یادیږي محمّدهٔ
زړهٔ مې تا پسې ژړیږي محمّدهٔ
بې لتا زهٔ یوُ ساعت تیروے نهٔ شم
په زړگی مې اوربلیږي محمّدهٔ
محمّدهٔ ستا په زلفو بندیوان یم
په هر وَل مې زړهٔ خوږیږي محمّدهٔ
محمّدهٔ محمّد مې په زړهٔ لیک دے
خُنک په دے لتا صبریږي محمّدهٔ
یا حبیبه محمّد محمّد وائی
داسې عمر مې تیریږي محمّدهٔ
محمّد راته په هر لوري لیدے شي
پرِ زړکے زما نریږي محمّدهٔ
ستا دَ نوم په اخستو به زهٔ موړ نهٔ شم
کهٔ قبلې نه نمر راخیژي محمّدهٔ
تورې سترگې به دِ خُنک له ما په نظر شي
چې په زړهٔ کښې مې اوسیږي محمّدهٔ

دَ رحمت ستړکې الله تالره دړ کړې
رحمتونه ترِ ورېږي محمّدهٔ

ما محمّد اسمٰعیل ته ډېره خوږه
هم په تا مې زړهٔ خوږېږي محمّدهٔ

—— ※ ——



په دړبار دَ مهرویانو کښې لوغړېږم
مهرویانو پسې شپه اوُ ورځ ګرځېږم

په وطن کښې بې وطنه ژوند تېرومه
دَ کړون په تماشه یمه کړېږم

دَ رُخسارِ لاثانی دَ اوړ دلاسه
ګُذار شوے یم دې اور کښې ستې کېږم


دَ دیدن چمن لټومه په لمبو کښې
په دړیاب کښې دَ ارمان ورو ورو ډوبېږم

دَ هجران خلے په ما ترآسمان جوړ شهٔ
هر ساعت دَ یار په مینه فنا کېږم

په معشوق باندِ عاشق دَ دهٔ عاشق کړم
لهٔ عاشق څخه ئې څکه ډېر وېرېږم


دَ معشوق په روئ ترهر وخت معشوق غواړم
په دې حال کښې به زهٔ څنګه خوشحالېږم

چې ئې عاشق کړم دا امید کړم یار به راکړي
اسمٰعیل به بیا لهٔ یار څخه اوسېږم




چې دیدن مې دَ ښکلي جانان اوکۀ
په تلوار مې تر تپوس دَ هجران اوکۀ
جانان اووې ما ته څوره دا هجران دے
دا دیدن خو تا زما په بیابان اوکۀ
په چمن کښې به له دې نه ډیر ښائسته یم
هغه دم مې پسې ډیر ډیر ارمان اوکۀ
ارمانې شومه تر عمره دَ جانان نه ګله
پسې ګرځم لوړ په لوړ مې میزان اوکۀ
په وصال کښې ئې وصال غواړم عالمه
په ما ډیر دا عجیبه کار یزدان اوکۀ
په سکوتو دَ هجران مې تن ورستیږي
ما مدام ځکه دَ هجر بیان اوکۀ
اسمٰعیله تل سوزیږه په دې اور کښې
که تپوس دِ هغه ښکلي تابان اوکۀ





په دُنیا کښې دَ خوبانو بادشاه څوره
په ثړا ثړا تل هغه خندا څوره
دَ آقا هغه روښان دړنه چې دړومې
دې تیارې لره دَ مینې رڼا څوره


دَ رښا وطن ته لاړ بنده په رښا شه
دَ زړه لارِ باندِ روان اوسه دا ځکوره
دَ بیدیا نه دَ چمن په لور کاته کړه
ځنډار نه شې ورسره دا بیدیا ځکوره
دَ توکل په عصا تل زه په دا لاره
محمّدؐ خیر الابرار دلبر با ځکوره
دَ زړهٔ لار به هم لتا سره څې یوځائے
ملکرتیا نه ئې دَ جفا اؤ وفا ځکوره
خفه زړهٔ چې دِ تویونو ښخه بس کړي
اسمٰعیله بیا دِ خنک کښې آشنا ځکوره



له زړهٔ ښخه مې جوړ دَ غم رباب دے
خپل دلبر راته په دهٔ کښې په خطاب دے
دَ دلبر خطاب چې اؤرمه ژړیږم
ځان مې ډوب دَ خپلو اوښکو په دریاب دے
درست جهان په ما تورتم دے کوم خوالا رشم
دَ هجران په اور مې تن همه کباب دے
دَ یار لارې ته مې سترګې دی نیولې
انتظار دَ یار په ما یوم الحساب دے
ډیر موجونه مې دریاب دَ مینې کاندی
مسلّط په ما مدام دَ عشق سیلاب دے

آوازونه له دریانه کوم یار سته
چپاوُونو کښې لمایښ په حجاب دے
زهٔ دَ عشق دَ اور دریاب کښې سیلاب یوړم
په نصیب زما له عشقه داعذاب دے
دَ دلبر په طفیل زهٔ داسې شاعر شوم
لیک په زړهٔ مې دَ اشعارو لوئ کتاب دے
اسمٰعیل په دا دُنیا دوزخ کښې سوزم
خوشحالو لـرهٔ ورکړے ما جواب دے






په ماسفر کښې ترانې پیښې شوې
یاره دا ستا له میکدې پیښې شوې
ستا دَ یادونو له کلانو مې هارونه جوړ کړهٔ
تا مې سینه کښې دې پیلو له سازونه جوړ کړهٔ
څکه پرِ ماته افسانې پیښې شوې
زهٔ په لیمو کلات توبومه ستا دیدن دَ یاره
له دې چمن غنچه اوړمه ستا چمن دَ یاره
په ما اغزنې باغیچې پیښې شوې
توله لمن دلبره زهٔ په وینو سره لرمه
ځان پکښې گورم تول زخمي یم آئینه لرمه
ماته دَ هجر حادثې پیښې شوې


تالره زړه په حادثو کښې در روان يم دغم
دخپلو اوښکو په څپو کښې ډِيادومه صنم
داسې دِ ماته نظارې پېښې شوي
ستا دجلوو په تماشه يم ستې کيږمه زړه
ځان نه مې اوکاته اېره يم ښه پوهيږمه زړه
چارې په ما دپروانې پېښې شوي
ستا په اُلفت مې داسې حال شه بيابان کښې دِوير
خورمې په تن دهجر جال شه په رضا دقدير
ځکه په ما دغم مصرعې پېښې شوي
مدحې دې تل اسماعيل وايمه تانه هيرومُ
ښکلے رخسار په دې زړه ستايمه دانه هيروم
دا په ما ستاله خزانې پېښې شوي






سيلانے چې زړه دمينې دبوستان شوم
په ليدوئې هغه دم خيرې ګريوان شوم
په بوستان کښې دارمان چغې وهمه
په هر وخت پکښې هر لورې ته روان شوم
هميشه دخپل جانان لټون کښې ګرځم
ډير زخمې ددې بوستان په خارستان شوم
زما وينې دبيلتون په نمر اوچيږي
په ارمان د ديدنو نو د باران شوم

په ښلکو کښې ځپل زیبا دلربا ستا یم
همه عمر په دې ذکر دجانان شوم
ده وفا زما په برخه له ازله
په بوستان کښې زۀ بلبل د بیابان شوم
اسمعیل په پسرلی کښې ګلان غوارم
د بوړا په شان زۀ تور په داخزان شوم





زۀ به ستا ښکلے رخسار څنګ هیرومه
په ځپل زړۀ کښې به انکار څنګ هیرومه
هر ساعت چې مې په زړۀ کښې نور ډیریږي
داوار ونه به دِ یار څنګ هیرومه
چې آفتاب زما په زړۀ کښې ځائے شوے
شپه اؤ ورځ به دِ رفتار څنګ هیرومه
تا زړۀ چمن دے ماله سوکړه کړے
هر یوګل به ئې بیمار څنګ هیرومه
اِستسقا کړم د دیدن یاران د یاره
زۀ به نمونځ د انتظار څنګ هیرومه
چې ربیار مې دې باران لره وریځ ده
زۀ به دا عجب ربیار څنګ هیرومه
اسمعیل به دِ په طمعه یم ترمرګه
زۀ به تا سره اقرار څنګ هیرومه

یم ډوب شوې دَ ساقي په ښکلي جام کښې
تیروُمه ورځې شپې په داسې دام کښې
زهٔ له جامه پورته ګورم ګلستان ته
تماشه کړم دَ ګلانو دې نظام کښې
بحروبر راته خسنړې پکښې ښکارې
منتظر یم له مودو راسې دې کام کښې
جامِ جم راته ولاړ ګُته په خُلهٔ دې
زما عمر دې په جامِ ناتمام کښې
په ورو ورو ترِ نوش کوُمه نهٔ مړیږم
کړمه غوښته همیشه زهٔ په قیام کښې
لاس په نام غوارم له جامه جام کښې جام زهٔ
شوم بې تابه دَ دُنیا په دې ایّام کښې
اسمٰعیلؔ به له ایّامه ګله خلاص شم
چې په جام کښې مدام ژوند تیروم آرام کښې

زهٔ چې ستا دَ لوئ کمال په ننداره شوم
اے دلبره هغه راسې غمزده شوم
بې له غمه نور له هرڅهٔ ناآشنا یم
ستا دَ هجر په آرهٔ آره آره شوم


کوم خبرې زۀ له غمه سره یې تې
په میچنه ستا دَ غم ذره ذره شوم

څۀ څرګند کړه له نقابه څخه زړه کړه
ستا په غم کښې دَ غمونو مقبره شوم

ډیر غمونه مې دَ زړۀ صحرا کښې خخ شوۀ
صحرا ډکه شوله ځکه بې چاره شوم

نواتې مې قبوله کړه دلبره
راته اوګوره په غم ډېر دیوانه شوم

اسمٰعیل پخپله غم شوم په غمونو
په زبان اؤ په قلم ځکه بنکاره شوم



زۀ به ستا په بیلتانۀ ترڅو سوزیږم
زۀ به څو لکه دیوال ورو ورو نړیږم


ستا دَ مینې په پلک خوړمه کنداونه
نۀ ژوندے یمۀ نکاره نه مړ کیږم

انتظار کومه ستا دَ تورو سترګو
په مرهمو دَ دیدن به ډېر رغیږم

ستا دَ زلفو په هر وَل باندې بندی یم
امکان نشته بې لتا نۀ خوشحالیږم

خوشحالئ مې واړه ستا له مینې زار کړې
تۀ مې غم خوشحالی دواړه ئې پوهیږم


ستا دَ مینې طوفانونو یم زپلے
ستا دَ مینې اړمانونو کښې اوسیږم
اسمٰعیل به ستا له مینې نهٔ جارُوځم
کهٔ هر څو داسې په تا پسې کړیږم



کهٔ دَ یار په مینه داسې غمګین نهٔ وُوم
په سرو وینو دَ هجران به رنګین نهٔ وُوم
کهٔ دَ عشق سکروټو زړهٔ نه وے داغلے
په ژړګی به چرې بیا داسې شین نهٔ وُوم
کهٔ له مانه دَ اړمان څلے جوړ نهٔ وے
کنډار شوے به په دې تاترین نهٔ وُوم
دریا بونه کهٔ مې جوړ نهٔ وے له اوښکو
زړهٔ به چرې هم زرغون په زمین نهٔ وُوم
محبّت کهٔ مې هر رنګ نهٔ وے سیزلے
خال به زړهٔ دَ دلربا دَ جبین نهٔ وُوم
کهٔ زما مینه دَ یار نهٔ وے قبوله
دَ یار لاس لره به زړهٔ بیا نګین نهٔ وُوم
کهٔ دَ عشق په تیغ زړهٔ نهٔ وے حلال شوے
سپین رخسار ته به دَ یار تماشبین نهٔ وُوم
کهٔ پروت نهٔ وے زړهٔ ریګونه بیابان کښې
اړمانې به دَ ګلاب اؤ یاسمین نهٔ وُوم

کهٔ زخمي په غشونهٔ وے دَ مژګانو
دَ زړهٔ کور کښې به ئې زهٔ همنشين نهٔ ووم
وړ بخښلے کهٔ مې ځان جانان ته نهٔ وے
په دې وخت کښې به عاشق اوّلين نهٔ ووم
کهٔ رضا نهٔ وے زما دَ يار رضا کښې
اسمٰعيل به ئې په خلهٔ آفرين نهٔ ووم





تمام ايّام په دام کښې دی غمونه بې حسابه
يار به کله ما ته مخ څرګند کړی له نقابه
ځان مې پسې ټول دَ بيلتانهٔ په تيغ پرهر کړو
خپل ويرونه اور مه دَ خپل زړهٔ له ربابه
ټول تيکې تيکې شوم دَ تابان په نمر ورتيږم
موندے دے شفاف آفتاب له دغه لوئ آفتابه
څنګ به مې په زړهٔ کښې بل څهٔ تيرشي پدې حال کښې
يادونو دَ جانان چې يمه وليسته زهٔ له خوابه
ځان مې په يادونو دَ اشنا زړې زړې کهٔ
چرې به اونهٔ ځمه دَ يادوله دريابه
يم دَ ساقي جام ته ډير ليواله دې درياب کښې
غواړم جام مدام زهٔ اسمٰعيل يمهٔ بې تابه



پیر زهیر په ویر کښې دَ دلبر یمه ساتلے
غوَره فن دَ دې راشه ښائ دا ښاغلے
تن مې تول په اور دَ محبّت کښې ستې کیږی
ځان مې لا تراوسه پورې روغ نۀ دے لیدلے
کړمه تل ویرونه په څپل یار پسې بلبل یمه
ما دَ یار په مینه کښې داوِیر په ځان منلے
ما نه وړاندِ ډیر عاشقان یار ځان نه بللی دی
دا مې لوئ ارمان دے لۀ زۀ هم وے یار بللے
پیر زما هم یار دے هم دیار دواړه عهدې لري
ځکه زۀ په برغوتو ویمه پرهـــــــ ژلے
وینې ئې زما دَ یار په لور رواڼ کړي دی
ما ورځخه بیائ وائ تا دے زړۀ بائیللے
اوښکې مې له وینو څخه کړې ځي دلدار لره
زۀ ور سره دره ومه یوځے دار مان څه
او به رسم یار له یوه ورځ به دیدن اوکړمه
ما ته څپل مرشد داسي فـرمان دے اوروے
مرشد چې مې څۀ وائ اے عالمه ټول ریښتیا وائ
ډیر یم دې ریښتیاؤ زۀ په زړۀ باندِ داغلے
اوردَ حقیقت راله په زړۀ کښې بلوی مدام
ځکه اسمٰعیل یم په دې اور کښې دۀ تړلے

په بازار د واويلا کښې سودا کړيم
ارماني د خپل آشنا د ښکلې درېيم
در په درد يار په درپسې کرځيکم
په دريابِ د عشق ډوب شوې بنهٔ جوريم
کهٔ ناري وهمه ډيرې له دريابه
جواب نهٔ راکوي ماله بنهٔ خبريم
له نارو به مې زړهٔ چرې صبر نهٔ شي
زهٔ مئين د دلربا په سپين بشريم
دواړه کوٌته ئې له يوٌ ويښتهٔ نه زار شه
زهٔ بندي په تورو زلفو د سروريم
عندليب غوندې ماليار پسې ژړيږم
د ماليار له تورو سترګو باخبريم
اسمٰعيل د انتظار په اور کسکر شوم
زخمي کړې خپل آشنا د زړهٔ په سريم


کهٔ زيړې داسې نهٔ وې دې بيلتون زهٔ
هيڅ خبر نهٔ ووم د مينې له قانون زهٔ
چې ژړا مې په نصيب شوه هله يار شوم
دې يارئ کښې به کومه څنګ سکون زهٔ


دَ سکون ځائے خو مې بل دے دُنیا نهٔ ده
په سکون پسې بیلتون کړمه مجنون زهٔ

هیڅ لیاقت دَ دې بیلتون په ما کښې نهٔ وو
په کرم دَ خپل کړیم شومه جیحون زهٔ

دَ جانان دیدن له څمه سرو لمبو کښې
تیرومه داسې عمر دَ کړون زهٔ

اسمٰعیل کړمه دَ یار مینې بې خوده
نهٔ پوهیږم په صبا اؤنن پرون زهٔ





په هر لوری راته بل دَ مینې اور دے
څکه مالره جوړ شوے هر ځائے کور دے

دَ کور شپه کوے نهٔ شمه په کور کښې
کور اخستے دَ زړهٔ کور لما په زور دے

خبر نه وومه قبضه ئې پر باندِ اوکړه
څکه زړهٔ داسې مدام زما په شور دے

زهٔ هم قبریم هم مړے په ځان ژاړم
دا په ما باندِ دَ یار دَ مینې پور دے

لاش مې پټ دے دَ یا دونو په کفن کښې
دا کفن زما اهونو باندِ تور دے

تور کفن کښې انتظار کړی سپین رخسار ته
اسمٰعیل دَ سپین رخسار په غم غمخور دے

زهٔ په ګړو دَ خدائے حیران یمه په عشق کښې
ارمانی دَ خپل جانان یمه په عشق کښې
کړانه چاره کړه خدائے راښته راپېښه
ګذار شوے په نیران یمه په عشق کښې
په نیران کښې به تل سوزمه دَ عشق زهٔ
زهٔ خبر له دې زندان یمه په عشق کښې
همه عمر دَ عاشق اور کښې تېرېږی
ځکه زهٔ په هائے سوزان یمه په عشق کښې
عشق خدائے دے په خپل ځان هې ستی کاندی
په دا ځان ئې ورک له ځان یمه په عشق کښې
زړهٔ چې اور اوخوړي دَ یار دَ غاړې هار شي
تماشبین دَ ګلستان یمه په عشق کښې
اسمٰعیل به دَ خپل یار غاړه کښې پروت یم
زهٔ دَ یار په لور روان یمه په عشق کښې


ما خوړے په زړهٔ غشے دَ جانانه دے
خپل جانان کړے داوار په ما دَ ناز دے
دَ باران په شان په ما غشی راووری
په هر غشی کښې ئې لما سره خپل راز دے


قبول کړي مې دا غشي دي دَ مينې
په ما نوم څکه صنم ايښے جانباز دے

له ازله نشانه يمه دَ غشو
له ډير غمه مې شروع سينه کښې ساز دے

له مودو راسې مې زړه په يار باښيلے
زما يار په کُل عالم کښې ډير ممتاز دے

اسمٰعيل لائق دَ يار دَ يارۍ نهٔ ووم
وسيله زما خواجه غريب نواز دے





چې خمار دِ په شرابو دَ وفا کړم
هغه دم دِ يار ډوب زهٔ په دريا کړم

دَ يادونو په درياب کښې دِ يادومه
تا په ځان پسې تول عمر په ژړا کړم


طوفانونه دَ هجران مې دى ملګرى
خوشحالو نه ئې همه عمر جُدا کړم

په هر لور راته ستا مينه هر دم ښکاري
آئينه به يارهٔ نوره هم صفا کړم

ګرد غبار به پرِ لما چرې پريوتنزى
اے دلبره زهٔ به تل هم دا ادا کړم

ستا دَ در لاره به پرې نږدم ترمرګه
دل به تا پسې خپل ځان په آسيا کړم

ستا له رنګه ګل خوبانو رنګ اخستے
ستا په مینه به ځان تور لکه بورا کړم
اسمٰعیل به لنا چرې صبر نهٔ شم
دَ بلبل پشان به شپه ورځ ستا ثنا کړم



ستا دیدن پسې دلداره قلندر شوم
دَ ریدی په څیر صحرا کښې اوچ په نمر شوم
خبر نهٔ یم چې دیدن به کله او کړم
ارمانی دِ همه عمر دَ بشر شوم
دَ دیدن فرمان دِ کړے ور ییار ته
په تلوار دَ انتظار پرهر پرهر شوم
ستا دَ عشق لبنکرو زړهٔ تالا والا کړم
هم په عشق کښې سیلانے دَ بحر و بر شوم
پروانه ستي که ځان په چور لګونو
زړهٔ په اور کښې درون پروت یمه کسکو شوم
بې لتا زما په یاد کښې بل څهٔ نشته
زړهٔ مدام هم ستا یا دونو ته نهر شوم
ستا دَ مینې انتها نشته صنمه
ستا په مینه دَ غمونو سمندر شوم
مرګ به راشي ما به بیائي خوشحالو له
اسمٰعیل په دا اُمید دَ ستا نوکر شوم

چې نصیب مې په ترتیب کړ تا ازل کښې
له ترتیبه دِ عشق راکړ په اوّل کښې

دا ترتیب دَعشق په زور ادا کړمه
راکوې رساله هم عشق ته په بدل کښې

کړ دا برخه مې هر څو ترخه لیدې شي
حقیقت کښې ده شیرینه په اصل کښې

دَ زړه باغ به مې پړ هسره بنه تازه وي
چې مې څومره اوربلیږي په کوګل کښې

له حجازه دَ اعجاز په اور کښې سوزم
هم مدام یمه دَ دغه اور تکل کښې

په ورو ورو دَ صنم خوا ته نژدې کیږم
سره کلونه ئې راته ښکاري په اوربل کښې


دَ نژدو دیدن په ئې رب زما نصیب کړي
اسمٰعیل کړمه دا سوال په غـزل کښې



شیدا یمه په تا اے زما دلـربا حسینه
زړه زما په تا پسې زخمي دے نازنینه

زلفې دې خوشبویه اوې حده تا باني کله
دغسې له ځایه پیدا کړې دي ها دي کله


خیژي دي شغلي له مخ له کُل عالم برینه
ستا دَ مخ رڼا دواړه جهانه کښې خوره ده
ستا دَ هر عاشق له سینې جوړه آئینه ده
اَخلي عکس دَ ټولو آئینې ستا له آئینه
په خپلو عاشقانو ته عاشق له دوئ نه ډیرئ
ته دَ دې همه واړو رهبر بدر منیرئ
مومي نمر سپوږمۍ ستوري رڼا ستا له جبینه
امام الانبیاء وې دَ معراج په شپه دلبره ته
تلے پاک الله له ئې لامکان ته منوّره ته
اے په لامکان کښې له مولی سره مکینه
مینه دې مدام غواړم جانانه له خدایه زهٔ
قبوله دې شی ستا په مخ یم ستا دَ در گدایه زهٔ
زهٔ اسمٰعیل یایمه دُنیا کښې ستا په مینه



دَ رُخسار کنډار کنډار کوم بیابان ته
شوم انکار په دا انکار باد دَ هجران ته
بیابان مې سرې لمبې کهٔ پکښې حکم
دَ دیدن دیدن ناري وهم جانان ته
دَ ربیار او دَ جانان صلاح یوه ده
یمه دَ واړو اچولے زهٔ زندان ته


هر ساعت ریبار خبر راوړي دَ هجر
ډیر حیران یمه دې خیل زړګی حیران ته
دَ جانان دَ خلې خبرې راته کاندي
تل ژړیږمه دَ یار دَ خلې بیان ته
دَ یار مینه کښې ژړا زما شیوه شوه
ښکاري یار زما په زړهٔ زما چشمان ته
اسمٰعیل له ډیر نزدې جانانه دور یم
دور په نهٔ یم کهٔ یو وار لاړم بوستان ته





زړهٔ چې مې دلبر اوړهٔ په سوکو دَ مژګانو
زر زر ئې بندي کهٔ زولنو کښې دَ زلفانو
نیولې ئې دَ رخسار په سر ولمبو مدام ئې سیزي
جوړ دې له ازله دا قانون دَ خوبرویانو
ځیږي پتنګان ځکه په شمع باندې ځان خیل
شمع ډیره سوري په دا اور له پتنګانو
هیڅ احسان عاشق په دې معشوق کولې نهٔ شي
عاشق دې دا معشوق لهٔ حده تیر په عاشقانو
غواړي له ساقي شراب دَ مهر پر مریدي نه
خپله ساقي ډیر ښخنې دا شراب له مهرویانو
ژوند دَ هر عاشق وي دې نشه کښې بل څهٔ نهٔ غواړي
په برخه داسې چاره دهٔ دنیا کښې دَ مردانو

یمه همنشین په میخانه کښې له خیل یار څخه
ته شم اسمٰعیل چشمان اړونے ئ له چشمانو



د سرو لبو تبسم به مې هیر نه شی
لږ ساعت به هم له ما تیرو بیر نه شی
یار تیره شمشیر په زړه زما درون که
همه عمر به بیرون دا شمشیر نه شی
د شیرین لذت به څنګه را معلوم شی
چې وړومے مې تیر له حلقه ګندیر نه شی
له شودو څخه به غوبړ چرې وانخلی
چې په تومنه د بیلتون په بل خیر نه شی
د هجران په سرو لبو چې ویلے نه وی
عاشقانو کښې به چرې هم شمیر نه شی
له غنمو به نغن څنګه جوړ یږی
څو چې درون پل ته د ژرندې ورزیر نه شی
د یار غیږه به مونده چرې څوک نه کړی
څو په یار له سر و ماله وړ تیر نه شی
اسمٰعیله ډیر دولت د عجز خوندی کړه
چې له تا نه د بل چا څخه ډیر نه شی

عشق له ما نه توان اخستے ناتوان کړځم
زۀ دَ عشق په توان مدام سرگردان گرځم

دغه توان مې داسې نور توان له توان غواړي
زۀ به دۀ پسې ورک شوے له ځان گرځم

دَ حیرت لوئ بیابان زما وطن دے
دَ حکمت په بند دننه پریشان گرځم

دَ اُلفت آئین مې ځکه ته نیوے
په دیدن پسې په اور دَ هجران گرځم

دَ هجران اور تر آسمانه رسیدلے
دې رحمت کښې دَ رحمت په ارمان گرځم

بې له هجره ژوند رحمت دے حقیقت کښې
گلستان لره په دې خارستان گرځم


اسمٰعیل به دَ وفا رسئ پرېښے دے
همیشه به په دې یاد دَ جانان گرځم

گذار دِ کړمه مینې دَ فکرونو سمندرته
چرې به راؤ نځم بې وصله تر بهرته

ما څۀ طوفانونه دَ بیلتون داسې ډیراوزګي
گوره به مدام په آئینه کښې هم ستادر ته

مخ اړوے نهٔ شم ستا د لوړی کلک توړے یم
تږلے به دړ ځمه ډیرحیران یم دې سفر ته
تا کهٔ زهٔ تړے په زلفانو عنبرین نهٔ وومه
ولې به کاته کړهٔ ماله وړایه ستا بشرته
زنه به تړي په ململ ماله ستا په مینه کښې
بیا به ئې ړاله پرانزی تخته باندِ اختر ته
ستا د عشق په اوږی کښې مدام زهٔ روژه داریم
غواړم د دیدن اوبهٔ ولاړ یم د عشق نهر ته
نهٔ شم بیا نوے د دې نهر تاؤ نا تمامه دے
کوړم اسمٰعیل پوهې د سپاړ کا خیل رهبر ته






هم راته وائي دښمنان دی زما
ځان تړې ساقی کوړے باغیان دی لما
هم ئې په نوم خسنو ثواب راکوي
وائي نزدي نهٔ شې فرقت توې کوئ
هم راته وائي چې نفرت ترې کوئ
هم ئې نوموته تهٔ په موتړ بنګلوي
ستا دې قانون ډیرحیران کړے یمه
زهٔ د حیرت دې دریاب وړے یمه
کله دوستان په دښمنانو وهي

تهٔ چې څهٔ کاندې بنهٔ ترتیب دے دغه
ستا لهٔ قدیم علمه عجیب دے دغه
کهٔ پرِ هر څو مره ربه مونږ کړوې
هسې نه خوښ داد ښمنان وی هم ستا
ځکه چې تهٔ یې ناتمامه وفا
رښتیا یو نوم راته قهار یاد وې
رحم غالب دے ستا په قهر ربه
قیصه شوه مخکښې راته بیا عجبه
ما اسمٰعیل به په دې تهٔ پوهوې






غږ د زړهٔ مې د بلبل غږ سره سم دے
په ماليار پسې مې زړهٔ قلم قلم دے
صبح وشام کوم ماليار پسې غږ ونه
په زبان زما مدام صنم صنم دے
د زيبا نګار رخسار په مې هير نهٔ شي
راته ياد په هر ساعت کښې غنچه فم دے
د يار ياد کښې ترانې هميشه وايم
جور په ما د يار دلاسه داما تم دے
په خوبرويه دلربا باندې مئين يم
زړهٔ زما ځکه کويا په ترنّم دے

دَ دُنیا له نوروچارو مې زړهٔ تور دے
رسیدے مې په برخه محترم دے
بېلتانهٔ دَ محترم زړې زړې کړم
راته خور په هر قدم کښې دام دَ غم دے
دَ یار دې زُلفو په دې دام کښې تل لټومه
دا لټون به چرې پرېنږدم قسم دے
دَ یار زُلفې به زما څنګ نهٔ یادېږی
چې بندی مې زړهٔ دَ زُلفو په هر خم دے
ژوند تیرومه دَ رېبار په ما تختی کښې
راته نهٔ وو دے دې رېبار دَ یار رحم دے
په سوز اور مې له مودو راسې تن سوزی
تماشبین څکه زما داسې عالم دے
خدائے خبر چې اسمٰعیل به ترڅو سوزم
ما دَ یار هٔ دلربا زما مرهم دے






زړهٔ مې څهٔ شهٔ له کوکله داخو زړهٔ نهٔ دے سور اور دے
دَ زړهٔ کور مې اور نیولے په لوګو مې تالو تور دے
چې نهٔ څهٔ شوې کوم خوالا ړې ولې غږ نهٔ کوې ماته
ښه ښهٔ پوهه شومه وائې خستے ما ستا زور په زور دے
اوس له تا خبر شوم چې دا اور هم زما زړهٔ ته
دا ولې دا چا اور کا چې په اور کښې دا ستا کور دے


زۀ به تا ته زړۀ وايم کۀ اوږ دا راته اُووايه
شا به زړکه حال اُووايه حال زما اوس نوږ دے
ولې چپ يې مانه تۀ په څۀ مرور شوے يې
مانه ستا په غم کښې جوړ په ژوند مړے دَکور دے
زۀ کۀ چپ يم ستا په شان هم تا داسې زۀ چپ کړمه
هيڅ نۀ شم وئيلے تن مې ستا په لمبو سکوږ دے
بس دواړه ملګرې يو دې اوږ نه چې تۀ يې اوږ کړې
تا سره يوشان اسمٰعيل ستا په غم غمخوږ دے






په درويش وي تل خزان اؤبهار دواړه
ياد وي مدام جانان اؤ ريبار دواړه
دَ يار دروته ريبار له وړايه بنائي
وي مشغول داسې صحبت کښې دَيار دواړه
دَ درويش په زړۀ ارمان دَيار ديدن وي
روح اؤتن يې وي پراتۀ په انګار دواړه
انتظار مدام دَيار کوي په اور کښې
يوځائے دروي دا درويش انتظار دواړه
په دې اور کښې پرِ وړمې لګي دَګُلو
وي سينه دَ دې سوراور لاله زار دواړه
پس له مرګه نجات بيا مومي له اوره
يو معنې لري بيا دے اوګلزار دواړه


په فراق دَ خپل زيبا دلربا ژاړي
شي يوځائے به اسمٰعيل اوُ دلدار دواړه





اے خنجره ته زما دَ رنځ دوائې
چې زما په زړهٔ کښې ښخ ئې نو زمائې
زړهٔ مې ستا په تماشه دے بل څهٔ نهٔ کړي
په زوَر زير دَ ته کاتهٔ کاندي زيبا ئې
ناتمام حُسن ئې ستا دے تسليم کړے
عاليشان صفت دَ پاک غني مولائې
اے صفته ستا صفت پاک ذوالجلال کړي
کُل عالم لره تهٔ بې مثله عصائې
اسمٰعيل به هم تهٔ بيائې دَ يار د رسته
تهٔ رضا شه يار رضا دے تهٔ ئې رضائې






تول عمر په يار پسې ژړيږم دا مې کار دے
ځائے ئې دَ ژړا راله جوړ کړے سر دَ دار دے
دَ دار په سَر ژړيږمه له يار نهٔ صبريږمه
په نهر دَ بيلتانهٔ باندې په يار پسې سوزيږمه
دَ هجر په طوفان زما ګريوان تول تار په تار دے

دار زما جانان ماله جوړ کړے په صحرا کښې دے
له ځان ځنځه ډوب کړے ما د اوښکو په دریا کښې دے
رابه شي جانان زما هم دا مې انتظار دے

ویر کوم شو کیر کوم تل ځان ته تقریر کوم
یادونو سودائي کړمه یاد د بې نظیر کوم
د عشق په توره شپه کښې لما ورک شام وسحار دے

نه ځان وینم نه بل وینم نه ګل او نه بلبل وینم
او ر په زړګي بل وینم بس دغه لمبې تل وینم
ماله ئې په برخه همیشه لیکلے ننار دے

بحر د غمونو یم موج د ارمانونو یم
زۀ په خپل جانان پسې او ږد تال د فکرونو یم
مدام ما اسمٰعیل ځکه د غم کړے ښکار دے



په ښکار د مهرویانو عمل اوکړه
له اجله وړومبے غم د اجل اوکړه
د کریم کرم مدام له کریم غواړه
د کرم په لاره چاق چاق ورتلل اوکړه
چې کریم پرِله هر چا ته ډیر مسکین دے
د هغهٔ په مخ د مینې غوښتل اوکړه
د توبې په ریکمال بدله ځانه لرې کړه
د اُلفت په تیغ د بدو وجل اوکړه

په دا چاره به شي سيال دَ مهرويانو
دَ ساقي له جامه خاڅخه څښل اوکړه

چې منکر وي څوک دَ مهر له شرابو
په هغهٔ باندِ يقين دَ پاګل اوکړه

دې پاګل سره تعلق مهٔ لره چرې
دې سفر کښې تره بيله مزل اوکړه

دَ منزل لار به غلطه کړي له تانه
بند وبست تل دَ غليم بغل اوکړه

دَ صنم په بيلتانهٔ برين صابر شه
په خپل وس پهلواني مکمّل اوکړه

دَ طاقت له شهنشاه نه مدد غواړه
په رسئ دَ شاه دې شاه ته ختل اوکړه

دا بنانهٔ به مهرويان تا ته در ته کړي
شا به زر دَ دوئ په لوري تکل اوکړه

هميشه ئې په خدمت کښې حاضر اوسه
په ماليار پسې ناري دَ بُلبل اوکړه

سرهٔ ګلان به دَ جانان اوربل له درکړي
له دې دره ئې ښندا ره دَ اوربل اوکړه

عاقلانو لره دا بيان هم بس دے
اسمٰعيله اختتام دَ غزل اوکړه

همه عمر مې دلبر دَ زړهٔ مراد دے
په هر دم اؤ په قدم کښې زما یاد دے

په هر دم اؤ په قدم کوی وارونه
مقرّر دَ بیلتانهٔ په ما جلاد دے

دَ دلبر دَ پاره ما کړون قبول کهٔ
په رواج دَ محبت کښې داجهاد دے

په څو وار شومه شهید په دې جهاد کښې
څنګ به پریږدم داجهاد چې مې بنیاد دے

باغ دَ وصل به آخر زما نصیب شی
په خپل یار زما پوره پوخ اعتماد دے

دَ بیلتون په تلوار زهٔ ذرې ذرې شوم
راکړے شوے هر ساعت دَ صبر داد دے

دَجانان زلفې به څنګ له ما هیرېږی
لګیدلےئ په ما خوشبویه باد دے

اسمٰعیل دَ یار دَ مینې منت بار یم
کهٔ هر څو مې په بیلتون عمر برباد دے

جاودان عمر دَ پاره
زهٔ روان یم پدا لاره

کله اکومه ستا دَ مینې
راځه ګند شه ګلغزاره

ډیر زخمي په خنډ وخار شوم
چې مئین دِ په رخسار شوم
هیر به نهٔ کړمه تا چرې
کړم تپوس دِ له ربباره

دَ بلیتون په اور ورتیږم
تل په تا پسې ژړیږم
ځې له سترګو مې رودونه
ستا په لور دروم نګاره

اے زیبا ګلِ نسرینه
ده په زړهٔ کښې مې ستا مینه
دَ خوبانو شهنشاه ئې
ځې شغلې دِ له رخساره

زړهٔ زما په تا قلم دے
جوړ په ما ځکه ماتم دے
ستا دیدن نه پیرلیوال یم
اے زما دَ زړهٔ قراره


نهٔ مې ګل زهٔ دِ بُلبل یم
دَ هجران په ژړ نده دل یم
په دُنیا کښې مې ژوند ګران شهٔ
ستا دَ مینې له تلواره

دَ فراق په بیابان کښې
نور توان نهٔ وینم ځان کښې
بې مجاله کړم یادونو
وابه نهٔ وړم له خُماره

دا شراب به مدام غواړم
کهٔ هر څو وریسې ژاړم
بې نشې یم بې نشې یم
دا نارې وهم له داره

ساقي ستا په انتظار یم
ستا دَ جام تل امیدوار یم
اسمٰعیل له تا ته زار یم
اے دلبره په څواره





بنهٔ لتا خبر یمه شیدائي ته په ما
تهٔ کهٔ په ما نهٔ وې زهٔ به نهٔ وومه په تا
خپله چې شیدا شې په چا کړې شیدا په ځان هغه
زهٔ دَ دې دستوره خبر کړے یمه ستا
څوک چې تهٔ عاشق اؤ معشوق دواړه کړې اے عشقه
هغه له ورکوې دلته دَ عشق په اور سزا
تهٔ چې مقرر کړې دا سزا چاله هم داغواړي
مدام در ته منت کاندي وائي نوره نوره را

اوره ورو ورو دے هم اورکوي دغه دِمینه دکه
سُوراوره ته يې سره کړې که وې وُسپینه سیاه


ډیره که يې سره کړې بیا هم وسپینه بللے شي
نه دِ ابتداء شته اوره نه دِ انتها

چمن کښې به هم داسې يې اوُمونړه به بیا نه سیزې
حیران یمه ستا کار ته اے زما کریم خدا

اوسوزوه ما دلته ته ډیر ډیر زما ربه
خومره چې خوک اوسوزوې هم ره يې پرِشیدا

بنه لما خبرې ته چې نه غواړمه بل څه زه
ما دَعشق امام پسې ده کړې اقتداء

زه اسمٰعیل تا خبر له عشقه کړمه عشقه
راد که الغام راله خدایا بیش بها



لوئې سُوراړ دے دَهجران زما په برخه
دے بعید بنکلے جانان زما په برخه

خبر نه یم چې دي دشت کښې به ترخویم
له ازله دے ارمان زما په برخه


دَ ارمان اغزو مې تن همه زخمی که
ځکه شه خیرې ټکریوان زما په برخه

دَ ریخې ټکریوان مې خلق په ننداره دی
رسید دے داسې شان زما په برخه

دَ اُلفت جادو له خوابه پسـه ویسـتے
دهٔ یارې دَ ویښ سلطان زما په برخه

بې له یادو مې خبرې نهٔ زده نـوري
دي سلطان کهٔ دا بیان زما پـه برخه

اسمٰعیل دَ یار بیان په زړهٔ کښې اوړم
شهٔ ترجوړ زما دیوان زما په برخه



دَ قسمت غشي مې تول برابر دي ومې
هر یوٴ غشے مې دَعشق په هنر دي ومې

دَعشق غشي چرې نهٔ لګی بې ځایه
دَ هجران په سمندر کښې جوړ دي ومې


سمندر کښې چې څوک اوسي هغه ګې اُولي
هم پرلګی دا دَ دوئ له نظـر دروې

همه واړه په سینه غلبیل غلبیل دی
دَیار دي ته ئې فریاد له جګـر دي ومې

په وصال پسې څو واړه شهیدان شي
هر ساعت په لور دَ ښکلی دلـبر دي ومې


دَ زیبا په لاس مدام انعام ور کیږی
نور له هر څهٔ بې پروا قلنـدر دي ومې

همه عمرئې دا چاره په نصیب وی
اسمٰعیل هم دوئ سره په سفر دي ومې



کۀ هر څۀ ته دِ نظر اوکړو دقیق
یار به تا ته هله اُووائی رفیق
دَ دقیق نظر کولو در سته وائی
خیال کوه در څخه جوړ نۀ شی زندیق
لار مونده شه کوری ورک نۀ شی ځنګل کښې
شه روان دَ قدسیانو په طریق
دَ دې لار نوم دے شفقت الیبود ے شوے
تل پیرِ دروم چې له تا جوړ شی شفیق
لیاسی یاری له یاره څخه مۀ کړه
پرِ عاشق شه دَ پتنګ په شان صدیق
له بدکارو همیشه دَ یاره دور شه
دَ نیکانو په صحبت به شې عتیق
اسمٰعیل په خوبرویانو فریفته یم
خدائے مکړه ما جُدا له دې فریق





اے حاسده زړۀ دِ سخت لکه حدید دے
ځکه داسې له الفت څخه بعید دے
شابه زړۀ دَ الفت په اور نروب کړه
کۀ ټې تاؤ تاله هر څو مره شدید دے

دَ هجران په انګیټی کښې ځان ستي کړه
حقیقت کښې دا اور تالره مفید دے

په دې اور چې کوم وکړے ځان سوخته که
هغه چالره مُراد چاله مرید دے


بادشاهي او ګدائي سره کړې دواړه
خریدار دے دَ اُلفت خپله خرید دے

بصیرت لری دَ زړهٔ سترګې ئې بینا دی
خپل مولیٰ ورله ورکړې عظیم دید دے

ننداره چې دَ باغستان دے له بیدیانه
بصیرت دَ دهٔ په هر آن کښې جدید دے

اسمٰعیلؒ ننداره کړی دَ عشق صوم کښې
پس له مرګه پرِ مدام دَ پاره عید دے





چې نقاب پورته ریبار له نقاب پوش کهٔ
نور ئې هر څهٔ پرِ لما نه فراموش کهٔ


دَ زینت دریاب کښې پټ اوسم له خلقو
په راحت مې غم خرید له غم فروش کهٔ

په ارمان ئې دیر عالم زړې زړې شهٔ
ماله داسې ساقي جانه شراب نوش کهٔ

میخواران ئې میخانه پسې تل ګرځي
دهٔ په ځان پسې عشّاق خانه بدوش کهٔ

دا سې حُسن په کونین کښې دَ چا نشته
دَ دهٔ حُسن عاشقان ځکه مدهوش کهٔ

اسمٰعیل په دې نشه بیله کونک نهٔ یم
دې شرابو ډیر زما په شان خاموش کهٔ



ستا صفت به همه عمر تمام نهٔ کړم
ستا له دامه به ځان بند په بل دام نهٔ کړم

ستا په دام کښې په همه عمر زهٔ خوښ یم
خوښ به زهٔ بې ستا له عشقه ایّام نهٔ کړم

کهٔ هر څو دَ بیلتانهٔ په اور کښې سوزم
هیر به چرې ساقي ستا بنکلے جام نهٔ کړم

په خپل ژوند به دِ جارنهٔ او څم له یادو
زړهٔ به غلے یؤ ساعت دِله نام نهٔ کړم

ما دَ عشق روژه نیولې ستا دیدن ته
بې دیدنه به افطار دا صیام نهٔ کړم


دَ دُنیا له هره کاره شومه پاتې
ترک به چرې ستا دَ مینې دا کام نهٔ کړم

تا په ځان پسې بُلبل کړمه مالیاره
آرام ځکه بې لتا صبح وشام نهٔ کړم

هُم پتنګ یم تهٔ مې شمع ئې روښانه
بې لمبو ځکه زه بل ځائے قیام نهٔ کړم


اسمٰعیل لکه بورا پسرلے غواړم
لا تراوسه ولې مړ دې نظام نهٔ کړم





زړهٔ په داسې دام کښې ژوند تیروم چې نوم ئې مړګ دے
یار دلاسه تنارهٔ کښې ځان سوزوم چې نوم ئې مړګ دے
زړهٔ دَ یار دلاسه تنارهٔ ته کڼدار شوے یم
مدام پکښې زړهٔ هغه څهٔ یادوم چې نوم ئې مړګ دے
بل څهٔ کار مې نشته بس یوٴ کار کوم دَ فکر نرهٔ
ځان په داسې تړال باندې زنګوم چې نوم ئې مړګ دے
په اوښکو مې لا ورو په ورو ډیرېږی داسې اور دے دا
خپله دادړه یا دَ اور جوړوم چې نوم ئې مړګ دے
مړګ به کله راشی چې ما خلاص کړې له دې مړګ څخه
ترکومه به زړهٔ دا انتظار کوم چې نوم ئې مړګ دے
یارم به په دُنیا کښې اسمٰعیل یل څهٔ ته اونهٔ کړم
هر ساعت به زړهٔ هم دا لټوم چې نوم ئې مړګ دے





په دُنیا کښې چې دَ مینې سودا نهٔ کړي
همه عمر به رضا دلبر با نهٔ کړي

بې هوده ژوند ون د تېر کړه په دُنيا کښې
په تا څه چې تېر حلت کښې مُسکانه کړې

پس له مرګه په راحت شه نګه مومې
چې ورو مېږ و پسې دلته ژړا نه کړې

دَ ځان غم د شخه نشته بې غم کړه ځې
ډېر حيران يمه چې دا واويلا نه کړې


دَ ماتم ځاے کښې په کړس کړس خندا کاندې
جفاکاره چې ترڅو به وفا نه کړې

نه دِ ځان باندې څه کار شته نه په بل چا
بدلېږې شې دَ مردانو ادا نه کړې

اے نادانه بندګي له ده پيدا ئې
بنده نه ئې چې بندګي دَ خدا نه کړې

اسمعيل به په تا ولې غم ژړن نه يم
چې عمل مې په رښتونې وينا نه کړې

—※—





دَ دُنيا په دې بازار کښې وفا کورم
دا سودا په کښې موندې شي هم دا ګورم

دا به ځان سره اوبه م دَ وفا تون ته
زه په خواب کښې غلامي دَ صبا ګورم

همه عمر به دا خواب هم داسې وينم
دَ وېښ ځان دَ پاره نن وادا ګورم


عجیبه نقشه مې مخې ته پـــرته ده
هر ساعت پکښې مانړۍ د عقبٰی کـوړم
دلربا پکښې په هر ځائے کښې لیدے شي
اوُ بیا هم زړه دا زیبا دلـــربا کـوړم
د تفتیش له آئینې مخ بل خوا ســنهٔ اړوم
له مودو راسې د حُسن دریـــیا کـوړم
اسمٰعیل به چرې دا چاره پرې نـــږدم
د ژړا په دې الله به خـــندا کـوړم





ما د مینې په شرابو بنهٔ سیراب کړه
دې نشئه کښې مې همه عمر کامیاب کړه
د عشق څانگې مې له عرشه پورته بوځه
د یار مخ راته څرگند ته له نقاب کړه
په خپل یار پسې په توله عمر ژړېږم
ځائے په ځائے مې جوړ له اوښکو نه تالاب کړه
ستا د یار په یارۍ تن زما کباب شهٔ
تهٔ رضا شه خیر دے نور هم ما کباب کړه
همیشه به دِ رضا غواړم سلطانه
ما په خپلو عاشقانو کښې حساب کړه
ستا د عشق د باب طالب یمه مطلوبه
بنهٔ مې پوهه تهٔ د خپل عشق په داباب کړه

اسمٰعیل په چپ دَ یار له صفت نهٔ شم
تیر په زړهٔ مې دَ اشعارو سترد رباب کړه




خلاص په چرې زړهٔ دَ عشق له زنځیر نهٔ شم
ځ اړوے دَ ځیل یار له تصویر نهٔ شم
په دې بند کښې زړهٔ تر عمره بندیوان یم
یار موندهٔ به شمه څنګ چې زهیر نهٔ شم
دویم نوم دَ دې بند کنج ایښودے شوے
بې له کنجه به زړهٔ چرې امیر نهٔ شم
فقیري اؤ امیري لازم ملزوم دي
زړهٔ به منع په کړیوان له بحیر نهٔ شم
ملغلرې مې له اوښکو نه جوړیږي
پریښودے دَ ملغلرو خمبیر نهٔ شم
ماکهٔ څو دَ بیلتانهٔ په غشو اولې
زړهٔ به ستون دَ ځیل اشنا له دې تیر نهٔ شم
اسمٰعیل په فقیرۍ کښې امیري کړم
پوره ځوے شکریه دَ قدیر نهٔ شم

اے زړۀ څۀ شوم کوم خوالاړ مه نا اشنا یم
نۀ پوهیږمه چې دا یمه کۀ دا یم
دَ لیاقت سماړې ما اولید بیانۀ ووم
اوس هغه یم چې کوم وومه کۀ سماء یم
سماء نۀ یم چې سماء یم سماء څـه شـۀ
داسې ښکاری جوړ سماء کښې زۀ فنا یم
اوس لږ پوهه شومه نوړ به هم پوهیږم
هم فنا یمه په دۀ کښې هم جُدا یم
لکه اوسپنه چې اور کښې سره لیدے شی
داسې زۀ هم دَ وفا اور کښې وفا یم
له زیبا اوره به چرې بیرون نۀ شم
دا خو دۀ کښې یمه ځکه زۀ زیبا یم
اسمعیل چې څۀ غوښته هغه ئې نصیب شوۀ
خدائے دِ ورکاندی دا ډیر لاس په دُعا یم

چې کوم زړۀ دَمینې علم ته مائل شی
ټکانه ئې دَ هجران بحر لکا هل شی
دې مکتب کښې تل سبق دَ مینې وائی
تیر په دۀ ډیر دَ غمونو مراحل شی

دَ ساحل په لټون کړئ بې مجاله
رسيده په مزل ساحل ته شي واصل شي
دانائي له دې مکتبه کړې حاصله
دَ بيلتون په لختو اولکي عاقل شي
هميشه ئې په زړه کاتب کتابت کاندې
په زبان ئې بيا ښکاره دا دلائل شي
له چشمانو ئې باران دَ رحمت وورې
رحمتو ته پرِ له پاک ربه نازل شي
مُرده زړه ئې شي ژوندے په رحمتونو
سلطنت کړې دا سلطان چې زنده دل شي
سلطاني ورته هله شي وربه غاړه
چې دَ عدل په سبق باندِ عادل شي
اسمٰعيلَ دَ دې شاهانو ياري غواړي
دا مراد به ئې په دُعا دَ دوئ حاصل شي



دَ راحت په لور روان يم دَ زحمت په لوئ دَرياب کښې
دَ اُلفت بيړئ کښې ناست يم آشنا ستا يمه رباب کښې
له ډيرغمه مې له زړهٔ نه دَ غمونو رباب جوړشهٔ
مدام لولي دا ياد ونه دَ يادونو په کتاب کښې
يم نرړے ئې بند په بند په تناوونو دَ زلفانو
پريشے نهٔ دے ذره دَ وُ دلربا په هر تناب کښې

چې ساحل ته څوک نه رسي تن یې زنځیر پېښي
دا کلکوالے څنگ بیان کړم چې مې نشته په حساب کښې


دې سفر کښې سوړے نشته تن مې ځکه داسې وریت شه
همیشه به داسې ډوبوم تر ساحله په آفتاب کښې

په دنیا له عاشق نه کړانه چاره بله نشتـــه
چې کرم د الله نهٔ وي نشته دا د چا په تاب کښې

زهٔ په هیڅ نه پوهیدمه عشق زهٔ کړلې کړمه پوهه
داسبق به مدام وایمه مدام له د عشق باب کښې

اسمٰعیل له خپل استاده د عشق باب حفظ کومه
پټ له خلقو ئې راته ښائې په بلند آواز خطاب کښې

—————✲—————



چې د هجر له دریا څوعبور نهٔ شي
تږهغې به دلـــربا ته منظور نهٔ شي

د شاهد محکومیت به مدام کاندي
بې له زده کړې به خاوند د شعور نهٔ شي


د سراج په رڼا تول عمر سفر کړه
یو ساعت له دې سراج څخه دور نهٔ شي

مالیارې به دې هیڅ کله نصیب نهٔ شي
چې منونکے څو د شاه د منشور نهٔ شي

د خپل شاه نه به باغي ترکومه کړځې
ترې به خلاص په دانا کاره دستور نهٔ شي


دَ صراط په پُل به ښنکه ګذر کاندې
مُنور چې په دُنیا کښې له نور نهٔ شي
اسمٰعیله دَ نیکانو په منځ دررومه
بې له دې منزل به خوښ دَ غفور نهٔ شي






ښنکه اوچ له پرنالو څخه ګریوان کړم
چې مدام دَ غم ورېځو نه باران کړم
دَ اُلفت دَ حکومت داسې منشور دے
په ژړا به زهٔ خوشحاله خپل جانان کړم
په ګریوان مې دِ وچوے خدائے نهٔ کړه
چې له کومه پورې ژوند پدې جهان کړم
خپلې اوښکې به یو وارې ما زرغون کړې
همیشه به سیل دَ یار دَ ګلستان کړم
اسمٰعیل به خپله بیا سدا بهار یم
کهٔ یو وار خدائے په امان له دې خزان کړم





څهٔ اوکړم چې اور مې په کوګل کښې لګیدلے دے
زړهٔ مې په دې اور کښې مدام نور اور لیپې تلے دے


وهي نارې نور اور ته وائي راشه ما ستي کړه نور
ځان ئې له مودو راسې په اور باندې بانيللې دے
هم ترې فريا دو نه کړي هم ئې رابلي ځان ته
اور ترې هم زاريږي زما زړه ئې کور ګڼړلے دے
هر ساعت حيران ګورې دې اور ته بل څه نه ګوري
داسې کار زما د زړه په سبرخه رسيدلے دے
زړګه ته مدام وايمه په دې کار ما هم پوهه کړه
وائي په جواب کښې دا چا سر ته رسولے دے
وائي چې ژوندے ئې توهغې ئې د ړ ته نه بنايم
بيا خوهسې هم ما ځان تاله ګروولے دے
ما اسمٰعيل مرګه پورې ځان له زړګه نه صبرکه
پوهه يم قابض پرې ډير زيبا ښکلے بناغلے دے



تماشبين زما د ويرا رض و سماء دی
خوشحالئ لما همه وارې کا اغوا دی
کړمه وير په خوشحالو بسې چې څه شوې
اغوا کړې دلبر لما پخوا دی
بې له غمه هيڅ خبر له بل څه نه يم
د خندا وختونه ټول لما جدا دی
د خندا ځائے دنيا نه دے ځنګ ئې اوکړم
هوښيار ان تل په دنيا کښې په ژړا دی

ما رهبر مدام دَ غم په لاره بیائی
وائی داتله دِ په لوړ دَ خپل اشنا دی
په دروغ ځائے طبیب مرهم چالوه نږدي
اندامونه مې زخمی پرېږ په وفا دی
همه عمر به شِفا زما نصیب شی
دَ ساقی دَ جام شراب ماله شِفا دی
شرابی یم بې شرابو نهٔ ږغیږم
دا یوُ وار په ما نوش کړی دلربا دی
اسمٰعیل به له شوایو صبر نهٔ شم
ما پریښودې پسې چارې دَ دُنیا دی






نهٔ دِ یاره خوږ کلام باندې مرېږم
نهٔ دا ستاله سپین بشره زهٔ صبرېږم
نهٔ دِ اوږ دَ مینې پرېښودمه خواب ته
مدام سر په زنګانهٔ یمه زنګېږم
تا دَ زلفو په وږمو یم عادت کړے
همیشه په دې وږمو پسې کرېږم
ستا دَ سترګو په جادو وړک یم له ځانه
وینم سترګې په هر لوړ نهٔ موندے کیږم
دې حیرت لما ژړا ده هیره کړې
وار خطا وار خطا ګورمه بوږ نیږم

ستا دَ حُسن نا تمامه ګلستان کښې
ستا دَ دَر تلاش کښې شپه اورځ ګرځیږم
ستا دَ عشق په باب کښې ګنګ شوم اوس به څهٔ کړم
هغه نهٔ شمه وئیلے کٔهٔ وئیلے شم
اسمٰعیل به دَ عشق باب همیشه وایم
له دې بابه چرې زهٔ نهٔ اوړ کاریږم






زهٔ په داسې لاثانی رخسار شیدا یم
چې مدام ئې زهٔ په حُسن کښې فنا یم
سُنبل زلفې ئې خوشبو دَ کشمالو کړي
په عالم کښې ځکه هر ساعت تنها یم
هیڅ علاج دَ تنهائی ځان کوَلے نهٔ شم
همیشه په انتظار دَ دلربا یم
یم زخمې دَ نرګسی سترګو په عشق
زیبا سترګې ئې هر چا ته ځکه ستایم
چې دَ یار دَ رنګ تپوس لما خوک اوکړي
په مثال کښې ئې ګلاب او یاسمین بنایم
همه حُسن ئې لا مالیدے نهٔ دے
حال ئې څنګه دَ همه حُسن اووایم
په دُنیا ئې خوک تول حُسن لیدے نشی
ارمانی ځکه زهٔ هر وخت دَ عقبیٰ یم


ګوم په ګل پسې استوګنه په اغزو کښې
په لبیک آواز مدام یار ته ګویا یم
په خلګو کښې آواز ونه کړم یار ته
اسمٰعیل د هر آواز سره فدا یم






قول اؤفعل چې دِهمه دَ اُلفت نهٔ شي
همه عمر به دِ درست ذهانت نهٔ شي
په دې قول اؤفعل به چرې عادي نهٔ شې
چې شیطان سره دِ خو عداوت نهٔ شي
دُښمنی ته دَ شیطان هر دم تیار شه
چې دِ نفس په بد وچار وعادت نهٔ شي
ځان دَ مینې په مکتب کښې هنرمند کړه
بیا منلے په تا خیل مهارت نهٔ شي
دَ بورا سکونت زده په ګلستان کښې
کو نکتې چرې کوے دا سکونت نهٔ شي
شرائط دَ یار دیدن له ښودے شوي
زده کړل دَ دې بغیر له صحبت نهٔ شي
له نیکانو څخه دا شرائط زده کړه
بې له دوئ نه به دِ زده شرافت نهٔ شي
چې ترڅو شریف بنده دَ الله نهٔ ئې
ترهغې په دِ نصیب معرفت نهٔ شي

دَ بُلبل په شان ما ليار چرې هيرنهٔ کړې
په دې وغه به موندهٔ حقيقت نهٔ شي
چې دَ يار طلب کښې نهٔ ګرځې نو څهٔ کړې
بې طلبه څوک خاوند دَ عزّت نهٔ شي
پيدا کړے دې طلب لره خپل رب ئې
ډير کم بخته به خبر له قربت نهٔ شي
دې ګران کار لره همت ځان کښې پيدا کړه
دا کوے چرې هم بې همت نهٔ شي
يار خوښ چاته وئيلې دَ دې کار دې
غافلان کوے دا سلطنت نهٔ شي
اسمٰعيل مدام طلب دَ مطلوب کومه
هير به چرې لما دا عبادت نهٔ شي




چې دَ مينې په شرابو دِ خمار کړم
په قطار دَ غمزدو کښې دِ شمار کړم
تا په جام پسې بې مثله تنده را کړه
تير له حلقه ستا دَ هجر لوې خمار کړم
ساقي تاوې مدام ژړا زر به راشم
په ديدن پسې دِ توک توک انتظار کړم
ما په تا پسې ګريوان په اوښکو ورو ستهٔ کهٔ
چې نهٔ نهٔ ئې زهٔ به دغسې کردار کړم

بې لتا مې دَ راحت استوګنه تشته
ستا په مينه خدائے داسې وفادار کړم
دروغ به نۀ شمه په بل څۀ له دې رنځه
زۀ په هغه څۀ رغيږم چې ئې بيمار کړم
اسمٰعيل به په دې رنځ ترڅو کړيږم
بې مجاله ستا دَ مينې کاروبار کړم



چې دَ هجر دَ درياب په ننداره شوم
دَ ياد ونو په اره، اره اره شوم
ستا جمال يؤ لوئ کمال دے حُسن داره
که تا نۀ وينمه هم زۀ درسره شوم
خپلو اوښکو تر ته په تا پسې قيانوس کړم
زۀ دَ غم دَ طوفانونو اجاره شوم
ستا ديدن پسې وهمه چپاوونه
ستا په مينه دَ عالمو نظاره شوم
له ډير غمه اسمٰعيل په ځان کښې ډوبيم
خپله ځان لره دَ صبر سهاره شوم



چې نرڅو د سپين بشر په ارمان نۀ شي
هيڅ خبر به له ګلاب وريحان نۀ شي

جفا پريږده د وفا په تيغ حلال شه
بهار کوم دے چې خبر له خزان نۀ شي

د فراق اوښکې جړګې يار لره بيايه
بې له اوښکو به زرغون په جهان نۀ شي

چې د غم درياب دجوړ نۀ شي له زړګه نۀ
د يار لورې ته به چرې روان نۀ شي

د فرقت په توره ځان کړه پرهر چې
ملاقې به هسې ته د جانان نۀ شي

د فکرونو په طوفان کښې ځان مرده کړه
بې له فکره به ماليار د بوستان نۀ شي

د حيوان پيشان ژوند تير نۀ کړې دنيا کښې
بې له عشقه به تول عمر انسان نۀ شي

په الفت به ته انسان شي له ځان ورکه
داسې ورک نور له خپل ځانه يوان نۀ شي

اسمٰعيل وائي له عشق که ناخبرې
چرې پوهه به زما په ديوان نۀ شي




زړه دَ اوښکو دا سیحون[1] جیحون[2] دلبر کړم
چې په خُلهٔ کښې دَ بیلتون دړون دلبر کړم
دَ حیرت په بیابان کښې مدام ښرا ړم
زړه دَ مینې په مضمون مجنون دلبر کړم
بې دِلبره هر ساعت په ما قیامت وي
دې صحرا نه په قانون بیرون دلبر کړم
خپلو اوښکو کړمه خاوړې په صحرا کښې
په دا چاره دَ افسون[3] مخزون[4] دلبر کړم
اسمٰعیل دَ دلبر چارې ته حیران یم
غمزړه دهٔ سر په زنګون زرغون دلبر کړم

دَ حضرت په مخ لتا نه هم تا غواړم
دا چې وائې هم دا غواړه هم دا غواړم
تهٔ په ما باندې دا غوښته کړې پخیله
تهٔ وفائې لتا څکه وفا غواړم
بل مې هیڅ نهٔ دی پکار تهٔ مې پکار ئې
ډیره ښکلیه تهٔ ښکلا ئې ښکلا غواړم

---

[1] [2] سیحون جیحون: دَ دریابونو نومونه [3] افسون: جادو [4] مخزون: غمزده


هیڅ کمے دِ دَ بنکلا په ور کړه نهٔ شی
زهٔ مدام له تا نه دا په ژړا غواړم
چې دِ نهٔ غواړی احمق دے ستا په قول
دې تیرو لره دَ علم رڼا غواړم
کرم اوکړه تهٔ په ما زما نصیب شه
اے طبیبه تهٔ دوا کې دوا غواړم
ستا رضا ما اسمٰعیل لره علاج دے
زهٔ خپل رنځ لره مدام ستا رضا غواړم



له مشرقه ترمغربه له جنوبه ترشماله
دَ دلبر لټون کښې کوځم مدام له ډیره خیاله
بنکته پورته بهٔ تحقیق کړم دَ جانان په پلوشو کښې
چې به کله مخ څرګند کړی دلربا ماته له شاله
زهٔ دَ فکر سمندر کښې پسې شپه اؤ ورځ ډوب ګرځم
په دا چاره دَ فکرونو شومه ډیر زهٔ باکماله
دَ حیرت په طوفانونو مدام ډیر زیلے کیږم
مدد غواړمه هر آن کښې زهٔ له خپله ذوالجلاله
بې له مینې په دُنیا کښې ماته بل څهٔ لیدے نهٔ شی
زهٔ پائیږم په دا مینه یمه مینې ته لیواله
رُوح اؤتن شوهٔ زما مینه زهٔ دَ مینې سمندر شوم
بیا هم نوره مینه غواړم وایم راکړه نوره ماله

اسمٰعیله مینه غواړه عبث وخت چرې تیرنهٔ کړې
چرې کوزنهٔ شې دَمینې دَ فکرونو لهٔ دې تماله





ولې داسې مست وې له دلبر کړځې
په دُنیا کښې په ترخوبې هنر کړځې
په مکتب دَعاشقۍ کښې هنرزده کړه
باخبر شه له کیمیا ناخبر کړځې
دَ هجران چاره په سرسترګو قبول کړه
په دیدن پسې په غُس په خنجر کړځې
دَ یادونو له صحرا به بل خوا نهٔ ځې
همیشه بهٔ دَ یادونو په نمر کړځې
چې ریبار دې له خبر دَ سرور راوړې
بنهٔ به چاق بیا په تلاش دَ سدبر کړځې
دَ دیدن سود به په تا دلربا اوکړې
چې دَ فکر په دریاب کښې جوړ کړځې
چې دِ پوره ته شې آهوته له کوګله
بیا به هله یارمونده قلندر کړځې
اسمٰعیله دَ دلدار رخسار هیرنهٔ کړې
په طلب کښې به ئې مدام دربه در کړځې



يکه پانړه دَ خزان يم رژيدلې
دَ يار درته لا رِ بيار نهٔ يم بللې

دَ خزان باد مې زړې خوږې ورې کړې
په آفتاب ئې دَ اُلفت اوسوزولې

په هر ځائے کښې مې اِيرې دَ تن خورې دی
له اړله مې دا برخه رسيدلې

شنه به نهٔ شم په بل آب بې له ديدنه
دَ وفا ادا رِ بيا رِ ماتنه خودلې

پسرلے به لتاچرې بيرته نهٔ ځي
اسمٰعيله که غنچهٔ ئې اوسپړدلې



ستا په مينه مې خپل ځان زاره زاره کهٔ
دا هنر مې دَ فرقت سيمه کښې زده کهٔ


دَ حُرمت دَ سيمې چاره زده کوم دلته
په يادونو مې ييادونه اِجاره کهٔ

په دُنيا کښې له دُنيا نه بيرون اوسم
ستا دَ پاره مې ځان داسې کناره کهٔ

دې هُنرته مې شوق ورو په ورو ډيرېږی
په څو واره مې پرې ځان خپل غرغره کهٔ

فواري به مې دَ ستر‌ګو اوچې نهٔ شي
تا مې زړهٔ مدام دَ يار په نظاره کهٔ
دَ بوستان ارمان په څنګ نهٔ کوم بيديا کښې
چې له ورايه دِ ګلان راته ښکاره کهٔ
اسمٰعيل بې ستاله مينې بل څهٔ نهٔ کړم
نور مې هر څهٔ ستاله رويه شکوانه کهٔ







په ښکلو چې دِ شوم پوهه له خپل تنه دې برخير شوم
چې دِ مخ راته برخير کهٔ له حيرته تيرو بير شوم
خپلواکي لمانه لاړه واک مې ستا دَ واک غلام شهٔ
ستا دَ واک په غلامۍ کښې زهٔ له خپله ځانه هير شوم
زهٔ په ځان کښې تا ته ګورم نور له هر څهٔ شومه پاتې
ستا ديدن مې هله اوکهٔ چې دَ سرو مالهٔ ستير شوم
دَ رښتو نو خلقو خوش يم ستا په اِذن رښتيا وايم
دروغ نهٔ شمه ويلے دروغ جنو له کندېر شوم
داجهاد کوم ظالم سره مدام مشت وګريوان يم
ډير زخمي ستا محبت کښې زهٔ پيدې تيرهٔ شمشير شوم
داجهاد په زهٔ کومه چې زخو پورې ژوندے يم
داپه ما دَ رب احسان دے مجاهد وکښې چې شهير شوم
اسمٰعيل به په څو وارهٔ له تا ځان داسې فدا کړم
پريښودے نهٔ شم داچاره ستا دَ زلفو په دام ګير شوم

اوّل قلم په خپله ژبه چې نوم ستا بنکل کړ
بیا مې په دواړو شونډو نوم ستا په ژړا بنکل کړ
قابل ئې نه وې زما شونډې زړه مې صبر نه کړ
لکه چمن کښې چې بوړا ګلِ لالا بنکل کړ
بوړا خو وائي چې مدام د ګل په خنک کښې وے زه
زه بې نوا پرې تیریدم ما په هوا بنکل کړ
ستاله زیبا مخه به خنګه زما زړه صبر شي
چې تل د یادو په آئین کښې زړه زما بنکل کړ
ستا په اُلفت کښې د خزان صحرا نصیب شوه زما
ما دِ په مینه تول ریګونه د صحرا بنکل کړ
ډیر بُلبلان شوه زما مینې ته حیران ما لیاره
ستا تور زلفان چې مې په نازو په ادا بنکل کړ
له پتنګانو مې په شمعه سوځنګې هیره کړه
ما چې ما بین کښې د لمبې دارِ فنا بنکل کړ
زه اسمٰعیل ستا د رضا په لمبو سوزم مدام
په اوسیدو د بیلتانه کښې مې بیا بیا بنکل کړ

په دُنیا کښې د عشق کار همه ادب دے
قبول کړے مې په خوښه دا مذهب دے

لکه برق مې دا مذهب په تن کښې کړځي
جوړ له زړه مې د مذهب حسين مکتب دے
دا مکتب مې هم کتاب او هم طالب دے
فائز ځکه د حيرت په دې منصب دے
چې خدائے په ما د مينې دا سود اوکه
دغه سود په ما نور سود لره سبب دے
زړه د ياد و يو ستر بحر منجمد شوم
دا احسان کړے په ما بانډ خپل رب دے
په رضا ئې زما رضا ده چې څه کاندی
په رضا پسې ئې کړے ما طلب دے
دا طلب ما اسمٰعيل ته دځه بنسود ے
ورک مې خواب ځکه لما نه روز و شب دے





په خو وار چې مې خپل سر تا لره در کړه
نور غمونه د را پيښ زما په سر کړه
ستا د يو وار په ليدو مې هر څه هير شوه
خپل ياد و نه د تل ما له مقرر کړه
يو ساعت د هير و ے ځکه سنه شم
چې فنا لما نه هر څه ستا بشر کړه
زړه چې ستا په تماشه شو مه دلبره
تا زما په تماشه دا بحر و بر کړه

ستا دَ حُسن په دریاب کښې غرقاب اوسم
هیر لما نه ستا بنګلا شمس وقمر کۀ


دَ لیمو غشو دِ زړۀ زما زخمی کۀ
دَ دیدن مرهم ته تا یدې نظر کۀ

خپل دیدن ته دِ لیوال کړمه دلداره
دَ دیدن په لار چې تا زما ګذر کۀ

شپه اوورځ دِ نمر دَ مینې په ما لګی
تول هډونه ئې زما ځکه کسکر کۀ

اسمٰعیل ستا دَ لعلونو خزانه شوه
دا لعلونه دَ ربار په لاس ستا ور کۀ





مهٔ کوځه نور ورک دَ ګمراهۍ په خاریه کښې
استوګنه کړه اختیار مدام په فرقه ناجیه کښې

حیران یمه تراوسه ته خیر له ناجئ نه شوې
شبلی دِ شراب نهٔ دی دَ یار په میکده کښې

واړه انبیاء اؤ اولیاء په ناجیه کښې دی
اولوله داباب دَ تصوف په مدرسه کښې

تولو اولیاؤ ناجیه ثابته کړې ده
ستا ولی ولی ځکه خلاف دے عقیده کښې


سخت امتحان راغے رب دِ خیر کړی مسلمان ته
خدائے دِ امان راکړی چې شمار نهٔ شو جبریه کښې

څه چې اولیاء وائي رښتیا وائي صادقین دي
ربه تل لرې موتږه د دوئ په باغیچه کښې

دا فرقه لرې څلور مذهبه واړه حق دي
زه حنفي مذهب لرم بله کلک یمه دعوه کښې

څلور د طریقت سلسلې هم په ناجیه کښې دي
ما اسمٰعیل نوش که ډېر شراب په چشتیه کښې





د مالک په لاره دروم نورې لارې د خطر دي
له مالکه مدد غواړه ډېر غمونه دِ په سر دي

رهبران دُنیا کښې ډېر دي یو رهبر بسې روان شه
لتا وړاندې قدمونه په دا لار ایښي رهبر دي

رهبران به تر قیامته پورې وي په دې دُنیا کښې
هغه خلق دي ډېر کم بخته چې له دوئ څخه منکر دي

د رهبران سپړې اوخره د دیدن عظیم نعمت له
په سپړو خیر شوې مهرویان له بحر وبر دي

د ارشاد تعمیل ئې اوکړه چې له دوئ سره بیا شادشې
پوهه خلق مدام له دوئ سره دُنیا کښې همسفر دي


قافله درته تیریږي ته په غم وسترګو اوده ئې
دا منزل نه دے روان شه دلته واړه مسافر دي

له دلبر سره به څنګ کښې هغه خلق ځائے موندلے وي
له دې ځایه چې دیدن ته اوګي تګی د دلبر دي

هر قدم په حساب اخلی په تکل دَخپل جانان کښي
فریاد دونه ئې عبادت دے زخمی شوی په خنجر دی

کوم طبیب له چې روان دی زخمی کړی دې طبیب دی
تول زخمونه ئې تور کړي په دالار دَ بیلتون نر دی

اے طبیبه اسمٰعیل هم ستا دَ وصل مرهم غواړی
دا نعري ورله لیکلې ذوالجلال په مقدر دی



اے زړګیه هغه بښکلے نګار څهٔ شهٔ
کوم خوا لاړ هغه دَ ګلو ماليار څهٔ شهٔ

دا چې ته ئې توتې توتې کړې او بیا نهٔ وو
زړ که حال وایه صاحب دَ تلوار څهٔ شهٔ

توري زلفې چې ئې شا ته وارَولی
دَ آفتاب په شیر خُلنده رخسار څهٔ شهٔ


په مُسکا چې ئې کانهٔ کړهٔ ستا په لوري
پسې دروومه ستا دَ یاره قرار څهٔ شهٔ


چې پتنګ شوې چراغ لاړ بیله شوې پاتې
خدائے زده چې دا چراغ جلوه دار څهٔ شهٔ

دَ بیلتون په لویه شپه کښې دِ ژوندون شهٔ
دَ سکون هغه بې مثله راز دار څهٔ شهٔ

لږ ساعت چې دی دیدان خدائے نصیب کهٔ
بیا رنګین تروتازه لاله زار څهٔ شهٔ

کوم ساقي چې پرِ شراب دَ مِهر نوش کړه
اسمٰعیل لره بیا هغه خمار څهٔ شهٔ





ډیر په تا باندِ خفه یم برادره
لږ مې خواته رانزدې شه دَ زړهٔ سره
دَ ګوټک په لور روان ئې زر راستون شه
دَ ګلشن لار دغه نهٔ ده مسافره
کوم سفر له چې آقا ئې رالیږلے
لا تراوسه ترِنه کړې نا خبره
دَ آقا فرمان دِ ولې دے هېر کړے
زر بیرون شه دَ غفلت له سمندره
دَ جفا په قینچې ځان نور پرکټ نهٔ کړې
دَ وفا په پرو والوځه په ښېره
نر سپوږمې دِ په خدمت کښې ګرځینده دي
له چقړونه ځان پاک کړه منوّره
اسمٰعیل به ستا له غمه بې غم نهٔ شم
دا فرمان مې اوریدلے له رهبره



دَ سبحان نظام دَ عشق په دام بندي کړم
بیابان کښې یې په تابان آفتاب ستې کړم
دَ جمال په رسوېٔ کلک یمه تړلے
دې سزا یاندې یې نور هم زګه پتې کړم
دَ یادونو په مکتب کښې سبق وانیم
دَ یار مینې دَ یادونو سبقې کړم
دَ منصور له داره دار زما ډیر ګران دے
په خوواره بیلتانهٔ دَ یار فانې کړم
سلطنت دَ محبت په وطن کاندي
زګه له داسې شهنشاه سره یارې کړم
دَ بنائست په سمندر یم لاهو شوے
ډیر دَ حُسن دې شرابو خمارې کړم
دې نشه کښې نور لیواله شوم نشې سته
ساقي لاړ لمانچې زګه یې شرابې کړم
دَ حسین ساقي فرقت مې شهٔ په برخه
شپه اوږ ورځ یې زګه دَ لار پهره دارې کړم
اسمٰعیل دَ انتظار په اور سوزیږم
ځکه داسې دَ اور ډکه شاعرې کړم

د دنیا په دې بازار کښې یم حیران د عشق روزګار ته
همه عمر مې دا کار دے چې بس ګورم د یار لار ته

مدام دا پهره دارې کوم بل خواهش اړوے ته شم
پټ تېښک کړے یمه زړه د انتظار دا سي یلغار ته

دا یلغار به تردید نه په ما دغسې جارې وي
زړه به چرې اوزګار نهٔ شم له دې کار څخه بل کار ته

له دې کاره څوک بل کار ته یو ساعت سیده ته شي
دې انکار کښې بې مجاله مدام ګورې دې انکار ته

د شیدا دا زندګي ده نور عالم ئې تماشبین وي
همیشه لکه بلبل وهي نارې بنکلې ما لیار ته

د خپل مرګ په ارمان کړځي بل ارمان ئې په زړه نهٔ وي
پس له مرګه په بیا ګورې همیشه د یار رخسار ته


اسمعیله رب د مل شه دا ژوندون همه خزان دے
دې خزان کښې تل اوسیږه هغه دیر زیبا بهار ته

خواهشات چې ئې له نفسه رخصت نهٔ شي
سیلانے به د زیبا مملکت نهٔ شي

د حسین تاجدار لیده چې ئې په زړه نهٔ وي
دے به چرې هم خاوند د زینت نهٔ شي

له بد بخته وي موجود قديرهير شوے
بې له يادو به په بل څه نيک بخت نه شي
له جماله چې زړه توړې وي حاسد دے
په يو زړه کښې ځاے حسد او الفت نه شي
چې دُنيا ئې دَ قارون غوندې وي خوښه
خيردار به دَ وفا له دولت نه شي
چې بيدار څوک دَ غفلت له خوابه نه وي
هيڅ په پوهه دَ خپل ژوند په لذّت نه شي
اسمٰعيله چې له هجره ډډه کاندي
په نصيب به ئې دَ ديدن مسرّت نه شي






چې سينه مې په بيلتون اره اره شوه
له چشمانو نه مې جوړه فواره شوه
په تودو اوښکو کړيوان خپل چړقا ومه
دَ يار مينه کښې زما دا اجاره شوه
زړه دَ عشق په يوه اړوم ژړيږم
تر آسمان پورته زما هره ناره شوه
په دفتر کښې مې تحقيق دَ ناروکيږي
له هغه ځاے نه مې دَ عشق چاره بنکاره شوه
له دفتره آفرين آواز بلند شه
دا آواز مې بيا نارو له سهاره شوه

هر ساعت دَ آفرین آواز راکاندی
هر ساعت مې پرِ زاره زره زره شوه
اسمٰعیل له دې غمونو اوزګار نهٔ یم
دَ غم چاره مې عالم ته نندار ه شوه







نهٔ دَ یار په تورو زلفو معطّر شوم
نهٔ له یاره بیلتا نهٔ کښې مسر ور شوم
دَ راحت استوګنه کوم ده چې یې اوکړم
زهٔ مدام له راحتونو نه بهر شوم
په صحرا کښې دَ مطلوب په لوری درومم
دَ صحرا څنګ ته دَ اوښکو سمندر شوم
زهٔ لعمت دَ دیدن غوارم له خدایه
دَ دُنیا له هر نعمته ناخبر شوم
دَ دنیا په تاج وتخت باندِ به څهٔ کړم
چې رومبے په اور کښې زر بیا کیمیاګر شوم
دَ بقا وطن کښې یار زما اوسیږی
دَ وفا په لار کښې پیښ زهٔ په خنجر شوم
دَ دلدار رُخسار مې لویه وظیفه ده
په دې اور کښې زهٔ اوسیږمه کسکر شوم
دَ تنها ځان په علاج هیڅ نهٔ پوهیږم
په صنم صنم په ځان کُف کولو سر شوم

بې اختیاره زړه په خُلهٔ صنم صنم کړم
په دې دَم باندِ زړه نوره هم ډیر پرهر شوم
اسمٰعیل په تردید نه ځان دمومه
لوئې دم کړے زړه دَ ځان شومه خبر شوم






په زړګی پورې مې سلیخ دَ صنم غم دے
ارماڼ مې زړګے ځکه دَ مرهم دے
زړهٔ دَعشق په هار کښې تګے مدام کړځم
دا صیام راله خوښ کړے محترم دے
دَ تن وینې مې افطار پسې اوڅیړی
زما خوا ته لها دور دَ یار حرم دے
دَحرم لور ته په تن کښې سیرہ کاندم
هر قدم مې له فریاده سره سم دے
عندلیب غوندې مدام فریاد کومه
صبر یدے نهٔ شم مالیار مې غنچه فم دے
په څوار دَ بیلتانهٔ په تیغ حلال شوم
کریم کړے په ما داسې لوئې کرم دے
اسمٰعیله په رمضان پسې اختروی
دا انعام کړے په تا باندِ اعظم دے




پہ زړګی مې قابض شوے محبّت دے
رسیدلے مې پہ سپرخه سلطنت دے
تاج وتخت مې له حیرت څخه جوړ شوی
پہ محل کښې مې دَ زړۀ داسې دولت دے
تاج وتخت مې دَ الفت ما تختي کاندی
پہ سر سترګو مې منلے دا طاقت دے
دَ الفت منشور غفور خپله جوړ کړے
پہ کونین هم دا له ټولو لوئ نعمت دے
چې ما تخت شی دَ منشور خپله منشور شی
دَ عزّت خاوند چې څنګ خپله عزّت دے
پہ هر آن کښې ئې پہ زړۀ کتابت کاندی
ورکونکے دا کاتب دَ ذهانت دے
چې منعم مې دا انعام چالره ور کړی
فرمائیلے منعم دۀ څخه صحبت دے
اسمٰعیل دَ جاودان عمر دَ پاره
پہ دُنیا کښې خوېي زده کړے دَ جنّت دے



ورک یمه له ځانه دَ حیرت پہ بیابان کښې
ځان رانه ورک شوے له مودو راسې پہ ځان کښې

زۀ له خپله ځانه تپوسونه دَ خپل ځان کوم
ځان مې راته وائې ځان مې نشته دې جهان کښې
ځان مې راته وائې زۀ خو عکس ستا دَ ځان يم
ماته مدام ګورهٔ چې ځان اومومې بوستان کښې
داسې مې ځان پوهه کړم چې ځان مې دَ ځان عکس دے
ځکه زۀ مدام شومه په ځان پسې ارمان کښې
واوره اسمٰعيله چې ځان اومومې يار ستا دے
يار ګورے موندے شي په رښتې رښتې ګريوان کښې







دَ بهار په يوُ لمحه پسې دِ ټول عمر خزان کۀ
چې بوراېم زما ژوند دِ دَ هجران په بيابان کۀ
دَ بوستان په تلاش ځکه ځم بيابان کښې ډير زړۀ چوړے
روغ صحت به مې نصيب شي راعيان کۀ دِ بوستان کۀ
ستا دَ زلفو هر يوُ تار به خنګ لما څنګه هير يږي
چې بنکاره دِ له زلفانو په ترتيب راته چشمان کۀ
په دُنيا کښې به ټول عمر زۀ هم ستا په ارمان ګرځم
په نصيب مې له آزله خدائے تا پسې ارمان کۀ
چې ارمان دړ پسې تۀ کړې هغه واړۀ نادانان دی
دانا خلق عاشقان دی شپه اوورځ تا په ګرزان کۀ
عاشقان هم په دې عشق کښې نادانان دی حيران ګرځي
تۀ هغوئ ته دانا وائې چې څوک ستا عشق نادانان کۀ

اسمٰعیل به ځان ته چرې دانا نهٔ وائې عاشق دے
څنګ به وائې چې دانا یم ورک په مینه ئې ځان له کهٔ





هنرمند شوم مدرسه کښې دَ هنر نه ګه
جوړ ومه ترمو اوښکو نه لښکر نه ګه
دا هُنر به زده کوم چې خو ژوندے یم
لهٔ هر خوشمه په دې توره پرهر نه ګه
په دُنیا کښې له بېلتو نه لوئې غم نشته
دَ دلبر په بېلتانهٔ یم قلندر نه ګه
غمزه ده مې بل دَ ځان په شان اونهٔ لید
سیلانے یمه مدام دَ بحر وبر نه ګه
زهٔ دَ غم یم غم زما دے بل څهٔ نهٔ کړم
هر ساعت یمه دې غم پسې نهر نه ګه
ما په پاک الله ج توکل کړے دَ مینې
کړمه دې ښائسته بیړۍ کښې دا سفر زهٔ
محترم سره چې یؤ وار ملاقې شم
په بل لور به تزنه واتهٔ روم نظر نه ګه
اسمٰعیل په دَ تسکین ما نړۍ کښې اوسم
چې یؤ وار اوځم دَ غم له سمندر نه ګه



○

دَ عشق نمر راله زړے تول ننګئ کۀ
پۀ دُنیا کښې ئې محروم له خوشحالئ کۀ
پۀ طبیب پسې دَ سوز وطن کښې ګرځم
راپۀ غاړه ماتۀ یار کار دَخوارئ کۀ
له ډیر درده قدموته ورو ورو اخلم
راته پیښ طبیب له تلۀ دې لاچارئ کۀ
له مودو راسې روان زګا پۀ دالار یم
زړۀ مې ډک هم دې طبیب له بیمارئ کۀ
ورځ پۀ ورځ مې دَ زړۀ رنځ لا سیوا کیږی
ډیر زخمی راله دګا تن پۀ کټارئ کۀ
خبر نۀ یم چې طبیب پۀ کله مومم
فریادو نه مې هم چپ نا قرارئ کۀ
اسمٰعیل له خپل خدایه قرار غواړم
څۀ وار وته پۀ ما خپلې شاعرئ کۀ

○

کۀ غواړې پۀ دُنیا له شهنشاه څخه شاهی
ګذار کړه ځان شاهئ لره دَ عشق پۀ ګراهی
کباب شه چې له زړۀ نه دِ رباب دَ مینې جوړشی
ګویا به همیشه وی بیا پۀ ذکرِ الٰهی


لوئیدا ے يې ناپوهه لا خبر نهٔ ئ له ځانه
راوخیژه دَ میني په ږسۍ له دې کوهي

روان شه دَ منزل په لوړې دروم په دالاره
بل خوا يه قدم خستوده لويه تباهي

سره دَ عقله ولې په ځنګلو باندِ سرې ستهٔ
راشه نوره چرې مهٔ کړهٔ داسې کوتاهي

زهٔ اسمٰعيل نور امداد لتا سره کوے نهٔ شم
دغه زما وَس ووچې مې درکړه آګاهي





په قرار پسې مې زړهٔ ډیر ناقرار شهٔ
دَ فریاد په تیغ مې تن همه پرهار شهٔ

دَ قرار موهم به څو له قرار غوارم
هر یوُ هډ مې لکه سکور په انتظار شهٔ


دَ فرقت بار مې په وُلو باندِ پروت دے
په نصیب مې همه عمر داسې کار شهٔ


دَ وفا رسۍ مې کلکه له بار ستاوُ دهٔ
له ډیر بوجه مې کړیوان تول تار په تار شهٔ

په سینه راله زخمونه رسۍ جور کړه
هر یو زخم مې په یادو دَ نګار شهٔ

راحتونه مې دَ زړهٔ له کوره لاړهٔ
چې مې زړهٔ دَ دې دُنیا څخه کنار شهٔ

اسمٰعیل په بې نګاره ځنګ خوشحال شم
چې ئې نقش زما په زړه ښکلے رخسار شهٔ





زهٔ په یار پسې د اوښکو لوئ بحیر شوم
د زیبا په بیلتانهٔ آخته په وِیر شوم
کُل عالَم کښې ئې شانَ د حُسن نشته
زهٔ مَین په داسې ښکلی بې نظیر شوم
د دلبر په تصوّر کښې شپه ورځ کرځم
د یادونو په صحرا کښې ډیر ظهیر شوم
د خبرو مې څوک نشته په صحرا کښې
مقرّر یمه خپل ځانته په تقریر شوم
تول تقریر کښې غلے نهٔ شوم له ژړا نه
منتخب داسې ژړا له قدیر شوم
په ژړا د یار دیدن غواړم له ربه
په دا چاره هم فقیر او هم امیر شوم
اسمٰعیل دواړو عهدو زړې زړې کړم
څکه چا لره مرید چا لره پیر شوم



په دُنیا کښې په ژړا مَتوا تر شه
هر ساعت کښې دَ الله جل په کړو شاکر شه

همه ژوند دَ خپل مولیٰ په یاد کښې تیر کړه
چې هر رګ دِ کړي ثنا هغه ذاکر شه

داسې مینه له خپل رب مدام غواړه
په دې کار بانِدِ دې کارلره ماهر شه

پاکه مینه دَ خپل پاک پرور دګار کړه
له دې ځایه ئې دیدار لره طاهر شه

توکّل په الله جل اوکړه دې سفر کښې
همیشه دِ پاک الله جل حافظ ناصر شه

په دالار ده خزانه دَ جواهرو
په نصیب دِ دابې مثله جواهر شه

په حضور دَ خپل مولیٰ کښې مدام ژاړه
اسمٰعیله همیشه ئې در کښې حاضر شه




چې زرغون ترځو دَ عشق له زمین نهٔ شي
شینکے خال به دَ اشنا دَ جبین نهٔ شي

چې دَ یار په تورو زلفو بندي نهٔ ئې
تور اوربل له به ئې ګل دَ یاسمین نهٔ شي

دَ یار غشو ته زړه کے خپل نشانه کړه
بې له غمه به خیر له تسکین نهٔ شي
دَ یار خنک کیني به ته ځائے خنکه بیا مومې
چې له دې ځایه ئې لاس له تکین نهٔ شي
چې دَ عشق رمضان په ځان باندِ تیرنه کړې
دَ اختر په تال به چرې یرین نهٔ شي
زیبا دې دِ دَ یار ولې دے هیر کړے
دغه دې ته په داخل بې یقین نهٔ شي
دَ یقین په طریق تېر ترمرګه کانده
تهٔ به هسي دَ دلبر تماشبین نهٔ شي
له حسده به ترخو داسي کنډیرئ
په تا څهٔ چې له الفته شیرین نهٔ شي
اسمٰعیله دَ اُلفت په پت پتې شه
بې الفته به دَ یار نازنین نهٔ شي






روغه سته مې شوه خاوري دَ فراق په زولنوکښې
ویره له خپل کوکله اوړمه دَ غم په سازینوکښې
په شرابو به رغیږم میکدې ته که مې بوځې
شفا نشته ما دَ یاره دَ دُنیا شفاخانوکښې
هم زخمي یم په مژګانو هم مژګان راله مرهم دی
مدام ځکه مژګان ستایمه ریبار ته په سلګوکښې

غوږ مې ایښے له مودونه چې په کله وائی دَه رَه[1]
خوار وزار په انتظار شوم دَ فرقت لاړو کوښې
دَ هجران په توره شپه کېنې صباوُون ته انتظار کړم
صباوُون صباوُون وایم دَ یادونو ترانو کښې
سنوری ماته په مُسکا دی زړه ژړېږم دا مې ژوندے
محترم له خپلې اوښکې مدام بیا یمه جړکو کښې
اسمٰعیل په داسې بیله ژوند ترکومه تیروُمه
زړه دېدن دَ صنم غواړم دَ هجران په تورو شپو کښې






ستا دَ جمال صفت کوے نۀ شم
همه جمال دِ زړۀ لیدے نۀ شم
زړۀ په پونړو باندِ دړ خیژم مدام
خوتر همَوَ دړ ختلے نۀ شم
هره پونړۍ باندِ زړۀ مرمه یوُوار
خوبیا دِ هم زړۀ هیر وے نۀ شم
دَ ناتمام حُسن دِ څۀ اُووایم
بس داسې وایم څۀ ویلے نۀ شم
چې دِ عادت په میخانه کړمه زړۀ
چرې ترِ زړۀ اوس صبریدے نۀ شم
ډیر عاشقان دی تا په غم وسرګړی
زړۀ هم له دوئ نه بیلیدے نۀ شم


[1] دَه را ، راشه

زهٔ اسمٰعیل سینه غلبیل کړم
بې له تا یاره رغیدلے نهٔ شم





ستاالله فضله په ما والوته نسیم
ډیر خوشبویه دِ نسیم دے له قدیم
هر ساعت پرِ یاندِ نور نور تازه کیږم
دی نعمت لره توفیق راد تکریم
زهٔ لائق دَدې انعام نهٔ یم منعِمه
تا را اوښود ځان پدې ما ته کریم
شکریه دِ چرې نهٔ شم پوره کوے
لهٔ هر څوئ ادا کومه په تعظیم
تهٔ دَ هغه چا په مخ ډیر مهربان شه
چې دَ چا مخ دے مخونو کښې عظیم
همیشه به ستا دَ فضل امید واریم
همیشه غالب لره ما په غلیم
اسمٰعیل له کمراهانو په امان کړه
لکه څنګ چې شهٔ له اوره ابراهیمؑ




په دُنیا کښې خوښ څهٔ اِنسانیت دے
دوئیم نوم اِنسانیت لره الفت دے
بې اُلفته چې ئې استوګنه وی دُنیا کښې
دغه ژوند دَ دګ همه واړه لعنت دے
دې سفر کښې دَ اُلفت هنر ره کانده
عارف مونډے په اُلفت کښې معرفت دے
لږ ساعت له محبّت بغیر تیر نهٔ کړې
هرې چارې لره دا واحد طاقت دے
بې له مینې بل څهٔ ښکارې انسان نهٔ ئې
لکه بُوت دِ هسې جوړ داسې صورت دے
په جوړ نظر ځان اوګوره چې څهٔ ئې
بې هوده دِ اختیار کړے سکونت دے
سکونت دَ یار لټون کښې همه تیر کړه
دا یاری په دواړه کونه لوئ نعمت دے
اسمٰعیل به بل څهٔ څهٔ کړمه دُنیا کښې
چې را کړے ذوالجلال دا غنیمت دے

په دُنیا کښې دَ خزان بورا نامیږم
په بهار پسې مدام ژړا نامیږم

زۀ دَ عشق سوداګری کړمه بیدیا کښې
زۀ پخپله هم دَ عشق سودا نا میږم
دَ توکل په دولت هجر ځان له اَخلم
دَ دیدن دَ پاره دا وفا نا میږم
دَ وفا دریا کښې ورو ورو نور ډوبیږم
په دریا کښې دَ وفا دریا نا میږم
په منشا دَ خپل جانان ځمه جانان له
ځکه داسې دَ جانان منشا نا میږم
زۀ دَ فکر په تال ځانګم بل څۀ نۀ کړم
په عالم کښې له عالم تنها نا میږم
تنهائی ما اسمٰعیل غوره کړلی
پس له هجره به ننګا خندا نا میږم






دَ ارمان وطن کښې ګوځم خوبرویان لټوُم زۀ
دَ جانان دیدن دَ پاره سرۀ ګلان لټوُم زۀ
دَ وفا په بیابان کښې دَ وفا په تیغ حلال شوم
دَ وفا ناره وهمه نور لـه زان لټوُم زۀ
په آفتاب دَ حُب مې وینې دلربا پسې اوچیږی
نقاب پوش ئې عالم بولی دا جانان لټوُم زۀ
دَ حیرت په سمندر کښې زۀ زیرک ملاح نا میږم
ملغلرې مدام دره له دَ سُلطان لټوُم زۀ

دَ هجران له طوفانونو سره خورم مدام دِ غري
طوفانونو کښي وطن لره سامان لتوم زړګه

دَ سامان انبار مي جوړ کړ دَ الفت لويه بيړۍ کښي
هم داچاره به کوم چي عاليشان لتوم زړګه

عاليشان ما اسمٰعيل سره وعده دَ ديدن کړي
ځکه هر وخت دَ زيبا نګار دا شان لتوم زړګه





ډوب شوم په درياب دَ غم ناري وهم رهبرته
داسي به ضرور کيده چي ځمه دَ يار درته

دا درياب دَ عشق په بيابان باندِ تيرشوے دے
زړګه مي بيابان دے پرِ بهيږي درياب سرته

مدام يي په سيلاب زما ليمه زيلے کيږي
خپله چي درياب شوم له ځان څنګ اوځم بهرته

په ياد کښي دَ دلبر وهم موجونه په دل بريسي
چي کله به مي راشي دا حسين نګار نظرته

چري قرار نه مومم دَ عشق له زوره درومم زړګه
خپله زړګه حيران يمه دي ځيل نا اشنا سفرته

راک دَ بيلتانه له ځيل ځکه کله څخه اوړمه
داسي توره شپه کښي انتظار کوم سحرته

درياب يم له ازله اسمٰعيل هم راته وائي فلق
ځان سره په زوبِ يمه کړم زوبِ دَ ځان هنرته

○

چې زده کړے دِ دَ مینې رواج نهٔ وی
زړهٔ به چرې ستا روښانه سراج نهٔ وی

بې هوده به په تیارهٔ کښې ګرځیدهٔ کړې
برابر به دِ تول عمر مزاج نهٔ وی

په رواج دَ مینې ځان دَ یار اشنا کړه
بې له مینې څوک قابل دَ معراج نهٔ وی

یار دیدن کښې ورکوی شاهی عاشق له
بې له عشقه دَ چا سر له دا تاج نهٔ وی

چې په عشق ترخو زخمو یار پسې نهٔ شي
دې طبیب لره جوګه دَ علاج نهٔ وی

اسمٰعیله ځنګه ځان ته انسان وائې
چې مدام دَ یار دَ مینې محتاج نهٔ وی


○

چې نصیب مې ستا په غم دَ فکر تال شهٔ
پرِ مې زده دا ستا دَ وصل لوئې کمال شهٔ

په کمال زړې زړې شوم ستا په لاره
ستا په مینه مې دلبره داسې حال شهٔ

هغه دم به مې زړې شی زړ راتوله
کهٔ دِ لرې له سپین مخه راته شال شهٔ


چې یوځ وار مې ستا رخسار دلبره اولید
په جلوو ئې زړه زما همه شین خال شه
تا د زلفو په هر ول کښې لمانـ یوړ و
همیشه مې زړه ینډی په داسې جال شه
اسمٰعیل دا ستا دیدن له ربه غواړم
که قبول د رب په دړ کښې زما سوال شه



له مودو راسې بیان کوم سلکو کښې
یا دومه خپل اشنا په توړو شپو کښې
لا تراوسه ئې د بیان جواب را نه که
لکه عمر چې زما وی مقبرو کښې
د دیدن ارمان مې زړه د ے تول داغلے
ورته ګورمه د خیال په آئینو کښې
ما تراوسه دا داغونه لا شمار نه کړه
بحث کیږی پرِ دیار په میکدو کښې
په ګوګل کښې مې د غم چړې غوږیږی
هیر به نه کړمه صنم په دې چړو کښې
که د غم لیدلو څوک غواړی ما ته ګوری
له ما جوړ دے داسې غم دیار کوڅو کښې
غمزده د خوشحالی طلب کښې ګرځم
ورو په وروم مې غم زیا تیږی په دې تلو کښې

مدام جام غواړم دَ مهر دَ شرابو
پسې ګرځمه دَ زلفو په وږمو کښې
په سلګو کښې دَ ساقي تل منت باریم
خپل ساقي مې تل غریبي په لیمو کښې
دَ پتنګ په شان ستي کړمه دې شمعې
سرتاپا یه یمه پټ په سرو لمبو کښې
همه ژوند دَ اسمٰعیل داسې تیریږي
په دُنیا کې نصیب نشته خوشحالو کښې






خبر نهٔ یم چې ترڅو به غمخوري کړم
دَ اُلفت شرابو داسې خماري کړم
غمزه دَ ساقي دړپسې ګرځیږم
بیلتا نهٔ کښې زهٔ دَ یار څخه یاري کړم
دَعشق چاره مې په برخه رسیدلې
دَ یار دړله دې چارې هُنري کړم
دا هُنر مې دَ ژړا په اَله زده کړهٔ
داسې څکه دې الې زړهٔ پرهري کړم
دَکیمیا یادومې زړهٔ سوري سوري کړهٔ
دې یادونو دَکیمیا دَ باب قاري کړم
هرګناه دَ زړهٔ په سرخوړمه له عشقه
څکه زهٔ دَ زړهٔ له بیخه شاعري کړم

اسمٰعیل به دَ عشق اور کښې ښنک خندیږم
چې همه عمر هم دا سودا کړی کړم





چې دَ چا په مخ پیدا دوا ړه جهانه
دَ هغه په مخ هغه عوارم لستانه

اے خدایه ته ئې دیدن زما نصیب کړه
ته خبرئې دا ارمان لرم سبحانه

دَ ارمان اور مې په زړه باندې بلیږی
زر مې خلاص کړه دَدې هجر له زندانه


اباسین مې پسې جوړ کړلو دَ اوښکو
په حسین پسې خبر نهٔ یم له ځانه

چیاوونو ئې له ځانه سره یوړم
رسیدلی ئې چیاوونه تر آسمانه

تا شیدا کړم په هغه چې پرې شیدا ئې
ډیر شاکریم په دا بخره عالیشانه

اسمٰعیل به بې له مینې بل څهٔ نهٔ کړم
په دې مینه هر څهٔ ښائي شوهٔ له مانه





چې نیکۍ لره تهٔ څومره بیړه ناک شې
خبردار په همره ته له پټ ادراک شې

په سپایکه تیمم مهٔ وهه ناپوهه
پاکه خاوره چرته ګوره چې پرې پاک شې

همیشه له بدو خلقو بېرته اوسه
دَ خو خلقو په صحبت به مینه ناک شې

زرغونېږې به هله په دې جهان کښې
چې ورومبې لکه دَ تخم په شان خاک شې

په مالیار پسې نارې دَ بلبل زده کړه
چې په دا هنر خبر له ژوند وژواک شې

په خزان کښې ارمان دَ پسرلي شه
پسرلے به په تا راشي چې دردناک شې

دَ جفا دَ اژدها له خُلې راووځه
تا به نیو کاندي بې ځایه به هلاک شې

پام کوه چې تکبر در نه اونهٔ شي
دَ یار غېږې له به لاړ شې چې خاشاک شې

اسمٰعیله په یارۍ دَ یار زیرک شوې
ملاق به تهٔ دَ صاحبِ لولاک شې




دَ خپل ژوند په تماشه کښې ستا دَ مخ په تماشه شوم
بل خوا مخ اړوے نهٔ شم ستا په مخ داسې نشه شوم
ستا دَ مینې نشانهٔ شوم همیشه مې دا خوړن شهٔ
ساقی ستا له میخانې نه زهٔ پخپله میخانه شوم
هغه دم مې هر څهٔ هیر شوهٔ چې رخسار دِ راعیان کهٔ
څکه تا پسې دلبره زهٔ له هر څهٔ کناره شوم
په خپل ځان کښې راته ښکاری ډیر حیران یمه دې کار ته
هم پخپله تماشبین یم هم پخپله آئینه شوم
زهٔ ژړیږم ته مُسکا کړې داسې ژوند زما نصیب دے
په دې ډیر شکر گذار یم ستا دَ مینې افسانه شوم
ستا په حکم زهٔ ژړیږم دَ مُسکا په انتظار کښې
دَ مُسکا په کله وایې په ژړا خو دیوانه شوم
ستا دَ مخ په پلوشو کښې اسمٰعیل له ځانه پټ یم
ماله مرگ له دې نه ښهٔ دے بیا په وروغ شمه ایره شوم



دلربا مې زهٔ دَ عشق دَ باب قاری کړم
په دا چاره ئې په زړهٔ ډیر پرهری کړم
په اغزو دَ بیلتانهٔ زخمی زخمی یم
گلستان کښې دِ یار څکه مالیاری کړم

ما دُنیا دَ یار دَ پاره کړله ترکه
دَ یار عشق کښې به مدام قلندری کړم
ما موندلے فقیریٔ کښې لوئ دولت دے
فقیریٔ کښې پرې زهٔ لویه امیری کړم
تل اوسیږمه دَ یار دَ حُسن اور کښې
له خپل یاره څخه زهٔ داسې یاری کړم
دَ پتنګ په شان په اور باندې مئین یم
همه عمر به هم دا وفاداری کړم
دَ یار غیږه کښې مرګے له ربه غواړم
صبح وشام زهٔ اسمٰعیل هم دا زاری کړم



دَ دُنیا دَ کانړو زړونو کښې تروب زړګے لرمه
داسې ګران ژوند په دُنیا کښې دَ هجران زهٔ تیرومه
چې وطن ته دَ بریښنا شومه داخل زړګۍ مې تروب شهٔ
په بریښنا کښې لمبا ورک شهٔ همیشه ئې لټومه
دَ زړهٔ چغې مدام اوُرم چې دَ کانړو زړونه ئې اولی
لوې انبار پرې باندې جوړ دے زهٔ ئې څکه نهٔ مومه
هم دا کانړی به تروب شی خو دا وخت به په دوئ تیروی
زهٔ ئې دلته تروب غواړم نهٔ ژوندے یمه نهٔ مرمه
اسمٰعیله ستا زړګے خو دَ عشق اور دے ویلې کړے
ستا زړګی لره بل داسې زړګے راولم له کومه

چي دَ حُسن په تکبیر باندِ حلال شوم
دَ تنګ وني پوري کلک دَ فکر نهال شوم

دلربا پسې مدام ځمه په پورته
چرې را نغلمه ښکته پدې حال شوم


له فلکه پورته اوړ سیدم اوړ له
هم نشین شومه دَ اوړ ځکه کمال شوم

په دا اوړ به زړه مدام هم داسې سوزم
بې خودئ کښې زړه لا پته له خپل خیال شوم

داسې ورک بنه یم دَ خیال دوران مې تیرشهٔ
په خیال څهٔ کړم تماشبین دَ بې مثال شوم

پړ مختن کښې تماشه دَ بې مثال کړم
پړ مختن کوم په دهٔ پسې ملال شوم


بې مثال دِ ما نوړ هم ښهٔ کړندے کړي
اسمٰعیل وړ ته مدام هم پدې سوال شوم




دَ ضیاء محکومیت مې زاره شنه کړه
دَ فراق اغزو ئې ماله لمن سره کړه

په صبا پسې په توره شپه کښې ګرځم
په ډیر زور بن مې شپه دَ ځان په نداره کړه

صبا وُون توره شمله کښې مخ پټ کړے
په ډیر صبر مې زخمی خپله سینه کړه
تول زخمونه په مې روغ رمتې شی خلقه
کۀ دلبر لرې له مخ څخه پرده کړه
اسمٰعیل دې انتظار له برمه پرې ایستم
ما دَغم له زَړو ډکه خزانه کړه





زړۀ دِ روبږ[1] دے دَ شیطان په اشارې شۀ
را بیدار شه دَ غفلت په نندارې شۀ
دَ ظاهر لباس په ځا خوشکختو پام کړې
دَ باطن لباس دِ تول ریخې ریخې شۀ
په غفلت کښې به ترڅو قیام پذیرې
سینه لوښې[2] دِ همه زنګین په دې شۀ
دَ توبې ریګمال پرِ او مَږه چې پاک شي
له یادونو څخه ئې ډک کړه بې اسرې شۀ
دَ خوبا په مینه دالوښې رنګین کړه
کاش چې ولې ناخیر له میکدې شۀ
اسمٰعیل په میکده څنګه په هیرکړم
چې مې زړۀ مدام له ډوب په سرې پیالې شۀ



[1] روبږ دے : عادت [2] سینه لوښې : زړۀ

دواړه لاسه مې اچولې کمترئ ته
زړه مې واڼې الوداع هرې سلکۍ ته

دَ صنم له دړواڼې بل خواته نه ځم
تو دید ته نیت لوم پهره دارۍ ته

په زړګی مې دَ فانوس په شان اور بل دے
دَ غزل آواز ئې رسی ککرۍ ته

شین لوګی مې دَ سینې سیمه قبضه کړه
دَ آهونو ځ ئې واړوه مرۍ ته

دَ صنم په لوړ مې ټول آهونه دړومې
تماشبین یمه دَ یار داسې یارۍ ته

له ډیر درده بې ترتیبه زبیرګي کاندم
حق حیران یمه دې خپلې بیمارۍ ته


اسمٰعیل په داسې رنځ یمه آو وختے
مایه پرې نه دی ترمرګه قرارۍ ته

مستفیض له مستفیضه شه دُنیا کښې
تل غرقاب اوسه دَ مینې په دریا کښې

زوُلنو دَ طریقت کښې عمر تیر کړه
مستفیض نه ګوهر غواړه په ژړا کښې


دې انعام لره دَ هجر په نمر وريت شه
مدام اوسه په طلب دَ خپل خوبا کښې
دَ دُنيا له محبّته مَړه خواشه
څو په اوسې ته په خُلهٔ دَ اژدها کښې
وروستنو پاتې په جفا شوې له کاروانه
هم جفا دِ کړه حاصله په جفا کښې
دَ وفا په لار وفا پسې روان شه
ملاقې په دَ اشنا شې په وفا کښې
اسمٰعيل په په دالاره تل روان يم
يادومه خپل صنم په هره ساه کښې






ستړې دَ وفا په ناکړدو شومه
ګله ډير زخمى دِ په اغنرو شومه
ځان اوچوم له وينو په شنو پانړوزه
داسې ناخبر له خوشحالو شومه
ستا دَ وفا دام کښې زړهٔ بندى يمه
تا پسې ګذار له هسکو غرو شومه
نهٔ په لې هيرنهٔ شې يوساعت له هم
ځکه داسې شپه ورځ په سلګو شومه
ياره ستا دَ مينې دريياب ډوب کړمه
ډيرې ساينونے په چپو شومه


خورمه کذاروئه دَ خنجرو زړهٔ
یاره مدام تاته په ښاروښومه
غوارمه ستا مینه اسمٰعیل مدام
ډیر تورتوږي په کتاروښومه





دَ ریبار په خُلهٔ اشنا یمه سللے
زړهٔ روان یم خپل اشنا له سآ نیولے
دَ دیدن ادا زده کومه له ریباره
په دې زده کړه ریبار ډیریمه وهلے
دا مزل کوُمه زړهٔ په سرو لمبو کښې
زړهٔ مدام په دې لمبو یم سوزېدُلے
یوُ قدم بیرون ایښوے نهٔ شم له اوره
زړهٔ دلبر په تورو زلفو یم تړلے
دَ یار درته ما تړے ریبار بیائی
چې څهٔ وائې پکښې هیڅ نهٔ شم وئیلے
په رضا دَ دلربا زما رضا ده
په سکروټو دَ رضا یمه دا غلے
دا سکروټې مې په اوښکو سیوا کیږي
ډیر دَ اوښکو سیلابونو یم رپلے
ارمان دَ یار دَ دې یمه عالمه
په لیمو کښې مې غږیږي تل بیا غلے

اور دَ هجر مې دیدن دَ یاره خوښ دے
زۀ دیدن له یار په اوریمه پاسلے
اسمٰعیل به داسې شپې صبا کومه
دا روزګار مې دے په برخه رسیدلے



په زړګی مې مدام دریاب اوله سترګو مې پناه ئې
په سینه کښې مې دریاب ځکه سترګو له صحرا ئې
له موجونو دِ خبریږم زما سترګې چې زلې ته ځې
زړهٔ مې ستا غیږ کښې اوسیږی نه ئې داسې رهنما ئې
له زړګی نه مې لاړ ته شې دَ مهی په شان به مړشې
دے په تا بانډِ ژوندے دے اے دریابه ته ئې سا ئې
ستا دَ هجر په چونګارو زخمی کیږی په وصال کښې
زیر رضا یم په دا برخه اے دریابه ته رضا ئې
زۀ چې ستا شوم ته زما شوې داسې اوکړه تا ښکلېه
په دې پوهه شوم مدام له به زۀ ستا اوته زما ئې
که زۀ ډیرې نارې اورمه دَ زړهٔ خهٔ کوے نه شم
ګرم ئې هم ګنړے نه شم ور سره ئې خو جدا ئې
عجیبه ده اسمٰعیله چې نه مرې نه ژوندے ئې
دا په تا بانډِ څهٔ اوشوهٔ چې نه دغه ئې نه دا ئې

دَ ژوَند ون په هر ساعت کښې دَ خوبا په انتظاریم
هیریدهٔ يې لما هیر دی په یادونوې خمار یم

دَ شدید عشق ناکردو یم دَ دُنیا له چاروویستے
دَ غمونو زولنو کښې له پخوا ندے گرفتار یم

دَ بیلتون دَ خامار خُلهٔ کښې فې زړے زړې زړې شهٔ
له چقونوې خلاص نهٔ شهٔ کهٔ هر څومره خوار وزاریم

دَ آهونو په چاقوانوې سینه سورې سورې شوه
نور له هر څهٔ مرهٔ خوا شومه مرهوته لاچاریم

دَ طبیب لارې ته گورم دَ خزان دَ باد میلمه یم
رژیدے لار کښې زغل کړم تل په طمعه دَ بهار یم

کهٔ سلگۍ وهمه دیرې څوک يې نهٔ اورې ځان ته ژاړم
دَ صنم مینه کښې داسې شپه اؤ ورځ زهٔ ناقرار یم

اسمٰعیل په خپل جانان ته انتظار کاندم ترمرګه
بنهٔ محکم به همه عمر زهٔ دَ مینې په اقرار یم

زهٔ نزاوسه له راحته خبر نهٔ شوم
په امان دَ بیلتانهٔ له خنجر نهٔ شوم

په ناسور دَ عشق اووختے یم بیدیا کښې
ډیر تکور یمه زهٔ روغ په ځکر نهٔ شوم

سوے لوے زۀ دَ هجر نمر ته کړم

دَ دیدن په باران ځ چرې تر نۀ شوم

دَ بورا په شان تکتور شومه خزان کښې

په ورېمو دَ پسرلی معطّر نۀ شوم

دَ یا دونو سرې سکروټې مې خوراک دے

پرېښودو لړه ئې چرې نهر نۀ شوم


مرېدګ په دې خوراک چالړه نشته

ځکه مور زۀ په دا بیکلی هنر نۀ شوم

اسمٰعیل دَ هجر لویه شپه کښې ژاړ م

زۀ خبر دَ لوئې شپې له سحر نۀ شوم





دَ رُخسار په تیرۀ تیغ مې زړۀ زخمی دے

زخمی کړے دا رُخسارِ هاشمی دے

پرِمدام دَ انتظار ما لګې دُور و مه

سیوا کومه ئې زخمونه فریادی دے

هر ساعت دَ دیدن پوهو ته لیوال دے

ګذار شوے دَ هجران په کراهی دے

کراهی کښې غور زنګونه مدام کاندی

دَ یار در لړه په دې دیر هندی دے

اسمٰعیل دَ هنرمند استاد شاګرد یم

ځکه جوړ مې هر غزل قلندری دے

دَ یار سترګي مي په زړهٔ کښي تل اوسيږي
په مژګانو ئې رخسار پسې خوږېږي

فریادونه ئې زهٔ اورم ورته ژاړم
له فریاده چرې هم نهٔ غلي کيږي

بې خودئ کښي دَ طبيب لاري ته ګوري
په سلګو سلګو طبيب پسي ژړيږي

زنکدن ئې له پخوا راسي شروع دے
بې له وصلهٔ ئې زنکدن نهٔ تماميږي

اسمٰعيل ورته دَ عشق کلمه وايم
دلربا به له دهٔ څنګه په هيريږي



زړهٔ زما دَ بيلتانهٔ دَ اور ميلمه دے
په ځيل زړهٔ کښي ئې ځائې کړے دے سوخته دے


دَ ديدن باران مدام له ربه غواړي
په تمانځهٔ دَ استسقاء کښي په سجده دے

په سجده کښي دلربا دلربا وائي
بل سبق ئې څکه هير دے دائې زده دے

په څو وار ترِ دَ بيلتون توري سر پريکړهٔ
دے هم هغسي يار ستائي عجيبه دے


اسمعیله زړه دِ نهٔ دے سمندر دے
چې د داسې طوفانونو اموخته دے

—— ※ ——



تلهٔ په لاره د حبیل ښکلی شهنشاه کړم
هر قدم څخه له سوی زړه نه آه کړم
ډیر ریکونه د هجران باد پوره ته کړی
له عالمه ئې پریښ زړهٔ په دا سر اه کړم
خوریکونه مې آهونو باندِ تور کړهٔ
لکه سکور ئې په ضیاء پسې سیاه کړم
قدمونه د سکو په حساب شمارم
دې حساب د قدمونو زړهٔ تباه کړم
یوٌ قدم زهٔ اخستے نهٔ شم په خپله
هر قدم له د ربیار ندا اگاه کړم
په ندا پسې سکوکیني لبیک وایم
دا لبیک به زهٔ تر هغه آرامگاه کړم
اسمعیل به ولې فخر په دې نهٔ کړم
چې روان زهٔ د درگاه په لور الله کړم

—— ※ ——



دا په ما هم ستا اکرام دے بل څۀ نۀ دی
لیک په زړۀ مې ستا کلام دے بل څۀ نۀ دی
ستا دَ حُسن پلوشو ته نندارۀ کړم
په نصیب مې دَ عشق بام دے بل څۀ نۀ دی
ستا دیدن له ځم له بامه سره پورته
تل په ژبه مې ستا نام دے بل څۀ نۀ دی
بې له عشقه څوک ستا دَرته در تلے نۀ شی
صبح وشام مې دا امام دے بل څۀ نۀ دی
دَ فانوس په شان دے اور په منارا پورې
ستا په لوړی مې اقدام دے بل څۀ نۀ دی
دَ جانان عکس دِ ما زړۀ پورې نیولے
تا خوږ کړے هم دا دام دے بل څۀ نۀ دی
په دې دام کښې دې په ځان بانَدِ عاشق کړم
ستا له جامه دَ دۀ جام دے بل څۀ نۀ دی
په دې جام بانَدِ ساقی یم عادت کړے
نوش کَول ئې زما کام دے بل څۀ نۀ دی
اسمٰعیل په دې شرابو څنګه مور شم
چې لذّت ئې ناتمام دے بل څۀ نۀ دی



په هر ګفت د دلربا داسې یقین کړم
چې هر حرف ئې زه بې مثله باریک بین کړم
باریکي مې د حیرت وطن کښې زده کړه
په څوارئې خاکستر په رُوئ زمین کړم
چې ژړوندے یم دا په دغسې زده کومه
زه دې چارې ډیر قریب د نازنین کړم
باریک بین په ولې نهٔ یمه عالمه
چې مدام زه ننداره د ډیر حسین کړم
د جلوو په تیرو تورو وکړې وارونه
په سرو وینو ئې ځکه زه داسې رنګین کړم
بې مجاله ئې ځمه درته په خرپوسو
کهٔ په غیبره کښې راپورته ګل ورین کړم
اسمٰعیل په ګل ورین تالا والا شوم
دې عادل زه ورکړ دار په تاتوین کړم

———※———

له قیصې مې خبردار نهٔ ئې ناصحه
سوزیدے په انکار نهٔ ئې ناصحه
نصیحت به دِ په ماځهٔ اثر اوکه
چې زما غوندِ بیمار نهٔ ئې ناصحه


روغ عالَم دُنیا کښې ډیر دے پسې ځې ځه
مادَ یاره دَ هیڅ کار نهٔ ئې ناصحه

محبّت سړی له خپله نصیحت دے
تهٔ مئین لا په رخسار نهٔ ئې ناصحه

اے ناصحه عاقلانو کښې به شمار شي
بې له عشقه پکښې شمار نهٔ ئې ناصحه

اسمٰعیل دِ څنګ خبرې ته غوږ کیږدم
چې خبر مې تهٔ له یار تهٔ ئې ناصحه





تا دَ حُسن په جلوو باندِ کباب کړم
بیا دِ خپلو مهرو یانو کښې حساب کړم

بیلتانهٔ دِ راله راګ سینه کښې جوړ کهٔ
تا په ځان پسې له ویره ډک رباب کړم

دَ حکمت شهبازِ دِ زړهٔ زما زخمی کهٔ
نا خبر دِ ځکه زهٔ داسې له خواب کړم


دَ یادونو په توکا ځان توتې کومه
ستا یادونو زهٔ خپل ځان لره قصاب کړم

سمندر ځکه لما تا پسې جوړ شهٔ
چې دَ لیو وار په کانتهٔ دِ سر دریاب کړم

ستا دَ پاره خپلو اوښکو کښې ډوب اوسم
نا خبره ستا دې مینې له شباب کړم

دَ آفتاب پہ شان دِ عکس او بشکو کښې وینم
اسمٰعیل داسې داتا دَ عکس خطاب کړم





ستا له غمه په ما هر ساعت قیامت دے
ستا دیدن پسې مې زړه لما رخصت دے
تش کوکل دړپسې کړحمه هر لور ته
ستا په مینه راته پېښ دا مصیبت دے
ځائے په ځائے دِ تپوسونه کړم دلبره
راپه غاړه دِ روزګار دَ محبّت دے
بې له مینې بله چاره زما نشه زده
بله چاره دِ په مینه کښې خیانت دے
دا روزګار دِ رب مدام زما نصیب کړي
په دا ړیتو دا له ټولو لوئې نعمت دے
څهٔ چې وائې پرِله حده تیر رضا یم
ما مثلے ستا دَ مینې عدالت دے
اسمٰعیل دَ مینې بند کښې دیوانه شوم
داسې بنهٔ یم ستا په نیزدامهارت دے



چې شه بنه پوهیږمه چې نه پوهیږم ستا په قال
هسې به ځان ستړے کړې زړه نه ګیرېږم ستا په جال

داسې جال کښې ګیر یمه ناصحه چې ته ئې نه وینې
تا سره په خوا کښې دے خو ډیر ورایه دے ستا له خیال

دا چل به درواوښایم که تا راته لږ غوږ کیښود
بیا به تل یادیږې د دلبر په دربار کښې باکمال

څو پورې چې ګیر نه ئې په جال ترهغې چپ اوسه
کله چې بندي شې بیا به تل وایې پښتو ته حال

ستا او زما ژبه کښې ډیر فرق دے څنګ پرې پوهه شم
ستا ژبه ده بې غمی زما ژبه د فکر ټال

ته د بې غمۍ د کتاب شپه ورځ ګردانونه کړې
زه مدام یادومه د جانان رخسار او خط وخال


دا زما سبق دے همیشه به ئې زه وایمه
دومره نادان نه یم اسمٰعیل چې هیر و م جمال

د جمال د پیدا رښه عجیبه جام دے
هم ئې څښل غواړمه هم ما لره دام دے

که هر څو مره مې که نوش هغسې ډک دے
هیڅ کمے پکښې رانغے نا تمام دے


نوش کوَلو سره ئې لا ښهٔ تړے کېږم
پر کسکر شومه خوښمه ئې ناکام دے
زهٔ په چرې په دې جام باندې موړ نهٔ شم
ډیر حیران یمه افطار کښې مې صیام دے
انتظار زهٔ د سحر آذان ته کاندم
دې صیام کښې له پخوا په ما ما ښام دے
زهٔ جانان د غم ماښام کښې تل میلمهٔ کړم
په سکروټو ئې راله ایښے هر اندام دے
ما ترې داسې میلمستیا په خپله غوښتې
ډیر شاکر یم اسمٰعیل چې دا مې کام دے






ریز مریز د بیلتانهٔ په آسیا شوم
نندارچې د عشق له بامه د اشنا شوم
د زینت په اور سوزیږمه لوګے شوم
خپلو اوښکو نه په یارېسې دریا شوم
د یادونو طوفانونو نول چې کړم
ځکه دار نګه په شور او واویلا شوم
د عالمو په خیال ګُنګ کړمه دې میني
د اشنا په خیال فصیح او ښهٔ دانا شوم
پښتو وایم پښتانهٔ پرې نهٔ پوهیږي
په وطن کښې بې وطنه شوم تباه شوم

دَ خبرو مې شوک نشته چا نه ئې او کړم
قیل وقال پښې تول عمر په شړا شوم
هیڅ خبر له خندا نه یمه چې څنګ ده
دَ عالمو له خندا نه هم نا آشنا شوم
له خندا نه به ئې څنګه زۀ خبریږم
چې دَ مینې په دستور نږ نه جُدا شوم
اسمٰعیل دَ دستور شپه کښې انتظار کړم
شپه زما اوُ زۀ دَ شپې په تماشا شوم



دَ بُلبل په شان نارې زما عادت دے
پرَ هرې مې زړۀ په تیغ دَ محبّت دے
دَ دلبر دَ تور وستر کو ارمانی یم
دَ ژوندون هره کړئ په ما قیامت دے
دَ ممتاز تصویر مې څنې ته نیولے
هر ساعت راته ګویا ډیر په حکمت دے
په ادا دَ زیبا در ادا راښائی
په ما کړے خپل مولٰی داعنایت دے
له کتابه تل دَ عدل بیان کاندی
قبول کړے مې دَ مینې عدالت دے
عدالت کښې ئې بندی کړے یم ترعُمر) ته
همیشه مې دَ دۀ خوا کښې سکونت دے

اسمٰعیل په بله چاره څنګه اوکړم
چې مې چاره همیشه دا سماعت دے



نهٔ دایم نهٔ دایم بندا یم
بندا دَ آقا یم په دې مشغولا یم
څنګه اووایم چې دا یم چې بندهٔ یم
چې نهٔ یم نوبندهٔ یم فنا کښې فنا یم
دا یؤ خوزهٔ نهٔ یم دا بل زهٔ پخوا وم
معلوم یم فنا کښې زهٔ دا یم زهٔ دا یم
دے زهٔ اؤ زهٔ دے یم بیل نهٔ یم یؤځائے یم
دے دے اؤ زهٔ زهٔ یم وفا کښې وفا یم
اعلیٰ ډیر اعلیٰ دے زهٔ ئې ځان کښې اعلیٰ کړم
اعلیٰ کښې اعلیٰ یم اعلیٰ نه آدنیٰ یم
هم دهٔ کښې فنا یم هم دهٔ کښې جُدا یم
له څهٔ نا اشنا یم له څهٔ نه اشنا یم
نا اشنا یم له ډیره اشنا یم له لږه
په لږ باندِ هم زهٔ خو واره فدا یم
ځان به فدا کړم نا اشنا یې ډیر وار
زهٔ اسمٰعیل هم دا غوارم ګدا یم

چي روان ځوک په صراطِ مستقیم شي
عاقبت په دلربا سره مقیم شي

ډیر حیران له ورایه ګوري دلربا ته
په دا لاره دَ ده مَل بادِ نسیم شي

دَ فهیم ګفتار له ورایه ښځه اوري
دي ګفتار بانډ دیدن لره فهیم شي

تل دَ میني ګډا ګاندي په دا لاره
په دا چاره هم دي چارې ته تسلیم شي

سر و مال ئې همیشه له یاره ځار وي
دَ خپل یار په محبّت ئې زړهٔ سلیم شي

دَ اُلفت په اور کښې دروی دَ یار درته
بیا پرې اور لکه پشان دَ ابراهیم شي


اسمٰعیل هم په دې اور کښې سوخته دروم
داسې تلهٔ په مې قبول دَ خپل کریم شي




چې سینه مې شوه رحل زړهٔ مې کتاب شهٔ
صبح و شام راته ګویا لکه رباب شهٔ

دَ سوز ساز راته غوبږی ورته ژړا مـ
ځان مې ځان لره په یار پسې قصاب شهٔ


دَ زبیر کو صحرا کښې تول عمر اوسیږم
په ما قحط دَ ساقي له جامَ آب شهٔ
جام ئې ډک راته نیوے ست ئې نهٔ کړې
ست به اوکړې کهٔ زبان مې لاجواب شهٔ
یؤیؤ ځاڅکے ترِ زما خُلې ته رالویږی
ساقي ما سره دُنیا کښې په حساب شهٔ
دَ حساب په ښنلولا بهٔ تږے کیږم
په دریاب دَ تندې زړهٔ زما غرقاب شهٔ
اسمٰعیل هم داسې تږے دلته بهٔ یم
ډیر عالَم داسې له دې جامَ سیراب شهٔ





په شفا یې کړکیږم شفا کوم دهٔ
ډیر ژړګوړ یمه دَ لیو مُسکا کوم دهٔ
چې دَ حُسن دَ وطن حکومت کاندی
دا بې مثله ناتمامه رڼا کوم دهٔ
چې دَ زیب دَ ویش مالک دے هغه کورم
ګدا کریم ماله یله ګدا کوم دهٔ
دَ روښان په مخ شیدا یم ځکه ژاړم
په دُنیاله دې نه لویه سزا کوم دهٔ
په زړګی کښې مې دَ هجر خنجر ښخ دے
دَ دیدن دَ بارانونو فضا کوم دهٔ

له جاویده جاوید وصل جاوید غواړم
د جاوید وصل ما تړئ د اشنا کوم ده
د اشنا سیمه لټول زما روزګار دے
اسمٰعیل له بله داسې ادا کوم ده





د نار بنار کښې مې د دار په سر روزګار دے
دا رابښودے ما ته خپله شهر یار دے
له دې کاره به زه چرې اوږ کار نه شم
که ګرېوان پرزما هر څو تار په تار دے
د حاضر سمیع بصیر په نګرانۍ کښې
خپل جانان ته زما هر وخت انتظار دے
انتظار دُنیا کښې پټه خزانه ده
منتظر څکه له خلقو پټ مالدار دے
د آهونو په محل کښې تل اوسیږم
په ما شوے د زینت د توري وار دے
له دې واره په څو واره زه شهید شوم
دا منشور عفور جوړ کړے پُرا سرار دے
اسمٰعیله په دې ته هم پُرا سرار شه
د اسرار په باغیچه کښې کوړے یار دے

دَ حاضر تلاش کښې ځکه ځم پریشان زه
لوړ په لوړ پسې ګرځم میزان زه
په کاش کاش لمانه لاش تلاش کښې جوړ شه
مقبره کښې یم دفن دَ ارمان زه
نش ګوګل زه دَ صاحب په اذن دروم
رهنما لرمه ډیر عالیشان زه
عالیشان دَ عالی شان شان ماته بنائی
لیدے نه شم همه شان دَ سلطان زه
دَ برداشت شمشیر مې هر وخت سینه تراشی
دَ شاباش په ندامست یم هر آن زه
همیشه مې دې ندا ته غوږ ایښودے
دَ ندا دَ کشش نه لرم توان زه
دَ کوشش په ناتمامه بیابان کښې
اسمٰعیله په څوواړ شوم قربان زه

چې قاصد مې دَ قائد پیغام بیان که
په ماهسې هم خزان ووینه ئې خزان که
په موضوع دَ انتظارئې بیان اوکه
راپه غاړه ئې دَ غمونو ډک داستان که

دَ فرقت مقراض ئې زړهٔ مالره غوڅ کړهٔ
ورکذار ئې په لمبو کښې دَ هجران کړهٔ
عمر قيد مې دَ قاسم په خوښه خوښ کړهٔ
په قربت پسې ئې مدام زما ارمان کړهٔ
دَ شفقت اورې مې تن ته شفيق ورکړهٔ
په تحقيق دَ حقيقت مې بنهٔ پريشان کړهٔ
پريشانوُل ئې قدير ماله مقرر کړهٔ
دَ قرار په مينه ئې اور په ما جهان کړهٔ
اسمٰعيل دَ قرار مينې نا قرار کړهٔ
ترمو اوښکو ورله ورُوست ځکه ګريوان کړهٔ






شاه په ځان پسې ګدا کړم تنها کړحُم
پسرلے غوارم خزان کښې سوړا کړحُم
دَ آهونو په لوګو باندِ تک تور شوم
دَ هجران دریاب کښې ډوب یم تباه کړحُم
دَ فراق زولنو پښې کړې زما ماتې
په ډېر زور[1] دَ الفت په امسا کړحُم
دَ یادونو په چړو زړهٔ ځان وهمه
رنګ په وینو په طلب دَ اشنا کړحُم
جان نثار خطاب ئې راکړهٔ په فرقت کښې
په دې شپه کښې به نثار ترصبا کړحُم

[1] زور: کړاؤ

صبا ؤون پوړې به ډیر وار ځان نثار کړم
زۀ به داسې په رضا دَ خوبا کړم

اسمٰعیل به دَ خوبا مینه سپر تېر دم
په سکوتو به مدام دَ وفا کړم



له بُلبله مې بلل دَ مالیار زده که
سوزیدۀ مې دَ بیلتون په انکار زده که

له عالمو ته پټ تلۀ کړمه دلبر له
ما دَ غم په لاره داسې رفتار زده که

پرنالې به مې دَ ستر کو اوچې نۀ شي
ما په مینه کښې دَ هجر روزګار زده که

دَ بیلتون له غره پناه یار پسې درومم
ما ئې وَصل لره دلته سنګار زده که

دَ جلیل جلال جَل بَل کړم ځکه ژاړم
بې خودۍ کښې مې دَ مینې خمار زده که


اسمٰعیل به له خماره صبر نۀ شم
عزرائیل ته مې په دې انتظار زده که

زړه دَ حُسن په نمر سوزم دَ حسین لیدو دَ پاره
ګران ژړوندون تیروم دُنیا کښې دَ عقبیٰ مزو دَ پاره
سوزیدل مې عبث نه دی خو ډیر ګران دی څکه ژاړم
سوزیدل زما میراث دے دَ دیدن اوبو دَ پاره
دَ سلګو په سبب ورو ورو نژدې کیږمه دلبر ته
دا سبب مینې رابښودے په پونړو ختو دَ پاره
دَ خزان دَ بیابان داخړ ریکونه مې ډیر خوښ دی
په آهونو به ځان نولم پسرلی وږمو دَ پاره
دَ حاکم حکمت نه ګورم حیرانتیا ده بل څه نه دی
دَ حیرت دریاب کښې اوسم دَ حیرت چپو دَ پاره
په دریاب کښې به لټون کړم جواهر بل ځائے کښې نشته
زړه خو دلته جوهري شوم شهنشاه له تلو دَ پاره
چې ګدا شومه نو شاه شوم چې ګدا نه ووم هیڅ نه ووم
ګدائي مې کړه قبوله پادشاهۍ خستو دَ پاره
اسمٰعیل به ګدا کاندم نور مې نه څه له دې زار که
پتنګ ځان په لمبو سیزی هم دَ دې لمبو دَ پاره

په تحقیق دَ حقیقت دَ غم داستان شوم
په دې کړو دَ یار په حکم بندیوان شوم

په ګردن مې دَ غم بوج پروت دے څهٔ اوکړم
همیشه په رهائی پسې روان شوم
په بیان دَ حقیقت مې پابندي ده
پټ په زړهٔ کښې ځکه ځان نه په بیان شوم
کلک برغوے ئې زما په خُلهٔ ایښودے
دَ رُون پوخ لکه دَ دیګ زهٔ په سیران شوم
رهائی پورې به زهٔ داسې پخیږم
چې مېنه په ښکلې مخ زهٔ دَ جانان شوم
کوه طور چې خشک دې اور دے سوزولے
داسې زهٔ هم یؤ یادګار په دې جهان شوم
اسمٰعیل به یادګار ولې نهٔ یم خلقه
چې له اوره شومه اور ځکه عیان شوم






دَ موجود معبود لټون کښې ګرځنده یم
بل مقصود مې په زړهٔ نشته فریفته یم
په رمنده سینه ځم دَ مقصود درته
زهٔ دَ اوښکو په دریاب کښې سفینه یم
سرتاپا په له ګوهر ویم یار شوے
څوک خبر نهٔ دی لمانه خزانه یم
دَ یادونو طوفانونه مې جائیداد دے
زهٔ دَ هجر دَ وارونو اموخته یم

له فریاده مې فلاح چیرته او نهٔ مومند
دَ فلاح په لوری ځم دَ غم قیصه یم
دَ موجونو په څپیرو مدام لګم
هسې بنکار مه ژوندے خوزهٔ مړه یم
مرده ځان مې هم پرې نبنو دهٔ موجونو
اسمٰعیل په تږ ساحله نشانه یم





دَ شفیق په طریق ځمه شفقت کوم
دَ صدیق رفیق بې مثله زینت کوم
دَ لیاقت دَ لیدو هر ساعت مشتاق یم
په فرقت کښې قیامګاه دَ قربت کوم
په دقیق نظر کاته زما قسمت دے
په دقیق طریق زیبا حقیقت کوم
له بعیده مې قریب قیادت کاندی
دې صحبت کښې دا صاحب دَ طاقت کوم
چې مې تن مدام دَ غم په آره ریبي
دا حسین شمس وقمر دَ راحت کوم
چې یو وار مې بِسمِ الله په مینه اوکړه
ترمرګې پورې به دا سعادت کوم
اسمٰعیل به په دې کړو سعادتمند شم
لو په لو ځکه دَ مینې دولت کوم

د لطیف د الفت لطف خفي سېزل کړي
په څو وارہ له عالمه پټ وژل کړي

اسفندیار خو داسې نار دے تل تازه دے
مقناطیس غونډې دا نارځان ته راخکل کړي

عاشقان ئې کلک په ځان پوري نیولي
هم په دګه پسې مدام له ژړېدل کړي

د نارکار ته فدایان حیرت زده دي
همیشه د فکر تال باندې ځانګل کړي

د وفا په رسې خېژي داځ کار دے
تل د یادو په دریا کښې اوسېدل کړي

د فرقان تشریح ئې زړه باندې لیکے شي
په زبان ئې بیا عالمونه ویل کړي

اسمٰعیل ته د شعر فن دوُوف ور ښائي
په ډیر شوق سره ئې څکه دے لیکل کړي




په خنجر د مینې ځان دلته دردناک کړه
له کا واکو نه مدام له خُله په واک کړه

لکه هاچې له ویښتو ځنه ده پاکه
زړه دې داسې له حسده ځنه پاک کړه


کمینتوٗ نه مدام له ډېره کانده
دا تعلق دې ګوره نور سپرد خاک کړه
خامخا اوکړه یارې د مهرویانو
خپلې مینې له پیدا د مینې چاک کړه
تل د مینې سودا اوکړه بل څۀ مۀ کړه
روح او تن دواړه په دې اور باندې راک کړه
د اشنا د لاس نګین جبین له ئې خال شۀ
مینه ناک لره ته هم ځان مینه ناک کړه
اسمٰعیل د یار د سپین جبین شین خال شوم
ځان زما په شان د صاحبِ لولاک کړه






سیاحت له د رئیس درته روان یم
زۀ زپلے طوفانونو د هجران یم
خارستان کښې ګلستان لره ورځمه
ډیر زخمي یم د مرهمو په ارمان یم
هر ساعت نور زخمي کیږمه ناتوان شوم
د طبیب په لور کا ته کړمه پریشان یم
خارستان کښې مې دریاب د اوښکو جوړ کړۀ
خپلو اوښکو کښې ډوب شوے یم حیران یم
د خندا چل به مې څنګ زده شي دې حال کښې
خپل ګریوان له خپلو سترګو نه باران یم


له سينې نه مې دَ غم سمندر جوړ دے
آئينه څان لره زړه دَ کهکشان يم
دَ سيّاح سيّاح به کله شم خدايه
اسمٰعيل به څو په دې بند بنديوان يم







تمام عمر به ستون نهٔ شم ستاله دره
کهٔ هر څومره پرهر جلے يم دلبره
دَ اقبال په زنځير و نو يم تړلے
ستا ديدن لره درځم دَ حُسن نمره
ما دَ هجر په قتکانړو عشق راکاګى
دَ تن غوښې مې توږي لختِ جګره
ستا جناب کښې به زخمى زخمى حاضر شم
اومې نهٔ باسې طبيبه له نظره
دَ بيلتون له عظيم درده فرياد يم
په فرياد کښې فن دَ ميني زده کوم غوره
ستا دَ ميني غوره فن دَ فکر تال کړم
څنګ به څانګم په بل تال بې له اختره
اسمٰعيله چې هم داسې روژه دار ئې
دَ اختر مياشت به په تا کاندى له بره





په طبيب پسې رنځور يم طبيب ما لره دوا ده
رنځور کړے يم د ځپله عجيبه د ده وفا ده
د وفا هم دا قاعده ده هيڅ و ئيلے پکښې نه شم
د قائد رضا کومه په رضا ئې زما رضا ده
هميشه به په دُنيا کښې د رضا په لهو سوزم
په زړګي کښې مې ځائے شوې ډيا رمينه له پخوا ده
چې دلبرې ځپل زړګي سره زړه کے زما انبوَل که
زړې حل کړه سره دواړه ځکه زده مې دا ادا ده
په ادا ادا زده کومه دا ادا ده نا تمامه
ځکه مل هرې سلګۍ سره زما دا هره ساده
ديوانه به مدام ګرځم چې ديدن د آشنا غواړم
خوښه کړې هم دا چاره په ډيرسود ماله اشناده
اسمٰعيل په له دې غمه خوشحالي ښکته اوکاندم
رسيدلې مې په برخه د هجران لويه صحرا ده





د هجران په اغزو ځان سورے سورے کړه
تن دِ دلته ګرځنده زړه دِ اورے[1] کړه
تل په ولو ګرځوه خس وار د مينې
په ځان سود اوکړه زړ پورته داورے کړه

[1] اورے ؛ ملته

بې ورې کړځېدهٔ پرېږدهٔ تباه کېږي
بېږه او کانده معلوم لوې بېړې کړه


دَ خپل ځان په لمبون اوځه دې صحرا ته
دَ یار مینې له مدام ځان تور یا لې کړه

دَ عشق اور مدام په ځان باندې بل کانده
څو عاشق نهٔ یې سړې نهٔ یې ځان سړې کړه

له بلبله دَ هجران ترانې زده کړه
دَ عالمو په نظر ځان لیونې کړه

تنش په خُلهٔ همیشه ځان پېښور ې بولې
اسمعیل غوندې رښتیا ځان پېښور ې کړه





دَ ګلاب په غنوټې ځان له رنګین کړه
په دې چاره ځان نزدو دَ ګل ورین کړه


چې په وینو دِ لمن سره کړې نهٔ وې
دَ یار در لره تلهٔ ګران دې ځان غمګین کړه

بیابان کښې مدام اوغړه په غنو
سند ځان لره وصول دَ آفرین کړه


تل دَ اوښکو جرګې بیایه دَ یار در ته
دا جرګې دې ستا قبولې بنهٔ یقین کړه

ستا تر اوسه ګریوان ولې ړنګې نهٔ دې
خپل چشمان دِ خپل ګریوان ته تماشبین کړه

ځنګ ځوان مړ دې چې هر څه نه حيران نه يې
هر ساعت له حيرانتيا په روي زمين ګرځه
اسمعيل خو حيرانتيا ته ډير حيران دے
ربه ته يې دا حيرت نور هم برين ګرځه



ښه شوه چې مې تا ته انتظار اوموندۀ
دا مې په دنيا کښې لوئ روزګار اوموندۀ
د ګلا پسې له ډيرې مودې راسې ګرځيدمه زۀ
ما خپلو ورتولو له انګار اوموندۀ
زما په ورتولو خوشحاليږي ښۀ پوهيږمه
ستا خوشحالولو له مې دار اوموندۀ
زۀ د دار په سر باندې ورتيرېمه هم تالتوم
ما خپلو چشمانو له سنګسار اوموندۀ
ښکليه ورته اوګوره چې حال د اسمعيل څۀ دے
ستا په عاشقۍ کښې يې خمار اوموندۀ




د کتميرو[1] ښکارى راشه خپله ښکار شۀ
زړۀ داخل د خوبرويانو په دربار شه

[1] کتميرو: ګوګوشتکے

په چرو دَ خوبرويانو ځان حلال کړه
کهٔ ژوندے ئې په مردګانو بانډ شمار شه
تهٔ له کومې ئې راغلے کوم خوا درومې
په دې پوهه شه نو بيا ښهٔ په رفتار شه
هسې نهٔ ئې تهٔ راغلے دې دُنيا ته
له قانونه يئ خبر دَ ښهر ښار شه
دَ الفت چاره کړه خپله بل څهٔ مهٔ کړه
په دې چاره مړ نے ليل النهار شه
هر څهٔ مينې له پاک رب دې پيدا کړې
له عالمو نه په دې پسې کنار شه
بې له مينې ئې څهٔ نهٔ زده په دُنيا کښې
اسمٰعيل غوندې په دې دولت مالدار شه






تل له شمعې په چورلک پتنګان څهٔ شوهٔ
په چمن کښې هغه ښکلې ګلان څهٔ شوهٔ
چې دَ زلفو په کوګر سورې ئې دمه اوکړه
په لباس دَ ګدائۍ کښې شاهان څهٔ شوهٔ
اژدها دَ بيلتهٔ وو لوار تير کړي
ډير چمتو هغه زمونږ بزرګان څهٔ شوهٔ
ويسه ويسه ډير څهٔ ويسه تش لاړ نهٔ شې
ستا په مثل ناخبر احمقان څهٔ شوهٔ

دُنیا ځائے دَ کروندې دے ډیره اوکړه
ډیرې زختې[۱] کروندې له شوقیان ځهٔ شوُه
چې یې زړو ته دَ بیلتون په تیکه رګ وو
پسې ژاړم په خوار شهیدان ځهٔ شوُه
اسمٰعیله پسې دې ومه کړه نهٔ شي
دې نه لاړ نهٔ شي یاران دَ کاروان ځهٔ شوُه






ورځې شپې په دُنیا هسې ستیرَوې
چې دلبر په پکښې کله یادَ وې
دَ یاد تیلو کښې تل ځان پکوړه ځانده
ایسې راسې ترې ځان ولې پټسوې
څو دَ مینې دې منګوړ خوړلے نهٔ ئې
ځان بې ځایه هسې ولې کړوې
بدارګه مدام دَ مینې ځان ټخه کړه
ولې لوښے ته حسد له ویرکوې
دې ظالم عالم تباه کهٔ ځان کړه پوهه
په پیچوُمې[۲] عبث ځان ستړے کوې
مړنے شه دَ اُلفت تلاش کښې اوځه
خونه ولې دَ هجران ویرانوې

---

۱ زختې : ډیره زیاته ۲ پیچومې : برمخنګ (چرائ)

اسمٰعیله هجران لویه خزانه ده
باغبان به په هجران پسې کوي



یو نس زما په زړه کښې دے بل نس دے په آسمان
د زړه په نس خوړینکم ناخبریم له جهان
اشعار چې مې براس ته جوړیدۀ خلق حیران وو
حیران ورته زۀ ځله یم براس مې دے افغان
هم جګ دے او هم پلن دے تل ئې هم نۀ معلومیږي
بس هسې ورته ګورم زۀ ئې ډیر کړمه ناتوان
د چا کوڅه کښې ګرځم هیڅ له ځانه خبر نۀ یم
یو وارې چې زۀ راغلمه کوڅې ته د جانان
په دې زۀ بنۀ پوهیږمه چې ستون به چرې نۀ شم
که خوړې مې دې کوڅه کښې همیشه لړمانان
بنۀ شوه چې مې خوړې چې د مولو له د مکو راشي
دمکو مې هسې تۀ لری زما خوا ته امکان
چې راشي اسمٰعیله تړنه ته هم دمکې زده کړه
چې دغسې بیا تۀ هم د موې ډیر مریضان

ما چې ځان په دجله تاپسې ګذار کړ
دا مې تاپسې له خلقو ځان کنار کړ

چې مې څو غرقابو نه مې یادیږي
ستا هجران مې زړه مدام لره دا کار کړ

د دیدن خواږه دِ هر وخت له رب غواړم
که دِ زړه زما په دې دار و قرار کړ

په غوپو غوپو مې زړه تاپسې اووت
زړه مې ډیر واره ځان تاپسې سنګار کړ

نور هم ځان سنګاره وي کله صبرېږي
یاره تاپسې ئې ځان ګل د انار کړ

غوپ ئې ځان سره اوړمه ستا درګاه ته
که منظور دِ دا بې څوکه طمعه دار کړ

اسمعیل به همه عمر طمعه دار یم
ځکه جوړ مې دا خواږه اشعار کړ



د چیختن[1] په رضا ولې رضا نه ئې
په سرو ګلو پسې ولې بورا نه ئې

بس مدام له په شوګیره[2] پسې ګرځې
د چمن په اغزو ته په غوغا نه ئې

[1] چیختن: مالک [2] شوګیره: تشنا دیر مزه

کلک ملا بند دَ بیلتانهٔ اوتره نژدکه
جنګ دَ میني ته لا ولې پخلانهٔ ئې


دَ زعفران غوندې په مینه ځان زیړ کانده
اوچه دَ مره په جانان پسې لا نهٔ ئې

چې هر رګ دې په بیابیا نهٔ وي ستا سیلے
تا اشنا اشنا نهٔ بولی اشنا نهٔ ئې

بې له میني تا اشنا اشنا نهٔ بولی
لا تر اوسه ولې مرد خدا نهٔ ئې

اسمعیل وائي که زړ مرد خدا شوې
بیا به داسې تهٔ سپیرهٔ په دُنیا نهٔ ئې





چې څوک نه دِ لکه زیړه دَ زعفران شي
زیړهٔ به ستا عمر له خونه دَ باغیان شي


کوندے شه ځان زعفران کړه بل څهٔ مهٔ کړه
لاس به مرورې عزرائیل کهٔ دړ روان شي

دَ سینې رپوړې مدام له ساته پاکه
داکړه پاکه چې دِ پاک مدام زبان شي


بر برکت به په دار ینوځهٔ رنګ مومي
په هر حرف دړ نه خفه شیر یزدان شي

له مالیاره مالیاری زده کړه دنیا کښي
په خندا چې دړ نه هر ساعت ګلان شي


بندوبست د عمر وسئ ځان لره اوکړه
چې کلان دِ تل په غاړه اویزان شي
اسمٰعیل غاړه کښې دیر کلان اچولي
ملاقي به ژر نګ ساعت له د جانان شي



ما د عشق د اور لمبې سیزي مدام
تیښت ترِنهٔ کړم نهٔ یم زهٔ نمکحرام
زهٔ له عشقه زده کړه کاندم د سیزلو
منتظر یم خپل اشنا ته لاس په نام
د سیزلو زده کړه ځان باندې زده کاندم
زر خیزئ ته مدام شمار مه ایام
یوه ورځ به زهٔ زر خیز شمه له عشقه
اوریدے مې له یاره دے پیغام
هغه وخت پورې به زهٔ داسې سوزیږم
په سر سترګو بې منلے دے دا کام
زهٔ کندیر تل د شیرین د یاره خورمه
خلقه نهٔ کوم بل کار سحر ماښام
اسمٰعیله د دیدن سحر به راشي
پس له هغې به دِ بنهٔ کاندی انجام




کله په اغزو د ډېر زخمي شومه
ستا په بېلتانه ستړی ستړی شومه
اوري مې ږېږکې تپوس مې نه کوې
هسې بیابان کښې فریادي شومه
ستا د لوري څخه اړوے نه شم زړه
ستا په لورکانه سره پتي شومه
زړه کښې مې د مینې اور پخوانه دے
راشه راشه راشه خمار ی شومه
ستا د میکدې شراب مدام غواړم
ستا شوم چې لتانه شرابي شومه
زړه مې د غلبېل په څېر سوړے شه تول
بل خوا تر لیدے شې جوهري شومه
تا پسې به تول عمر ژړېږمه
یاره اسمٰعیل ستا سوالي شومه



زړه د خوږ دلبر په خوږ نوم نۀ مړېږم
چې ئې اخلمه نولا بنۀ اوګے کېږم
د دیدن ورغنتون لټومه پسې ګرځم
بې دیدنه چرې هم زړۀ نۀ رغېږم


په یار دونو مې مدام زړه کې خوږیږي
بیلتانه کښې بیلتانه نه ډیر ویریږم
په ممیزوکې اموخته یمه اؤ نشته
خورم هټکوې پسې تول عمر کړیږم
دَ هجران ماله مې تن باندې تیریږي
ترې نه مخکښې په هجران زړه یوې کیږم
لمه مزکه دې هجران کړه لما جوړه
په یاران به دَ دیدن زړه زر غوښیږم
اسمٰعیل تل دَ ویړې محتاج اوسم
ورته وایمه یاران اوکړه سوزیږم





ستا دَ مینې په دریاب کښې مې شه عمر
اؤرید وته دَ خطاب کښې مې شه عمر
تلوسونه چرې ما خلاصې اونه موند
خپلو اوښکو دَ سیلاب کښې مې شه عمر
له زیبا مخه دِ مخ جار ایسنے نه شم
چې یؤوارې ستا جناب کښې مې شه عمر
زما عمر به تول ستا جناب کښې تیرشي
ډیر عظیم کل رنګ ثواب کښې مې شه عمر
دَ ثواب په اَس ثواب پسې سور کړځم
ډسک له مزکې په آفتاب کښې مې شه عمر

بې لتانه به زړه هسې غمر څه کړم
پټ له خلقو په نقاب کښې مې شه عمر
ستا یارې له اسمعیل دعمر غوښته
کوم هر وخت په دې باب کښې مې شه عمر



دَ احسن حسن رښتونے خوشرے دے
دَ زړهٔ وینې ښتې په دې کښې مرنے دے
دَ زړهٔ وینو لره چاق رب پیدا کړے
په عالمو کښې له ټولو ښخوانے دے
سپین دندان ئې په زړګی راالله خخ کړی
داسې نه چې اموخته پرې نننے دے
له ښخوا راسې ئې تول دے په خُلهٔ کړے
خپلې چغې دَ زړهٔ اوړمه نرے دے
هسې نه چې ترې خُلهٔ لوګړې بیا په مړشم
زما زړهٔ خوهم دَ دهٔ خلهٔ کښې ژوندے دے
خبر نهٔ یمه چې څهٔ راباندې کاندی
په دې حال کښې مې بیا هم زړهٔ سیلانے دے
په خبروئې تاسو نهٔ پوهیږئ خلقه
څکه وائے اسمعیل جوړ لیونے دے

زما ستر کو دریاب جوړ کړلو په مزکه
خبر نه یم چې جانان راسره څه کړه

شین یاقوت مې له زړه کې څخه جوړ شوے
جوهري ته ورایه او سم ژاړم څکه

په نارو کښې جوهري ټکه تل ستا یم
د هجران وار و نه صبر ما ته سته که

په ځغنه د هجران سورے سورے شوم
هم ګویا یم چې جانان مې د اسې بښه کړه

مهر دِل زړه مهر دِل کړم مهر غواړم
دنیا ما نه مهر دِل پسې ده وړکه


د توکل په سوړلئ سوریم پسې کړځم
هم وټلے یمه دَ پسې له ټمرکه

اسمٰعیل په رښتیا مینه د جانان کړم
تېښته نه کړم د هجران له هره شرکه

هر قدم مې په قدم د مقدّم دے
ذرّه مې ټکه پیدا کار قلم قلم دے

مقدّم مې لکوي په زرّه چونکارې
ورته ژاړي صبح وشام زما قسم دے


یو ګذار سره ئې پر زوړے له پښو دے
په ما جوړ ځکه په دۀ پسې ماتم دے
بې ګذاره ئې تراوسه پریښے نۀ دے
هر ګذار ئې ما د یاره زیروبم دے
بریخ مې هر وخت له سینې خیژی عالمه
خامخا به داسې کیږی غنچه فم دے
غنچه فم پسې به تول عمر ژړیږم
له اثر له مې په برخه داسې غم دے
اسمٰعیل به په داغم پاندې ترهغه
یم ککړ خلقه هم داسې څو مې دم دے



اے ریباره هغه سنګلے شیرین څۀ شۀ
د خوبانو شهنشاه ماجبین څۀ شۀ
پسې ګرځمه ډیر ستړے شوم له حده
ما د یاره بې مثاله تسکین څۀ شۀ
څۀ شۀ څۀ شۀ بې دیدنه یاتې نۀ شم
په عالم کښې محترم نازنین څۀ شۀ
د ماتم تیغ مې د زړۀ په سرکښې خخ دے
دې نیرې لره مې هغه تک سپین څۀ شۀ
د سپین سپین په ندا هر ساعت ګویا یم
مرمه مرمه خنده رویه برین څۀ شۀ


زۀ به څو داسې جدا کړم له یاره
پخته داړه ماله په دې روې زمین څۀ شۀ
اسمعیله تۀ به څۀ کړې چې یار نۀ وی
هر ساعت له دِ راحت اوّلین څۀ شۀ






اندرون دړله هیران نۀ دے سېزے
بیابان دې لا دَ غم نۀ دے لیدے
دَ دُنیا په غم ککړه بس کړه راشه
زړۀ دې ولې پدې غم نۀ دے خوړے
دَ فرقت پانه په زړۀ کښې خخه کانده
لا تراوسه پورې هیر دے ستا بناغلے
دَ بناغلی په لور دړومه بل خوا مۀ زه
تن دې ولې بیلتانۀ نۀ دے زپلے
همه ځان دَ بیلتانۀ په خُلۀ کښې ورکړه
احمقانو ځان دې ځلې نه دے ساتلے
اسمعیل دې بیلتانۀ زړې زړې کۀ
ترمرګا به ټې وی ځان ورته نیوے






له تا يار پسې لا خواب تښتېدلے نهٔ دے
بېلتانهٔ دِلا زړهٔ کے داغلے نهٔ دے
له چشمانو دِ ابشار په مزکه تل کړه
تا د مينې په اور ځان سېزلے نهٔ دے
ولې داسې له خوبرويه وړايه کړې
په الفت دِ ولې ځان خوړلے نهٔ دے
د دُنيا په مينه مسته مستي پرېږده
په رښتيا دِلا جانان ليدلے نهٔ دے
له خپل ځانه د جانان په تکل اوځه
په جانان پسې دِ ځان وستلے نهٔ دے
چې دِ ځان وتلے نهٔ وي دا مې واوره
د يار ځنګ کښې دِلا ځائے موندلے نهٔ دے
اسمعيل د يار له څنګه نارې کاندم
راشه راشه يار مې څوک شړلے نهٔ دے






د هجران په قينچۍ غوڅ د زړهٔ په سر شوم
په خوبانو پسې ډېر وار خاکستر شوم
بې له غمه مې څهٔ او نهٔ موندهٔ دُنيا کښې
د غم ډاکه کښې راحت پسې زهٔ سر شوم

تماشه دَ خپل ریخې ریخې کریوان کړم
په دلبر پسې زهٔ داسې قلندر شوم
په زړګی کښې مې تول نول دے بل څهٔ نشته
زهٔ مدام لره دَ دې نول سودا کړ شوم
زهٔ به څو داسې اوسیږم بې دیدنه
زهٔ دَ هجر نهر کښې حل شوم خپله نهر شوم
زهٔ به هله را یهر شم چې سحر شي
بنهٔ پوهیږمه ترهغې ډېر په ډېر شوم
اسمٰعیل به دَ سحر په طمعه څه کړم
تر سحره دَ بیلتون دَ شپې نوکر شوم



زهٔ اغزنو باغیچو نه ویره نهٔ کړم
دَ فرقت دې سرو لمبو نه ویره نهٔ کړم
دَ ځوندون په هر ساعت کښې دلبر ستا یم
دَ دریاب له ډېر چپو نه ویره نهٔ کړم
یاد دَ یار کښې په څلکو څلکو ژړیږم
زهٔ مدام لره څلکو نه ویره نهٔ کړم
ما جهاد دے شروع کړے له پښتوانه
خپلو چارو پښتوانو نه ویره نهٔ کړم
په څو واره زهٔ شهید شومه جهاد کښې
زهٔ له غشو اوچپو نه ویره نهٔ کړم


په چړو زړه ځان وهمه یاره د یاره
ځکه داسې حادثو نه ویره نه کړم
اسمعیل له حادثو څخه بلد یم
رغیدولو شوګیرو نه ویره نه کړم



آوازونه مې یار نه اوري بې مجال شوم
زړه مدام لره د یار عشقو ته ډال شوم
د قسمت په بند بندي یم په دُنیا کښې
د غمونو شهنشاه یمه ملال شوم
د بکانړې پښان توړ شومه سوړ نمرته
په څو واره زړه د عشق په تیغ حلال شوم
د هجران په توپک نکمه صحرا کښې
زړه په یار پسې مدام په داسې حال شوم
پریمان[1] غانې[2] مې له تن اوځې غلبیل یم
کیرا اشنا ته د اشنا د عشق په جال شوم
د زړه خُونه مې ویرانه شوه په چغو
مدام ځان سره په داسې قیل وقال شوم
اسمعیل په رښتیا مینه دیوانه شوم
پیدا چاره زخت نزدو د ذوالجلال شوم

[1] پریمان: [2] دیرے غانې: کارتوس


دَ زړهٔ ستني مي دَ يار په لور کږې دی
دَ تن غوښي مي په اور باندِ ورتې دی
دَ وصال مرهم يې غواړم له خدايه
تول هډونه مي په غم زړې زړې دی
دَ جانان خمار وسترګو ديوانه کړم
رسيدلې مي په برخه شوکيرې دی
په ژوندون دَ خاوَرو ځلے په ماجوړ شهٔ
پرِ ولاړې دَ يا دونو شني خانې دی
اسمٰعيل به ولې نهٔ ژاړم عالمه
چې ليدلې مي دَ يار دَ مخ جلوې دی



ستا پشر پسې زړهٔ کے زما ملال دے
هيرول يې ما دَ پاره لوئ وبال دے
زما فکر به چار نهٔ اوځي ستا دَ لوري
په نصيب کښې مي هم دا دَ فکر تپال دے
له ازله پيدا شوے غمستن دکه يم
همه تن مي په دې غم باندِ پائمال دے
ستا په مينه مي روح تن کښې بنديوان شهٔ
اے دلبره ستا راتلو پورې اتپال دے

رهائي مې ستا ديدن دے جلوه دار ه
داسې قيد راته اوړ وے ذوالجلال دے
پدې قيد باندې له حده تيرائي يم
ما زده کړے پدې قيد کښې لوئې کمال دے
همه زړه مې ستا په ياد و داسې شين شه
لکه څنګ چې د جبين باند شين خال دے
اسمٰعيل نه خوته ځکه پتنګ وائي
هميشه د وړته يل ډ مخ مشال دے






ستا په عشق کښې زړه وړ تير له سرومال يم
سر ببړے ديوانه يمه ملال يم
ميکتون مې له تن جوړ دے ځکه زار م
نړيدے په وړو وړو لکه ديوال يم
له پخوانه د دلبره لاړې خا رم
جل وهلے يمه ډير دړته ليوال يم
ماله هغې خوشحالي ليدلې نه ده
چې د کله زړه يشکار کړے پدې جال يم
غم زيلے د په جال کښې تل زړ يږم
حيران کړے پدې غم کښې ستا جمال يم
اسمٰعيل د ديدن غوارم له خدايه
زړه په تا باند شيدا ډير بې مثال يم

پہ ما پوری سري لمبې نۀ دی نوخۀ دی
دائې پہ ما کړې کانې نۀ دی نوخۀ دی
همه عمر مې تیریږی سر و لمبو کښې
چارې دا دَ پروانې نۀ دی نوخۀ دی
چې بادونه ئې اُوړې له ځانه وړاندې
دا زما دَ تن اِیرې نۀ دی نوخۀ دی
چې بیلتون داسې چارې پہ ما کاندی
پہ لښون دَ میکدې نۀ دی نوخۀ دی
دَ ساقی دَ جام طلب کښې دیوانه یم
شوکیرې زما پہ دې نۀ دی نوخۀ دی
ځکه لیده دَ اسمٰعیل دَ ایرو غواړې
پہ گفتار کښې ئې پرتې نۀ دی نوخۀ دی

چې راځې پہ کله یاره نا خبر یم
انتظار کښې دِ ولاړ شام و سحر یم
بیلتانه مې وینې اوچې کړې پہ تن کښې
ستې شوې دِ دَمینې پہ سور تمر یم
یادوم دِ فریادونو کښې دلبره
لگیدلې پہ زړګی ښنه برابر یم

لکه پاڼره چې خزان وي رژولې
داسې ایستې زه له برمه ستا ښتریم
حیران کوم په هر لوري نه پوهیږم
ستا په عشق کښې دیوانه اوبې هنریم
څې له ستر کو نه مې اوښکې نه اودریږي
تماشبین دَ خپلو اوښکو دَ ښکر یم
تولوم پکښې ستا مینه له پخوانه
اسمٰعیل کچکول په غاړه قلندر یم





په همه جهان نور تم دے لکه په ما
نه پوهیږم چې داخه دي په دُنیا
زه په داسې لا علاجه مرض پروت یم
چې علاج مې کوے نه شي حکماء
دَ بیلتون دلاسه زه ژړې زړې یم
چې ترڅو به له دلبره یم جُدا
تیر ول دَ غم کران دي په دُنیا کښې
ورځ په ورځ مې نور غمونه شي سیوا
په ارمان دَ یار دَ در زه په اور سوزم
پدې اور کښې ستی پروت یم له پخوا
اسمٰعیل به په دُنیا کښې په ځان څه کرم
چې دَ عشق په جوار ے یا تَیللے ما

تا په دي دُنیا کښې زړه حیران کړم الله ډیر حیران
کړے دِ په ما باندِ احسان دے الله لوئ احسان

چرې به پوره نهٔ کړم ستا شکر اے کریمه زړه
زړه کۀ ادا کومه شب و روز شکریه هر ټوان

ستا دیدار لتا غواړم په روئي دَ محمّد نبیؐ
رابه کړې تهٔ خامخا هغه دے ستا ډیر خوږ جانان

تا دَ جانان مخ ته قربان کړي دي دارین الله
تا دے پیدا کړے په مخلوق کښې ډیر عظیم الشان

ماله دَ حیرت تحفه دَ دغه په مخ تاړا کړله
تهٔ مې نور نصیب کړه دا زیبا عظیم دُرّ و مرجان

ستا دَ پاک حبیب دیدن هم غواړمه لتا نه زهٔ
ربه ته مې وینې چې ئې مینې کړمه ډیر ناتوان

وومه تاخیر اسمٰعیل ربه تاخبر کړمه
نور مې هم خبر کړه دا مې سوال دے تا ته هر زمان



زړهٔ مې دَ غمونو بیابان شهٔ کۀ راځې
تا پسې مې سترګو نه باران شهٔ کۀ راځې

تا پسې مې سر کښې له ورځو کړنار خیژی
عقل مې پدې باندِ حیران نشهٔ کۀ راځې


تهٔ به مې هېر نهٔ شې چې ترخو پورې ژوندے يمه
کوم دے بهار کوم دے او بېد خزان شهٔ که راځې

ستا په دې يارۍ کښې مې تن ورېت شولو چې څهٔ به کړم
نور هم لا ورتېرې ژوند مې ګران شهٔ که راځې

ستا مينې ته مې کلکه ملا تړلې ده دلداره
جوړ په مالوې غلے دا ارمان شهٔ که راځې

ځان څخه ګنړيکمه خبرې لما هيرې شوې
تا ته انتظار مې هر زمان شهٔ که راځې

زهٔ اسمٰعيل ستا په لورې کوړم بل څهٔ نهٔ کوم
زړهٔ مې ستا ليدو پسې ويران شهٔ که راځې



زړهٔ دِ ډک دے له کينې څخه زړهٔ پاک کړه
خلهٔ دِ ځکه دلته بې واکه خلهٔ په واک کړه


لکه ګيشے دِ کينه زړهٔ پورې تينستې
بنهٔ دانائې خيال دِ زر په الفت راک کړه


دَ الفت په راک دِ زړهٔ زر زر ودان کړه
تِرنه لرې همه عمر له خاشاک کړه

پښيمان په حسد راوړه حسد ناکه
دور له ځانه دا ملګرے خطرناک کړه

تکبر کښې غرقاب اوسې تباه شويه
ځوړے تل له تکبره څخه باک کړه


ډیر حیران یمه تر اوسه میخوار نهٔ شوې
میخانه پسې دِ ځان سپردِ خاک کړه
اسمٰعیل داسې څو وار سپردِ خاک شهٔ
ورشه دَ ځه نه زده دَ مینې ژوند ژواک کړه







په تسخیر دَ محبت یمه اووختے
په بې مثله عنایت یمه اووختے
شاه له ځان څخه زهٔ شاه کړمه شاهي کړم
زهٔ په داسې سلطنت یمه اووختے
ما تختې کښې دَ الفت سلطنت کاندم
دَ یادونو په دولت یمه اووختے
سلطنت کښې دَ غمونو سمندر شوم
په هجران کښې په قرابت یمه اووختے
سرو لمبو کښې داشاهي زما نصیب ده
زهٔ دَ اور په لوئې طاقت یمه اووختے
حمایت مې دلربا له پخوا کاندې
دَ دلبر په حمایت یمه اووختے
اسمٰعیل په څنګ حیران نهٔ یم تسخیر نه
چې په داسې ذهانت یمه اووختے





په طلب د خوبرویانو ګرفتار یم
ارماني زړه د بې مثله لاله زار یم
صداقت مې د سینې میره کسکر کړه
مخاطب زړه د هجران د سور انګار یم
خوبرویان مې یو ساعت له زړه ته نه اوځي
زړه کور یه یمه د دوې ډیر تابعدار یم
میلمستیا کیني د زړه غوښې ور کومه
قصابۍ لره له خلقو ته کښار یم
میلمانه به لما چرې خفه نه شي
زړه بنه پوهه د ربیار په هر ګفتار یم
د عشق کار خو جان بازي ده بل څه نه دی
جان بازۍ کښې جان بازۍ لره تیار یم
اسمٰعیل له یار جان باز خطاب ور کړے
بنه ئې پوهه هر ساعت په دا اسرار یم





زبردست مې زبردست هجران را کړے
هر ساعت ئې بې بها ارمان را کړے
د ارمان د ځلې لاندې وخت تیرومه
همه ژوند له ئې یو لوئې داستان را کړے


په وېلو دَ داستان زړې زړې يم
دست په دست دا بند وبست جانان راکړے


ستنغ هجران مې دَ جانان دے قبول کړے
په انعام کښې ئې راله دالرزان راکړے

دَ تودو اوښکو نهر ونه مې بهيږي
دَ غمونو ئې راله لوئې بيابان راکړے

ډيرې شپې مې په جانان پسې کړې رونړې
ترمرګي پورې ئې دا زندان راکړے

اسمٰعيل په پښتو ژبه شهنشاه يم
ځکه ماله ئې شهنشاه ديوان راکړے





لوئې داستان کړم په نګار پسې يادونو
شمار کومه بيابان کښې دَ ړيږونو


ماريږونه دَ نګار له رويه سپې کړه
لائې سپومه دَ ديدن په اُميدونو


په سپولو مې اتکي دي زنکدن کښې
ډير زېړے يم دلبر پسې آهونو

دَ آهونو سلسله به مې جارے وي
په ځلکو ځلکو به ځم په نوروغرونو

دَ جانان دَرَته چې اوړسم بيګوارے
بيا به خلاص شمه مدام له له غمونو

داسي نهٔ يم چې له غمه ډډه کاندم
همیشه به زړهٔ محکم یم په لوظونو
اسمٰعیل مدام سفر کښې ننداره کړم
څکه پاڼې ډکومه دَ شعرونو






دَ سُبحان په اجازت سبحان لټومه
دَ ګلانو هغه ډک بوستان لټومه
په اغزو ئې زخمي زخمي شومه عالمه
زړهٔ مرهمو له طبیب دَ ځان لټومه
مسیحا پسې مې ځان زړې زړې کهٔ
زړهٔ مدام لره بې مثله توان لټومه.
دَ مسیح دَ جانان دړ کښې مدام ژاړمه
دا جانان هم ورسره هر آن لټومه
عالیشان په عالیشان پسې کړم ستړے
همیشه به ور پسې جهان لټومه
هم دې چارې له سبحان ؐ یم پیدا کړے
څکه زړهٔ هم دا زمین آسمان لټومه
زړهٔ به دالټون هم داسې مدام کاندم
په دُنیا کښې به زړهٔ دا هجران لټومه
اسمٰعیل چې له زندان څخه رخصت شم
همیشه له به حاضرخوبان لټومه

د دلبر په غشو لړم د دلبر خوا نه مدام
د هجران په تور و شپو کښې مې ناکام دے ناکام
ناکام به ولې نهٔ کوم دلبرې ډیر حسین دے
معلوم به چرې نهٔ کړی د دې حُسن څوک انجام
انجام به ئې څنګ معلوم کړی چې ئې حسن ناتمام دے
ځکه پسې ژاړمه عالمه صبح و شام
ژړا مې په ژړا بانددِ ډیرېږی داسې بنهٔ یمه
زړهٔ به مې تور نهٔ شی چرې هم له دې انعام
زړهٔ به مې څنګ تور شی چې مې سپین بشر په زړهٔ کښې دے
هر ساعت ئې اورمه د سرو لمبو پیغام
پیغام مې په زړهٔ کې بانددِ مدام لیکلے کیږی
زړهٔ مې لوئې تفسیر دے د خوبا په دې نظام
نظام ته په حیرت کښې اسمٰعیل شپه اورځ کوره
جوړ کړے دے ډیر ښکلے ذوالجلال والاکرام

په نصیب کښې مې د اوښکو لوئې بحیر دے
دا لیکلے قدیر ماله په تقدیر دے
د قدیر په پرزونه ډیر مشکوریم
دګا جوړ کړے مې له شکر نه خمبیر دے


دَ رضا په بنا ریه کښې مې ویر زده کهٔ
دَ دیدن دَ پاره خوښ زما داویر دے
له انګره په پلک خوږ مه کړه ژاړونه
روح اؤ تن مې هم خوشحال دے هم زهیر دے
دَ بُلبل پشان فریاد کړم صبح وشام زهٔ
تر مې اوښکې تویوُم دا مې ضمیر دے
تر مې اوښکې په مدام زهٔ تویوُمه
پیدا چاره مې رضا یدیر منیر دے
په عوض کښې به خندا مدام له وړ کړې
اسمٰعیل ته خوبا کړے دا تقدیر دے






دَ شاهئ تاج مې په سر دے په غربت کښې
خپل اشنا راته په سر کهٔ محبّت کښې
محبّت دُنیا کښې لویه بادشاهي دهٔ
دا نشه مې دهٔ موندلې په صحبت کښې
په صحبت کښې هم ګدا شومه هم شاه شوم
خلق حیران یمهٔ مدام پدې نعمت کښې
هم شراب بیم هم کباب یم شراب غواړم
دَ کنډول څښل مې لا نشته په طاقت کښې
په دنیا دا ټول کنډول څوک څښلے نهٔ شي
پس له مرګه یه ئې ټول څښمه جنّت کښې

اوس ترې څاڅکي څښمه نهه نشم
څاڅکي ترِنه غواړم صداقت کښې
اسمٰعیل یه ترِ نه شنډې لرې نهُ کړم
بس په موړګه یې لړمه هر ساعت کښې





اے دلبره دَ زړهٔ سره راشه راشه
کوړے مرمه منوّره راشه راشه

دَ زیبا مخ دَ لیدو دِ اَرمانې یم
خوبرویانو کښې بهتره راشه راشه

ستا یادونه مې په برخه رسیدلی
هم اوّل اؤهم آخره راشه راشه

دَ آهوانو بیابان کښې دِ لټومه
خوږه صاحبِ کوثره راشه راشه

ټول جهان په ما تورتم دے نازنینه
معظّمه معطّره راشه راشه


په نصیب کښې مې دَ هجر توري شپې دي
خوب صورت ګلندامه نمره راشه راشه

ستا دَ در غلامي غواړم څکه ژاړم
نهٔ صبرېږم ستاله دره راشه راشه

دَ فریاد دریاب مې ستا په لوري درومي
اے دَ برو نه دیربره راشه راشه

اسمٰعیل دَ ستا یارۍ کښې مستغرق یم
زما ښکلیه پیغمبره راشه





یار راکړې ماله توره حیدري ده
وینا ځکه مې همه قلندري ده

دَ جلوو په پټ پټانړی کښې غزا کړم
داسې چاره ئې راکړې هنري ده

دَ پېنړ وس په شان مې یؤخوا بل خوا ولي
دَ سولۍ په سر مې دا بهادري ده


دَ سولۍ نه به دَ مرګ په ورځې خلاص شم
ترهغې پورې زما دا نوکري ده

چشتي نظامي په بند بندي یم
ماملې دَ خپل پیر ښکلې پیري ده

خپل مرشد په زنځیرونو یم تړلے
دا سزا ئې راته اؤرولې تقدیري ده

دَ تقدیر قدر مدام لره کومه
شاعري مې ځکه دا رنګ له جاري ده

اسمٰعیل دې شاعرۍ ته مدام ګورم
ډیر حیران یم ورته تؤله خماري ده



پہ خزان پسې بہار وی لہ بہار خبر نۀ شوم
پسې ژاړم نۀ صبریږم لہ دلدار خبر نۀ شوم

پسرلے پہ کلہ راشی پہ امید کښې ئې اوسیږم
د بالا پہ انتظار شام و سحار خبر نۀ شوم

زړۀ مې ورچنہ[1] دلبر پسې سینې نہ راووتلے
پسې ګرځم زړۀ ئې ترا وسہ لہ مزار خبر نۀ شوم

چې د شمعې رڼا وګټم وائیم داغہ جوړ مزار دے
زۀ پہ ولې داسې نۀ یم لہ اسرار خبر نۀ شوم

لہ اسرار خبردار یم خولہ نولہ خبر نۀ یم
اسمٰعیل پہ دې خفہ یم لہ قرار خبر نۀ شوم



محبت د یار د یار کثیر اوکړه
بند و بست ځان لہ د داسې بحیر اوکړه

پہ کثرت سره لہ سترګو اوښکې توئې کړه
زړۀ کوټې لہ ئې بیعت لہ یو پیر اوکړه


د هجران لہ پېښو نښینہ ولې کاندې
ښۀ پہ خوښہ د سرور کاندۀ وِیر اوکړه

---

[1] ورچنہ : بهیر

دَ یار دَ دِلا دَ کسوڅ نه ډیر دور دے
دغه دید لره پاکی دَ ضمیر اوکړه
دَ بد خیال سیلۍ دورکړے ئې له اشنا نه
ځان له بند زر دَ توبې دَ زنځیر اوکړه
بوکنیدهٔ دې لا تراوسه ولې نهٔ زده
په زړګی له ډیرې ویرې تکبیر اوکړه
اسمٰعیله بې غمخویه چرې نهٔ شې
هر ساعت کښې غم دَ بد رِمنیر اوکړه






سفینه یم سفینه یم راشه راشه سفینه یم
کوم خوالا بې بل خوامهٔ زه مستانه یم مستانه یم
داچې خورم داهوا ده له حجازه په ماسلیږی
رانژدوشه چې شې پوهه میخانه یم میخانه یم
دَ هوا په چپو دروهم دَ خوبا دَ در په لوری
ولې بل خوا له ماکوري نشانه یم نشانه یم
ملکرتیا نه دِ لیوال یم ملکرتیا راځنه اوکړه
خوبرویانو ییسې هر وخت دایونه یم دیوانه یم
زهٔ خونا هر وخت یادومه چې داولې دِ په هیریم
نوره تیښته لماٰمهٔ کړه جانانه یم جانانه یم
تهٔ به ماځنه خوشحال ئې تهٔ خبر نهٔ ئې لمانه
ا ےکښی، ستړګې۔ لږ روښانه شه دلبره پروانه یم پروانه یم

اسمٰعیل رښتیا وئیل کړم هر یو لفظ مې دُر مرجان دے
زۀ بیناؤ ته لیدے شم خزانه یم خزانه یم

⁂



زۀ دَ یار دَ نور و ستر کو ارمانی یم
خماری یم څکه ژاړم خماری یم
دَ نګار مخ مې لیدے شي په هر لوري
دَ هر لوري ښار نه کومه فریادي یم
سپین سپیږے مخ به څرې زۀ هیر نۀ کړم
اے عالمه په دې کار کښې ښکاري یم
بې له مینې مې څۀ نۀ زده دا مې کار دے
سپاهي یم زۀ دَ مینې سپاهي یم
دَ عشق نمر ته مې تول تن مدام ورتیږي
هم دا غواړمه ملنګ قلندري یم
دَ جاوید عمر دَ پاره داسې کاندم
پدې برخه ډیر مشکور زۀ دَ هادي یم
اسمٰعیل نور هدایت له هادي غواړم
په درګاه کښې ئې زۀ هر ساعت سوالي یم

⁂

دَ مالیار په باغیچه کښې په اغزو باندِ زخمی یم
له ګلانو نهٔ صبریږم دَ بورا پشان پتی یم
دَ دیدن سړو اوبو ته له پخوا راسې لیوال یم
ځنکدن کښې هم دا غواړم بل څهٔ څهٔ کړم ارماني یم
ځیلو او بنکو کښې لاهو یم دَ دستور په بیابان کښې
نهٔ ژوندے یمه نهٔ مړمه انتظار کښې دَ مرګی یم
دَ جانان په ګنړو غشو مدام لګم فریاد کاندم
توری سترګې ئې تور غشي وړوی پړ خمارے یم
دَ هجران په توره شپه کښې دَ دیدن رڼا لټومه
پیدا چاره یشهٔ پوهیږم ځکه داسې جوهری یم
دَ جانان دَ دَر په لوری بیړندے بیړندے دروم
یدې تر کښې بخیل نهٔ یم دَ جانان په قول سخی یم
سخاوت دُنیا کښې کاندم اسمٰعیل به بخیل نهٔ شم
دَ خوبانو په منشور کښې حیدری یم حیدری یم



زهٔ په کوټ کښې دَ یار اوسم دَ مرګی په انتظار کښې
له بهاره ناخبر یم هم مې ژوند دے په بهار کښې
تنکیالے راته یار وائی بې له تنکه بل څهٔ نهٔ کړم
ما ته ځان هر وخت لیدے شی دَ جانان په سپین رُخسار کښې


دا ائین الله راکړے دے دځان لیدو د پـاره
له مودو نه پکښې ګورم ډیر حیران یمه دې کار کښې

نور مژګان ئې دی خخ کړی زما زړه کښې ډیر په مینه
دا سزا زما نصیب ده له تقدیره دَ عشق لاره کښې

زه دَ دار په سر ماتم کړم دَجانان رُخسار یادومه
بې ماتمه به زه څه اوکړمه نور په سر دَ دار کښې

دَجناب په نوکرۍ کښې مې کړیوان ټول تار په تار دے
ارمانونه پوره نښتی دی رازونه په هر تار کښې

دَ فکرونو بیابان ما اسمٰعیل په خون خپ وې که
نور به ئې هم داسې ځپوې کړم دَ جانان څخه اقرار کښې



هر ساعت زه دَ یارۍ په طلب کړځم
په حکمت کښې به لټون دَ مکتب ګرځم

ویریا کته دَ دلیر په طفیل کاندم
همیشه به زه په داسې سبب ګرځم

دَ رښتیا وُ لاره ئې ماته را ښودلې
ترمرګی به پرِ زه ډیر په ادب ګرځم


کوټ[۱] بنګارونه به ځان مدام ساتمه
په کندن[۲] پسې په فضل دَ رب ګرځم

بې دیدنه مې زړه وار نه کړی خفه یم
څکه داسې وار خطا روز وشب ګرځم

۱ کوټ بنګار: کچه سره

۲ کندن: خالص سره زر


تودې اوښکې په زما څڅکه اودارې[1]
په عجب پسې زړه چودے عجب کړم
دَ ژړا شیوه مې خوښه ده تر غمه
اسمٰعیل په ورځته په جلب کړم



کرځنده یم همیشه بهار پسې
په خمار کښې یم لیوال خمار پسې
دَ هجران ستړکې[2] ماته مدام کیږي
دې رهبر سره به ځم دلدار پسې
له مودو نه دَ هجران شپیلکې اورم
ساعت کومه ډیر اوږے یار پسې
بصیرت کښې بصیرت له بصیر غوارم
تل روان یم پدالار اسرار پسې
یؤقدم به بیګانه چرې وانه خلم
په خرپوسو به زۀ ځم ریبار پسې
دَ سحر اذان چې واورمه په غوږو
بیا به اونۀ ژارم زۀ سحار پسې
اسمٰعیل دَ اذان طمعي تول لوګے کړم
پورته درومم په ورو ورو ګلزار پسې

له اودارې : اودریږي ے ستړکې : اشارې

دَ اقدس رُخسار ستې کړم دَ غمونو په صحرا کښې
بې يارۍ ژړوند ون به څهٔ کړم هم داغوارم په دُنيا کښې
زهٔ مهجور[1] په ژړا کاندم دائې راکړې دَ ده له ځايه
دې ژړا گوشه نشين کړم تل اوسيږم په ژړا کښې
دروغجو به چرې نهٔ شم دَ يار مينه به پالمه
خندا نهٔ کړم چاموندلې گوهر نهٔ دى په خندا کښې
دا ژړا به مې باغبان کړي دَ حکمت په باغستان کښې
باغستان څکه يادومه هر ساعت په هر کاسه کښې
په ما مينې مسترد کړهٔ دَ دنيا هَمه کاروَنه
يوُ دَ مينې کار کومه بنهٔ په ناز اوُ په ادا کښې
دَ مقصود په لاره درومم دا مقام به خدائے راکړي
دے کچکول زما په غاړه وفا غوارم په وفا کښې
اسمٰعيل وفا وفا يم له جفا نه وړايه اوسم
څکه داسې ديوانه يم ژړوند تيرومه واويلا کښې



دَ خوبا په لوړى درومم دَ هجران په بيان کښې
دَ زينت په وار پړهر يم تيرَوُم عمر زندان کښې
بېلتا نهٔ زړې زړې کړم دَ وصال کيکدے لټومه
ما په شان ليواله نشته بل هيڅوک پدې جهان کښې

[1] مهجور، جُدا


دَ غمونو لوئ اشر مې زړۀ غوبلئ نګار دَ یاره
دَ سینې درۀ مَن مې جوړ دے دلربا پسې نیران کښې

په ذیشان پسې کوېږم دَ کړون په سمندر کښې
راته ښکارې ځان له وړایه له پخوا راسې ذیشان کښې

دَ اُلفت اُصول مې زده دی دلربا څخه یارئ کښې
نور اُلفت له ربه غواړم همیشه یم په ارمان کښې

له باسطه مدام سوال کړم وایم راکړۀ دلبر راکړۀ
کۀ مې سوال باسط قبول کۀ دَ غمونو دې طوفان کښې

اسمٰعیل به دړې وړې داسې پروت یم دَ یار در کښې
اشارې ورته کومه توان مې نشته نور په ځان کښې



په شیدا بانډ شیدا یم کوځے[1] اوسم په دُنیا کښې
له وفا څخه وفا کړم مړنے یم په وفا کښې

زۀ دَ مینې تیل کنار کړم په دُنیا کښې له دُنیا نه
دَ طاهر ارمان لاهو کړم دَ غمونو په دریا کښې

دَ هجران غمبسې[2] ماله راکوی مدام ستکونه
دَ فریاد آواز مې ځکه اوریدے شی په سما کښې

دَ دم کړی لا رته کوړم نور مې هر څۀ دی هیر شوی
انتظار زما نصیب دے تیرومه ژوند ژړا کښې


---

[1] کوځې : یواځې [2] غمبسې : مچئ

دَ فياض ميني صادر کړم دَ فياض ميني دَ ياره
څوک په ځان له خلقو پټ کړي همه عمر په غوغا کښې

دَ جرس په شان شړنګيږم دَ دلبر په لور روان يم
بې له ياره نهٔ ياد ومه چرې بل څوک په ندا کښې

اسمٰعيل ندا انداِيم قلار نهٔ شوم له ندا نه
ندا ځکه مدام کاندم غمزده يمه ادا کښې



عندليب يمه په تا پسې نګاره
محترمه را څرګند شه رب دَ ياره

په زړګي باندې مې اور تا پسې بل دے
نور مې خلاص کانده دَ هجر له دې ناره

دَ سينې جونګړه ټوله زما اُسوه
راحتونه ترِ ټول لاړه ستا په لاره

تاچې کله دَ رخسار په اور خريد کړم
تير مې نهٔ کړه يو ساعت بيا په قراره

همه تن مې دَ فرقت په اور کښې سوزي
دَ وصال نارې وهمه شهر ياره

دَ يقين واګې قابو دي ما نيولي
وايم رالشې يو وارې ګلعذاره

اسمٰعيل په نانه هر وخت انتظار کړم
په دُنيا ده رب راکړې راسې چاره

دَ ضیاءِ مخ په لیدو بانډ تراب یم
زهٔ مهجوریم ځکه داسې لاجواب یم
په ضیاء پسې زما ځکه ژړېٔ دہ
لاهو شوے دَ غمونو په دریاب یم
له میثاقه دَ غمونو په ټال ځانګم
همیشه ځان ته پخپله په خطاب یم
قدسیان مدام خطاب کښې یادومه
په طریق دَ قدسیانو دَ جناب یم
دا طریق به چرې پرې شي دم ترمرګه
صبح وشام پرِ زهٔ روان بنهٔ په حساب یم
دَ حکمت امساله لاسه نهٔ لرګومه
بنهٔ سیزے په دلبر پسې افتاب یم
تروصاله به مې داسې آفتاب سېزی
پیرخوشحاله اسمٰعیلؔ په دا ثواب یم



دَ یادونو په دریاب کښې لاهو شوے له پخوا یم
له آهونو خنجه مخ یم مئین شوے په زیبا یم
خنک به یار زما په هیرشي چې مدام ئې زوتومه
داسې یار هم زوتوی ما په شیدا بانډ شیدا یم


په هر لوری مدام کسم چې له کوم لوري به راشي
زه دې چارې له همه عمر له خلقو نه جدا یم

هر ساعت د تودو اوښکو نښواتې ورلېږمه
په نکار پسې ژړېږم بل څه نه کوم ژړا یم

د بادام پیشانۍ مې زړه سوري سوري ده له پیرغمه
لې په لې پسې گرځېږم طلبگار د مسیحا یم

د دنیا په مسیحانو مې بنیګړه چیرته کیږي
زه یه څنګه په دوئ روغ شم چې زړه چودے له دنیا یم

اسمعیل په هله روغ شم چې اشنا مې راځرګند شي
ترهغې به زه رنځور یم اشنا واۍ زه دوا یم



د هجران په تور ه هر ساعت ژوبلېږم
په دریاب کښې غوپ په یار پسې گرځېږم


د فولادو نیښې شیه اۆ ورځې چیچم
د بیلتون په کړاهې کښې تل تلېږم

له عطاره په مې زړه بل خواته نه اوړي
ورو په ورو زه په داچاره سنګارېږم

د فرقت رباب مدام راته غږیږي
په سینه کښې ورسره زه هم غږېږم

تول رګونه مې طبیب پسې فریاد کړي
په طبیب پسې مدام څکه ژړېږم

دَ لوئ غم خنجر مې خخ دے په زړګی کښې
خبر نهٔ یم چې به څو داسې کړېږم
اسمٰعیل به له کړو نه هلهٔ خلاص شم
چې دَ یار غاړه کښې هار شمه زنګیږم



دَ جواد په تیغ پرهر یم څکه داسې واویلا کړم
دَ خوبانو په تب خوړین یم زهٔ ئې مینې وارخطا کړم
تل روان یمه په څوپ کښې دَ جانان په لورې دروم
زهٔ مئین به څو کړېږم چې ترڅو به دا ادا کړم
زهٔ په ژړند کوړ کښې اوسیږم دَ جانان لیدو دَ پاره
دَ یار مینې له دُنیا نه همه عمر له جدا کړم
دَ فرقت په غشو لګم صد افت زړې زړې کړم
دَ هجران په توره شپه کښې ارمانونه دَ صبا کړم
ما ته هجر دیر قهریږی په څواره هر ساعت کښې
زهٔ به صبر مدام کاندم چې دَ مینې دا سودا کړم
تنګ به تل داسې کومه چې دَ مینې کاروبار کړم
عبث وخت به زهٔ تیر نهٔ کړم ننګیا ے دَ عشق سزا کړم
اسمٰعیل ګوشه نشین یم دَ یار مینې داسې کړمه
کهٔ زهٔ دیر داسې کړېږم زهٔ به مینه خامخا کړم

○

ستا په مینه کښې به څو داسې ګرځېږم
بیابان کښې دَ ریدی په شان رژېږم
نرګس سترګې را واړه وه دلـــبـره
تناره کښې به دَ هجر څو سوزېږم
زړه مې هر وخت هجر مروړې تول زخمی دے
ځکه هر وخت فریادونه کرم ژړېږم
زهٔ په تا پسې مدام اسویلی کاندم
شپې پنا پسې رونړومه نهٔ صبرېږم
ستا یارۍ کښې دَ بیلتون په غاټولکم
له ډیر درد هیشه ځان نه وتېږم
زهٔ دَ هجر تاخانه کښې ستا دَ یاره
ژوند تیرومه خوشحالونه نهٔ خبرېږم
مؤذن چې دَ وصال آذان اوکاندی
اسمٰعیل به تل لتا ځغه اوسیږم



○

راپه غاړه دَ هجران اغزنه لار ده
دَ اور غلې ګلستان نه دَ مالیار ده
یار دَ غنو کیږتا وکړے دے له ځانه
لمن ځکه پرِ زما توله تار تار ده

ے وتېږم : خبرې کوم

چُست پرِ دے وهم ځکه داسې پرهرې یم
سینه ډکه مې دَ مینې دَ انګار دَه


دَ سینې کوټې مې اور یارپسې واخست
جوړه شوې داکوټه په سر دَ دار دَه


ډک کنډول زهٔ دَ دیدن دَ اوبو غوارم
دَ غمونو دُنیا ټوله پیما بار دَه

دې غمونو کار نده کړمه یارۍ له
داسې چار ده ډیره خوښه دَ دلدار دَه

دَ هجران وارونو ټول زخمی زخمی کړم
ماله دا ادا هم شپه اؤورځ پکار دَه

تر دیدنه به ځان داسې زخمی کاندی
اسمٰعیلَ ته داوینا کړې ریبار دَه






دے غلم دے ځمه په خپ پوسو ستا په لور
چیرته حصار یږم ستا دَ مینې دے ډیر زور
غنو مې ټول تن سورے سورے کهٔ پلا لاره
ځان په زخمی کومه ستا دَ یاره پدې نور
مینه دِ جانانه راته والۍ دهٔ دهٔ دهٔ ره[ل]
مینې مې سینه کښې جوړ پتا پسې کهٔ شور
ستا دَ مینې قاف نه زهٔ ستا مینې پسې واوړیدم
دَ کیکمهٔ له ویرې ما په ژوند اولیدهٔ کور

ل دره [illegible]


په زړۀ مې ستا د دړ بڵکه نقش شوې ده دلبره
زړۀ مې ځکه هر وخت دے پتا پسې نسکور
ټکلٔ[1] د غماز ما باندِ اثر نهٔ کړی پوهیږم
کسې مې سینه کښې مدام ستا د مینې اور
چرې به تیر نهٔ کړم یو ساعت بغیر له مینې
ولې په دُنیا کښې ګرځیدهٔ کړمه تش تور
زهٔ د یار دیدن لره ما هر استاد یادیږم
ځکه شهٔ آواز زما د مینې هر خوا خور
ما اسمٰعیل ډیره ګټه اوکړه پدې کار کښې
مدام له رانه پاتې کهٔ دې چتې کلے کور




زړۀ مې پتا پسې ژړیږی مدام
خمارې سترګې ئې یادیږی مدام
دا کیفیت ئې شهٔ نصیب د مینې
لکه د پانړې ډیر رپیږی مدام
ستا په یادونو باندِ وخت تیرؤم
زما په مخ اوښکې بهیږی مدام
زهٔ چې یو سنته له خپل زړهٔ اوکړم ستا
وائې زخمونه مې ډیریږی مدام
په تسلے مې زړهٔ قرار نهٔ شولو
ستا په سپین مخ پسې وریږی مدام

[1] ټکل: ملسون

په فریاد ونو ئې زیرک شومه ډیر
نور فریاد ونه ئې زده کیږی مدام
خانه بدوش کړمه ستا مینې یاره
په ما دغم غمر تیریږی مدام
ما اسمٰعیل مینې له غاړه وړ کړه
ځکه په ما دا اور بلیږی مدام





لا تراوسه نهٔ غلام دَ سلطان نهٔ شوې
دَ درگاه په لوړی ولې روان نهٔ شوې
همیشه دَچپل سلطان په لیاره درومه
پوهه ولې ته په کته تاوان نهٔ شوې
ناراستي به دِ کړنګ ته وړ کذار که
شا به چاق شه هیڅ خبرله بوستان نهٔ شوې
بنهٔ راست من شه له جانانه څخه زار شه
شینکے خال په سپین جبین دَجانان نهٔ شوې
کیفیت دَ مینې اوغواړه له ربه
تهٔ مالک ولې دَ مینې دَتوان نهٔ شوې
جوانی کښې به نپ تپې ترکومه کړځې
تل مزو لره خیرانه جوان نهٔ شوې
اسمٰعیل دِ خیرانی له ربه غواړم
خیرانی لره څوواره قربان نهٔ شوې

زۀ له یاره څخه یارې کړم خوش نصیب یم
ځان ته ګورمه حیران یمه عجیب یم

په کامران پسې مې کړې اقتداء ده
زۀ په دۀ پسې روان بۀ په ترتیب یم

دَ غمونو شپول مې زړۀ نه دے چاپیره
په ناروځکه په شان دَ عندلیب یم

له سرکاره تل دَ مینې شراب غواړم
پداغوښته له سرکاره څخه قریب یم

ما دَ حب لونګې په سرکړه حب به کاندم
زۀ دَ حب له وجې داسې لوئ ادیب یم

دَ صراط په پُول روان یم دَ یاره دَره ته
دې سفر کښې زۀ خپل ځان لره خطیب یم

دَ یاره دَره به مې نصیب شي دا باور کړم
اسمٰعیل رنځوره طلب کښې دَ طبیب یم



ملاقی زۀ لا تراوسه دَ یاره نۀ شوم
یؤ ساعت هم له غمونو اوزګار نۀ شوم

دَ زړۀ سر به زما کله را نما شي
زۀ لا هغسې ساده یم هوښیار نۀ شوم

دَ دیدن په ورځ به زهٔ پوره هوښیار شم
داخل ځکه دَ دلدار په ګلزار نهٔ شوم


دَ دیدن باران ته تل لیواله اوسم
تل خزان دے هیڅ خبرله بهار نهٔ شوم

سپین رُخسار یٔ راته ځکښې ځکښې کیږی
یؤلمحه زهٔ په ستڼه له اقرار نهٔ شوم

دَ اقرار چنګارو زړهٔ زما زخمی کهٔ
غافل ځکه زهٔ له دې انتظار نهٔ شوم

دَ وفا اُره مې تل دَ تن رسیل کهٔ
اسمٰعیل خبر له لیل النّهار نهٔ شوم





حکمران مې په زړګی کښې تل ډیره دے
هر ساعت مې دَ زړهٔ ویښې څخی دُلمه دے

هر ساعت راته دَ غم قیصې دے یائی
زهٔ دَ دهٔ اؤدے زما په ننداره دے

په سینه کښې مې دسترخوان ورته خور کړے
دَ سینې بُلبل مې هر وخت په ښاره دے


په ښاره کښې دَ دُلمه اسم تل ستائی
بل به څهٔ اؤکړی هم دے چې یٔ اسره دے

دَ رازونو په تمغو یٔ وُنما نځلم
هر یؤ راز ته چې یٔ ګوره عجیبه دے


لے دُلمه: میلمه

دلربا مې ډېر بې مثله پاک دامن دے
هر ګفتار ئې څکه ډاسې پاکيزه دے
اسمٰعيل ئې هر ګفتار په ځان قبول کړه
عجيبه ده بيلتانه کښې ورسره دے







مئين شوے په احسن يارِ حجاز يم
هر ساعت ئې زړه ديدن ته ډېر مُنتاز يم
بِسۡمِ الله چې مې په مينه بانګِ اوکړه
له هغې راسې حساب زړه په جانباز يم
صبح و شام د يار په لوري سيخ روان يم
روان کړے ئې پدې لوري په ناز يم
جان نثار به ولې نۀ يمه عالمه
چې شيدا په والضحیٰ مخ د ممتاز يم
تاتره[1] زړه مې د يار مينې اوبه کړه
تش ګوګل د يار لټون کرمه پوراز يم
زيبا مينې مې له زړه ته رباب جوړ کړه
په زيبا ئيسې غزيز مه پټ ساز يم
له ازله مې آغاز د مينې شوے
اسمٰعيل ډېرو مينو له اعزاز يم




[1] تاتره: د خيبر د يو غر نوم



د جمیل مینې دُنیا نه کناره کړم
په لمبوې په صحرا کښې غرغره کړم
د دُنیا کاروته واړه ما منسوخ کړه
د دلبر تیرې اړې اړه اړه کړم
د هجران له کنارومې خلاصې نشته
تر دید نه به پرځان زره زره کړم
د غم عشق تل په ما دے خوندا خستے
د غمونو لوئې کاروان له ئې اداره کړم
له بې ترخه ګذارونو څخه مخ یم
هر ګذار زړهٔ په څو واړ ایره ایره کړم
ډیر زړهٔ ستړے یم دمه نهٔ شومه چرې
عشق په یار پسې مدام له یؤناره کړم
اسمٰعیل به د عشق فن هر وخت زده کومه
هر یؤ کار به زړهٔ د عشق په اشاره کړم





اے زما ماهِ تابانه السّلام
اے ګل رنګه عالیشانه السّلام
ستا راتلو ته مشتقمند[1] یم د زړهٔ سره
زما ښکلیه خوږ جانانه السّلام

[1] مشتقمند: خواهشمند. مشتاق


هر ساعت کښې ستا دیدن له ربه غواړم
خوب صورته قدر دانه السّلام


هر ساعت کښې زما تُند انتظار خوښ دے
زړهٔ مې موړ دے له دُنیا نه السّلام

رنړې اوښکې مې پټاپسې بهیږی
په دار پنو کښې کامرانه السّلام

ما په تا پسې څو واره ځان خنې کهٔ
پیدا بیا شومه له زیانه السّلام

اسمٰعیل دَ سُود مندې په لاره درومه
څم به داسې ترمکانه السّلام





په هجران مې شونډې تورې شوې بیابان کښې
سرې به نهٔ شې چرې بیا پدې جهان کښې


په رښتیا په یار مئین یم څکه ژاړم
جوارې دَ عشق کومه هر میدان کښې

سر او مال مې په یار دَوْ کړهٔ دَ عشق لار کښې
کنه ور شومه بې شانه دې تاوان کښې

پریشان کړځمه دَ هسکو غرو په سُوکو
شین لوګے یمه په یار پسې هر آن کښې

دَ غمونو لوې سیزن پهاتیریږی
همه عمر تیرومه په زندان کښې

کنډ کچکول مې شوګ نصیب دَ یار په مینه
روان ځکه یم په یار پسې کاروان کښې
اسمٰعیل به دَ واعظ د رټنه تل د رومـــــــم
نور په هیڅ چرې زده نه کړم پاکستان کښې



په دُنیا کښې زۀ مدام په انتظار دَ مسیحا یم
بې له دې کله رغیږم رنځور شوے زۀ ناآشنا یم
دَ دارو پیاله زۀ ډکه مدام غواړم دا مې سوال دے
نورې هر څۀ لما هیر کړۀ په پیاله باندِ شیدا یم
دَ کوشش سیمه کښې اوسم دَ مسیح لیدو دَ یاره
دې مقصود پسې دُنیا کښې زۀ مدام لوړه ګدا یم
دَ هجران چغنې ما بې دریغه اولی دا مې ژوند دے
دَ دلدار رضا دَ یاره زۀ پدې باندِ رضا یم
دَ اُلفت چارې اُلفت لوره زۀ داسې پیرشوقی کړم
چې بل هیڅ نۀ شم کولے بس الفت لـره ادا یم
دَ نواز په یارانه کښې مې تن تول په لمبو اوسوګ
اموخته له مودو راسې زۀ دَ هجر دَ سـزا یم
ځان مې تول په پچوا وخوړ ګګ مې جوړ دے په سینه کښې
نور په هم ما داسې اوخوري چې مئین په دلربا یم
په خوار به اسمٰعیل ځان قربا نومه له جانانه
دَ آفتاب رخسار دلاسه زۀ بنۀ روګدے په وفا یم

Scanned by CamScanner

دَ جمال جلال دَ خیال په ټال کړم بره
اوبه نهٔ کړم چرې تیښتنه له دې نمره

دَ یار دړه پسې مدام تلالی کاندم[ل]
ما زده کړې تلالی یار پسې غوره

له ډیر غمه مې دَ اوښکو تالاب جوړ کهٔ
کیله من نهٔ شومه چرې له دلبره

دَ یار مینې ته له حده ډیر لیوال یم
وړو په ورو دَ خوبا دړه ته ځم په بیره

کهٔ صنم مې والضحی مخ راسرګند کهٔ
بیا به ئې لاړ نهٔ شمه زهٔ چرې له دره

دَ یقین په آس سوړلی کړم تیز زغل کړم
رب به ما ساتی مدام له هر خطره

اسمٰعیل به دَ وفا رسې پرېنږدم
کهٔ مې وینې په دې څاڅی له ځګره




ماهِ جبین ماهِ تمام زما دلبر دے
ما زده کړے دَ دهٔ مینه کښې هُنر دے

سپین رُخسار ئې شغلې کاندی پرِستی شوم
پسې دړه ومه زما ښکلے رهبر دے


ل تالی کاندم : ناری وهم

دَخوږې مېنې په لاره تل روان يم
رهنما مې په خوبانو کښې بهتر دے
دَ ګلاب ياسمين خوشبوبه ډېره هېر شي
دلربا زما بې مثله معطر دے
مشکبو زلفې ئې تور پړق وهي له ځايه
دا جانان مې محمدﷺ خيرالبشر دے
له دُنيا نه مې زړه تور که دَ ده مينې
پکښې ډوب اوسم دا مينه سمندر دے
اسمٰعيل چې په خپل يار باندې مئين شوم
له هغې راسې مې هر لفظ بنه جوهر دے



ما هجران په کانړو اولي په صحرا کښې
خوشحالي مې چرې او نه کړه دُنيا کښې
تور خامار مې غوښې خوري زړه ورته ژاړم
چې ترڅو به داسې اوسمه سزا کښې
په خوار دَ پيلې په شان لوګے شوم
قرار نه مومم په ارض او په سماء کښې
وفادار دَ وفا چل ماته را ښائي
همه عمر به تيرومه په وفا کښې
دَ ژوندون هره ګړے په ما قيامت دے
چې به او وينمه يار ګله مُسکا کښې

په لټون کښې مې ګرځيدان تول تار په تار شهٔ
خوږ آشنا تل لټوٶمه په اشنا کښې
اسمٰعيل په تيرهٔ توره تول توک توک شوم
لکه اوس چې ميدانِ کربلا کښې



دَ حيرت په بيابان کښې اوتر ګرځم
سانيولے په ارمان دَ دلبر ګرځم
دَ فرقت غلوزې تل په ما پسې دی
تول ئې اوخوړم دَ مينې په نمر ګرځم
بشارت ته انتظار کړم بيابان کښې
دَ زيبا په مينه هر وخت کسکر ګرځم
دَ محبوب دَ حُسن اور مې په تن بل دے
په لمبو کښې ځکه ډير په هُنر ګرځم
چې يؤوارې کړمه مسحه دَ يار مينې
زهٔ له هغې هر ساعت در په در ګرځم
هر ساعت کښې ملاقات له ربه غوارم
پسې ځکه هر ساعت کښې بهتر ګرځم
دا ادا راته پخوا مينې رابښودې
اسمٰعيل په هميشه لروبر ګرځم

بې اختیاره مې ناري خېژي له فمه
راشه راشه په خوبانو مقدمه
په عالم کښې دِ سیال کوچیر ته هم نشته
په خو واره بهترینه له عالمه
بې دیدنه به مې اوښکې اونهٔ داري
دا وعده مې ده له ستا خنه محکمه
سیخ به ستا په لور روان یمه ترمرګه
یوٗ ساعت له به هم نهٔ شمه بې غمه
هره ډېره مې دَ هجر په اور سوزي
زهٔ دَ صبر پېهي هروخت په ځان بردمه
دَ فراق جور ګړنګ کښې تل اوسېږم
ستا په مینه شومه تا پسې بې دمه
اسمٰعیل به هله دم واخلم دلبره
په اخر وار چې په تا پسې زهٔ مرمه



دَ حیرت په زوٗلنو کښې بندیوان یم
په جانان پسې مدام په هاٸے سوران یم
دَ زینت په اور خو واره بنداره شوم
شین لوګے شومه دَ سپین مخ په ارمان یم

محبت مې ذوالجلال ته ښه منظور دے
ځکه هغسې زه نه يم په بل شان يم


بې پروا به چرې نه شم په دُنيا کښې
ډير مشتاق دَ هغه عمرِ جاوِدان يم

له سينې مې غلبيل جوړ که دَ يار مينې
ځکه يار پسې زړه نوړے له جهان يم

دَ فرقت ميچنې څو واړه اوړه کړم
چيلخا نه کښې بندی کړے خپل سلطان يم

اسمعيل شيرِيزدان له برمه پرې ايستم
ډير مئين په نازنين ګلِ خندان يم

—————✻—————



دَ جانان په توړو سترګو مئين شوے له پخوا يم
دَ زينت په لمبو سوزم دَ احسن دَ دړ ګدا يم

مدنی دے قريشی دے زما زړه ئې ځان ته وړے
ځې له سترګو مې رودونه بل څه نه يمه ژړا يم


هرساعت مې ځکدن دے دَ جانان ارمان کومه
زه طالب دَ دې مطلوب يم له دُنيا ځکه جُدا يم

زه دَ غم ځانګو کښې ناست يمه دَ غم تالی وهمه
دَ کوشش په غشو لګم ځکه داسې وار خطا يم

له بُلبله مې دَ هجر چل زده کړے برابر دے
ځکه داسې په اشنا پسې مدام زه په غوغا يم


اِیلمٛ[1] زړهٔ مې دَ یار مینې ټول زړې زړې کهٔ خلقه
دَ جانان رضا دَ پاره په دې برخه ډیر رضا یم
اسمٰعیل یه په دُنیا کښې داسې ولې پریشان نهٔ یم
چې جُدا له مودو راسې زهٔ له ښکلی دلربا یم

⁂



موده اوشوه چې مې یار لیدلے نهٔ دے
بیا مې هغسې بهار لیدلے نهٔ دے
چې یوٗ وارې مخ را اوښود بیا ئې پناه کهٔ
ما لا بیا هغه رخسار لیدلے نهٔ دے
تور زلفان ئې وو په ډلو خوارهٔ کړې
ما تر اوسه بیا سنګار لیدلے نهٔ دے
د واړه لاسه چې ئې زما مخ باندې را ښکهٔ
بیا مې هغه خوشبودار لیدلے نهٔ دے
اسمٰعیل ورپسې هر وخت ماتم کاندم
ما لا هغسې چمکار لیدلے نهٔ دے

⁂



زړهٔ مې ورچنه په یار پسې وتلے
هائے افسوس دے کهٔ یوٗ وارې[2] وے موندے

---

[1] اِیلم : دَ یوغر نوم [2] ورچنه : بهر

سر کړ دانه پسې ګرځي بیابان کښې
په نقاب کښې تړیپ شوے دے بنا غلے

ورته هر وخت هم داوایم شا به دوکړه
ځکه هر وخت پسې یون کړي سانیوے


له نسرینه به دے چرې صبر نهٔ شي
دَلالا په شان دَ یار مینې داغلے

په برین اشنا مئین دے ځکه ژاړي
داسې بل زړهٔ چرې نهٔ دے ژړیدلے

کوم طبیب له چې دے دروڅي په تنو پوتو
دې طبیب په سرو لمبو دے سوځولے

اسمٰعیل ته کهٔ غمازه څو یائي ویله
دَ یار مینه چرې نهٔ شي پریښودلے





په عالمو کښې له تنو نه بهتره
لتا زاره شمهٔ زیبا شمس و قمره

همه تن مې ستا دَ مینې لمبو او سوهٔ
راشه راشه اے زما لختِ جگره


زهٔ به څو داسې غمژن په دُنیا اوسم
ستا دَ یاره مې دُنیا پریښې دلبره


ستا دَ وصل خوارهٔ غوارم له خدایه
مدام تیریه په تا له مال و سره

زهٔ به څنګه بې غم خویه شم دُنیا کښې
چې ستا سترګې مې دی تیرې له نظره

همیشه به غمزده تا پسې ګرځم
وابه نهٔ وړمه دَ مینې له هنره

اسمٰعیل دِ په فرقت کښې هنرمند شوم
دیا ر څکه پیغام ما له راوړی غوره





یار به راشي پرِ زما پوره یقین دے
کهٔ ډیر دور دے زما زړهٔ کښې همنشین دے

پسې هر وخت یم په منډه بل څهٔ نهٔ کړم
تسکین نشته ما له دغه یوٴ تسکین دے


په یوٴ وار جلوه ئې لما کوه طور چور کړه
ارمانی ډیر دَ هغهٔ یم چې تک سپین دے

په خزان کښې دَ بهار په طمع ګرځم
زهٔ بورا هغه زما ګل نسرین دے

په وفا بانډِ عادت یم جفا نهٔ کړم
دلربا مې خوبرویانو کښې حسین دے


سرهٔ ګلان چې ئې مقندیان دی راسې ګل دے
هر یوٴ ګل ئې هر ساعت کښې تماشبین دے

اسمٰعیل به په زړګی ولې شین نهٔ یم
چې شین خال مې آشنا ایښے په جبین دے



دَ برینِ حَسین په مینه همه غم شوم
حیران ځکه په هر دم اؤ په قدم شوم
زړهٔ مې یار پسې وتلې هر ځائې ګورې
په دُنیا کښې زهٔ ګذار په جهنّم شوم
دَ یار مینې ډیر دانا کړم کمځې نهٔ یم
په لټون ځکه زهٔ هر وخت دَ صنم شوم
دَعلیؓ شیریزدان په دُعا رنګ یم
ځکه یار پسې په زړهٔ قلم قلم شوم
دَ زیبا له هجره هر وخت وهل خورمه
په داچاره ئې په دَر کښې محترم شوم
دَ کاهلؔ لوئې طوفان ځنه عادت یم
له ډیرغمه زهٔ ګویا په ترنّم شوم
ماته هر ساعت په ځان کښې دلبر ښکارې
زهٔ خپل ځان لره په مثل جامِ جم شوم
اسمٰعیل به همیشه یار پسې ژاړم
دَ بورا په شان خزان کښې په ماتم شوم






کوم ساعت چې مې دیدن دَ یار کولو
دې ساعت کښې فراق وار اوتکولو

له ناکامه مې ورلړې که فراق ته
دواړه ورغلو ښه سخت په پرهر ولو
لا کشتي زموږ ره هغسې جاړې ده
په څو واره ئې زه مړ کړم په وهلو
چې مې مړ کاندې کشته له بیا را پاسم
او به نه کړم چرې نیت د تښتیدلو
ترمرګي به پیر مرکونه په ما تیرکه
را کوی سزا د یوه وار د کتلو
د جناب یادو مې زړه همه پولے که
تن مې او سیزه همه د زړه سیزلو
اسمٰعیل د مسیحا په لور کاته کړم
مسیحا پسې مې تیک زړه اوچودلو






د زیرک ملّاح بیړۍ کښې سفر کاندم
بل څه نه کوم رضا د اکبر کاندم
ډ رنګ ساعت له به ساحل باندِ اوداری
ترهغې به انتظار د دلبر کاندم
په دلبر پسې مې زړه شه تول تنراکې
پسې ځکه زه زیرکۍ په هنر کاندم
په نمکین مخ ئې مئین یم ځکه ژاړم
صفتونه به د ښکلي بشر کاندم

تسلسل به چرې پرېنږدم دَ يـادو
زهٔ به داسې غـلامي دَ سرور کاندم
کهٔ زهٔ هرڅو دَ فرقت په غشو لـګم
دَ يار مينه به زهٔ شام وسحـر کاندم
اسمٰعيل په محبّت کښې مـرنے يـم
ځکهٔ داسې تنداري لـروبـر کاندم





پيښ شوم دَ هجران په تور خامار باندِ عالمه
ستي شومه په اور دَ انتظار باندِ عالمـه
چيرته به عناب[1] شنډې بيا اوکسم چې سپ[2] يې کړم
تن مې تول کباب شهٔ دې روزګار باندِ عالمـه
کله به راڅوځم دَ بيلتون له کندې ورچـنـه
څوبه داسې ايښے يم انـکار باندِ عالـمـه
دَ رنګ دَ خوشحالئ مې چيرته اونهٔ ليد خفه يمه
شيدا يمه دَ ګل په شان رخسار باندِ عالمه
درد دَ اسمٰعيل دَ زړهٔ ډيرېږي ورو په ورو پسې
له حده تير عاشق دے په خپل يار باندِ عالمه




[1] عناب : مړ خنړے [2] سپ کول : بشکلول

بنهٔ پوهیږمه په مینه ماشوم نهٔ یم
زهٔ عاشق په دلربا تش په نوم نهٔ یم
مینې ځان په ماله وخته پېژندلے
زهٔ غافله یوٌ ساعت له قیوّم نهٔ یم
توري زلفې به مې چرې هیرې نهٔ شي
هیروُونکے زهٔ دَداسې هجوم نهٔ یم
مینې لوړ لوړ زهٔ عالمو ته سرګند کړم
په دې پوهه یم پوره لا معلوم نهٔ یم
اسمعیل دَمینې کار کښې سخا کاندم
په دې شکر دے چې مینهٔ کښې شوم نهٔ یم

ذوالجلاله دا دُعا مې کړه منظوره
نجات راکاندهٔ دَهجر له ناسوره
همیشه دَیار دیدن زما نصیب کړه
رحم کاندهٔ په ما هر ساعت غفوره
هر ساعت مې ربه مینه سیوا کیږي
آئینه کښې راته ښکاري یار له دوره
همیشه به په آئین کښې دهٔ ته ګورم
زړهٔ زما کله صبیرېږي له دې نوره

اسمٰعیل ځکه مدام هجران یادومه
کړه هجران په ما ویرانه اکبرپوره





دَ وفا په سمندر کښې دَ وفا په لوړ روان یم
دَ وفا بیړۍ کښې ناست یم ارمانی دَ خپل جانان یم
دَ هجران له طوفانونو څخه هیڅ کولے نهٔ شم
بیړۍ اوزیلم خلقه ځکه داسې په لړزان یم
مابه دعشق زلې څې مې څو وصل شوے نهٔ وی
زهٔ به ولې داسې نهٔ یم چې مئین په عالیشان یم
زهٔ دَ غم غزلې ځکه داسې لیکم دې سفر کښې
چې زهٔ خیله له ازله دَ غمونو بیابان یم
هرساعت مې دَ غمونو شکوړ بشهٔ ډک مځې ته پروت وی
په تمیز ترِنه خوړ دن کړم همیشه په داسې شان یم
په غمونو مې حلق تریخ دے خوا ږهٔ غواړم له خدایه
کهٔ خواږهٔ دَ دیدن راکړی بیا به هروخت کښې خندان یم
اسمٰعیل ژړا کوُمه چې خندا رالله رب راکړی
خامخا یه مې نصیب شي په رښتیا په هائے سوړان یم



ښوبه داسې بې پرواله دلـبر کړې
ډیر خفه یمه په تا چې اوتـر کړې
دَ فلاح بیړۍ کښې کینه یار له درومه
بیله بوټه به ترڅو دره په در کړې
دَ ملاح ځنه یاری کړه یار دَ پاره
بل څهٔ مهٔ کړه چې دَ مزکې په سر کړې
سرهٔ ګلان دِ دَ بوستان ولې په هیر دی
چې به کله په لټون دَ صد بر کړې
دَ جانان مینه کښې توری شه په هجر
صبح و شام به بیا تهٔ ډیر په هنر کړې
دَ دُنیا په مینه مسته غمزده شه
په دُنیا کښې به دَ هجر په نمر کړې
اسمٰعیل دِ په داچاره غمزده یم
دا خوتهٔ ئې چې لما نا خبر کړې

بې خودۍ کښې مې پرې نهٔ خودهٔ ستانام
هر ساعت ئې زوتوم په احترام

---

۱ بیله بوټه: یک یواځې ۲ توری: رانجه

وړد د بل څهٔ به او نهٔ کړم چې ژوندے یم
اے آقا تا به یادومه صبح وشام


یؤ ځپیو کے مې زړهٔ بل څوا نهٔ ځاړ اوځي
مشرّف یم له پخوا پېدا انعام

زړهٔ مې تا ته دَ اُلفت په سجده پروت دے
نهٔ جلسه کړي نهٔ قعده اؤ نهٔ قیام

سرې چود دے ځکه سرهسکوے نهٔ شي
دائې حال شهٔ چې یؤ واړ دې شهٔ غلام

په ځلکو ځلکو سجده کښې ژړا کا تدی
بل څهٔ نهٔ کوی هم دا دے دَ دهٔ کام

اسمٰعیل کوکې وهمه زړهٔ دلاسه
چې به څو یم نا خبره له انجام



دَ هجران په بیابان کښې دَ حرمت بازار لټومه
غرض نهٔ لرم په بل څهٔ یکښې ځان له یار لټومه

زهٔ په یار پسې رتتؤړ یم یار دَوا ده ما دَ یاره
توره شپه کښې پسې کرځمه تک سپین سحار لټومه

لوند کریوان په مې اوچ نهٔ شي چې مې وصل شوکے نهٔ وی
دَ بورا په شان خزان کښې همیشه بهار لټومه


خبر نهٔ یم چې مې اوچ وُلی کښې رب بیکلی څهٔ دی
زهٔ یه څو داسې کلانو پسې سوړ انګار لټومه

دَ دلبر وَصل دَ پاره زړه فراق یم ټوټې کړے
دَ بلبل په شان چغیږ مه حسین مالیار لټومه

زړه دَ عشق په کار بندی یمه دَ غم په جیلخانه کښې
جیلخانه کښې هم له غمه زړه دَ غم دا کار لټومه

اسمٰعیل په دَ نګار دړ کښې رګ[1] وړوغ شمه عالمه
ځکه هر وخت زړه ځپل ړنځ لره زیبا نګار لټومه





چې مئین زړه په زیبا ګل صدبر شوم
زړ ګذار بیا دَ فراق په سمندر شوم

حیران کُن کرشمه بحر کښې جوړ نړه
بنه پوهیږم په دا چاره قلندر شوم

غنچه مار لامبوزن ځکه زړه بیا دیږم
چې کوز بحر ته دَ غم په لوئ کودر شوم

دَ آفتاب مهتاب سائې پکښې لیدے شي
یسې پور ته کله تلے شم بې هُنر شوم

زړه په بحر کښې متاز دَ وَصل اوسم
همیشه دیرار مانی دَ ځپل دلبر شوم


عزرائیل ته انتظار زما ژبې کړه
ځکه داسې دَ دُنیا نه لاس په سر شوم

---

[1] رَګ : جک جوړ


اسمٰعیل به دُنیا څهٔ کړم چې یار نشته
زهٔ په یـار پسې له حده نیرکسکر شوم





دَ رخسار ګذار مې زړهٔ زرې زرې کهٔ
بیا ئې ځان پسې بیرون زړه له سینې کهٔ
سمدستی ئې پرِ اور پورې کهٔ صحرا کښې
همه عمرئې دَ اور په حوالې کهٔ
په اور سوزی دَ فهیم دلــبر دلاسه
پسې دروم بنهٔ ئې عادت په اشارې کهٔ
دَ دلبر دَ در په لوړی تل روانــ دے
هرساعت ئې دَ بنګلا په ننداري کهٔ
ننداره له ورایه کاندی پسې ژاړمې
بنهٔ پرِ پوهه یم بهرئې له خطرې کهٔ
دَ غماز لمسون ئې هیڅ کوٓلے نهٔ شی
یار بلد داسې په خپلې میکدې کهٔ
داسې زړهٔ به دَ جانان ولې خوښ نهٔ وی
اسمٰعیل چې ئې ګذار له ټاترې کهٔ





له عظیم اوره مې زړه بانډ اوربل دے
کسکو شوے پړ زما د زړه رحل دے

د فراق تاؤ مې زړگے همه پوخ کړے
د یار وصل له رحل پوره انډول دے

بیلتانۀ مې همه تن ټکوستړے کۀ
دۀ تیر کړے په څو وار په ما اجل دے


لا مې هغسې وژل که صبر نۀ شۀ
بندوبست ئې راته کړے مکمّل دے

د یار مینه چې څوک کاندې دا به ئې حال وي
لکه څنګ چې پرستي زما کوکل دے

تل ترتله به د یار مینه زۀ کاندم
کۀ هرڅو مې هر یو هډ پړ بانډ دَل دے

اسمٰعیل د آشنا مینې دیوانه کړم
په لیار سیځ څمه آشنا له رب مې مل دے






د هجران په کوتل خیژم سانیولے
د ربیار په خلۀ اشنا یمه سبلے
زۀ ځیل ورایه دلبر زړۀ کبنې درون کسم
همه تن ئې په جلوو راله سیزلے


زۀ دَ عشق دَ قانون هر ساعت ما تحت یم
مدام لره په رونړ تندي منلے
دَ بیلتون زو زان مې هر وخت زخمي کاندي
داسې غم مې چرې بل نۀ دے لیدلے
دَ اشنا په لور به شپه اوٌ ورځ روان یم
دَ وفا په رسو کلک یمه ترړلے
احترام به مې دلاسه چرې نۀ اوځي
ډیر په فخر یادومه خپل ښاغلے
اسمٰعیل دَ محترم یار ے پتې کړم
په څو واره مې پرِ سر اوٌ مال بائیلے





ستا مژګان زما په زړه کښې دي پیلي
ډیر عالم دِ پداچلے ځان ته بللي
دَ وفا هم دا قاعده ده وفا داره
فریادونه مې په سر سترګو منلي
له فریاده به خلاص نۀ شمه تر مرګه
کۀ هډونه مې هر څو دې سوزیدلي
اے دلبره تا یه چرې زۀ هیر نۀ کړم
ستاله رویه مې شراب دَ مهر څښلي
دَ همؤ مهرویانو دَ سرتاجه
ډیر عشاق په تورو غرو ونا پسې ستلي

مهرویان دِ تول دَ حُسن صفت کاندي
تول په تا پسې کړېږي نازولي
اسمٰعیل دَ دار په سر تا پسې ژاړم
په دې وخت کښې ما په شان څوک ژړېدلي



ستا رُخسار مې له مودو راسې پسند دے
زخمي زړګه مې پورې هر ساعت پیوند دے
په نقاب کښې راته نه مدام بنکاري
توره شپه کښې دَ مهتاب په شان سرګند دے
تورې سترګې به دِ چرې هیرې نهٔ کړم
له پخوا راسې مې کړے دا سوګند دے
سلطنت درله الله ج بناسته در کړے
هر عاشق دِ په هر ول دَ زلفو بند دے
ستا له مینې به عشاق څنګه جار اوځي
ترخلې شوے چې ئې ستا دَ مینې خوند دے
په فراق پسې دَ وصل انعام اخلې
قبول کړے څکه دوئي دَ فراق ژوند دے
اسمٰعیل دَ فراق غشو تول زخمي کړهٔ
مسیحا ته څکه شپه ورځ مشتقمند دے

○

زۀ به څو ستا په رخسار پسې کړېږم
اے دلبره لتا چرې نۀ صبرېږم

دَ فرقت ځانګو کښې ناست یم تا یادومه
خبر نۀ یم چې ترکومه به ژړېږم

شان شوکت به دِ لما چرې هیر نۀ شی
ستا په مینه به همه عمر سوزېږم

ستا په باغ کښې باغبان له ربه غواړم
دَ فراق په اغزو ځکه زخمی کېږم

دَ عشق چارې کړه خدا لما نه هیره
بې له وَصله به زۀ چرې نۀ خندېږم

دَ هجران په ژړندہ دیر کرَنه دَل شوم
خدائے زده چې زۀ به څو داسې دلېږم

اسمٰعیل به دِ غزلو کښې تل ستا یم
ستا دَ حُسن په صفت کله مړېږم




○

په نصیب مې دَ غمونو ترانې دی
ما زده کړې ستا دَ حُسن افسانې دی

هر یوهو مې افسانې خپل ځان ته یائی
سیوا شوې زما ځکه اندیښنې دی

دَ هجران په زولنو مې غوښې شينې شوې
رسيدلې مې په برخه زولنې دي
ستا دَ عشق سرطان مې زړه همه قبضه کړه
ما چيچلې دَ هجران ترخې نيښې دي
اسمٰعيل دِ ديدن ځکه له رب غواړم
دا هم تا کړې په ما داسې کانې دي



چې ګذار دِ څوک دَ عشق په تناره دي
همه عمر ئې ستا لارې ته کاڼه دي
هميشه هم ستا دَ حُسن صفت کاندي
دَ بلبل پشان سورې سورې په زړه دي
ستا يارې کښې پاک دامن شوه ستا له رويه
سوزيدلې په انګار دَ بيلتانه دي
ستا له رويه ستا په روئ پسې ژړيږي
ستا له رويه ئې هير شوې خنديده دي
ټول عشاق دِ ډير ليواله دي ديدن ته
له دُنيا نه ځکه هر ساعت ماړه دي
اسمٰعيل ستا دَ ديدن په طلب ګرځم
په نصيب مې ځکه داسې ژړيده دي

دلربا مې خوبرويانو کښې سردار دے
روان څکه مې له سترګو نه آبشار دے

درست جهان مې پسې لټ په لټ کۀ خلقه
ځان پټ کړے په نقاب کښې لما يار دے

هرساعت پسې ګرځيږم بل څۀ نۀ کړم
مقرر راله ځايه دا رفتار دے

په خنجر مې همه تن پوتې پوتې شۀ
ازما سِلے ئې خنجر په ما بار بار دے

دَ تقدير په زولنو کښې بنديوان يم
صبح وشام سلطان يادومه دا مې کار دے

له هجران څخه يارے زړې زړې کړم
هر ويختۀ مې له غمونو خبردار دے

اسمٰعيل دَ غم په ټال جوتې وهمه
په نصيب کښې مې دَ فکرونو انبار دے



په سينه کښې مې دَ مينې اور بليږي
دَ تن غوښې مې پرې وروبه ورو وريږي

خوشحالي مې چرته اونۀ ليده خلقه
دَ هجران تندرونه هر وخت په ما لويږي

تول زړګي مې په لمبو رنړې پورې شه
چې په څو داسې په يار پسې ژړېږي

د ړون اَنبار دَغم زما په ولو پروت دے
ورځ په ورځ په دلربا پسې د ړنديږي

ما دَ اوښکو ستر تالاب له غمه جوړکړه
اصطرلاب[1] کښې پکښې يار راته ښکاريږي

دَ يار مِهر کرم ماهر مِهر دَ پاره
صبح وشام مې سپين رُخسار ځکه ياديږي

اسمٰعيل دَ دلبر مينې مستانه کړم
ماله دا مستي دې مينه کښې ښائيږي

لږ ساعت له دِ هم نهٔ شم هېر ولے
په زړګي باندِ دې داسې يم داغلے

ستا دَ مينې سرمايه لرمه زړهٔ کښې
په مژګانو دِ په زړهٔ يمه ويشتلے

دَ فرقت زنځير دِ زړ زړ لما وورټ[2] کړه
په ديدن پسې دِ خواب لما تخلے

خوشحالي به څنګه اوکړمه دُنيا کښې
هر اندام چې مې دَغم منګوړ خوړلے


---

[1] اصطرلاب: يوآله چې پرې دَ نمر او ستورو بلندي او مقام معلوميږي.

[2] وورټ کړه: پرانځه


همه تن مې دیا داشت دریاب کښې وروست شهٔ
له پخوانه دَ فراق زمبې توکلې
له دُنیا نه ناخبر کړ رحم دُنیا کښې
زهٔ په عشق یمه دَ عشق بام ته ختلې
اسمٰعیل دَ عشق له بامه سوړې کاندم
په سورو مې سورې زړهٔ دې راوتلې





ستا دَ حُسن ننداره کړم څکه داسې پیر سوخته شوم
زهٔ به ولې داسې نهٔ یم چې عادت په میکده شوم
له ازله مې په برخه سوختګي ده رسیدلې
ستا دَ هجر په لمبو کښې یوه پټه خزانه شوم
ستا یادونه مې خوړدن دې په دې پاتمه دُنیا کښې
ستا دَ یادو له کبله زهٔ په مزکه ستاره شوم
ستا دَ زلفو په کړو سوړې پسې ګرځم دَ عشق نړته
زهٔ مدام تا پسې ژاړم بل څهٔ نهٔ کړم دیوانه شوم
هر ساعت دِ توړې سترګې یادومه په ژړا کښې
افسانه دِ زده کومه پرېښله افسانه شوم
دَ بُلبل ناړې مې زده دي په زړګي باندِ غلیل یم
اے مالیاره تا به ستا یم ستا دَ عشق نښانه شوم
لوټې انبار دَ بیلتانهٔ مې په سر ایښې دے ستا مینې
اسمٰعیل دِ په دیدن پسې څو وار زړه زړه شوم

ستا په مینه زما ټول هېر وته دل شوګ
ستا د در په لار مې ډېر غمونه مل شوګ
د هجران پکړو تن زما ستې کړ
هر ساعت مې په نصیب کښې سوزیدل شوګ
ستا د مینې کاروبار نه ډېر حیران یم
ډېر عشاق کُته په خلهٔ درته لل ګل شوګ
تورې زلفې دِ په مخ خورې ورې دي
مئین زړونه پرِ بندي په هر یو ول شوګ
محبوبا تا په یادومه چې ژوندے یم
په دنیا کښې زما کار هم یا ذول شوګ
ستا په عشق کښې په غمونو کړکړ ځم
هم په تا پسې مې هر وخت ګرځیدل شوګ
اسمٰعیل به ښنګ ستا مینه پټه کاندم
چې ښکاره زما حالونه په غزل شوګ



زړه مې چود دے زړه د سپین مخ په ارمان یم
مئین شوے په ډېر ښکلی عالیشان یم

ل پکړه : آشر ل لل ګل : حیران

زهٔ دَ هجر طوفانونو یم نه سیلې
لا زړې مې ځکه ډیر په هائے سوران یم


له تا ترسه ګڼدارونو څخه مخ یم
په کوتل په پوره خیژمه ناتوان یم

آرام ګاه ته په یوۀ وارې ضرور رسم
دَ معشوق په شاباشي پوره ته روان یم

دَ شاباش ندا په غوږو هر وخت اورم
زهٔ مست کړے په ندا باندِ جانان یم

دَ مهتاره دیدن ته هر ساعت لیوال یم
په هر دم اوۀ په قدم ترِنه قربان یم

اسمٰعیل په داسې بیا بیا قربانیږم
زهٔ پیدا دې قربانوله په جهان یم



دَ تسکین په ګلستان پسې مدام پورته روان یم
یوۀ بې مثله فضا وینم پکښې خپل ځان ته حیران یم


زهٔ دَ مینې په زور ډیروم بې له دې نۀ شمه تلے نه زهٔ
مئین شوے له پخوا راسې په ډیر بنګلی جانان یم

زړ به اورسم وخت لږ دے خو دا لږ راته اوږد شوے
دَ مینتُوهم دا حال وی لکه زهٔ چې په سرزان یم

ورو په ورو په داسې حال کښې نزګیږمه دلبر ته
رسیدلے له پخوا ته دَ غمونو تر آسمان یم

چې په کومه ورځ آسمان ته راختمه زۀ له کېڼه[۱]
هم له هغې راپه ډېخوا دَ کلونو په ارمان يم
دَ آسمان حد کښې روان يم ترمرګې په پکښې يون کړم
زۀ دې غم له غمه خلاص کړمه مريد دَ پهلوان يم
دَ وفا يرې مې ستړې دی په دې شکرګذار يم
اسمعيل دَ يار په مينه مړه خوا له دې جهان يم

—— ※ ——




په طلب دَ مسيحا له پخوا ګرځم
په خندا پسې مدام په ژړا ګرځم
دَ هجران انګش مې څو وار ورمين غش کۀ
تورلاشيه کښې پسې زۀ په يوسا ګرځم
قوانين دَ ديدن سخت دی تول زخمې شوم
څوک مې نۀ کسې زخمونه تنها ګرځم
په جانان پسې له ځان څخه ګوريږم
څکه داسې په دُنيا کښې دانا ګرځم
خوږ آشنا پسې مې هر وخت زړۀ خوږيږي
خبرنۀ يم چې به څو په صحرا ګرځم
حقيقت مې هر يوهر زرې زرې کۀ
صبح وشام زۀ دَ حکمت په امسا ګرځم

---

۱ له کيه : له ښکته

اسمٰعیل لکه پتنګ شمعه لټوه
چې ترڅو به په ارمان د رڼا ګرځم



په خپل رب باندې پوره پوره یقین کړه
د اتور زړه دې د وفا په سیمون سپین کړه

یو ساعت هم قدردان محبوب هیر نه کړې
پوره ته درومه ځان محبوب ته بنده برین کړه


له سینې دې کینه لرګانده په مینه
هر څه پوره ته ګنړه ځان ورته زمین کړه

په رښتیا عبد سبحان شه دروېغ پریږده
په دا چاره ځان رښتونې ته حسین کړه

لکه برق به پړق وهې په ګلستان کښې
له دې ځایه ځان د یار د لاس نګین کړه


له تریخ خویه زړه تر زړه ځان فارغ کړه
په شیرین پسې دې خوئ دلته شیرین کړه

له غلیم څخه مدام مشت وګریوان شه
اسمٰعیله د نیکئ هر وخت تلقین کړه



لاس له بدو نه زړ واخله نیکو کار شه
دَ کړنګ په لوري مهٔ دړومه په لار شه
سینه لوُسه کړه دَعشق تیرهٔ شمشیر ته
همه عمر مسیحا پسې بیمار شه
چې له مینې به ناجانړه ترڅو کړځې
تل په حُبْ پسې دَحُبْ په آس سوار شه
خاوړین لوښیه ولې دومره تکبّر کړې
ځان کنُدن کانده دَیار دَغاړې هار شه
له الله ج نه صبح وشام کوړے بوګنیږه
په څو واره ګې په لاره کښې نثار شه
دَ دلبر په طفیل تل بخښنه غواړه
تابعدار دَ محمّد خیر الابرار شه
اسمٰعیله څوک خفه نهٔ کړې دُنیا کښې
هر وګړي له هرآن کښې خوشګوار شه





یار موندے شي خو په لار دَ صداقت
بې له صِدْقه چاله نشته دا نعمت
دَ صِدْق لار څهٔ پټه نهٔ دهٔ ښه ښکاره ده
شا به زړ کانده پیدا ځان کښې همّت

ړوکے نۀ ئې دَ خوبدو تميز اوکړه
ولې ځان اړے په زور په مصيبت


بدو چارو پسې شپه ورځ چابک ګرځې
نيکو چارو ته مدام کوې نفرت

اے ناړامه دَ خدائے په خاطر سم شه
روان ولې ئې په لار دَ هلاکت

دَ بُلبل په شان ماليار باندِ مئين شه
صبح وشام نارې وهه دَ محبّت

اسمٰعيل هم دَ بُلبل په شان مئين يم
بندی شوے يم په بند دَ طريقت





ستا دَ حُسن په مکتب کښې سبق وايمه زيبا
دَ ربچو په ځيرا وړهٔ شوم دَ بيلتون په آسيا

ستا دَ حب دَ اورې نمرته ذوالجلال يم غوړولے
نور مې هيڅ هم پکار نهٔ دی غواړم زۀ دَ رب رضا

له فراق څخه عادت يم دَ وصال په ګلستان کښې
په عالمو کښې ګډ اوسم له عالمو نه جدا


چې په تا باندِ مئين شومه هر څۀ راته ګلان شوۀ
زۀ ئې مدام کسم له وړايه پسې کاندمه ژړا

ستا په څخ مې دنيا پريښوه مخ دِ هم راته پټ کړے
عجيبه دنيا کښې اوسم چې دُنيا ده کهٔ عقبیٰ

له پخوا به مړ شوے په څو وارکه بیا بیا مړ شوم
لاش مې هر وخت کړځیند که دے له زمیته ترسماء

اسمٰعیل د ستا په مینه سوګند کاندمه دلبره
چې مدام لره به تا څخه کومه نړه وفا

—— ※ ——



د هجران په کټو لوټو دې سنګسار کړم
د یار مینې له دِ زړه په دې مالدار کړم

نور مې هم سنګسار وې دا دِ عادت دے
په څو واره دِ دلدار پسې په دار کړم

په دلدار پسې مدام ګوشه نشین یم
ترمرګې پورې به دا سې یم اقرار کړم

په سکروټو مې داغې دیدن د یاره
په فریاد کښې ارمانونه د مالیار کړم

د زیبا د مخ ارمان به ولې نه کړم
چې د یو وار په کاته څخه ئې خمار کړم

چې مې زړه د جا په عشوتول سوړے دے
د هغه په مخ به تور هم ځان نثار کړم

اسمٰعیل د هجر توان لرلے نه شم
ستا په فضل زړه دا مینه د نګار کړم

—— ※ ——

د یقین په ستر محل کښې تل اوسیږم
د بلبل په شان ناري وهم ژړیږم
د رفیق د یار اړي توتې توتې کړم
نو مې هم توتې کوی ځکه بوکنیږم
د یقین محل نه ورځنه زړه نه ځم
همیشه د فکر تال باندې ځانګیږم
د یار مینې دیوانه کړم په فکرونو
ځکه هر ساعت له ځان خفه وسیږم
نوراني ماهِ تابان له یرمه پري ایستم
خبر نه یم چې په څو یسې کړیږم
د ژوندون هره لمحه په ما قیامت دے
نه ژوندے یمه دې حال کښې نه مرکیږم
اسمٰعیل د عشق لمبو همه ستی کړم
تردید نه په زړه داسې ستی کیږم



لاهو شوے یم د حُسن په دریا کښې
ډوب اوسیږمه طلب د مسیحا کښې
د وروغتون په لوړ زوان یم فریاد کاندم
داسې ګران ژوند تیرومه په دُنیا کښې

د فراق په اغزو تول زخمي زخمي یم
یاد ووم صنم مدام په هره سا کښې


د زیبا نګار په مینه باندې پا یم
لټومه تل رضا د یار رضا کښې

د یار مینې زړه د زړګي په تول اخته کړم
یار مې را کړه ماله ډیر څه دې ادا کښې

د مجنون په شان جانان پسې ژړېږم
سپین رخسار له ورایه ګسم په ژړا کښې

اسمٰعیل په له نزد و دیدن او کاندم
دا تحریر لولم د هجر په قلا کښې





د صنم د نور و سترګو په ارمان یم
ګرځیده پسې مدام په بیابان یم

تول ګریوان مې په نوکو او شکولوند خوشت که
خدائے ژړه چې په ترخو زړګي په لړزان یم


بیرندے بیرندے دروم د یار دره ته
ډیر زړګه چودے له پخوا له دې جهان یم

د یار دره ته په رمنځ کا سینه دروم
ارماني د هغه عمر جاودان یم

خارستان کښې په هنر ږدم قدمونه
زړه بلبل د هغه ښکلي ګلستان یم

همه عمر مې خزان زېږي بهار له
دلربا پسې مدام شېرې کړيوان يم
اسمعيل په خنديدو څنګه اوکاندم
چې د يار د تير وغشو زخم نښان يم





په نصيب مې ډېر غمونه رسيدلي
په لټون هميشه ګرځم د ښاغلي

جدائې مې په زړګي کړې ګيندې تيرې
راحتونه ئې تر همه واړه شړلي

د غمونو طائفې مې زړه کښې اوسي
نور غمونه ئې هم ځان ته رابللي


د سنګين فرقت دلاسه خوار وزار شوم
ځائې په ځائې شوه جوړ په ما د خاورو غلي

مئين شوے زه د حسن په بادشاه يم
په دې اور باندې ډېر خلق دي سوزيدلي

تول زړګے مې بيلتانه سورے سورے کړه
راسې زړونو ته وشلے شي باشلي


اسمعيله د عشاقو هم دا حال وي
ارمانونه ئې پس له مرګه رشيدلي






ستا په مینه دَیادونو سمندر شوم
دَ ارمان په طوفانونو در په در شوم
لکه ورېږے دَ هجران ډاډه کښې پروت یم
لاس را اوږد کاندہ پتا پسې کسکر شوم
خوشحالي دِ زما زړۀ نه ده تروړلې
ځکه داسې ډیر زخمي دَ زړۀ په سر شوم
په پوکومې ځان پچپله شین نو کے کۀ
اسویلي مدام کومه بې هُنر شوم
په استازي مې یقین دے زر به راشي
زړۀ بنۀ پوهه اوس دَمینې په منتر شوم
ستا رُخسار مې په چشمانو کښې غریږي
ځکه تا پسې له حده تیر اوُتر شوم
اسمٰعیل چې دِ نا ساپه دیدن اوکړم
بیا په تا سره مدام یمه خبر شوم





په چراغ دَعشق مې زړۀ سوزي مدام
تا را کړے دے دا اور ماله انعام
ذوالجناح نۀ یم چې والوزم دلبره
چې دِ دره شم داخل په احترام

له مودونه زړه دَ غم ځانکوکښې ناست یم
یوٙ ساعت مې هم اونهٔ مونده ٔ آرام
دَ غمونو په ټوکا ټوټې ټوټې شوم
یم په زړه سوړ ے شورے ٹکه بادام
ستا یادونه مې په زړهٔ کښې منجمد دي
یادومه دِ صنمه صبح وشام
خوشحالے سره مې هیڅ واسطه نشته
یمه نښتے ستا دَ زلفو په لوئے دام
اسمٰعیل ته چې دِیوٙ وار کاتهٔ اوکړهٔ
سرومال ئې کړهٔ دلبره ستا په نام



چې دِ مینه زړهٔ کښې نشته انسان نهٔ ئې
مئین ولې تهٔ په ښکلې جانان نهٔ ئې
دَ روپوش جانان تلاش کښې ولې نهٔ اوځې
اے نادانه دَ سپین مخ په ارمان نهٔ ئې
بې هوده کارونه وِیله[ل] سنجیده شه
ځیلو بد وبادِ ولې پښیمان نهٔ ئې
عندلیب غوندِ نارې دَ مینې زده کړه
ناخبره هیڅ خبر له بوستان نهٔ ئې
نابینا دَ عشق عنوان لیدے نهٔ شې
مستحق به څو دَ عشق دَ عنوان نهٔ ئې

ل وِیله ، پرېږده

چې مېن نه ئې خدائېګو دامې واوره
نژهنې پورې به دوست دَ سبحان نه ئې
اسمٰعیل وایم دَ مینې طلبګار شه
پس له مرګه چې توانګرۍ[1] ناتوان نه ئې






دَ هجران له ویرې ریمه هجران کښې
لټومه دلربا په بیابان کښې
په زړګې کښې مې دَ غندې ستن لوتې
ما په شان غمزده نشته په جهان کښې
په جانان پسې به زړ ته زړ نه[2] ژاړم
بې له یاره مې نور هیڅ نشته بیان کښې
له چشمانو مې هر وخت کُرم[3] بهیږی
خبر نه یم چې به څو یمه ارمان کښې
دَ یار مینه به درندو کاتړو تلے شی
رب راکړې لویه برخه دَ مېزان کښې
شاهي څهٔ کړم فقیری زما شاهی ده
شاهی خیله نه ایښې ده انسان کښې
اسمٰعیل به فقیری تر مرګه کاندم
پسرلی پسې به ژاړمه خزان کښې



[1] توانګر : طاقتور [2] په زړ ته : په زوره [3] کُرم دریا کُرم



زیب د یار به مې هیر نهٔ شي زندګے کښې
بې له عشقه نه اوسیږم دُنیا کے کښې

چې وربښي مې ترخوږي په دُنیا کښې
یا دُومه به احسن هره سلګے کښې


روغه سته مې د یار مینې کړه خاوړې
راحت ځکه ما اونهٔ لید یو کړے کښې


د لالي د سپین رُخسار ډیر ارماني یم
دیدن غواړمه مدام ډیره تُندے کښې

په مطلوب پسې مې خلقه زاړه شنه شوه
لټومه يې صبح وشام د زړهٔ وادے کښې

هیڅ طاقت مې د دیدن نشته چې يې اوکړم
دا په فضل د مولیٰ کیږي خوارے کښې

اسمٰعیل به ګلدسته جانان ته پیش کړم
دا مې ایښي دهٔ د زړهٔ په الماړے کښې





له نقابه چې د مخ راته سرکند کړهٔ
زما زړهٔ دې په خپل زړهٔ پورې پیوند کړهٔ


سمد ستی دې بیا له ځانه څخه لیوړو
همه عمر دې د هجر بند کښې بند کړهٔ

ستا دَ سپین مخ په ارمان شهٔ تول تنراکي
ستا له مخه يُ نورُ مخونه هم پسند کهٔ

چودے زړګه په مې لتا نه صبر نهٔ شي
آوازونه يُ په تا پسي بلند کهٔ

اسمٰعیل په تا شیدا یمه دلبر ه
ځکه تا له پاره وقف مې خپل ژوندکهٔ





سیف په وینو کښې لت پت کړم دجانان لیدو دپاره
ډیر کړیکمه صحرا کښې ګلستان ته تلو دپاره

زهٔ دَ هجر په سیف خورمه ګذاروته په صحرا کښې
په ریګونو کښې لوغړیږم دَ دیدن مزو دَ پاره


هر ګذار زخمه يُ مرمه په خوارهٔ داسې مړ شوم
دُنیا ماله چوړه شوې همیشه سلګو دَ پاره

دَ بیلتون خندق کښې اوسم یوه ورځ به جانان راشي
خپلې اوښکې پسې بیایم په کږیوان جړګو دَ پاره

همیشه به زهٔ کامران یم چې له دې غمه اوزګار شم
دے خزان زما په برخه پسرلي وږمو دَ پاره


دَ رئیس په نوکرے کښې تل دَ عشق په لمبو سوزم
زهٔ پیدا یم له ازله هم ډُ دې لمبو دَ پاره

اسمٰعیل به تل مشتاق یم بله چاره زما نشته
هر ساعت ړنا لټومه دَ هجران تیرو دَ پاره



له ځکله مې لوګي درومي آسمان ته
هر ساعت ناري وهمه خپل جانان ته
اشتياق مې ورو په ورو مدام زياتيږي
ډير شائق شومه حيران ګورم جهان ته
دَ زلفانو په هجوم کښې يم ورک شوے
زهٔ مدام په هائے سوران يمه هجران ته
دَ هجران سوکره کښې کرځم ديدن غوارم
مات کچکول مې دے نيولے تل باران ته
بنهٔ په زړه ناري يار پسې وهمه
مشکبو يار لمانه تلے ګلستان ته
خارستان کښې دَ غم شپې ورځې تيرومه
دَ خپل غم قصه کومه خپله ځان ته
اسمٰعيل به دا قصه تل ياد ومه
په چمن کښې به ئې وايمه سلطان ته





زهٔ دَ يار دَ سرو لبانو مُسکا غوارم
ډير رنځور يم پسې هر وخت شِفا غوارم
بې له دې بله دوا مالره نشته
ځکه ځان لره هم دغه دوا غوارم

دَ مجنون په شان مېن په ليلىٰ نهٔ يم
له خالقه ذوالجلاله خوب غواړم


نن پرون مې په زړګي ډېر راوريږي
هر ساعت په بيابان کښې زيبا غواړم

بيابان کښې راته غم سندرې ييائي
خوشحالي ځان لره ځکه رښتيا غواړم

زهٔ به داسې ديوانه ترکومه کړځم
دې تيرو لره دَ وصل رښا غواړم

دَ يار مينې مجاهد کړم جهاد کاندم
تومرګي به زهٔ دا ښکاپ غزا غواړم

اسمٰعيل دَ مينې اور کښې ژوند تيرومه
تل بهار لره دَ مينې ادا غواړم



دَ روښان دې لټومه دَغوغا په ښاريه کښې
تکه سپينه رڼا غواړم دَ فراق په تورو شپه کښې


سپين رخسار دَ اِنځر ګل دے چې به کله مونده کيږي
يوه ورځ به اومونده شي دَ سيني په باغيچه کښې

په ماليار يې چغيږم دَ بلبل په شان ادا کړم
مدام ګوره دې مست جهان ته زهٔ دَ مينې په نشه کښې

له ژړا به هله بس کړم چې فراق لما رخصت شي
بيا به هر وخت شراب څښمه دَ ساقي په سره پياله کښې

اسمٰعیل له به ساقي شراب دَمېنې په جام ورکړي
ورله اوس هم یوځو ځاځکې ورکوئ خو په پرده کښې





ځان ښځه زیبا دلبر زړه کښې ګرځوه
روښ وشپ دَعشق هنر زړه کښې ګرځوه
تش زړه ګوره مهٔ درومه په تش زړګي به ځه اوکړې
توښه دَ هغه بنګلي دلبر زړه کښې ګرځوه
بدچا ښځه مهٔ کوه ښهٔ کوه چي بنګلے شي
تل دَ جهنم خطر زړه کښې ګرځوه
مهٔ ګرځه نا اشنا له یار اشنا کړه ځان له یار ښځه
دې رشتي له بحر و بر زړه کښې ګرځوه
ژاړه دَ بلبل په شان په چغو چغو صبح وشام
خخ دَ بیلتانهٔ خنجر زړه کښې ګرځوه
دلته دَ یار مینه کښې ټول عمر مشغول اوسه
دا دَکمال ډک زیور زړه کښې ګرځوه
دا یوٚ نصیحت مي تهٔ واوره اسمٰعیله نن
خیال دَ دلربا جوور زړه کښې ګرځوه



چې کیده په ما دَ مینې ابتداء
دَ زړهٔ سر پاندِ سوړ نے کړم مقتداء

کاکُلِ ئے زلفوکښې ئې زړ زړ بندیوان کړم
په څوارئې کړمه دَل په آسیا

آئنده به مې څهٔ حال وی نهٔ پوهیږم
په دې پوهه یم چې تل به کړم ژړا

نهٔ په سُکرکښې خندیږم نهٔ صحوکښې
په دُنیاکښې به مدام یم په غوغا

هم په قبض زهٔ راضی یم هم په بسط
بسط غواړم صبح وشام له خپل مولیٰ


په خپل مل چې بنهٔ یقین دے پسې دړوم
راکوی په لاړه تښې دَ آشنا


اسمٰعیل کهٔ په یارے کښې ډیرڅهٔ زده کړهٔ
خو ډیرکم دې دا دیدن له دَ خوبا

چې دَعشق شراب مې نوش کړهٔ په سکوشوم
نښانه زهٔ دَ فراق دَ توغندو شوم

پس منظر دَ قیصې نهٔ شم بیانولے
دَ یار مینې کړمه کونګ سرپه میروشوم

د الفت چارې زه داسې سنجیده کړم
خو رېږګونه شوه زما زړه د هغو شوم
رب دِ ما د یار له مینې کنار نه کړه
زه عادت د تورو زلفو په ورو مو شوم
ګوخې[1] نه یم هر ساعت کښې مې رب مل دے
ورته کوکې هر وخت کاندم په زارو شوم
بندې کړے ئې د بیلتون په زولنو یم
شین ګوشین زه د الفت په ناکردو شوم
اسمٰعیل متوکلِ یمه هر آن کښې
خبر ګکه د خوبا له علامو شوم






هر یو رګ مې همیشه وائي یار یار
له سینې مې مرکز جوړ دے د خُمار
وظیفه مې بې له یاره بله نشته
ما له یاره خُنه کړے دا اِقرار
په څو وار مې د عشق لار کښې مرګے اولید
همه عمر به اونهٔ کاندم بل کار
بې له ربه مې ډار نشته له بل چا نه
اوزګاریږمه زه کله له دې ډار
د چمن په لوری تلهٔ کړم یار د یاره
د فرقان په رڼا ځمه په دا لار

[1] ګوخې، یواځې

په ځوانۍ مې د فرقان تفسير ليکے شي
په دا شرحه شوم چمن لره ماليار

اسمٰعيل دې ماليار ے لره پيدا يم
د يار مينې له کرم مينې شه هوښيار



په ولکه کښې د حافظ ناصر اوسيږم
يم روان د ده په لوري تل ژړيږم

تکانه به اخر اوموم خوکله
ورو په ورو زه تکانې ته نزدې کيږم

د حافظ ناصر ديدار زما مقصد دے
بهشت غواړمه مدام ترنه صبريږم

زه به داسې ارزومند هميشه اوسم
د عشق اور کښې به مدام لره سوزيږم

لے په لے به د اعلىٰ په لوري درومم
دې ناسور ته به د مرګ په ورځ خلاصيږم

اګاهي راته له ورانديې داسې شوې
چې ترمرګه به ئې په در کښې زه لوغړيږم

له دهشته مې زړګے هر وخت درزيږي
اسمٰعيل د يارانې په چل پوهيږم

ستا دَ مینې په دړون پَل چُوړی چُوری شوم
ځکه داسې دِ په عشق کښې هُنری شوم
پَل دَ مینې مسلسل په ما ګردش که
ستا دیدن پسې بې مثله پَرهري شوم
زبرجد مې له کوکارو څخه جوړ شوګ
ډیر حیران یمه چې څنګه جوهري شوم
دَ وفا په وَسله ما جفا مړه کړې
بڼهٔ ویشتونکے دَ وفا دَ توغندي شوم
ستا دیدن پسې مې هر خوا دنیا کچ کړه
دَ فرقت په اور دِ هر ځائے کښې ستي شوم
باغستان کښې ماليارې له ربه غواړم
کۀ صنمه ستاله رويه بڼهٔ مالي شوم
اسمٰعیل به هر ساعت ستا مینه کاندم
ستا په مینه کښې خدائے ګوکمالي شوم



رسید لے مې په برخه انتظار دے
دا راکړے په انعام کښې شهریار دے
دَ هجران ملاتړ زما زړهٔ ته نوَتے
همیشه ئې ژړه وی هم دائې کار دے

لیپي لیپي اوښکي هر وخت تویومه
تول ځګریوان مي په یادونو تار په تار دے

ډیري سریکي مي مدام له سیني خیژي
رانه دور له مودو راسي ښکلے یار دے


بیابان کښي په خپل یار پسي ورتیږم
په ماهر وخت د هجران نمر نیزه وار دے


لے په لے د دلربا دړ پسي ځګر ځم
محبّت مي څه لږ نه دے ښه بسیار دے

د دیدن سرې اوبه له مودو غوارم
له پخوا راسي مي پټ رانه مالیار دے

ځیرے کښي مي ماغزه له تاوه خوږین شوه
اچولے ئې ترِلاندِ سور انګار دے

اسمٰعیله دُنیا ځائے د ژړیدو دے
ژړیدو پسي مدام د خندا وار دے





سینه مي ده پرویزه په مژګانو د خوبا
دَل یمه څو وارہ د بیلتون په اسیا


زړه کښي مي شمشیر له مودو راسي ننوتے
لوار یمه تیر کړے د هجران نوري بلا


زړه مي له ډیر دړ ده د عقیق غوندِ شین شوے
ځکه شنه لوګي مي له خلې دړومي تر سما

ما باندِ سوکړه دة دَ ديدن باران دَ پاره
کُومه له مودو راسي زۀ نمونځ دَ استسقاء

زۀ په دې باران پسې باران کوم له سترګو
داسې دَ غم عمر تيرومه په دُنيا

برخه دَ غمونو ئې اسمٰعيل لره وَرکړې
ځکه خوشحالی غواړي مدام له خپل مولا





دَ زړګی سرمې په دلبر پسې چودے
په شنه لحته دَ فرقت ئې ډير وهلے

شينې تغمې دې پرې ولاړې ژړاکاندی
دَ آشنا په لوري درومي سانيولے


تکانه ئې دَ يار در دے نۀ او داړې
له څوکله پسې ورچته وَستلے

بيابان کښې سفر کاندي دَ يار در ته
لار مونده دے بل خوانۀ ځي يار بللے

دَ دلبر په غم کښې هر وخت ناقـرار دے
دَ يا دونو طوفانونـو دے زپلے


اسمٰعيله ولې داسې اوتر څوري
ماته پته دة چې زړۀ دې دے بائيلے






ډيرې اوښکې مې په تا پسې کړې تلې
دَ عشق اور مې دَ تن غوښې اوسيزلې
منوّره معطّر لختِ جګره
ستا له رويه مې دُنيا ده پرېښودلې
ستا له رويه رب هر څهٔ دې پيدا کړې
مرنيه مې ستا په سر سترګو منلې
ستا دَ شان بيانولو قابل نهٔ يم
دَ رحمت جوړے دې لويه غوړولې
په کرم دَ اللّٰه جَ ې لږ لږ بيانومه
چې دې سترګې ما يؤ وارې اوليدلې
په زلفانو دې بيا سپتې کړې لمانه
انتظار کړم کهٔ دې شانه وارَ ولې
اسمٰعيل په دې له سترګو صبر نهٔ شم
له پخوا نه مې دې کار نه ملا ترلې






عندليب غونډِ نارې وهم مدام
هيريه نهٔ شي زما چرې ګل اندام
دَ خوبا مينې خوزهٔ ټکو سترے کړم
په سرو وينو مې رنګ کړے دَ عشق بام

دَ لطیف دَ لُطف زۀ هر ساعت سائل یم
په تقدیر کښې مې لیکلے دے دا کام
زۀ دَ مینې چل زده کومه بیابان کښې
ریبار هر ساعت راوړي ماله پیغام
دَ تیراه له غر ونه هسکه مینه کاندم
داسې نور نوره غوارم صبح و شام
رب دې ماله دَ عشق شته بسیاره راکړي
چې خَلهُ چرې پوره نهٔ کړمه له جام
په زړګي کښې له پخوا کړل ریبل کړم
وایم کله به زۀ وینم ماه تمام
زۀ دَ عشق دَ تخم لوئې کروندهٔ کریم
بې له کره چرې نهٔ ستیروم ایّام
اسمٰعیل دَ عشق دَ هار په نهر ورتیریږم
دا راکړے ذوالجلال ماله انعام






په سینه کښې دَ فانوس په شان بلیږم
دَ ژړا دَ باب بادشاه ځکه نامیږم
له دُنیا نه مې زړهٔ تور کړلو ستا مینې
ستا دَ عشق دریاب کښې ورو په ورو ډوبیږم
کوم غوارم دَ الله نه مسافر یم
دَ بُلبل غوندِ په تا پسې چغیږم


ستا په مینه کښي په مست اوسم ترعمره
ستا په مینه مستانه ځکه یا دیږم
ستا د زلفو وږمې هر وخت په مالګي
په هر ول پسې ئ له ورایه ډیر کړیږم
انتظار دي دیوانه کړمه دلبره
مدام ځان څخه په تا پسې وېښیږم
اسمٰعیل هم داسي یینه یمه دُنیا کښي
په عقلي کښي چې بیا تا څخه اوسیږم





زه له یار څخه په زړه کښي همنشین یم
سپین رُخسار ته ئ زه کورم تماشبین یم
د زړګي آئین مې پاک دے پکښي ښکاري
شنکے خال ئ له مودو نه په جبین یم
د حیرت ځانګو کښي ناست یم جوتي خوره مه
دلربا پسي عالمه ډیر غمګین یم
همه عمر مې د یار غم کښي تیریږي
زه خو ځکه د خیل یار د لاس نګین یم
په مژګانو ئ زما زړه ډیر زخمي کیږي
ګذار شوے پسې زه په تاترین یم
نرمې اوښکي مې په مخ باندې بهیږي
له پخوا راسي د اوښکو اباسین یم

اسمٰعیل دَعشق دلاسه سودائی شوم
ډیر مئین په رحمت اللعالمین یم



ستا په سپین رُخسار پسې دلبره ډیر کړیږم
ستا دَ بیلتانهٔ په اور زهٔ هر ساعت سوځیږم
مُسکا دې مقدّمه دهٔ چې کله به دې اُووینم
څوچې مې لیدے نهٔ یې ترهغې به ژړیږم
زړهٔ مې دَ بادام په شان سوړے دےتول په تا پسې
ستاله ښکلې مخه به زهٔ چرې نهٔ صبریږم
دشت کښې دَدهشت تودهٔ بادونه په مالګې
ځکه دَ ریدی په شان په تا پسې رڼیږم
خوږه ستا فراق مې خوب ته نهٔ پریږدي دُنیا کښې
تل به ستا دَ یادو په دُنیا کښې زهٔ اوسیږم
ماله پسرلے په دُنیا نشته راته پته دهٔ
تهٔ مې پسرلے یې ځکه تا پسې وځیږم
زړهٔ دَ اسمٰعیل کهٔ چا په خپلو سترګو اولیدهٔ
خپله به کویا شي چې په دې خونهٔ پوهیږم

ستا دَ حُسن صفت خوان یم بل څهٔ نهٔ کړم
همیشه دې په اَرمان یم بل څهٔ نهٔ کړم

په زړګي مې دَ ستر غم بخې ستیرېږي
ځکه زهٔ په هائے سوران یم بل څهٔ نهٔ کړم

له سینې ځنه مې جوړه دهٔ پرویزهٔ
ځکه ځان ته حق حیران یم بل څهٔ نهٔ کړم

تاله مانه جوړه کړې دهٔ پښتولهٔ
ګرځینده پاس په اسمان یم بل څهٔ نهٔ کړم

دَ هجران قسمت پونړئ مې راوستلې
له هجرانه زهٔ هجران یم بل څهٔ نهٔ کړم

نور چلونه په دنیا کښې څنګه زده کړم
چې دَ اوښکو اوږد باران یم بل څهٔ نهٔ کړم


اسمٰعیل یه هم ستا مینه کړم دُنیا کښې
بس دیدن ته دې اَرمان یم بل څهٔ نهٔ کړم

دَ عشق دیک کښې ئې زړګے راله پښهٔ خوړین کهٔ
اَرزو مند ئې هر ساعت کښې دَ نسرین کهٔ

په تادے تادے مې اوښکې له مخ څاڅي
عالیشان تالاب مې جوړ په روئ زمین کهٔ

له پرویزه: غلبیل ته پښتول: پښتو ورس


دَ زړهٔ سرې دَ هجران په سېخ سوړے دے
په سرو وينو مې ځيګر يوان ځکه رنګين کهٔ
دَ اَستا زې انتظار راله ژړبے کړه
زما زړهٔ ئې بنهٔ په يار پسې غمګين کهٔ
اسمٰعيل دَ عشق له چار ئې ځکه بس کړې
په دا چار ئې کلام ورله شيرين کهٔ



زۀ په بند کښې بنديوان دَ پاک جليل يم
بند دے ماله عدالت پکښې وکيل يم
دَ فراق له برندو سترګو ډير وير يرم
تور وغرونو ځنې ځکه داسې ليک يم
دلربا پسې مدام لړه ژړيږم
له پښوا نه پسې زۀ دريائے نيل يم
په چپو چپو دَ يار په لوړې دړومم
دَ فراق په رنګ رنګ شوے يم جهيل يم
دَ چپو غرمبا مې رسي تر آسمانه
ډير خوشحاله په راتلو دَ عزرائيل يم
عشق مې کار دے بل يو کار په چرې نۀ کړم
دَ عشق کار کښې خپله ځان لره ذليل يم
اسمٰعيل به لاس له عشق ځنې وا نخلم
زۀ په دهٔ باندې دُنيا کښې اسمٰعيل يم

رب دې نور هم په ما ډرون کړي کار زما
کړي له برقه دې ښه تېز رفتار زما
د يار مېنه کښې زړه شان وقفه نه کړم
ډېر خوشحاله پيدا کار دے يار زما
د ذيشان شان بيا نومه په ځو شانه
په زړګي پروت دے د يادو بار زما
په حيواد د زړګي مي راج دلبر با کاندي
د غم کانړو کړو بدن سنګسار زما
د صنم د اګوول زلفو ارمان کړم
په دې زلفوئ دے کړے ښکار زما
لکه وړے په دومه کښې غل ورتېږم
له عالمو نه دے پټ دانار زما
اسمٰعیل په شاعرے زړګا سورے کومه
خوښه وی ځکه عالم اشعار زما






سنا د هجر تنبرکو[1] ډېر زخمي کړم
اے طبيبه ځکه تاته تلالی[2] کړم
د غمونو په اور زګه کوتره کېږم
د عشق چارو دې زګه داسې فريادي کړم

---

[1] تنبرک: تېندک [2] تلالی: ناړی


تهٔ يې فخرِ موجودات زما دلبره
ځکه داسې ستا دې مينې کمالي کړم
دَ فراقت لړه چې لرې شي له مينځه
پس له هغې به مدام دَ ستا ياري کړم
دَ فراق لړه کښې تامدام لنتوومه
په ديدن پسې دې هر ساعت خواري کړم
اے حسينه ستا ديدن له ربه غواړم
صبح و شام ورته ګکيايمه زاري کړم
اسمٰعيل چې ستا په مينه شومه روږدے
زهٔ له هغې ستا ديدن له تياري کړم






ستا په عشق کښې دَ عالمو ننداره شوم
دَ هجران په ميچن څو واره چوره شوم
دَ عشق اور را بانديل دے ستا له رويه
په دې اور باندِ په تا پسې اِسيره شوم
په ما هر وخت دَ عشق هاړدے ستا ياره کښې
ځکه داسې دَ غمونو مقبره شوم
دَ زړا چاره مې زده ده ځکه ژاړم
ستا په مخ پسې دَ اوښکو فواره شوم
ستا دَ عشق باب مې په زړهٔ باندِ ليکلے
په دا باب دَ عشق عالم له اِداره شوم

دَ عشق چاره له همَوُ چارو ده کراته
بنهٔ شوهٔ تا اووي چې زړهٔ دې سهاره شوم
اسمٰعیل به دې یا دونه هر وخت کا ندم
له غمونو به شم خلاص کهٔ در سره شوم





دَ زړګي ورمې لړکړے شهر یار ته
غوږې ایښے دے زما دَ غم ګفتار ته
زړهٔ دَ غم په غرکوهر ساعت ژوبلیږم
لکه ډال یمه ولاړ هر یوُ ګذار ته
دَ حیرت په تال آشنا پسې برېښ یم
خېژولے دَ دهٔ میني یم دې دار ته
دَ یار اُنس[1] دَ تبخي په شان تک تور کړم
بنهٔ به سپین شم چې داخل شم دَ زیب بنار ته
دَ آشنا میني دَ ستر همّت خاوند کړم
ځکه هر وخت تماشین دے زما کار ته
دَ وفا دَ ګلستان ماهر مالیار یم
خپلې اوښکې وروُمه لاله زار ته
اسمٰعیل دَ حُب اغز و څخه بلد یم
مدام خپله لمن خا یمه ریبار ته




[1] اُنس : محبت

دَ ارمان په اور سوزیږم له پښوا
دلبرا پسې ژړیږم له پښوا
دَ دیدن حرص اخستے یم عالمه
تورو عنو نه پسې لویږم له پښوا
له ساقي نه جام دَ مهر معمور غواړم
هر ساعت داسې وټیږم له پښوا
له پښوا نه مې له سترګو بارانووري
نهٔ او داړي بنهٔ پوهیږم له پښوا
له آفتابه په حَسین جانان مئین یم
زهٔ په دهٔ پسې کړیږم له پښوا
صبح وشام ئې دیدن غواړم له خدایه
له سپین مخه ئې نهٔ صبریږم له پښوا
همه عمر به له یاره صبر نه شم
هر ساعت ترې نه زاریږم له پښوا
اے خدایه اسمٰعیل پرې نور مئین کړه
ستا په درګښې زهٔ لوغړیږم له پښوا

مولانا صیب دَ جانان دَ لاس نګین دے
ځکه داسې په جانان پسې غمګین دے

هر گفتار ئې له نباتو خوږ دے
پرې مئين څکه امام المرسلين دے
دَ بابا صيبؒ په جمات کښې پيش امام دے
څوک خبر نهٔ دي له دهٔ نه نازنين دے
دَ بابا صيبؒ دَ اور بل يوٌ تازه ګل دے
دَ زړهٔ سترګو باندې اووينه حسين دے
دے دَ صبر عظيم ګنج دے ترې خبر شه
خپل مرشدؒ باندې له حده تير يقين دے
له مرشدهؒ له پخوا راسې فيضاب دے
په دُعائې دے رنګ شوے پير برين دے
لوئې احسان احسان الحق باندِ حق کړے
رب تا ګلے بنګلے شخص په روئے زمين دے
اسمٰعيل ئې صفت څکه هر وخت کاندم
چې په پاک رب العزّتؒ باندِ شيرين دے





دَ غمونو بيابان زما جيواد دے
رب په ما پسې ليکلے دا جائيداد دے
دَ غمونو په چوب هر ساعت ژوبليږم
يار په ما باندِ دا سود کاندې جواد دے
په جواد پسې مدام چغې وهمه
ما نيولے له پخوا زړهٔ کښې مراد دے


زۀ به څو دَ انتظار په کتو لګم
همه تن زما په دې کتو برباد دے

دَ فراق په چاړۀ هر وخت حلالیږم
په دې حال کښې بیۀ زما دلربا یاد دے

دلربا به له ما چرې په هیر نۀ شی
دا په ځان زما پوره پوخ اعتماد دے

اے جانانه اسمٰعیل دربسې ژاړي
ستا په خُلۀ ځکه هر وخت پانده باد دے





چې به کله رانما شی دل آرام
راوریږي مې په زړۀ ډیر ګل اندام

په زړګي راله غمونو کړې راخکي
تودې وینې ترې نه څاڅي صبح وشام

انتظار راله دَ تن غوښې وړاندې کړې
هیر به نۀ کړمه زۀ چرې ماۀ تمام


هر ساعت ئې سر تیتیے کومه دربښې
کۀ دا چاره مې قبوله کړه ګل فام

زۀ به داسې شجاعت عمر له کاندم
کۀ نیرومۀ دلته هر څنګه ایام

شجاعت به مې نیستي یو وار کړي غسه
شهنشاه به شم دَ مینې په دا یام

اسمٰعیله چې مڼین ئې نوکروم نهٔ ئې
وار خطا نهٔ شې ساقي نه غواړه جام





اے دلبره ستا په مینه کښې زهیر یم
هر ساعت په نندارهٔ ستا دَ تصویر یم
ستا په لوری کړندے کړندے درومم
تر منزله به په تا پسې په وِیر یم
ستا په خواکښې به دمه مومه یاره
سترے کړے ډیر په تا پسې قدیر یم
ستا په مینه په موړ نهٔ شمه دلبره
دا دولت لرم په دې بانډِ امیر یم
دَ بیلتون منګوټے[1] چه کړې ویلاړ دے
لاهو شوے دَ دې زهرو په بحیر یم
له بیلتونه ډړه نهٔ کاندم دُنیا کښې
زهٔ په دهٔ بانډِ مدام روشن ضمیر یم
اسمٰعیل دُنیا ته شاه یم رالیږلے
هسې نهٔ اوسم دُنیا کښې زهٔ سفیر یم



---

[1] منګوټے: ماټ

په برین زیبا شیدا یم له پښـوا
ځکه لږ هم غلی نهٔ یم لـه ژړا

په دلبر پسې ژړا زما میراث دے
همه عمر به کومه دا ادا

توول زړګے راټغه مینې قبضه کړے
په مغزوکښې مې له غمه دهٔ کړزا

دَ مضبوطې مینې مخ راپسې شوے
لما پاتې ځکه داسې دهٔ دُنیا

دَ جانان مینې زهٔ بنهٔ ډیر دانشور کړم
ځکه شوه زمونږ دَ دواړویؤ رضا

سترګې غلې راله دَ اوښکو سیلاب خوږکړهٔ
هرساعت لاړې ښارم دَ مسیحا


زهٔ دَ مینې آمدن باندې پوهیږم
اسمٰعیل به مدام کاندم دا سودا

چې دِ نهٔ وینم نو څنګه په قرار شم
زهٔ به تا پسې زړې زړې بار بار شم

خوش نصیب یمه چې ستا په بند بندی یم
بنهٔ ستی به زهٔ په اور دَ انتظار شم


په دُنیا کښې به هم دې اور باندِ سوزم
چې عقبیٰ کښې بیا دَ ستا دَ غاړې هار شم
درندې مینې دې هډونه زما مات کړه
په څواره به په تا باندِ نثار شم
په شرابو دې مدام خمار کښې ګرځم
تور به هم داسې په تا پسې خمار شم
ستا په لوري دړ روان یم دمه نهٔ کړم
په لیدلو به دې خلاص له دې رفتار شم
دَ محمّد اسمٰعیل دَ زړګي سره
ستا په مینه کښې به زړګی ښهٔ پراسرار شم





په دلبر پسې له حده تیر نځوړ یم
سوزیدلې زړه په شان دَ کوهِ طور یم
خوشحالې پسې زړه هر ساعت ژړیږم
مئین شوې زړه په بې مثله حضور یم
په زړګي مې دَ اُلفت شرې راخستې
ژاړم ځکه له طبیّبه څخه دور یم
له ډیر غمه مې تالو کښې نړې نخلې
په دې حال باندِ راضی له پاک غفور یم
زړه ولاړ یمه عشّاقو څخه صف کښې
ګذار شوې دَ عظیم اور په تنور یم

ټول عشّاق مې ننګيالې بولې عالمه
ځکه هر ساعت دَ پاک الله مشکور يم
اسمٰعيل چې له مرګې پوره عاشق شم
زۀ به هله دَ جانان په دړ منظور يم



ستا دَ مينې اور ستې کړمه نکاره
شپه او ورځ ځکه سوزې کاندم بې واره
همه عمر به هم ستا محبّت کاندم
دا ناره وهم په تا پسې له داره
دَ فرقت په مچينک[1] پوټې پوټې شوم
ستا په مينه مې دا حال شه شهريارَه
اقتداء مې کړې تا پسې امامه
چې شم بچ دَ جهنّم له سور انګاره
دَ ملّاح په ځنګ کېنې ناست يم فلاح غواړم
اشاره هم داسې کانده له کناره
ستا دَ بنګلو اشارو نظاره کاندم
بې له تا ځۀ په جهان دَ زړۀ قراره
ستا دَ زلفو په کوړ سورې پسې کړځم
اسمٰعيل وړ پسې ژاړمه دلداره

[1] مچينک : نوک تراش

○


په ما کړې ذوالجلال لوئ عنایت دے
چې را کړې ئې راله ښه ډیر محبّت دے
دَ زړهٔ کور مې جدائے کړهٔ لوټې لوټې
په دلبرپسې په ما باندِ قیامت دے
دَ جانان کوڅه کښې دړې وړې پروت یم
مینه نهٔ پریږدمه دا مې جبلّت[1] دے
دَ ساقي دَ جام شراب به مې نصیب شي
له پخوا مې قبول کړے دا دعوت دے
ساقي جام پسې دَ ډیرو زړونه رنګ کړهٔ
دا رنګون دَ دهٔ دَ مینې ښهٔ عادت دے
زهٔ ئې دَ فکر په تال کینولم ترعماه
اختیار کړے مې په دې تال سکونت دے
له مرګې پورې به زهٔ هم داسې ژانګم
ما دَ یاره دا دُنیا کښې لوئ نعمت دے
دَ جانان منشور مې زړهٔ باندِ مستلے
اسمٰعیله ولې نه ډیر خوبصورت دے

○

زهٔ دَ عشق دَ لوئ پنګې خزانې یم
ما منطق وئیلے نهٔ دے منطقي یم

[1] جِبلّت: عادت


سر ومال مې تول له دې منطقه زار شه
همه عمر په زړه داسې سبقي يم
رب دې ما ته همه عمر دا راښائي
هم دا غواړمه له رب څخه سوالي يم
دې سبق مې نور اسباق له زړه شړلي
هم دا وايمه په دې زړه کمالي يم
زما زړه ته دې سبق ژړا ښودلې
اے عالمه ژړه غونے ازلي يم
له ښخوا نه د بيلتون په لبړ و سر يم
له پخوا راسې په يک يؤ تلالي[1] يم
هر ساعت زړه جانان ستايم بل څۀ نۀ کوم
اسمٰعيل د خپل جانان د باغ مالي يم




د فراق شپه کښې لټومه تل خوبا
چې به کله شي په ما باندِ صبا
د غمونو په درياب کښې زما ژوند دے
لا هو شوے پکښې يمه له پخوا
لوئ طوفان مې زلې هر وخت په درياب کښې
ځکه هر وخت مدد غواړم له مولا
له ازله زړه غمونو له نامزد يم
خلاص به نۀ شم له غمونو په دُنيا

[1] تلالے: نارہ

له دهشتنه زما هر اندام رپیږي
یروے یم دَحُب توری بلا
کهٔ هرڅومې دَل کوي دَغم په ژرنده
ژرس به چرې زهٔ اونهٔ کړم له زیبا
اسمٰعیله زړهٔ دې پاک کانده له خیري
ښتنک چې پاکه له و یختو څخه ده ها





چې دې اُووهٔ تیلے زما سینې ته
زهٔ له هغې راسې کورم آئینې ته
زړهٔ مې هر وخت ستا په لوری کړې توپونه
له مودو راسې روان دے میخانې ته
دَ هجران پیتے پرې ژړون ایخودے شوے
خیژوي یې دَ دیدن بالا خانې ته
کهٔ کمک ورشخنه نهٔ وے ستا دَ مینې
گذار شوے به وو ستري ناخانې ته
اسمٰعیل ته دَ هجران پیتے زړ لر کړه
چې دړون شي دَ اُلفت مهمان خانې ته



زنګین زړګه دې په وفا باندِ رنګین کړه
دَ عالم دَ پاره ئې هر وخت اباسین کړه
په تول تن کانده دَ هجر بخے تیرې
تل یادونه دَ ډیر شکلی ماه جبین کړه
تول کوګل دې دَ جفا په نوکو تور دے
اے تنک تورہ هغه سپین لره ځان سپین کړه
دَ یار مینه کښې تول ځان تنیکې تیکې کړه
تل دَ زړګه په تخت مهمان هغه حسین کړه
زړګه دې ورکانده بیائې مهٔ غواړه تو عمره
برین یارنه رُوح وتن زیرِ زمین کړه
دَ دلبر لټون کښې هر وخت مشغول اوسه
یوه ورځ به ملاقې شې دا یقین کړه
اسمٰعیل نورې خبرې چرې نهٔ اوړې
همیشه ورته خبرې دَ یاسمین کړه



دَ بیلتون په کانړو هر وخت سنګسار یږم
خبر نهٔ یمه چې خو به زړګه کړیږم
چې زینت څوک خوَښوې نو دا به ئې حال وی
لکه ښکه چې زړګه یار پسې ژړیږم

په ژړا کښې د نګار ترانې وایم
د وفا چېچو کښې هر وخت څکنې کېږم


د لیمو چینې مې هر ساعت جارې وي
د جانان په لوړې دړومم ته اوده بیږم

له آفتابه زړه په ډیر شکلې مئین یم
ځکه داسې صبح و شام پرې ډیر سوزیږم

له جانان څخه یارے مې زاړه شنه کړه
له مودو راسې دیوال غنوندِ نړیږم

په دیدن پسې ئې هر لوړې ته ځم
په دا چاړه اسمٰعیل ډیر ستړے کیږم





د اُلفت په خنجر ټول یم پرهر زړے
هُم دې غم له دې دُنیا ته یم راغلے


دا میراث د پرېخودو نهٔ دے عالمه
له آزله ئې په ما پسې لیکلے

د سینې په دُنکاچه مې زړګے پروت دے
په سجده کښې مدام ستائې هغه بناغلے

مسلسل به آشنا ستائې دائې کار دے
بل یؤ کار ئې چرې نهٔ دے پیژندے

انتظار را باندِ هر وخت کړې ځوانونه
هر یؤ څواخ ئې ما په سر سترګو منلے

دَ اَشنا مُسکا به رب زما نصیب کړي
له پخوا نه مې دا پال دے راو ستلے
اسمٰعیل خپله دَ عشق جمیل دلیل یم
هر غزل مې له یوُ بله ځکه ښکلے



دَ یار مینې چل راښو دے دَ ژړا
هیره کړې ئې لما ځکه خندا
رمز دَ مینې مې هیڅ ته معلوم نهٔ شهٔ
کهٔ هر څو کړم واویلا په دا دُنیا
دَ فراق په چوب زهٔ هروخت زخمي کیږم
په دې ګرم یم چې مې خوښه ده وفا
زما وُچولې[1] کښې رب داسې لیکلی
چې رسا به په زړهٔ نګم ځا ځا
ما دې غشو ته سینه لوسهٔ نیولې
هر ساعت راکوی ماله دا سزا
بوله نهٔ یم چې له دې به تیښته کاندم
ربار ما ته ښهٔ ښودلې دا اډا
هره ږډه مې دَ عشق په لمبو سوزی
اسمٰعیل یمه په دا حال ډیر رضا

---

[1] وُچولی : تندے


زۀ به څو دا ستا له هجره ژړیدۀ کړم
څو به داسې سر بېرے کرځېدۀ کړم
ستا دیدن له ذوالجلاله څخه غواړم
ستا په لوری به مدام لره درتلۀ کړم
دَ فرقت لښکرو ما باندِ را ایښي
زۀ به څنګه په دې حال کښې خندیدۀ کړم
همه عمر به دا ستا مینه پالمـــه
بې له مینې به زۀ چرې بل څۀ نۀ کړم
اسمٰعیل چې څو ستا غیږه کښې یروت نۀ یم
تر هغې به له چشمانو وریدۀ کړم



هیر به نۀ شی زما ستا ښکلے رُخسار
کۀ څو سوزمه دَ هجر په انګار
په سینه مې دَ هجران مارغان راګرد دي
دَ زړۀ غوښې راله خوري شام سحار
سرۀ ګلان مې یاره تا لره پیـــلی
اچوم به درته غاړه کښې زۀ هار
ډیر غمونه مې په مات کچکول کښې تول کړۀ
ترمرګي پورې به کاندمه دا کار

ستا دَ وَصل ګلستان پسې زړې شوم
داکانې دې په ما او کړې انتظار
ستا صحبت ته ډیر مشتاق یم له پخوانه
له پخوا راسې بلبل یم ته مالیار
اسمٰعیل دې عالیشان دیدن تل غواړم
ترهغې به زیرګې کاندمه بار بار






ستا دیدن له ربه غواړم صبح وشام
دَ دلبر دلبر ناری وهم مدام
ما په تا پسې دَ اوښکو دریاب جوړکړ
دلبره هره اوښکه کښې پیغام
دَ دُنیا چارې دې واړه لمبا پاتې
ډیر زَدَه کړمه دَ مینې دې صیام
ستا بشر راته په هرڅه کښې لیدے شی
حیران کړے یمه ستا دَ عشق نظام
اسمٰعیل له مودو راسې تکے کرخم
نورمې هیڅ نهٔ دي پکار غواړمه جام



ل زَدَه : ستړے



چې اعزاز راله دَمينې دلبر راکړ
معلومات ئې دَ خپل ذړه بنه جوړ راکړ

دَ بيلتون دَ پړانګ په خله کښې ئې زړه ورکړم
راله ئې داسې يو له ويره هنر راکړ


دَ زړه سرکښې مې ډوغل يار پسې جوړ دے
پسې ژاړم داسې کار نامور راکړ


هر ساعت کړمه پرواز دَ خوبا ده ته
دې سفر له خدائے ښکلې وزر راکړ

دَ دفاع چل ئې رابنودے دے له وخته
دَ جهاد اوزار ئې ټول برابر راکړ

له غليمه مې هيڅ ويره چيرته نه شي
دَ شاباش آواز چې ماله صد بر راکړ

اسمٰعيله پرواز نور هم تيز اوکانده
ستا دَ پاره ديار داسې خبر راکړ





زه په يار پسې له حده تير بيمار يم
ديدن غواړمه مدام لره لاچار يم

دَ زړګي په سر مې خاپ دَ يار ے جوړ دے
او رمې خستے دے له عشقه سورا نګار يم


په کوم شان چې وومه هغسې اوس نهٔ یم
شرابي شوم ځکه هر ساعت خمار یم


زړهٔ ئې له ما نه په یوواري دے تروړلے
له پخوا نه پسې زړهٔ په سر د دار یم

غل غدو له ما نه هیڅ اوړے نهٔ شي
زهٔ مدام خپله دفاع کوم تیار یم

د دفاع چل مې جانان راته راښائے
پته ئې کاندمه له خلقو پُراسرار یم

اسمٰعیل به د ابلیس دُښمني کاندم
ترهغې چې څو د یار په انتظار یم





ډیر زخمي کړمه اغزو په خارستان کښې
په طبیب پسې ناري وهم هر آن کښې

د هجران تیرهٔ نوکونه مې زړهٔ کښې
ځي له سترګو مې رود ته بیابان کښې


د غمونو لوئي دوتر مې رسیدلے
راوستے ئې چرې نهٔ شمه بیان کښې

د کړاؤ په ژرندهٔ هر وخت اوړهٔ کیږم
خوشحالي مالره نشته دې جهان کښې

مبارک مې په زړګي هر وخت راووري
خبر نهٔ یم چې به څو یم په ارمان کښې

دَ زیب بنار ته په څلکو څلکو روان یم
همه عمر مې تیریږی په خفکان کښې
اسمٰعیل دَ محبّت لوئې سوداګر یم
پسې ګرځمه مدام دَ غم باران کښې






مئین شوے لا په مخ دَ احسن نهٔ یې
بوراګکه لا دَ ښکلې چمن نهٔ یې
چې ترکومه به هم دا دِ کوسیلې وائې
یار به ستا شې خوځې تهٔ درِوغږن تهٔ یې
له اَشنا څخه یارې رښتونې کا ندهٔ
په وطن کښې هیڅ خبر له وطن نهٔ یې
له رښتونو څخه هر وخت ملګرتیا کړه
چې بیا هلته دَرِ شخند دَ دښمن نهٔ یې
له چشمانو څخه چنې کړه روانې
ولې لوند تهٔ په ګریوان ترلمن نهٔ یې
کوه طور غوندِ په مینه ځان سکارهٔ کړه
دروغ رمتیه هیڅ رنځور په بدن نهٔ یې
اسمٰعیله اور دَ مینې په ځان بل کړه
بې له اوره تهٔ لائق دَ دیدن نهٔ یې



ژوند به څنګه تېرومه بې آرام
چې بندي يم له پخوا دَ عشق په دام
په زړګي کښې مې فرقت څوکه نسئيني
په ورو ورو تړې خوردن کاندي صبح وشام
په دلبرېسې مې شونډې اودې شوې
تختوَلے خوب لما نه ګل اندام
حق حيران يم چې به نور څه را پيښيږي
رسېدلے مې په برخه دَ عشق بام
ما فراق مدام را کاږي په صحرا کښې
تېرومه په دُنيا داسې ايّام
هر اندام راله قُتُ کانړو دے توکلے
دا په دې چې له ساقي غواړمه جام
اسمٰعيله په هرآن دې خدائے مل شه
شه له شاتو دې شيرين هريو کلام

ځان څخه کوريکمه ډير ستړے کوريد وکړم
داسې ديوانه زړه په يو وار دَ يار لېد وکړم
خبش ځمه دَ هجرا په ګګل ے کښې دَ يار دره سته
هر وخت ارمانونه دَ جانان دَ ميکد وکړم

څاڅي مې له سترګو ترمې اوښکې دلربا پسې
ډير سوري سوري په زړګه په دغه پسې ځلګو کړم
ما په دلربا پسې په اوښکو ګريوان وروست که
کوره مه ګريوان ته ډير حيران دې ننداروکړم
دروغ به شي ګريوان زما په وخت دملاقات کښې
بيا په همه عمر تماشه د خندايدو کړم
څوچې مې ديدن د دلبر نه وي نصيب شوې
تول عمر به کاروبار هم دا د ژړيدو کړم
منترما اسمعيل باندې د مينې له پخوا شوې
مدام لړه ستې زړه د منتر ذې سرولمبو کړم




زړه په يار باندې مئين يم له پخوانه
چې به کله ديدن او کړمه سبحانه
په نيزه د غم مې زړګه سوري سوري دې
په ګريوان مې اوښکې څاڅې له ارمانه
ماهتابان نقاب کښې پټ دې رانه ښکاري
لکه شمع چې پرده کښې وي روښانه
انتظار له برمه پريستم څکه ژاړمه
تر ديدنه به قضا نه شي لمانځه
په سينه مې هجران پنځې خښې کړې
هر آواز مې څکه رسي تر آسمانه

زۀ قابل دَ دلربا دَ مينې نۀ يم
داکرم دے ستا په ما غنی رحمانه

اسمٰعيله دَ زړۀ سردې دے چودلے
صبر کانده راسې کيږی له خفگانه





په طلب دَ طبيب ګرځم طبيب لار راته رابنائي
هر ساعت چې پرې ژوبليږم داسې کار راته رابنائي


ګړوي مې ځان پسې چې بنۀ جوګه شم دَ مرهم
مدام ګورم خيل ګرېوان نه تار په تار راته رابنائي

وهم چغې په طبيب پسې له ډيرې مودې راسې
هر يوغږ سره دَ دار په سرېل دار راته رابنائي

په خمير کښې مې غمونه له ازله اغږلي
دَ غمونو په سبب عجب سنګار راته رابنائي

اسمٰعيل به طبيب خنګه هيرومه چې رنځور يم
داسې ځکه له فرياده ډک اشعار راته رابنائي






دَ ديدن دَ ياره تل انتظار کاندم
توقع لرمه دا به يو وار کاندم

دَ اَشنا مينې زړه داسې ديوانه کړم
چې مدام لره نارې دَ يار يار کاندم
دَ بُلبل ادا مې زده دَ يار په عشق کښې
هميشه ځکه ارمان دَ ګلزار کاندم
غم زما له حده تير دے ځکه ژاړم
دَ اَشنا په لوړې هر وخت رفتار کاندم
رب دې ما چرې جوړ¹ نهٔ کړي په عشق کښې
صبح وشام به ګريوان داسې تارتار کاندم
زړهٔ دَ يار دَ پښو دَ خاوړو لائق نهٔ يم
چې مئين يمه نو څنګ به قرار کاندم
دَ يار مينې ته مې ګلکه ملا تړلې
جار به نهٔ اوځمه عالمه اقرار کاندم
له پخوا مې دَ فراق تمغه اخستې
په زړګي کښې ئې داله ايښې ناتار کاندم
په ناتار کښې په همه عمر ستيرومه
اسمٰعيل ځکه ګفتار دَ اسرار کاندم





اے خدايه ماله بنګلے جانان را
په بوستان کښې دَ سرو ګلو سلطان را
چې پخپله پرې شيدا ئې زما ربه
تل ديدن دَ هغه ماهِ تابان را

¹ جوود: شوم


چې ئې تا میلمستیا کړې لا مکان کښې
دالله زړه تر زړه هغه مهمان ښرا

چې جانان مې پرې مدام راته لیدے شي
لتا غواړم ماله هغه چشمان ړا

پیر عُشّاق چې ئې په توروغړو سر کړې
دا بې مثله خوبصورت پهلوان را

له پښتوا ته مې زړه ځان کښې پسې کړځې
ما زړه ستړی اسمٰعیل له ذیشان را






زه به څو داسې لتا ته جُدا کرځم
ستا په عشق کښې مړه خوا له دُنیا کرځم

دَ بیلتون کاڼیم ډوب کړے تا لټومه
زه په تا پسې په تَل دَ دریا کرځم

دَ کوشش په توره ټول زخمی زخمی یم
توره شپه کښې په طلب دَ صبا کرځم

دَ فرقت په غشو هر وخت په زړه لګم
ترمرګې به په توکل دَ خدا کرځم

اکبر پوره به په ما ترکومه اوروی
اسمٰعیل درپسې دلته هر خوا کرځم



○

په ګریوان به مې اوچ چرې بحیر نهٔ شي
عاشق نهٔ دے چې په عشق کښې زهیر نهٔ شي
سراپا[۱] دَ یار بې مثله کښې وسیرم
په بل څهٔ به مې روښانه ضمیر نهٔ شي
دَ یار یادو مې له زړهٔ نه رباب جوړ کهٔ
ځکه ما په شان کړے څوک وِیر نهٔ شي
دَ فرقت په مضراب[۲] ټکم زخمي کېږم
تیر و بیر به له ما چرې تصویر نهٔ شي
اسمٰعیل به همیشه تصویر ته ګورم
چې غلط رانه دَ مینې تحریر نهٔ شي



○

اے زما دَ زړګي سره شهریاره
لتا زار شمه قربان په څو څو واره
زړهٔ مې تا پسې پخوانه سوری کاندي
دے په بس نهٔ کړې ترمرګه له دې کاره
چې آغاز او شهٔ زما او ستا دَ مینې
یم له هغې را په دیخوا نا قراره

[۲] مضراب: هغه اوزار چې رباب وغیره پرې غږوي.

[۱] سراپا: هغه کلام چې پکښې دَ چا خد وخال بیان شوی وي.


چې همیش لره به کله دیدن کا ندام
نقاب لوګړه زړه تو زړه له رخساره

ستا یاري بس دَ الله په کرم کیږي
چیرته زۀ اوچیرته تهٔ زما دلداره

تول زړګي مې دَ وفا دَ ړنجوړک دے
ستا په عشق کښې شهٔ رجړومه وفاداره

چې ترکومه په وَناته زۀ پسخیږم
نهٔ پوهیږم کړه خبر مې له اسراره

اسمعیل دړیسې اوښکې وروُمه
همه عمر په یاری ګوُم نګاره



ستا په لوړی مې نیولې تل چشمان دی
په څو وار مې سرومال لتا قربان دی

همه تن مې شهٔ کسکوهم ستا په مینه
شنهٔ لوګي مې رسیدلي تر آسمان دي


له پخوا نه ستا دَمینې دَب کښې ډوب یم
ډیر ډوب کړې تا په دې کښې عاشقان دي

په سینه کښې مې دَ عشق تپش ځاے شوے
تول رګونه مې په دې باندې روښان دی

همه زړۀ مې دَ غمزلو خزانه ده
ستاله مخه رب راکړې دُړمرجان دي

اسمٰعیل سر نیتي تاته مدام کاندم
دیر عالم راته جانانه حق حیران دي





دَ فرقت منګور مي زړګ همه په خله که
صبح وشام ئې پرې غمونه ولمانه که
هر ساعت پکښې دَ یار لنکر شروع دے
لا تراوسه ئې پرې غمونه ماړګ نه که
معلم ورنه ژړا مدام ور بنائ
همه عمرئې نصیب رب ژړیدګ که
دَ ژړا تشریح په ژبه باند کاندم
خیر نه یم خندیدګ ئې ترې نه خه که
له کوڅوجه ئې راله زړګ دے غورزولے
سرولمبو کښې یار په ځان پسې سکارګ که
دَ یلښ یلښ تارې وهي ژړا کښې
ځکه زده مي په دلبر پسې بنانه که
دَ بیلتون په لخته زګ زمانے کیږم
اندامونه ئې په دې راله تک شنه که
په دلبر پسې زما وخکي پا خه دي
دَ یار مینې زده په ما دا پخیدګ که
اسمٰعیل یار پسې اوښکې وړومه
تول تارونه ئې دَ کریوان راله وراسته که

د رهبر رهبرے زۀ راسي رهبر کړم
له دُنيا ئې همه عمر لاس په سر کړم
خارستان کښې راشخه بنۀ مرسته کاندی
زۀ يادونه هر ساعت د خپل دلبر کړم
د بيلتون ګګل[1] کښې هر وخت بوخت روان يم
ډيرې مينې د آشنا زۀ در په در کړم
هم دامينه مې غښتنه له ځکر ځکاره
يار مې زۀ د مينې بنۀ سترسهندر کړم
هر ساعت په نوره مينه له رب غواړم
ترمرګې پورې به زۀ پسې سفر کړم
اسمٰعيل د يار په مينه نۀ مريږم
ذوالجلال پسې له حده تير نهر کړم



په سينه کښې مې د مينې ساز غږيږی
دلربا مې په زړګې ډير را ورېږی
د فرقت ترخذ مې هر هرکۀ توتنګي
په دې اور کښې له پخوا سيزلے کيږی
معظّم به له ماچرې په هيرنۀ شي
د بُلبل غوندِ مې زړۀ پسې چغيږي


[1] ګګل: ختنه

دَ فردوس دَ شهنشاه نوکری کاندم
تول رکونه مې مدام څکه وشیړي

دَ یار مینه به پرینږدمه عالمه
ترهغې چې څو مې رُوح تن کښې اوسیږي

اسمٰعیلؔ چې ترڅو یار لیدلے نهٔ وي
رودِ نیل به ئې له سترګو را بهیږي






ستا دیدن پسې به ولې پریشان نهٔ یم
ما دې مینه پېژندلې نادان نهٔ یم


بیلتانهٔ مې دَ زړهٔ کور کهٔ لوټې لوټې
هره لوټه ئې رژیږي پښیمان نهٔ یم

تورمړکي پوړې به دا رشیدهٔ غوارم
په دُنیا کښې دَ بل څهٔ په ارمان نهٔ یم


له پخوا راسې مې بریخ له سینې خیژي
کړځیدلے ویږغ رمتې په جهان نهٔ یم


اسمٰعیلؔ به ستا دَ یادو وِرد کومه
زهٔ عادت دَ بل یؤشي په ګردان نهٔ یم





دلربا پسې مدام لړه په وير شه
په دا چاره ئې نهٔ خواته بنهٔ تزکير شه
توبه کار شه، دَ اُلفت په لاره درومه
په آشنا پسې په دې جهات زهير شه
بې اُلفته ژوند عزبت دے که پوهيږې
رَوّيه دَ اُلفت خپله کړه امير شه
دَ وفا اعزاز حاصل کړه په دُنيا کښې
نهٔ عالم لره دَ مينې لوئې بحير شه
کناره شه له جفاچې يار موندهٔ شې
يار رضا کانده بنهٔ ئې پوهه په تقرير شه
پاک الله په دې په زړهٔ ليکل اوکاندې
زړ نړ زړه نهٔ جوکه دَ دې تحرير شه
مسافر ئې دَ الله پيژندګلو له
اسمٰعيله نيک بنده دَ پاک قدير شه





رب دې راوله مدام لره دلبره
زړهٔ مې تا پسې ژړيږي معطّره
دَ بيلتون په سرو لمبو کښې دې يادومه
هير به نهٔ کړمه تا چرې منوّره

چې ترکومه به روپوش ئې ته له مانه
ځان را اوښايه زما لخت جګره

همه عمر زه د فکر په تال ځانګم
ځکه تا پسې مدام خیژمه بره

زه او غم دواړه همزولي يو جانانه
ورو په ورو ځکه ډېرېږي ناز پروره


د عشق رسم مې هم ونه تول چوره کړه
داکان کيږي په ما هم ستا له دړه

د وفا رنده مې تراشي ستاله رويه
په دې ډېر شکرګذاريم د زړه سره

د زړه چغې مې له عرشه پورته لاړې
ډېر زيبا عجيبه نوره او بشره

اسمعيل دې د درخس هم نه يم ياره
خوښنامينه مې ښه اوليده ژوره





زړه مې غواړي ستا ديدن له مودو راسې
دے شروع مې ځنکدن له مودو راسې

زړه مې ورچنه[1] په تا پسې وتلے
ارمان دے د چمن له مودو راسې

د يا دونو ستر کفن ترنه چا پير دے
پټوی ځان په کفن له مودو راسې


[1] ورچنه : بهر

دَ فراق لمبې ئې خلقو نه پټ سېزي
يادَوي ستا ګل بدن له مودو راسې

دَ وفا طريقه ئې ياده ده ستا عشق کښې
پرېښې ئې تا پسې وطن له مودو راسې

اسمٰعيل به دې ما تحت اوسم ترمرګه
ما زده کړے داسې فن له مودو راسې





په دلبرېسې مې زړهٔ مدام خوږيږي
تورې سترګې ئې له ما کله هيريږي

دَ ديدن ديدن په چغو مدام سريم
يُوم دَ هجر مې په زړهٔ کښې خښن اوسيږي

دَ غم بيا ستهٔ مې له ننه کلکه ستا وُ ده
دَ مرګي په وړخ په دا سپهر دلے کيږي

دَ حسين دلربا چيرنه ثانے نشته
ډير عالم پسې له توروغږ و ليليکي[1]

دَ عشق لار له حده تيره ده دشواره
پرې هډونه دَ رنجو په خير اوريږي


فدايان پرې دَ الله جؐ په فضل دړومې
هر ساعت ئې زړونه يار پسې ژړيږي

په تقديرئې دا ژړا ده رب ليکلې
پس له مرګه به مدام لره خنديږي

[1] ليليکي، غوزيږي


اسمعیل دَ خندہ رویہ یار دلاسہ
دیوانہ دے تل لہ ځان څخہ وتیږي






پہ سینہ کښي مي اور بل دے لہ پخوا
ځکہ هر وخت یادومہ دلبر با
چي مدام لوړہ دَ غم پہ غرکو لبکم
زړہ پہ ټنګ خوشحالي کاندم پہ دنیا
دَ یار عشق کښي لہ ځوانے نہ خبر نہ شوم
بیم تیر کړے لہ پخوا توری بلا
دَ بلا کیدہ کښي زړہ عبدِ یزدان شوم
ځکہ یار پسي ګرځمہ واویلا
غمخوري ئي پہ قسمت راله لیکلي
زړہ مي ځکہ هر ساعت کاندي ژړا
لہ ژړا نہ دي رب چري غلے نہ کړي
دَ وِیر ځائے کښي بہ اونہ کړمہ خندا
دَ وفا رسے مي کلکہ دہ نیولي
اسمعیل بہ چري اونہ کړم جفا






په نقاب د میني پټ یمه عالمه
حیرانتیا حاصلوم له هر قدمه
مینځه کړے راته لار د عشق راښائي
ځکه یار څخه یاري لرم محکمه
نتیجه به مې آخر دیدن د یار وي
تر هغې به کړندے په لاره ځمه
د سینې رحل مې ټول شوړے شوړے دے
یار مې ځکه راته ښکارې له عجمه
د زیبا په ول ول زلفو بندیوان یم
په هر ول ئې ځکه بیا بیا داسې مرمه
د دلبر رخسار مې چرې نهٔ هیرېږي
په هر دم او په قدم ئې یادومه
پاک الله دې محبت راله سیوا کړي
هم دا غواړم هسې نه چې یم بې غمه
تش کوکل د دلربا په لوري درومم
له پخوا مې زړهٔ زار کړے له کل نمه
اسمٰعیل د مسیحا یارے ستي کړم
وروغ به نهٔ شم بې د وصل له مرهمه






زۀ په ستا دَ تورو زلفو په ارمان یم
چې ترکومه زۀ ژوندے په دا جهان یم
زۀ له هجره نیښته نۀ کوم ترعمره
ستا دَ عشق له برکته پهلوان یم
سرنګون دریسې ګرځمه هر لوري ته
ځکه تا پسې دَ اوښکو اوږد باران یم
ستا دیدن له نیني چیچم دَ فولادو
دا په دغسې چیچه زۀ افغان یم
اسمٰعیل دَ میني کار کښې مړنے یم
ځکه داسې ډیر زخمي په خارستان یم






ډیر غنوته دي په سر انبارنه ما
چې په کله راشي ښکلے یار زما
ما دَ عشق دریاب کښي داسې ورده اوکړه
لر به نۀ شي یوُ ساعت خمار زما
زما یار زما خمار ته خوشحالیږي
له خپل یاره سرومال دي جار زما
دَ بې دریغه ګذارونو ښخه مخ یم
ګریوان ځکه دے همه تار تار زما


اسمٰعیل دَ یار په لوری سیخ روان یم
چې په کله سر ته رسی لار زما





زهٔ مئین دَ دلربا په سپین رُخسار یم
همه عمر به دَ دهٔ په انتظار یم
دَ هجران په تبر هر وخت توټې کیږم
زهٔ هم هغسې یار ستا یم وفادار یم
دَ فراق په میچن ځو واره اوړهٔ شوم
هر وخت ځان اوړهٔ کولو ته تیار یم
له دهته مې ناري یار پسې خیژی
په خوبا پسې زهٔ شپه ورځ ناقرار یم
زړهٔ مې هر وخت بنهٔ په چغو چغو ژاړی
اسمٰعیل دَ خپل زړګي نه خبردار یم






چې په زړهٔ کښې دې دَ یار محبّت نشته
ځکه یار څخه لا ستا شناخت نشته
محبّت له کردګاره څخه غواړه
ډیر سپیرهٔ یې دړ کښې داعلامت نشته


بې له مينې انسان نهٔ ئې زړ انسان شه
اے نادانه له دې بل لوئ قوّت نشته
نورغافل په دُنيا مهٔ کړځه وخت لنډ دے
چې داولې بيدارے ته دې نيّت نشته
بيدارے له کړدکارئ پيدا کړے
په تا څهٔ چې دړ کښې دا حقيقت نشته
هر ساعت دَعشق مشتاق اوسه دنيا کښې
په دُنيا کښې داسې بل يوُ دولت نشته
اسمٰعيل په دې دولت چرې موړ نهٔ شوم
هميشه مې له دې ځانه رخصت نشته






دَعطّار تلاش کښې اوګه چې عطّار شې
برادره چې به کله وفادار شې
دَعشق يو نکے دِ نهٔ زده کوې لاف
دې مکتب کښې سبق وايه چې هوښيار شې
هيڅ خبر نهٔ ئې چې څهٔ له ئې راغلے
نيکي کانده چې دَ يار دَ غاړې هار شې
اے نادانه زړ کړه بدئ چارې پريږده
دَعشق چاره، مدام کانده چې ماليار شې
دَحسد زنګ دې له زړهٔ څخه زړ دور کړه
دَالفت په رنګ ئې رنګ کړه چې دَ يار شې

په توبه دِ دَ سینې مجمه کړه پاکه
چې دولت دَ مینې در کاندې مالدار شې
یار به تا څخه خبرې دَ راز اوکړي
چې ورو ورځې دَ گفتار په انتظار شې
اسمٰعیل دَ دار په سر یارې زده کومه
ستا به هم داسې زده کیږي چې په دار شې






یوُ ساعت لره خلاص نهٔ شوم له غمونو
بیابان کښې کړم زړې زړې دردونو
دَ غمونو ځنې مې تل زړهٔ کښې اوسیږي
دَ مرګي په ورځ به خلاص شم له آهونو
دَ فرقت دَ برندو ستر کو اموخته یم
تول زړګې راله کړو تاکي فریادونو
همیشه مې له زړګي او ښکي رنزیږي
زړهٔ مې چودے دے دَ یار په تپوسونو
همه زړهٔ مې تلوسو دے قبضه کړے
دَ یار مینې نښهٔ پاک کړے له کړ دونو
دَ یار مینه کښې مې تول عمر تیریږي
سیلانے یمه له ورایه دَ ګلونو
ما ته هر وخت ربیار داخبر راکاندي
ډوب اوسیږه په دریاب کښې دَ فکرونو

اسمٰعیل دیدن دَ یار هدف تهٔ کلے
ترهغې به پسې ځي په تورو غرونو

—— ✻ ——



په خندا پسې ژړېږمه عالمه
دَ هجران په اور سوزېږمه عالمه

په حجاب کښې له عالمونه پټ ګرځم
چې ترڅو به زړه کړېږمه عالمه

له عالمه پټ دَ دیک په شان یشیږم
چې په څو داسې یشیږمه عالمه

دَ جانان په لوړې چټک مدام درومم
ترې هیڅ کله نهٔ صبرېږمه عالمه

په ګلزار پسې په دشت کښې تل روان یم
په اغزو ډیر زخمي کیږمه عالمه

همیشه دشت کښې له ځان څخه ګورېږم
تر دیدنه به کړېږمه عالمه

اسمٰعیل په دا پښتو همیشه کاندم
نهٔ ژوندے یم نهٔ مرکیږمه عالمه

—— ✻ ——


ډیر زخمي په خارستان شوم د مرهمو په ارمان یم
د طبیب په لوري درومم په طبیب باندې قربان یم
له ژړا به هله بس کړم چې د یار د غاړې هار شم
ترهغې به پسې ژاړم چې ژوندے ځو په جهان یم
مینې راسې دیوانه کړم چې له ځانه یم ورک شوے
همیشه زړه په دا حال یم ځکه خوش ډیر د جانان یم
زړه د مینې سوداګر یم مینه غواړمه له مینې
زړه په بحر بې کران کښې ډوب او سیې مه حیران یم
ماله جبین په زړه سورے کړم د وفاغشي را اولي
اے عالمه له پخوانه د دې عشق زړه نیښنان یم
اسمعیل د یار د مینې تل سوالي یم دامې کار دے
دا ګدا به زړه کومه پسې هر وخت په لړزان یم

—✲—

تجمّل له مانه زړه دے تختول ے
په نصیب مې راسې غم دے رسید لے
هر ساعت مې زړګے مروړي ځکه ژاړي
په ځلکو ځلکو کښې ستائې خپل بناغلے
په عالم کښې مې ثاني د جانان نشته
تر همو خوبرویانو دے ډیر ښکلے

ډیر قوّت ورله ورکړے ذوالجلال دے
دَمعراج په شپه له عرشه پورته ستلے
عالیشان ته حیرانتیا زما دوتر دے
دا دوترمې په دماغو غوړیدلے
زۀ دَفکر په تړال هر ساعت زنګیږم
له دې تاله چرې نۀ یم غورزیدلے
دَعلیؓ شیر یزدان په دُعا رنګ یم
اسمٰعیلؔ ئې یم په مزې کښې پالَلے





هر ساعت مې دَ جانان نوم په زبان دے
پیدا کړے رب عالمو کښې سلطان دے
عجیبه ګل مې دَ زړۀ کمله کښې شوے
دَګلاب په شان ئې رنګ دے عالیشان دے
په اغزو مې سینه هر وخت سوري کیږي
همه تن مې ځکه داسې په لړزان دے
لړزیدۀ به ولې نه کړمه عالمه
چې په مینه مې ریښې ریښې ګریوان دے
اسمٰعیلؔ وړپسې ځکه مدام ژاړم
دے له هر چا نه په ما باندې ډیر ګران دے




چپاوونه مدام کاندمه دریاب یم
اهنګونه مې په زړهٔ کښې دی رباب یم
تول کوکل مې له سکروټونه ډک شوے
له مودو راسې په یارېښې کباب یم
په زړګي مې تحریر کاندي پرې پوهیږم
زهٔ یې لولمه پخپله سترکتاب یم
ځنې تکي زهٔ عالمو ته وربښایم
له همو ته زهٔ ورخت لاجواب یم
رب مې سورے بنائي عالموته عبرت له
له عالمو یې پټ کړے په نقاب یم
اسمعیل پټ په نقاب کښې مدرس یم
ژوندے بنکاره په مړ باندِ حساب یم

مړه خواچې د بنکلي جانان نهٔ یم
یوساعت هم زهٔ غافل له ذیشان نهٔ یم
د هجران ونډنے کلک له ماچاپیردے
زهٔ په ولې د دیدن په ارمان نهٔ یم
د خوبا دیدن ته هرساعت متاثر یم
پښې ژارم لا داخل په بوستان نهٔ یم

دَ بوستان ورڅې له ورايه په ما لګي
پر نشه يمه خبر له جهان نهٔ يم
شپه اوٚ ورځ را باندِ يؤ دي داسې ژوندکړم
بې چرې زهٔ له دې خاره ستان نهٔ يم
اسمٰعيل دَ عشق مکتب کښې پېرزهين شوم
دَ يار مينه مې ښهٔ زده دهٔ نادان نهٔ يم





دلربا پسې مدام زهٔ په سفر يم
سوزونے څکه داسې دَعشق نمر يم
پريمان غشي له مژګانو په ما ورېږي
په هر غشي زهٔ زخمي دَ زړګي په سر يم
دَ حيرت له ميخانې نه مدام خښمه
شرابي يم په ساقي پسې اوٚتر يم
دلربا پسې دَ فکر په تړل ځانکم
له مودو راسې دُنيا نه لاس په سر يم
له استاذي نه صفت دَ دلبر اوٚرم
بې مثاله مئين شوے په دلبر يم
له مرګي پورې به مينه دَ يار کاندم
مور به نهٔ شمه په مينه تل نهر يم
دَ يار دره ته ګرندے ګرندے درولم
اسمٰعيل له نوره چاره وناخبر يم

د عشق رسم دیوانه کړم بیابان کښې
یو وروغ تار مې پاتې نهٔ شهٔ په ګریوان کښې
په ژړا ژړا مې ځان څو واره مړ کهٔ
ما په شان رنځیده نشته په جهان کښې
پرهر ونه به هله زما تول جوړ شي
چې جانان راته ښکاره شي نول په ځان کښې
له مړګي نه مخکښې تت لیدے شي خلقه
پس له مړګه به رونبان ښکاري بوستان کښې
وو بڼړے تکے د خوبا په لټوت کړځم
همه عمر مې تیریږي په هجران کښې
اسمعیل به له هجران څخه خلاص نهٔ شم
معظّم راته ویلې دي فرمان کښې

څنګ خوشحال شم چې مې څنګ کښې خوبا نشته
آشنایان ډیر دي خو داسې آشنا نشته
د زیبا آشنا مشتاق یم ځکه ژاړم
بې له وصله مې علاج د ژړا نشته
هسکو غر ونهٔ بېې څوواره کذار شوم
په دُنیا ما په شان څوک په غوغا نشته


دَ هجران په دُوپ کښې عمر تېرَوُمه
قرارې مې په ژړېدو دَ دریا نښته

چې نسیم په کله ماپله راد رومې
په نصیب کښې مې لا دغه ادا نښته

دَ فراق سپېرې ماله مقرر دې
په دې پوهه یم چې وَصل وېر یا نښته

اسمٰعیل په مسلسل مشقت کاندم
بې غمخویه له دَ رب دا عطا نښته

—— ※ ——



هر ساعت په انتظار دَ خپل جانان یم
گذار شوے زهٔ دَ مینې په سیران یم


دلربا زما دَ مینې سمندر دے
پسې ځکه هر ساعت ځیرې ژړېوان یم

له پخوا نه پسې لے په بے کړ ځیروم
ځکه داسې خپلې مینې ته حیران یم

مینه ناک به کله اوموم خدایه
دَ بُلبل په شان په طمع دَ بوستان یم


دَ یار مینې مې سینه تول غلبیل کړه
اسمٰعیل ځکه مدام په دهائے سوران یم

—— ※ ——




دَ رُخسار په سرو لمبو مدام سوزېږم
کۀ څو سوزمه په ميته نۀ مرېږم
زړۀ مې هر وخت هجران کښې دا مې حال دے
چې به څو دَ يار ديدن پسې کړېږم
دَ فرقت غنيسې تل چيچل زما کـه
په دمګړي پسې کړځم تول خوږېږم
دَ وفا په توره ځان خپله وهمـه
ګکه هر ساعت په يار پسې ژوبلېږم
يار مې ماته قلندر وئيلې پخوا دي
په دُنيا کښې له دُنيا نه بيل اوسېږم
په وطن دَ تودوخے کښې مې مسکن دے
اسمٰعيل په پسرلي پسې ژړېږم

—※—



له مورو نه دَ خُوبا په انتظار يم
په دا پوهه يم يارانو کښې ئې شمار يم
دَ فرقت نيزه مې زړۀ کښې خښه شوې
دَ اُلفت وينې تر څاځي وفادار يم
په وفا له جفا دور اوسم دُنيا کښې
له زړګو څخه دَ يار دَ غاړې هار يم

یوه ورځ به مې یار واچوی په غاړه
بیا به ما چرې لره نه کړي بنه سنګاریم
شیش محل کښې به مدام ورځخه اوسم
دې ما نړے پسې زخمی په خندوخاریم
خسمانه د زړه کومه یار د پاره
تربګنۍ[1] د غلیم کاند مه بیداریم
د غلیم په وس وسو به زه تیر نه اوځم
زه مدام لره د مینې طلبګاریم
د الفت د باغ کښے[2] یمه په زړه کښې
د حسد ویشتو ته هر ساعت تیاریم
د حسد حملې مدام لره تتنبومه
زه هُم دې له پیدا کړے کردګاریم
د غمونو په ترخړه توپې کېږم
ځکه داسې د دلبر په نیزمالداریم
اسمٰعیل به د یلس مینه تل کاندم
د بُلبل په شان به هر وخت په چغاریم




په خزان کښې تل په طمعه د بهاریم
له مودو راسې مئین په سپین رُخساریم

---

۱ تربګنی : دُښمنی ۲ کښے : څوکیدار

دلربا مې خوبرویانو کښې بنائسته دے
سوزېدلے په شور پور په دې انکاریم
دَ وفا رانجهٔ زما له تنه جوړ دي
په چشمانو پسې ئې ځکه نا قراریم
تور اوربل له ئې کلونه تولوومه
پوهه کړے ئې یارے لره ربیاریم
دَ اُلفت مذهب شیرین کړمه شیرین له
په دا برخه دَ الله شکرگذاریم
اسمٰعیل له عشقه لُطف اخلم دُنیا کښې
همیشه به زړهٔ په دې لُطف شاداریم






ډوب اوسیږم دَ غمونو په دریا
تورَه شپه کښې انتظار کړم دَ صبا
دَ فراق ترخزمې هروخت سینه تراشي
نافذ شوے دَ اُلفت قانون په ما
په زړګي کښې مې الفت غمونه پیائی[ل]
دې غمونو کړم آشنا پسې کډا
په آشنا پسې مې مینې زړګے رنگ کهٔ
زړهٔ په رنگ زړګي دیار وایم ثنا
له خندا اخته تر اوسه بلد نه شوم
په تقدیر مې رب لیکلې ده ژړا

ل پیائی: سَروی

کۀ یؤ واري مې دلبر بیا موندۀ خلقه
همه عمر به ترنې ته شمه جُدا
اسمٰعیل دَ عشق په لاره چُست روان یم
زده کومه به ترمرګه دا ادا





آئینه کښې مې ځان اوتهٔ لیدِ خندان
چې به څوک راسې ژړیږم په جهان
چې مې تا ته درِیچه دَ زړګي واکړه
هغه راسې مې په زړهٔ کښې دے طوفان
زړهٔ مې هروخت په بیا تے[۲] دَغم غوسیږي
تلالي کاندي په تا پسې هراِن
دَ فرقت نیر مې تن توتې توتې کۀ
هر ساعت یم ستا دَ سپین مخ په ارمان
ستا دَ عشق په لبره واؤ ختم دلبره
زهٔ دانا کړمه دي لبړې وُم نادان
په کونین کښې ستا په شان پیغۓ نشته
مێن ځکه دے په تا غني سُبحان
اسمٰعیل سُبحان په تا باندِ مێن کړم
ځکه ووړي مې له سترګو نه باران



[۱] درِیچه : دروازګۍ[۲] وا ؛ پرانستے شوے [۳] بیاتی : تینچي

دَ سینې په لغړې کښې مې اور بل دے
بندیوان مې زړهٔ دَ زلفو په هروَل دے

په دریاب دَ بیلتانهٔ کښې غرق او سیږم
هر یوځل مې دَ هجران په ژړندهٔ دَل دے

هر ساعت زهٔ مسیحا مسیحا وایم
زما زړهٔ دَ مسیحا په مخ کښې حل دے

له سپین مخه به ئې چرې صبر نهٔ شم
دَ دهٔ حُسن په عالمو کښې اوّل دے

همه عمر به ئې عشق کښې تیروُمه
یل څهٔ نهٔ کوُمه عشق کښې همه چل دے

دَ فراق په غشو هر وخت زخمي کیږم
دَ یار مینه پسې ما کړے توکل دے

زهٔ ناروغه به شم وروغ چې طبیب راشي
دا یقین مې په طبیب بنهٔ مکمل دے

اسمٰعیل دَ عشق په اور کښې ایره پروت یم
دَ یار غم مې په زړهٔ پورې اندول دے

⁂

په صفت به دَ خوبا خپله صفت شي
صفت کاندهٔ چې صاحب دَ سلطنت شي

دَ اُلفت په اوبو ځان له سينه پرې اينځه
چې داخل دَ يار په دې سينهٔ خوبصورت شي

نو مَورے په هله شي په دار يــــو
دولتمند چې دَ اخلاقو په دولت شي

چې دې وُچوړلے ترځو فراخه نهٔ وي
څهٔ خبر به په دُنيا کښې له نعمت شي


دَ کينې کَګَلے کښې خينه زړه راُوځـــه
چې خبر په دې دُنيا له حقيقت شي

په دا دَهر زړه نيوَکه دَ عشق اوکړه
چې زړهٔ خوړے دَ زړهٔ خوړو په صحبت شي

دَ دلبر دَ دې رهبر پسې چاق دړومه
تل به خلاص نهٔ دَ غفلت له مصيبت شي

دُنيا ترک کړه کهٔ يارې په دُنيا غواړې
اسمٰعيله په دا کار به دَ حضرت شي

—— ✻ ——




له غفلته را بيدار شه نيکو کار شه
بې يارے ګرځيده پريږده زړه دَ يار شه


بنکته پورته دَ قدرت تماشه کانده
سرتا پايه په کالو دَ خيال سنګار شه

آجنبې له زړه نه اوشړه په ذکر
بس دے نوره جفا مهٔ کړه وفادار شه

د وچوړلے: تنګدے ته کښل: قسم


دَ برین دلبر طلب کښي مدام کړځه
له دُنیا نه پسې روزوشب کنار شه
دَحیرت حیواد کښې تول عمر اوسیږه
همیشه کوه داچاره پرې نامدار شه
متاق زړه به دې چغزي شي چې حب کاندې
هیڅ ئې بل چغزي کوے نهٔ شي هوښیار شه
دَجانان دیدن ته ولې لیوال نهٔ ئې
اسمٰعیل غونډې هر وخت پهره دار شه






تل ژړیږه په خندا پسې دُنیا کښې
ځان لاهو کانده دَمینې په دریا کښې
دَ هجران په چپاوونو کښې اوسیږه
منډې اُووهه دَ فکر په صحرا کښې
کویوان ځیرې کوځوه دیدن دَ یاره
عمر تیر کړه همیشه دَعشق سزا کښې
ځان دَمینې په شرابو اموخته کړه
چې په نور دَ دلبرو درومې ادا کښې
مسافره دَ منزل غم ولې نهٔ کړې
لټوه مدام رضا دَ یار رضا کښې
په خپل ځنک کښې به یار ځانے تالره درکه
چې اوسیږې پسې هر وخت په غوغا کښې


اسمٰعیل دَ عوغا تون کښې یم ورک شوے
یوه ورځ به ځان مونده کړم دَ یار خواکښې





دَ حیرت په سمند رکښې نور حیرت له ربه غواړم
په حیرت ډیر ښکلے کیږم دا زینت له ربه غواړم
په فریاد فریاد دلبرخیل یا دُومه صبح وشام زۀ
دَ ژړُوندون هره کړے کښې داطاعت له ربه غواړم
دَ رُخسار په اورسوزیږم صداقت هم دې نه وائ
دَ رُخسار مینې دَ پاره نورطاقت له ربه غواړم
په زلفانو زۀ بندي یم ړک تري چرې وهے نۀ شم
دَ جانان دَ سرو لبانو خوږ شربت له ربه غواړم
دَ دیدن دیدن غږونه مې له عرشه پورته دروي
په خاطر دَ ماه جبین داعنایت له ربه غواړم
اسمٰعیل په یار مئین یم دُنیا پاتې دۀ له مانه
یا دبه بل څۀ زما نۀ شي زۀ قربت له ربه غواړم






په بیان دَ محترم زړ عمل اوکړه
دَ وفا په رسے پورته خنل اوکړه


له زړګې ته دې لوګي هسک کړه سماءِ ته
داسې کار دَ محبّت دلته تل اوکړه
څۀ دَ پاره چې دُنیا ته ئې راغلې
په هغې پښې په مینه توکل اوکړه
دلربا درته دَ حق لاره ښودلې
دَ دۀ درته په دا لاره ورتلل اوکړه
دَحسد تیکه له زړۀ لرې کنډار کړه
له ابلیس څخه تل جنګ وجدل اوکړه
دَ دلبر دَ راز خبرو ته لیوال شه
ښۀ په غوږ ئې دَ هر لفظ اوریدل اوکړه
په دُنیا کښې په خوارے دلبر مونده شي
دَ فولادو دَ نیتو داچپل اوکړه
لکه موم دَ اسمٰعیل غوندې شه ویلې
دَ عشق نار باندِ په ځان ته داچل اوکړه






دَ زړۀ سره ستا په لورې په رفتن یم
ارمان له مودو راسې دَ چمن یم
ستا یادونو مې په زړۀ کښې سورې جوړ کړۀ
فریادونه ځکه کاندمه غمژن یم
ستا دَ حُسن تیغ بې حده پرېکائل کړم
پټ په تا پسې دَ هجر په کفن یم

کړکېچن عشق دې له برمه يم پرې ايښتے
اے دلبر خاموش ځکه په دهن يم
اسمٰعيل دې په رخسار بسيار مئين يم
ملاقي ځکه مدام د زنکدان يم






مدام مينه کودوُمه دروېزګر[1] کريم
همه زړهٔ مې شهٔ پروېزه[2] مسافر يم
له ازله نامزد شوے يم هجران له
د هجران په اور کښې پروت يمه کسکريم
په ډېر کوان امتحان واوُختم دُنيا کښې
د آشنا په انتظار شام وسحر يم
زهٔ په زخت[3] ډېر ښکلي مخ بانډ مئين يم
پسې ځکه هر ساعت داسې اُوتر يم
د شرابو په څو غړپو شوم نوړ تکے
په هر غړپ پسې مړ شوے په هُنر يم
ما د غم په تغرخپل تنړ ايښودے
چې آشنا پسې به څو پړمڅې سر يم
د يادونو سنړ اسمٰيل مې دے په غاړه
له پخوا د يار د يادو منجاور يم

---

[1] درويزګر: ګداګر [2] پرويزه: غليبيل [3] زخت: ډېر زيات

بوله نهٔ یم اسمٰعیل چې بل څهٔ غواړم
هغه غواړم چې زخمي ئې په خنجر یم

—— ※ ——



له مودو راسې په ما ده اوچ کالي
دَ دیدن اوبهٔ خوړ غواړم له مالي
په دُنیا راله راحت لوکوټي نشته
خوشحالے پسې کُومه تلالي
په خمیر کښې ئې راله غم دے اغږلے
ده راکړې ئې دا برخه ازلي
دَ یادونو باړ په زړهٔ سورے سورے کړم
دا یادونه نور یادونه رابلي
کوڼه زړهٔ مې شهٔ کړه دَعشق په اور کښې
هر ساعت یمه دَ داسې اور سوالي
تر رِحلته به مې زړهٔ نور هم کړه شي
داسې چاره مدام کاندم کمالي
تر موا وښکو مې کړیوان راله بوزه[۱] کهٔ
تو لې کړهٔ[۲] وې مې لا هو شوے په خیالي[۳]
اسمٰعیل په مینه داسې مستانه یم
چې مدام به یمه څنګ کښې دلالي

—— ※ ——

۱ بوزه : وروست ۲ کړهٔ وې : تنړے ۳ خیالے : دَ یودړ یاب نوم

○

په زیبا یسي مدام ګوګې وهمه
ترمرګي پورې به دا چاره کومه

دَ یادونو په صحرا کښې نسکوره پروت یم
تمامي عمر به خلاص نهٔ شم له غمه

دَ تن وینې اوَر یکو ته څخه یوُ شوهٔ
دَ هجران تورې بې دریغه زخمي کړمه

زما اوښکې به څنګ اوچې شي دُنیا کښې
چې دَ یاد رومال په سترګو هر وخت ږدمه

زهٔ دَ عشق دَ مزرې په غم مبا ویخ یم
اودهٔ نهٔ یم چې خوبا به هیرومه

دَ مرستیال مرستې ته هر ساعت لیوال یم
په دا مرسته به رسیږم ترحرمه

اسمٰعیل دَ فرقت چارې بنهٔ استاد کړم
څکه داسې دا دَ غم مصرعې لیکمه

———※———

○

له سینې مې زړهٔ په تا پسې جوَت[1] دے
پرې نقش شوے له پخوا ته ستا صورت دے

خوبصورته دَ خدائے دَ پاره راشه
په ما هر ساعت په تا پسې قیامت دے


[1] جوَت : ښکاره

دَ هجران یرغل مې تن خاوړې ایرې کړه
په نصیب کښې زما داسې عبادت دے
ستا دَ حُب کوَل زما دې ډیر زده شوي
ستا دَ یاره مې ایښودے دا دولت دے

ستا زینت پسې دَ زیب په لاروړاندېږکړم
اختیار کړے مې هم دا متابعت دے
دَ زړګي کړوَنج مې تا ټوټې ټوټې کړه
اے دلداره عجیبه دِ سلطنت دے


ستا رُخسار پسې کړه هر څو ژړا کاندي
قبول کړے اسمٰعیل دا مشقت دے






ستا هجران دلبره ډیر لوړیا کوږیا کړم
نا خبر دې همه عمر له خندا کړم
دَ راحت محل دې ټول راله مسمار کړه
خوشحالے پسې دې زه دَ غم دریا کړم
ستا دیدن زما راحت دے نقاب پوشه
چې به څو درپسې داسې واویلا کړم
چې مې زړه تا دَ سینې له تاخه نیوَړو
اے دلبره لاس په سردې له دُنیا کړم
دستبردار به چرې نهٔ شم ستاله مینې
تر مرګې پورې به دغسې کډا کړم


زۀ په تا پسې هر لور ته ناري کاندم
تا په ځان پسې عالمو نه جُدا کړم
ستا دَ مخ دَ پلوشو په لوري درومم
اسمٰعيل په روز و شب هم دا ادا کړم





ډېر حيران يمه چې ولې حيران نۀ ئې
تماشبين ولې دَ ځان او جهان نۀ ئې
چې دې نۀ پرېږدي دُښمن دَ حيرت تون ته
ولې ته ور ځنه مُشت و کريوان نۀ ئې
دا چې تيښت دَ دلربا له دره کاندې
په کاکُل زلفو ئې ته بنديوان نۀ ئې
دَ وفا په نامه ځان محکم بندي کړه
هائے افسوس دے په جفا لا پښيمان نۀ ئې
اسمٰعيل غوندې په زړۀ داغلے نۀ ئې
ځکه پوهه ته دَ دۀ په بيان نۀ ئې





په تاخونۍ مې دَ زړۀ خونه شوه ويرانه
ستا ليدو ته مې ښادي ده له پخوانه

ۍ تاخون ؛ دَ زړۀ نوُل

کهٔ هر څو داسې کړېږم په دُنیا کښې
ستا رضا به هرِ ساعت کوُم جانانه


له مودو راسې دې یاره تاتمل[1] کاندم
ستا تابان مخ به مې هیر نهٔ شي تابانه

بنهٔ پوهیږمه تازه به په انکار شم
ځکه داسې لاس په سر یمه دُنیانه

زما جَندِه[2] په فراق دې یم تپشو[3] ے
دیدن راکړه رب دَ پاره عالي شانه

اسمٰعیل دَ کړیکېن غم څخه مخ یم
غم به دور کاندي ستا دید زما ذیشانه





دَرست جهان مې په زړګي باندِ انبار دے
دَهٔ اَخښتے له انبار له زوره سَار دے

داسې حال مې شهٔ فریاد هم کوے نهٔ شم
همیشه مې خپل طبیب ته انتظار دے


کوهِ طور خو رب سوخته کړلو یؤ واري
زما تن په اور کښې پروت شام وسحار دے

ترمرګي پورې به داسې سوخته کیږم
روح اؤتن مې له جانانه مدام زار دے

ل تماتل : آرزومند ۲ جَند : دَ زړه نوتپه ـ ډیرخوږ یار ۳ تپشوے: تباه شوے


خدائے زده جانان به کله وائی راشه
اسمٰعیل به صبر کاندم دا مې کاردے





ستا په لور مې دَ آهونو قطار جوړ کړهٔ
تړمو اوښکو مې دریاب دَ خمار جوړ کړهٔ
خوشحالي دِ رانه وړې غمزده یم
زما زړهٔ کښې دې محل دَ اسرار جوړ کړهٔ
بیلتانهٔ دې دَ غمونو سمندر کړم
چپاوونو ځکه داسې نا تار جوړ کړهٔ
ستا دیدن به زهٔ مدام له ربه غواړم
په ما څلے ستا دَ مخ انتظار جوړ کړهٔ
اسمٰعیل به چرې جار نهٔ اوځم له عشقه
ما دَ ستا دَ عشق له زوره اشعار جوړ کړهٔ





په زیبا یې دې ځان کانده زیبا
په دُنیا کښې له دُنیا اوسه جُدا
په تلویتو به خلاص له سزا نهٔ شې
کارنده شه بنهٔ ماهر په دا دُنیا


رُوح اؤتَن دي شکرانه یار لره ورکړه
توبه اوباسه په شان دَ نصُوحا

دَ بیلتون تورو ورځو کښې اوسیږه
چې دَ وَصل یاران اوکاندي په تا

هر ساعت شه اَرماني دَ سرولبانو
ملاقي به شې آخر دَ دلربا

اسمٰعیله چې مدام په دُنیا ژاړې
خامخا به دِ دلبر کاندي پُخلا





چې په یار پسې له سترګو رَېل شوم
بیا هله په انتظار دَ عزرائیل شوم

هر ساعت زهٔ دیدن غواړم دروېزګر یم
زهٔ په یار پسې دَ اوښکو رودِ نیل شوم

دَ فرقت بوج مې په ولو باندِ پروت دے
همه عمر زهٔ دَ دهٔ په ګران تحویل شوم

دانائۍ مې په تحویل کښې ډیره زده کړه
زهٔ دَ یار په عدالت کښې سترو کیل شوم

اسمٰعیله زهٔ پخوا اسمٰعیل نهٔ ووم
چې په دام دَ یار کښې بنګیل شوم اسمٰعیل شوم





زۀ دَغم په توغندو په زړۀ سوړے يم
پرهر ژړے يار دلاسه پخوانے يم
تود وخے دَعشق مې تن همه کسکرکۀ
دَعشق بام باندِ په يارپسې لوګے يم
زړۀ مې صبر دَضياء له مخه نۀ کړه
دَ اُلفت چاره کښې زۀ ډير مړنے يم
له فراق څخه مدام مشت وګريوان يم
خپلې وينې تويُومه خونړے يم
په طبيب پسې بې وارۀ ګوګي کاندم
ډير نځوړ يمه دَ مينې ليونے يم
همه عمر مې نصيب دی سرې سکروټې
اسمٰعيل پرنګ لوګے کيږم سپيلنے يم

که دې واوريده ګفتار زما دَمينې
کړې پخپله به اقرار زما دَمينې
سوداګر يمه دَمينې بل څۀ نۀ کړم
راشه اوګوره بازار زما دَمينې
چې يوواړې مې له فن څخه خوند واخلې
بيا به وائې دا اشعار زما دَمينې

دے پوهانو مې ګفتار غوږه کړے
بنهٔ منلے ئې کردار زما د مینې

اسمٰعیل په مینه مینه، مینه غواړم
ځکه خوړ شهٔ دا اخبار زما د مینې





چې کاتب مې په زړګی کتابت اوکړهٔ
هغه وخت مې له دُنیا نه نفرت اوکړهٔ


دَ هجران باران مې سترګو نه راووړې
دلربا پسې مې راسې محنت اوکړهٔ


دَ رحلت په وخت به خلاص شم له محنته
له مرګي پورې مې قول دَ اُلفت اوکړهٔ

بیا به هسې نهم هغه عمر الفت وي
ځکه ما دلته دَ مینې عادت اوکړهٔ

خوږ آشنا مې په ژړا ډیر خوشحالیږي
په ژړا ژړا کښې ما بادشاهت اوکړهٔ


اسمٰعیل ستر کیمیا کړکړم دَ دهٔ مینې
ما تړون ځکه دَ دې محبّت اوکړهٔ





زۀ په لېږه دَ فرقت يمه اووختے
دَ زيبا په محبّت يمه اووختے
زۀ دَ لُطف په طمع کړمه دُنيا کښې
دَ دې دهر په حيرت يمه اووختے
په روپوش پسې حيرت زۀ ديوانه کړم
په دې شکلې عنايت يمه اووختے
ما دَ عشق له دې عنوانه زده کړه اوکړه
زۀ په داسې عبادت يمه اووختے
دَ يار دړته برمختګ کاندم په مينه
زۀ دَ مينې په جرّت يمه اووختے
تېښت به چرې زۀ دَ يار له ياره نۀ کړم
هميشه په صداقت يمه اووختے
اسمٰعيل دَ هجر تاب کښې زير بيتاب شوم
په بې مثله حقيقت يمه اووختے






دَ محبوب په لوړي هر ساعت روان يم
دمه نۀ کړم مړه خوا له دې جهان يم
دَ فراق دمبرو تن زما تول اوخوړ
دَ دمګرى په لوړ دړو مهه ناتوان يم

چودے زړۀ مې فریاد ونه کړی له درده
خود به کاندي چې مئین په عالیشان یم
لاس نیوه چې مې دَ مینې کله کړې
له هغې نه راپه دیخوا سرګردان یم
هر ساعت وایم چې یار به مې اوس راشي
زۀ په داسې جیلخانه کښې بندیوان یم
ټول بدن مې عاشقي دے ډیر زورَے
اسمٰعیل ځکه ښکاره دَ غم داستان یم







په خپل یار پسې دَ مینې منجور شه
یاري زده کاندہ دُنیا نه لاس په سر شه
لکه موم دَ عشق په اور کاندہ ځان وِلې
خبردار دَ عاشقي له دې هُنر شه
ورخ دَ ستر ګو ګورے اوته نرې چرې
خپل ګریوان اویۀ کوه داسې نوکر شه
تر بګنې کړه له ابلیس څخه محکمه
همه عمر تۀ له دګا نه مسرور شه
دَ سینې المارے لرکړه وَیارے ته
په دې توره باندِ خو واره پرهر شه
دَ احسن تصویر دَ زړۀ په تاخ کښې کیږده
هر ساعت ئې دیدن کانده قلندر شه


اسمٰعیله بریالے ئې چې مئین ئې
داسې نوره مینه غواړه پسې برشه






په خزان پسې بهاروی د بهار په طمعه کړځم
له مودو نه ناقراریم د قرار په طمعه کرځم
تیبسته کړې خوب له ما نه بې خوبے تالا والا کړم
ټول ګریوان مې اوښکو روست که د رخسار په طمعه کرځم
ما د اوښکو توئے روان که د جانان په لوړی دروې
د هجران په توره شپه کښې د سحار په طمعه کرځم
د غم لوړه راته تاؤ ده خوشحالې ئې پناه کړې
زهٔ په داسې بیابان کښې د ګلزار په طمعه کرځم
آسویلې مې پور نه دروې اسمٰعیل ئې نندارہ کړم
ترمرګې یه په دُنیا کښې د خپل یار په طمعه کرځم






اے ناپوهه شا به زړ غوځ په خنجر شه
له ډیر غمه تهٔ سوړے د زړهٔ په سرشه
داسې کوږ په تهٔ ترکومه پورې کرځې
د آشنا دړته به ځې بنهٔ برابر شه


دَ دیدن نعمت دې ولې په هیر کړې
دې نعمت پسې دُنیا ګښې دړ په دړ شه
دومره نهٔ پوهیږې تهٔ چې کوم ځاۓ اوسې
لهٔ دې بندهٔ بنهٔ صورت کښې وربهر شه
دَ فرقت له ناکردو نه تیښته مهٔ کړه
سینه ډال کانده بس داسې بهادر شه
همیشه دَ تورو زلفو سورے کوره
دَ هجران په آفتاب هر ساعت کسکر شه
امتحان دې له بلوغه شروع شوے
نتیجه دې رانږدو ده بنهٔ خیر شه
اسمٰعیله کامیابي له رب غواړه
همیشه سائل دَ پاک غني اکبر شه




هرکهٔ اولیدهٔ زما دا زړهٔ داغلے
خود به اَورے بیا ما ته کړیدے
زما مینه څهٔ افواء نه ده عاشق یم
سرومال مې دلربا باندِ بائیللے
دَ اُلفت په سبق زهٔ ډیر بنهٔ پوهیږم
څهٔ اوس وایم څهٔ مې مخکښې دے ویلے
دَ بیلتون دوره په ما باندِ جاري ده
چې یار راشي دے به لاړ شي ساتیولے

دَ فراق دَلاسه هر وخت خوار و زار يم
دَ غمو نو طوفانونو يـم زپـلے
اسمٰعيل دَ عشق دُنيا کښې سودا کريم
ډير دولت مې په دا چاره دے گټلے





هميشه به په دُنيا کښې وفا کاندم
ډير يا دونه به دَ خپل دلبر با کاندم
دَ فراق برېد مې ټول تن زخمي زخمي کۀ
دَ طبيب په لوري در و مم ژړا کاندم
دَ غمونو بنډ کښې پټ يمه له خلـقو
پکښې پټه زړۀ دَ مينې ادا کاندم
کاذب نۀ يم په رښتيا په يار مئين يم
دَ يار مينه به مدام په رښتيا کاندم
دَ هجران يُوم مې په زړۀ کښې ډوغل کړے
دَ زړۀ غوښې ورکومه سخا کاندم
دَ شيرين دَ يار ه غم په ځان ستيرومه
بيا به هر وخت ديد نونه ويړيا کاندم
اسمٰعيله زړۀ دې ډير دے پاريدلے
بندوبست ورله دَ ډيرې خندا کاندم



○

دَ غمونو لوئ داستان یمه په عشق کښې
خپله ځان ته حق حیران یمه په عشق کښې

په زړګي مې دَ هجران ننګے ختي
همه عمر په لړزان یمه په عشق کښې

ترمو اوښکو مې ګریوان همه لوند خوشتۀ
تماشبین دَ خپل ګریوان یمه په عشق کښې

زګړه خورمه دَ یادونو په لنګرے کښې
ارماني تل دَ جانان یمه په عشق کښې

اسمٰعیل به دَ جانان غیږې له لاړ شم
زۀ ئې دړته وړ روان یمه په عشق کښې



○

له مودو راسې په یار پسې بیمار یم
زړګۀ ئې وړے دے له مانه په ناتار یم


دَ فرقت چړې مې یټ له تنه اوښکۀ
ډیرې چغې وهم یار ته نا قرار یم

په دیدار به ئې زۀ کله مشرّف شم
چې ترڅو به زۀ داسې خوار و زار یم

زۀ دَ اوښکو جرګې بیا یمه آشنا له
خپل ګریوان اویۀ کوم داسې مالیار یم

ډېر مشکل کار راته يار حواله کړے
همه عمر په دَ يار په انتظار يم
ټول هڅه وته مې دَ صبر تبرمات کړه
وفا کاندمه مدام به وفادار يم
اسمٰعيل دَ وفا سيند کښې لاهو شوے
ورته ژاړم بل څهٔ نهٔ کړمه لاچار يم

⁂



نارې کاندمه مدام په زړه ته[1] زرته
زما مينه شوه عالموته جوته[2]
دَ فرقت خندق کښې اولويدم ناڅاپه
لټوم پکښې مدام زهٔ خوبصورته
دَ ديدن دَ ګلستان ډېر ارماني يم
پسې مړيمه عالمه څوک رسته
ما دَ صبر لاره خپله کړه دُنيا کښې
په دا چاره شوم خبر له محبته
اسمٰعيل دَ محبت په دولت شاه شوم
ځکه ما دُنيا له ورکړه جوښته لته

⁂

---

[1] په زړته : په زوره [2] جوت، ښکاره

○

همه عمر به صفت دَ جانان کاندم
له چشمانو به دَ اوښکو باران کاندم
په هر لوري دَغم کېږله مانه تاوُدے
هر ساعت پکښې دَ یادو ګردان کاندم
په ناړے دَغم جانان یم کلک تړلے
ځکه دۀ پسې داوِیر زۀ پریشان کاندم
په آهونو مې تالو دۀ پسې تــور شۀ
په څو وار به ځان له دۀ نه قربان کاندم
زۀ دَعشق شیبرې تبې یم نیولے
صبح وشام زۀ ځکه داسې لړزان کاندم
اسمٰعیل به ظلۀ چرې په هیر نۀ کړم
تر دیدنه به ئې هر وخت ارمان کاندم




○

چې ترکومه به جُدا له ما دلـــبروي
چې ترڅو به مې په زړۀ کښې داخنجروي
دَ ربیار په لیدو غونے په ما زیک شۀ
ماوې بیا به ئې راوړے څۀ خــبروي
دَهجران بیان مې ډیر په غوږ واوُرید
دَوصال وړځ به په ما باندِ اختروي

دَ جواد په یارانه کښې ډیر زیرک شوم
یاد به ماته دا دَ عشق دَ باب څڼروي
ژوکے نۀ یم چې به مینه دَ یار پریږدم
همیشه به مې کړوان په اوښکو تروي
دَ وفا ډیوه مې زړۀ کښې بله شوې
په هر آن یه جفا ما نه دړ په دړ وي
اسمٰعیل له شهنشاه څخه یاري کړم
چې څوک دۀ څخه یاري کاندي کسکروي






اے عالمه دَ غم چارې ډیر ناتوان کړم
څکه هر ساعت له غمه ډک بیان کړم
دَ فراق غُنبسې[ا] هر وخت ما پسې دي
ټول ئې اوخوړمه هروخت هائے سوزان کړم
مکرّم پسې مې ټول غم ژبے دۀ
دَ غم غشو ته ئې هر ساعت نیښان کړم
پیشقدمې به چرې پریږدم دُنیا کښې
کۀ هر څومره فریادونه په زبان کړم
دَ یار دړمې په زړګي هر وخت راووړي
له لیمو نه پسې څکه زۀ باران کړم
دَ فراق په بیابان کښې مزل کاندم
ار مانونه همیشه دَ ګلستان کړم

ا غنبسې: چچۍ

اسمٰعیل چې کله غم څخه فارغ شم
هغه دم به راتر غاړه خپل جانان کړم


* * *




چې ترڅو به یم خوبا پسې بیمار
مدام سوزمه دَمینې په انګار
دَ فراق په دونکاچه په سجده پروت یم
په سجده کښې یادومه سپین رخسار
زړګې یار پسې پښوانه په ژړا دے
داسې عمر تیرومه ناقرار
تول هړونه مې دَ یادو تخزه[1] تراشي
له ډیر درده کوکې کاندمه بار بار
همه عمر به دلبر ته لارې څارم
له مودو نه منتخب یم پهره دار
دَ هجران په ژنیکو هر ساعت ژوبلیږم
ځکه داسې کوم هر ساعت ناتار
اسمٰعیل به دَ مالیار یارې سرینږدم
عندلیب غوندې به کومه تل چغار


* * *

[1] تخزه ، ترخه




دا په تا باندِ څۀ شوی بـرادره
په توبه ځان رابهر کړه له خطره
کوم خوا درومې تۀ لږ پام کړیوان ته اوکړه
په دریاب باندِ ورکېږې بې کودره
راشه زر دَ طریقت بیړے کښې کینه
له ملاح څخه کفتار اوکانده غوره
دومره پام دې ځان ته نۀ کوې چې به څۀ کړم
بې پرواه نۀ شې تۀ نور دَ یار له دره
دَ بلبل غوندې ناړې یار پسې کانده
یارانه ورڅخه جوړه کړه جـوړه
په زینت پسې دې ځان تک شین لوګے کړه
خامخا به سفر اوکاندې په بـره
دَ بیلتون په تبر زړګے ځان لره چودکړه
تیښته مۀ کانده دَ مینې له سور نمره
دَ هجران په توره شپه کښې تل اوسیږه
اسمٰعیل غونـدې ژړیږه ترسحره






هر ساعت راته دَ غم نوبت غـږیږی
کور نے دَ غم مې زړګه کښې تل اوسیږي

لویه جاله ئې جوړه کړې پکښې ناست دي
ورځ په ورځ مې نوړ غمونه شیوا کیږي
په ژړا دَ زلفو سوړي پسې ګرځم
هم په دې به دا ګوړ سوړے موندے کیږي
میته ناک پسې پرواز کړمه په پورته
چې څو دړومه نو پرې مې لوټیږي
چې تو څومې وې وړ بشې زګه به دړومم
بې له تګه په ما وخت کله تیریږي
زګه دَ زیب وطن ته بېهٔ چاق چاق روان یم
کهٔ هر څو زما په ولو بوج ډیریږي
خپله ځان ته حق حیران یم دې سفر کښې
نورعالم به ما ته څنګ نهٔ حیرانیږي
دلاجبر غوندې مې شوندې اودې شوې
خپل دلبر ړاته اوس ورو ورو نژدې کیږي
دَ فرقت قصاب به زړ لاړ شي له تانه
اسمٰعیله چې دې شوندې اوړپیږي






دَ زینت په ګلستان پسې ژړا کړه
روان سترګو ته زیبا پسې دریا کړه
خپل ګریوان اوبهٔ کوه چې بېهٔ شاداب شي
له ډېرهٔ لرې دَ حسد تورړه بلا کړه

مینه اوغواړه له ربه چې ښائسته شي
په دې مینه کښې دِ ځان هر وخت فنا کړه
په مالیار پسې ناري وهه په زوره
دَ بُلبل په شان ته زده ښکلې ادا کړه
دَ زړهٔ کور په محبّت بانِد ودان کړه
هر ساعت کښې بس یادونه دَ آشنا کړه
عاجزي کوه مدام لره دُنیا کښې
خوش اخلاقه شه تمیز ځان کښې پیدا کړه
اسمٰعیله زړهٔ نروب کانده په مینه
له عالمو ته پټ ژاړه واویلا کړه





زړهٔ دې ورکانده دلبر له چې سنګار شي
تش کوګل په دُنیا ګرځه چې مالدار شي
له لیمو نه آبشار جوړ کانده دَ هجر
اے نادانه په دا چاره په هوښیار شي
دَ اقدس په مینه مست اوسه دُنیا کښې
دے به تا یاد که کهٔ خلقو نه کنار شي
ګلدسته دې دَ سینې ګلدان کښې کیږده
چې یار راشي ورله ئې ورکړه چې دَ یار شي
اسمٰعیله مینه پرېږدې دُنیا کښې
خدائے مهٔ کړه تا نرین ته به ګزار شي

رب دې ما دلبره ستا دَ غاړې هار کړي
په څو واره دې زما تن له تا زار کړي
ستا دَ عشق په تناره کښې زما زړونه دے
همه عمر دې سوخته ما په دا نار کړي
هر یو رنګ مې ستا په یا دو عادت شوے
نور دې هم ما ستا په مینه بنهٔ خمار کړي
ساقي جام په دې خدائے زما نصیب کړي
توره شپه به رانه لرکه چې سحار کړي
ستا دَ زلفو په هر وَل بـاندِ بندي یم
زړهٔ مې ځکه ندا هر وخت دَ یار یار کړي
اسمٰعیل زړهٔ کښې خنجر لري دَ هجر
صفتونه ځکه ستا دَ سپین رُخسار کړي

زړهٔ مې هر وخت سوړ ے کیږي په مژګانو
پرې راضی یم دا دستور دے دَ خوبانو
بار دَ مینې مې په زړهٔ باندِ پټ پروت دے
داسې حال وي په دُنیا دَ عاشقانو
رُوح اُو تن مې دَ هجران په اور وړ تیږي
رسیدلي دهٔ دا برخه دَ مردانو


زهٔ دَ زړهٔ په سوزخپي يم له پخوا نه
علاج کاندي يار دَ داسې بيمارانو

دَ جانان په هر عاشق مې دې سلام وي
زهٔ غلام يم دَ جانان دَ غلامانو

ټول کړيوان مې عاشقې ريخي ريخي کهٔ
شراب غواړم دَ ساقې دَ سرو لبانو

اسمٰعيله چې هم داسې مينه کاندي
رب به دې کاندي ټولې دَ مهرويانو





دَ وَدُود چارې ته هر ساعت حيران شه
اے ناپوهه مستغرق ئې په بيان شه

عجيبه ده چې تراوسه پوهه تهٔ شوې
داسې کوږ په لاره مهٔ ځه سم انسان شه

رب چې څهٔ له ئې پيدا کړے هغه اوکړه
بل څهٔ مهٔ کړه په رښتيا مردِ ميدان شه

دَ قهّار له ويرې ولې نهٔ رپيږې
ويره کانده په داچاره عالي شان شه


دَ بورا په شان ګلانو سره حُب کړه
سيلانے مدام دَ ښکلي ګلستان شه

په زړګي کښې دې سوراخ دَ مينې جوړ کړه
همه عمر دَ سرو لبو په ارمان شه

دَ جفا له ختو زړ ځان پاکیزه کړه
دَ وفا توره راواخله پهلوان شه

نفس شیطان څخه یرې هر وخت جهاد کانده
په دې شتو باندِ ځان شته کانده کامران شه

دُنیا ځائے دَ خندا نهٔ دے اسمٰعیله
تل ژړیږه په ژړا یار له روان شه



ستا دَ اسم وظیفه مې شهٔ عادت
دا را اوښودهٔ دې ستا ډیر محبّت

محبّت دې نور له رب څخه غوارم
را عطا به کړي مولٰی رب العزّت


په سینه کښې مې ستا مینه ده ځائے شوې
اختیار کړے ئې له پخوا نه سکونت

سرهٔ کلان مې دَ زړګي تا څخه کښې ایښي
امیلونه نرې جوړ ومه هر ساعت


دَ دیدن په وخت به ئې ستا غاړه کښې واچوم
چې قبول مې شي دَ مینې عبادت

یوه ورځ به صنم ستا غیږې له درشم
خپل مرشد راته ښودے مهارت

اسمٰعیل به له تا څو واره قربان شم
دا کړمه په دُنیا کښې لوئې نعمت



دَ رئیس په مینه پایمه دُنیـا کښې
لتوُمه ئې ځکه هر ساعت بیدیا کښې
فارغ نهٔ یم یوُ ساعت دَعشق له کاره
هر ساعت یمه په خُلهٔ دَ اژدها کښې
مدرّس یم دَعشق باب خلقو ته ښایم
هم له بله ئې زده کوُمه هره ساه کښې
سَوَکے مې دَ زړهٔ سر دے تنول نیوبے
داسې کیږی دَ آشنا څنګه وفـا کښې
دَ بیلتون رسے مرے زما خفه کړه
نارې څنګه اوُ وهم دَ غم دریـا کښې
اسمٰعیل دَ یار دَ دیدار ارمان دره من کړم
په دُنیا مې نصیب نشته په خندا کښې



سنا په دُعا مې زړهٔ ودان دے عالي شانه پیره
غوث الزّمانه پیره دُعا کوه
له تا قربان شم زما خوږه باچا جانـه پیره
ډیر قدردانه پیره دُعا کوه
له خپله دره مې فیضیاب کړه
پوهه مې ښهٔ دَعشق په باب کړه

له مانه جوړ دَ عشق دریاب کړه
زه دِ غلام یمه زما بشکلیه سلطانه پیره
جبین روښانه پیره دُعا کوه

زه دِ دَ مینې طلبګار یم
سوے دِ ډېر په سورانګار یم
مدام په تا پسې بیمار یم
تا پسې ژاړمه مدام له ډېر ارمانه پیره
حسین جانانه پیره دُعا کوه


زه دِ په مینه کښې فنا یم
دلربا ډیر په تا شیدا یم
ولاړ به ټینګ زه په وفا یم
زړه مې تور شوے ستا په مینه له دُنیانه پیره
دوست دَ سبحانه پیره دُعا کوه

ساقي زه غواړم له تا جام
په ډیر ادب او احترام
کلک دِ انښتے یم په دام
میتې بې خوده کړم خبر نهٔ یم له ځانه پیره
تا غواړم له تانه پیره دُعا کوه

زه دِ په دې کښې تل لوغړیږم
له تانه چرې نهٔ صبریږم
مدام په تا پسې ژړیږم
ستا په دُعا به شمهٔ بچ زه له تاوانه پیره
مرم له خفګانه پیره دُعا کوه

تهٔ هم بادشاه اؤ هم فقیري
ډیر نازولے دَ قدیري
تهٔ په رښتیا سیّد امیري
ما اسمٰعیل ته ته ډیر کران يُ له هر چاته پیره
ډیر مهربانه پیره دُعا کوه





روان کړے مې له سترګو نه دریا
توره شپه کښې انتظار کړم دَ صبا
تمبچوٴ[1] مې دَ زړهٔ ورنه لوټ کړے
دلربا مې پکښې اوسي له پخوا
دَ کرون پال مې راوتے دے کړیږم
بې کړونه څنګ موندلے دے آشنا
دَ لالا غوندې په زړهٔ یمه داغلے
دَ یارمینې له عالمو کړم جُدا
دَ هجران په کانړو هر وخت سنګساریږم
ځکه کاندمه مُدام زړهٔ واویلا
اسمٰعیل له واویلا څخه عادت یم
په هر آن کښې دَ یارمینه کړم رښتیا



[1] تمبچو: ارم

دَ هجران پړے مې غاړې ته ويزان دے
بيابان کښې مې راکاږي پهلوان دے
دَ تن غوښې راله اوتوکلې کانړو
په سرو وينو مې ککړ دا همه ځان دے
له ډير غمه مې مرے کښې غوټې شوې
اتکې کاندمه ويران په ما جهان دے
تلوَسو مې همه زړهٔ دے قبضه کړے
په جانان پسې بې درېغه په لړزان دے
دَ زړهٔ سَر مې دَ هجران په توره غوڅ دے
ځکه داسې مې له غمه ډک بيان دے
دَ مرګې په ورځ به تا باندِ اختر شي
اسمٰعيله ترهغې پورې رمضان دے

اوړهٔ کيږم دَ بيلتون په آسيا
آسيا ته خَلهٔ کښې وړے يم بلا
مزمّل مې په زړګي باندِ قابض دے
ځکه خلقو کښې له خلقو يم جدا
دَ عشق تاؤ راله همه زړګے پوے کهٔ
مدام کاندمه دلبر پسې ژړا


دَ دلبر ثاني مې نشته په عالم کښې
ښکلې ستر ګې ئې له نرګسه دي زيبا

په چاړه دَ هجر هر وخت زخمي کيږم
څکه کاندمه زۀ هر وخت واويلا

پير حسين دے نر سپوږمۍ ترنه شرميږي
درست عالم ئې حيران کړے دے رښا

په رڼا دَ دۀ هُم دے لټوم هر وخت کښې
اسمٰعيل نه يه ئې لټون نۀ شي قضا





زړۀ مې هر وخت په نسرين پسې خوږيږي
دَ ياد ونو بارانونه پرې وريږي

انتظار مې دَ تن ويښې کړلې اوچې
نو مې اوښکې مې کړيوان باندِ بهيږي

اوږے تږے دَ صنم دره ته زوان يم
په آفتاب دَ محبّت مې تن سوزيږي


دَ غمونو په جرے کښې يار له درومم
هر ساعت وايمه دا ناوخته کيږي

تباه کړُ هجران تباه کړم څکه ژاړم
بې له ياره به ژوند څنګ په ما تيريږي

دَ وصال وخت ئې تاکلے زما مرګ دے
رُوح اوُ تن به مې مرګي پوري کيږي

اسمٰعیل دَ ډیر دانا استاد شاګرد دے
ځکه داسې دَ عشق کار باندِ پوهیږي





لے په لے دړېسې کړځمه جهان کښې
دَ دیدن قحط دِ اوچ کړم بیابان کښې
دَ بیلتون غشي پرېمانُ په ما راووري
هر ساعت دِ یادوُمه دې باران کښې
ستا هجران مې په زړګي کښې سوري کړي
هم او سیږئ په سُوري سُوري دالان کښې
دَالفت غموُنه ئې هر وخت خوراکه ده
خوشحالے ترې ورایه اوسي په بوستان کښې
ستا موضوع په ترمرګي پورې پرېنږدم
مدَثره یادوُم په دې هرآن کښې
ته مې شاه زهٔ دې ګدا له تاتاغوارم
له پښوا راسې یم پروت په دې زندان کښې
اسمٰعیله دَ سختې وار به زړ تیرشي
لکه هار به ئې تل په غاړه دَجانان کښې



زۀ دَ یادو له ځکه دانه او زګار نۀ یم
هیڅ خبر لا زۀ له شام و سحار نۀ یم

په ما هر وخت دَ عشق تګنره غرمه وي
لا تراوسه زۀ په غیږ کښې دَ یار نۀ یم

دَ یار غیږ پسې مې زړۀ سوړے سوړے دے
یؤ ساعت بهر دَ عشق له انکار نۀ یم

دَ دستور په سرو سکروټو زۀ ورتیږم
دا مې کار دے خلقه واؤرے بیکار نۀ یم

له ډیر غمه مې په زړۀ کښې قوتې جوړې دي
ځکه داسې له فریاده قرار نۀ یم

زړۀ کښې هر وخت تلوسې دَ مینې پیایم[1]
له دې کاره ځکه چرې ویزار نۀ یم

اسمٰعیل دَ غم داستان یم ځکه ژاړم
یؤ ساعت له خوشحالے خبردار نۀ یم



په احمدؐ باندِ مئین زۀ په رښتیا یم
داسې مینه دۀ هم شاه یم هم ګدا یم

په عالمو کښې ترې ځوک پیمخے نشته
زۀ په داسې دلربا باندِ شیدا یم

[1] پیایم : سرَوم

په زړګي مې دَ هجران نخے ښېرېږي
زه عالمو لره ځکه تماشا يم


دَ يادونو په چاقوانو زخمي کيږم
مړه خوا ځکه له دې فاني دُنيا يم

دَ فرقت په لتو هر ساعت خوريږم
په رضا دَ احد هر ساعت رضا يم

دَ بيلتون مزړے هر وخت راپسې وي
دَ وصال تو يک لا نشته وارخطا يم

نومَوړے به مې خوا له کله راشي
اسمٰعيل ئې انتظار کړم په ژړا يم

—— ⁂ ——



په ګريوان مې له ليمو ترئ[1] بهيږي
هر ساعت راته دَ غم سوڼړے[2] غريږي

په زړګي مې دَ هجران تيزاب تَل شوي
شنکے خال مې دَ جبين نۀ په هيريږي

دَ غمونو ستر منګور راله تک راکه
په دم ګري پسې ځم ډير مې ياديږي


دَ عشق نمر کښې په پيچومي[3] باندِ خيژم
لکه وږے مې په نمر بدن وريتيږي

[1] ترئ: تاوه [2] سونړے: تونړے [3] پيچومے: چړائي.

دَ هجران دَ توپک هر وخت نیښانه یم
هراندام مې په بار بار ویشتلے کیږي

له پخوا نه دَ طبیب په انتظار یم
خدائے زده چې به دے کله را رسیږي

په عالمو کښې تري هیڅوک ښکلے نشته
اسمٰعیل ورپسې ځکه ډیر ژړیږي



ربه یار تلے ما دَ یاره دے آشنا لـه
خبر نهٔ یم څنګ خبر به راوړي ماله

زړهٔ مې تول دَ عشق په یوه باندِ واړوُ
دَعشق تخم پکښې کرَم دلــبر باله

پدې تخم مې زړهٔ کے همه زر خیز شهٔ
سرهٔ کلان ئې دي نیولي خپل خوبا له


نړمو اوښکو نه زما نهرونه جوړ دي
زړهٔ به داسې ژړا کاندم تر وصالـه

قدر دان پسې له حده تیر رنځور یم
چې به کله راشي دغه باکماله

تول غمونه به له مانه دلبر کش کړي
همه عمر به شم خلاص دَغم له جالـه

دَ هجران زمرے به تانه خیله لاړ شي
اسمٰعیله چې جانان دې راشي خوالـه

بَرھمنګ له برمه پري ایستم ساسایم
کوچ به چرمیا کوز او ته کمه دانایم
دَ بیلتون په پلک مې تن همه مات ګوډ شهٔ
خبر نهٔ یم چې ترڅو به په غوغا یم
دَ فراق وبا په ما باندِ راغلې
زهٔ وژلے په څوواره دې وبا یم
هر یو زړګی مې دلربا وائي
له مودو نه دَ یار مینه کښې فنا یم
دَ حیرت بلا مې غلي په مرے دهٔ
داسې ځکه له دُنیا څخه جُدا یم
زهٔ دَ عشق دَ مُنارې په سر ولاړ یم
ځکه خوښ له حده تیر دَ محبوبا یم
په زړګي کښې مې سراج له مودو بل دے
تیار زهٔ نهٔ یم اسمعیل بنګلي رښا یم



دلربا پسې ژړا کاندهٔ مدام
بې ژړا ځورے تیر نهٔ کاندي ایّام
له دلبره دې زړګے ولې تور شوے
لکه هاځې کړهٔ تک سپین دَ عشق په بام

دَ هجران په سومبه زړګا سوړے سوړے کړه
لکه څنګ چې دے سوړے سوړے بادام


دا زيبنډ زړګې دي په ريګمال دَحُب مهين کړه
مدام غواړه له څپل ربه دَعشق کام

خوشي تش ګوځيدګه په دُنيا پريږده
تر مرګي پورې له بدو کړه صيام

معطّر له ځان سنګار کانده په مينه
چې نصيب دې شي دَ مينې ښکلے جام

اسمعيله دَعشق دام کښې سرے شاه شي
کوه هر وخت دَ دګه ډير ډير احترام





دَ زينت په ښار يه کښې تل اوسيږم
دَ الفت په لمبو هر ساعت سوځيږم


جام دَ ميو مې نوش کړے دے نشه يم
دَحيرت په بلے دروممه رپيږم

دَ کوټلې مينې حال وئيلے نهٔ شم
کهٔ هر څومره دَ بُلبل په شان چغيږم

دَغم پيټے مې په سر دے يار له ځمه
سترے شوے يمه ډير خونهٔ ودريږم

مفندلې دَ مينې چل ماته راښائي
ځکه داسې په آشنا پسې ژړيږم

مسافریم دَ کالهٔ غم راشنه دے
دغه غم مې دے زده کړے پرې پوهیږم
اسمٰعیل ډیر باکمال شوم ځکه ژاړم
دَیار مینه باندِ چرې نهٔ مړیږم



همه عمر مې تیریږي په غوغا
توره شپه کښې لټون کاندم دَ ضیا
دَ هجران له پسوالهٔ[1] هر خوا ګورم
وایم اوس به رانما شي دلربا
چې مې کله دلبر اولیدهٔ ناساپه
زړهٔ له هغې یم زړهٔ توره له دُنیا
دَ بیلتون په کانړو خوږ مه تیندکونه
خپل اشنا له وړ روان یم له پښوا
تول زړهٔکے راله دَعشق سرطان نیولے
انتظار کړمه مدام دَ مسیحا
فریادونو راله زړهٔ زرې زرې کړهٔ
دَ زړهٔ خونه مې غمونو کړه تالا
اسمٰعیل به یادکیږي ښکُ تهٔ کاندم
چې مې لیدے په عالمو کښې بالا

[1] پسواله : بلې

د اُلفت په لار هر وخت سفر کاندم
بل څۀ نۀ کړم پیروي د رهبر کاندم
د جمال په تیرۀ توره زخمي کیږم
ځکه هر وخت سلامي د حیدرؓ کاندم
په اخلاص مې ده د حُب رسے نیولې
همه عمر به خیالونه جوړ کاندم
د کوشش غشې مې تل په زړۀ دخول که
زۀ ئې خیله په زړګي برابر کاندم
پل د مینې د صراط له پلۀ نه ګران دے
ډیر احتیاط څخه پرې ځکه ګذر کاندم
د مرستیال موسنه کۀ نۀ وے زۀ به مړوم
په دا لار ځکه تلۀ زۀ بهتر کاندم
کۀ مې څو د عشق په نمر غوښې ورتیږي
اسمٰعیل په دا د مینې هنر کاندم

هر ساعت د تور وستر کو په ارمان یم
لکه پانړه رژیدلې د خزان یم
ما د عشق د دولت پنګه خوندي کړې
داسې نور دولت له شاه غوارم اریان یم

برند هجران مې وینې څښینې په بیابان کښې
په دې حال کښې هم دَ یار د رته روان یم


له ښخوا مې دَ غمونو تاج په سر دے
په دا وجه زَهٔ دَ غم دَ ملک سلطان یم

لوئې آبشار مې له ښیو څخه روان دے
په دا چاره په دُنیا کښې زَهٔ کامران یم

په هر آن کښې رهنما نه کُمک غواړم
هر ساعت ورځنه زړهٔ کښې په بیان یم

دَ جوادؔ[1] میتې مې زړهٔ کښې سُوړې کړې
اسمٰعیل ورپسې څکه په لړزان یم





دَ بکانړې په شان تور کړم محبّت
ډیر سبق مې کهٔ په یاد دَ حقیقت

زَهٔ جواد یم جُوودتهٔ[2] یم بل ته ئې بینا یم
خدائے راکړه ماله نور داسې طاقت

زَهٔ دَ مینې په سبق باندِ ستې یم
دَ جانان په لوړې کوړم هر ساعت


نول تېر مې دَ بیلتون سومبې سُوړے کهٔ
دا کنړم دَ رب له خوا نه عنایت

---


[1] جواد: سخی [2] جوود: شوم

دَ یا دونو په اَره ریبلے کیږم
کړي قبول به رب زما دا عبادت
غم زما په زړهٔ کښې ناست دے تري نه نهٔ اوځي
په زړګي مې هر وخت کاندې حکومت
اسمٰعیل په خپل مالیار پسې بلبل یم
صبح وشام ناري وهمه دَ الفت





په سینه کښې مې دَ مینې چراغ بل دے
زړهٔ مې ځکه له مودو اخستے جل دے
توَل هڅ وته مې دَ مینې تندې تور کړهٔ
رانه ورایه دَ ساقي ښائسته محل دے
دَ فرقت په تیرخو واره توټې شوم
پرې راضي یمه په دې کښې خو توَل چل دے
دَ سینې په فرش مې هر وخت دلبر ناست وي
پسې ژاړمه وطن ئې له ما بیل دے
دَ الفت انبار مې زړهٔ ډیر ستړے کړے
دَ جانان وطن ته ځمه رب مې مل دے
حقیقي مینې مې هر یؤ رګ سوځنه کهٔ
خو هر چاله په خپل خپل وخت اجل دے
اسمٰعیل دَ عجیبه مینې مالک یم
عجیبه مې یؤ تریله هر غزل دے



ما په شان غمزه د نشته په جهان کښې
هر ساعت يمه صنم پسې ارمان کښې

دَ فرقت ساګي[1] مې خوري له مودو راسې
دَ تن وينې راله څښې په بيابان کښې


دَ غم تيکو باندِ لګم تول زخمي يم
سنګسار ييږمه دَ هجر په ميدان کښې


همه تن مې دَ کړاو چارې بوزه[2] که
يار لټومه زه دَ اوښکو په باران کښې

له چښتن[3] جانان هر ساعت کښې غواړم
دَ بهار په طمعه ګرځمه خزان کښې

دَ يار مينې دَ بورا په شان تک تور کړم
چې ترڅو به پرواز کاندمه طوفان کښې

ګلستان به درله دړ کاندي ترعمره
اسمٰعيله چې زخمي شې خارستان کښې





دَ وفا په نارې کلک يمه تړلے
زړه مې وړ چنه دلبر پسې وتلے

[1] ساګي: ماشي [2] بوزه: وروست [3] چښتن: مالک.

زما حلق کښې د بیلتون کندیر پرانه دي
د شیرین د رته ریبار یمه نبلے


نوراني مې په لیهو کښې تل غریبي
همه تن ئې په جلوو راله سیزلے


د حیرت حیواد کښې زه سرنګون ناست یم
د فراق لمسے ئې ماته غوروَلے

د غم ښاره کښې دیدن د جانان غواړم
هائے افسوس دے چې یوُ وار مې وے لیدلے

هر ساعت ئې یم مشتاق قدم بوسے ته
د سروکلو هار مې یار لره پاشلے

په تلوار د انتظار زخمي زخمي دے
اسمٰعیل زړګے پخوا راسې باشلے






خوبرویانو کښې سردار زما مراد دے
په دُنیا کښې مې د دۀ مینه جائیداد دے


زۀ ئې د عشق د آفتاب تاب لرلے نۀ شم
همه تن مې په دي ناؤ باندِ برباد دے

د یدن له هر اندامه مې تپ خیژي
هر ساعت راته زیبا نګار په یاد دے

دلربا راله په زړګۀ داغونه جوړ کړه
په تحفه کښې ئې راکړي دي جواد دے

دَ جانان څخه په مینه زۀ کامران یم
په دا مینه مې زړګے پائنده یاد دے
نو موړے لړ مُسکے شۀ اؤ بیا سۀ وو
بیا به راشی پرې زما پوخ اعتماد دے
اسمٰعیله په زیبا باندِ مَین ئې
هر یؤ لفظ دې ځکه داسې زنده یاد دے






سُورے کړے دلربا دَ زړۀ په سر یم
ځکه داسې زۀ له حده تیر اؤتر یم
تن مې هروخت دَ هجران په کتو لګې
له هجرانه په دُنیا کښې در په در یم
مابل داسې انتظار لیدلے نۀ دے
په دې اور باندِ سوزیکمه کسکر یم
دَ زړۀ کور مې دلربا پسې لیکلے
زۀ پرې څۀ کُومه زۀ خومسافر یم
دَ یار حُسن مې عالم له برمه پر یښے
ځکه داسې زۀ ناتوان اؤبې هنر یم
تبرک کښې ئې دَ وفا توره راکړې
جهاد کاندمه غلام زۀ دَ حیدر یم
دَ اُلفت میدان په چړې زۀ پرېښودم
په دا چاره زۀ دُنیا کښې منور یم


دَ عادل مینه مې رب ده نصیب کړې
غوپه شوے په دې بحر کښې جوریم
جواهر مې ډیر په بحر کښې موندلي
اسمٰعیل یم په دې شاه دَ شاه نوکریم

—— ※ ——





مَیِن شوے په ډیر ښکلي عالي شان یم
په ژړا وریږې ځکه په طوفان یم
دَ بیلتون زګي لنګرے کښې زګیره کیږم
له مرګي پوره یې به زه دَ غم داستان یم
پیچیده مینې مې زړه پوے پوے که
خپلې مینې ته زه هروخت حق حیران یم
دَ غمونو اژدها یم په خُله کړے
ځکه داسې ښکلې لعل دَ بدخشان یم
زړه مې مینې درخشان کړو یار دَ پاره
له پخوا نه مړه خوا له دې جهان یم
دَ وفا قلا کښې پټ اوسم له خلقو
دَ جفا لښکر مې مړکه پهلوان یم
همه تن مې په تیرو توړو پرهر دے
اسمٰعیله ځکه صاحبِ دیوان یم

—— ※ ——



په زړګي مې دَ تنګو قطار جوړ دے
پکښې ننه يؤ تصوير دَ نګار جوړ دے
هر ساعت ئې دَ تصوير په تماشه يم
په خپل ځان کښې راله داسې روزګار جوړ دے
په تصويرئې زهٔ مدام زړهٔ قلارومه
قرار نهٔ شهٔ هر ساعت پرې ناتار جوړ دے
له زيبا مخه به چرې صبر نهٔ شي
له يخوا نه پرې دَ مينې انبار جوړ دے
صبح وشام په دلوبا پسې ژړيږي
خود په ژاړي چې ترمينځهٔ ئې ديوار جوړ دے
دَ مرګي سيلاب چې دا ديوار ګذار کړي
هميشه ورله بيا بنګلے ګلذار جوړ دے
اسمٰعيل به بيا له يار څخه هم څنګ يم
په سينه کښې زما ځکه انګار جوړ دے






دَ عشق باب به له ما چرې قضا نهٔ شي
هير به ما نه بنګلے مخ دَ خوبا نهٔ شي
په يادونو مې دَ زړهٔ چنه سُورے دهٔ
دا يادونه به له مانه جُدا نهٔ شي

دَ زړهٔ تخت باندې پاک شهنشاه ناست دے
ما په شان ځکه څوک کولے ادا نهٔ شي
چې مخ ما پله کړي غوټي په مازيګ شي
په کړيوان به مې اوچ چړې دريا نهٔ شي
په روِش دَ مينې پوهه کړمه مينې
مرور به له ما ځيل دلربا نهٔ شي
ما آشنا لره ډير دُر مرجان موندلي
ورک به ما نه له مرګي پورې دانهٔ شي
اسمٰعيل دَ مينې چاره بنهٔ زده کړي
يو ساعت له به ترې هُم داخطا نهٔ شي






له ازله يم اووختے په غوغا
دَ يار مينې کړم په څوواره تباه
په زړګي کښې مې اغزي دَ ګيکرمات دي
زهٔ به څهٔ خوشحالي کاندم په دُنيا
ورخ دَ ستر ګو چرې زهٔ بندوے نهٔ شم
چې ترڅو مې ليدے نهٔ وي دلربا
دَ پي مخې مخ به څنګ له ما په هيرشي
چې رسائي په زړهٔ ويشتے يم پخوا
هر ساعت مې پرهر ونه سيوا کيږي
دَ طبيب په انتظار شومه سياه

له کړونجه مې زړګے دے ګذارشوے
درې ورې کۀ په يار پسې وفا

اسمٰعيل دَ دلربا په مينه پايم
بې له يادو مې واتۀ خسته يوسا



يادومه په هر آن کښې عاليشان زۀ
ګزارشوے په ژوندون يم په نيران زۀ

دَ هجران چړې مې زړګا قطرې قطرې کۀ
ځکه داسې په دُنيا اوسم پريشان زۀ

له ډير سوزه غريب نيولے يم پخوانه
ځان ته وايمه مدام دَغم داستان زۀ

دَغمونو په تنتوړو هر وخت لګم
ګرځوم ځکه په اوښکو لوند ګريوان زۀ

کمکے[1] نۀ يم چې جانان به له ما هيرشي
بنۀ پوهيږمه دَ مينې په عنوان زۀ

چې جانان په ستيرو غشو کله ښکارکړم
لۀ هغې راسې ئې شومه په ارمان زۀ

د کامران مينه څۀ توفته تۀ دۀ خلقه
دَکامران په مينه ځکه شوم کامران زۀ

اسمٰعيل ځکه کومه په ځان لوبې
چې مدام به يم په غيږ کښې دَجانان زۀ

[1] کمکے: وړوکے

پہ دلبر پسې زما زړهٔ دے قلم
کنډار شوے تا ترین ته یم دَ غم
همه عمر دَ اِتکو نه اونګار نهٔ شوم
داسې کړمه زهٔ بیا دونو دَ صنم
پہ سرطان دَعشق مې ټول زړهٔ دے شین شوے
ځکه کاندمه طبیب پسې ماتم
نو مُوړے په مې کله خوا له راشي
له مودو نه مې یا دیږي غنچه فم
دَ کوشش په لخته ډیر وهلے کیږم
شنې تغمې په ما ولاړې وې هر دم
په وهلو زهٔ استاد شومه دَ مینې
ځکه داسې سبق ښایم دَ کرم
دَ ناصح بیان ته چرې زهٔ غوږ نهٔ شوم
څنګه غوږ شم چې بیان اوړم اهم
اسمٰعیل دَ یار دَ مینې افسانه یم
ځکه اخلم ډیر په مینه هر قدم

پہ زړکي راله کاتب کتابت کاندي
دا لما څخه بسیار محبّت کاندي

دَغم شل مې له پخوا په زړه کښې خخ دے
خپل اَشنا څخه له ورایه صحبت کاندي

دَرندي[1] به دَ ساقي چړې پرېښې دم
یوه ورځ به راته خامخا ست کاندي


په سینه کښې مې خندق فراق کنستے
پټ زړمے راله عالم ته جوت[2] کاندي

له چشمانو مې قلزم[3] ځي دَ یار دَړسته
هرساعت کښې سلامې دَ حضرت کاندي

ترک به نهٔ کړمه زهٔ ویرچړې دُنیا کښې
پاک الله به مې قبول دا محنت کاندي

له جانان څخه یارے زړې زړې کهٔ
اسمٰعیل ځکه دَ عشق سلطنت کاندي





په سرو وینو مې رنګینه کړه صحرا
ځکه داسې لاس په سر یم له دُنیا


په سینه کښې مې ډیر غشي ننوتي
دا ښکاري راته معلوم دے له پخوا

مهربان به له ما هیرنهٔ شي احسن دے
ډیر عالم دے پرې زما په شان شیدا

---

[1] دَرندي : دَرشل [2] جوت : ښکاره [3] قلزم : دَ یو دریاب نوم

له ډېر غمه مې ناري ورپسې زده دي
په نارو نارو اوچ شوے حلق زما
د رباب غوندې مې زړګے سا زغږېږي
هر ساعت مې څکه زړګے کاندي ژړا
زړګے مې ټول د بېلتانه آشر شوړے کهٔ
همه غم شومه ورایه له خندا
اسمٰعیل داسې له غم څخه بېلد یم
لکه څنګ چې دي اوړګه اؤ آسیا[1]





زړګے مې په جانان پسې خوږېږي هر ساعت ربه
راکړه ماله دهٔ څخه تهٔ نور ډېر محبّت ربه
زهٔ د انتظار په اور سوزېږمه په دهٔ پسې
تهٔ مې کړه قبول په خپل دلبر پسې محنت ربه
زړګے راله د هجر طوفانونو ډېر زېبلے دے
نصیب مې کړه له یار څخه تهٔ صبح وشام صحبت ربه
زهٔ د بېلتانهٔ په آسیا څو واره دل شومه
غواړمه لتانه زهٔ د وصل لوئ نعمت ربه
اوښکې مې بهېږي مسلسل په مدني پسې
کاندم به له مرګه پورې داسې شجاعت ربه

[1] ژرنده

ما نه به قضا نه شي دا مینه دَ احسن چرې
ما کړې جفا نه په وفا پسې هجرت ربه

ما اسمٰعیل تا ته مات کچکول نیولے سوال کوم
ته راکښې پیدا کړه دې یارے له نور لیاقت ربه





توري سترګې مې دَ یار هر وخت یادیږي
لمه عمر به زمانهٔ په هیریږي

هر اندام کښې مې دَ غم غنې نوَتې
څکه هر ساعت په یار پسې خوږیږي

زما مینه بنهٔ محکمه ده عالمه
داسې نه چې دَ بنګړو بار دے ماتیږي

دَ یادونو سلسله زما روزي ده
هائے افسوس دے په یادونو څوک مړیږي


زهٔ ختلے یم دَ عشق بالاخانې ته
په دا بام باندې ډیر کم خلق اوړیږي

دَ ناوے دَ خپل اشنا مدام کومه
په لیمو کښې زما هر ساعت غړیږي

دَ یاد مالګه په پرهر دَ زړهٔ دوړومه
په دا کار به مې پرهر ښکه جوړیږي

دَ بیلتون په زړهٔ کښې لر نشان ته نرس نشته
چې یار راشي دا بیلتون به مې مړکیږي

دَ یار مینه کښې خبر له شباب نهٔ شوم
بې خودے کښې به سړے څنګه خبرېږي
اسمٰعیله دَ دیدن باران چې راشي
همیشه به دا باران بیا راورېږي



دَ زیبا په توره زهٔ پرهر پرهر یم
له غمونو څخه هر وخت هم سفر یم
په شتاب شتاب مې اوخکې څې له سترګو
په دُنیا کښې همه عمر مسافر یم
هر ساعت زهٔ دَ عشق باب لولم مکتب کښې
پوهه شوے پدا باب زهٔ بنهٔ ژور یم
په زړګي کښې راله غم کور آباد کړے
خوشحاله یمهٔ تر شړلې دره په دره یم
چې مې زړهٔ کله زیبا تهٔ کاراغوا کهٔ
زهٔ له هغې له هجران څخه نوکر یم
رُوح مې اوسي له جانان څخه زهٔ لاش یم
ځکه دغسې ناتوان اوبې هُنر یم
اسمٰعیل له دې دُنیا نه مړه خوا یم
له ازله شهر یار پسې اوتر یم

ستا په مینه کښې مې زړهٔ چودشهٔ دلبره
هر ساعت مې وینې څاڅي له پرهره
کهٔ دَ یادو بکسو وې ورته څو واچوم
جوړ به نهٔ شي له مرګي پورې رهبره
په یارے کښې دې دَ تیغنې[1] په شان تورشوم
ډیر په تا پسې کړیکم دَ زړهٔ سره
ستا په شان مې بل څائست لیدلے نهٔ دے
نهٔ به اوو ینمه اے دَ حُسن نمره
چې یؤ وار مې ستاله جامه شراب نوش کړهٔ
هر ساعت مې خیژوي تا پسې بره
مستانه شوم، دیوانه شوم، خزانه شوم
شاهي راکړه ذوالجلال له خپله دره
اسمٰعیل په همه عمر روژه دار یم
په مرګي به زړهٔ خیر شم له اختره

———※———

هرساعت اوُرمه زړهٔ دَ غم سازونه
خلاص به نهٔ شم په دُنیا کښې له کړُونه
له مودو راسې ماليار پسې ژړیږم
عندلیب غوندې کړم ځکه آوازونه

[1] تیغنه: تنبخې


کرد غبار د بېلتانهٔ له ما چاپېر دے
په ما لګی د حیرت تاؤ د باد ونه

یؤ ساعت مې په قلار چرې تېر نهٔ کړهٔ
هر ساعت مې له خلې خېژي فریادونه

فراق ماله په ښوار تنګې را کړې
هر اندام مې روز و شب کاندي دردونه

د غمونو سلسلې یمه تنګ کړے
زهٔ کوُمه خوشالے پسې ویرونه

د وفا په لار د غم باران ورېږي
اسمٰعیل ځکه د غم لیکم شعرونه



ویره کانده هر ساعت له کردګار
هسې نه چې جهنّم نه شې ګذار

په ښو بدو ښهٔ پوهېږې که نهٔ ئے
شابه زر که کړه توبه استغفار


فساد مهٔ کړه ښهٔ صحیح شریف انسان شه
له دُنیا نه شه دلبر پسې کنار


دا یؤ خو ورځې ژوندون دے مسافرئ
توښه ځان څخه کړه جمع ښهٔ بسیار

پاک الله نه هر ساعت محبّت غواړه
په قرار پسې زړګے کړه ناقرار

ولې داسې بې پروا په دُنیا کړئ
ځان دَ مینې په دولت کاندهٔ مالدار

اسمٰعیل دې په دې کړو باندِ غمژن یم
پس له دې شه همه عمر وفادار





چې په غشو دَ مژګانو دې کړم ښکار زهٔ
هغې راسې یم ولاړ په سر دَ دار زهٔ

له سینې څخه مې بریغ تا پسې خېژي
یؤ ساعت له چړې نهٔ شومهٔ قرار زهٔ

تول هډونه مې په تا پسې فریاد کړي
دَ بیلتون په کانړو شومهٔ ډېر سنګسار زهٔ

په زړګی مې دَ وفا قلا ده جوړه
پکښې لولم هر ساعت دَ راز اخبار زهٔ


ستا راتلو ته مې په زړهٔ قالین خور کړے
تر هغې پورې په کړمه انتظار زهٔ

دَ زړهٔ تخت مې له یادونو څخه جوړ دے
ستا دې مینې یاره دومره کړم مالدار زهٔ

چې مې کله ستا دَ مینې تاج په سر کړهٔ
یؤ ساعت له غمه نهٔ شومه اونګار زهٔ

اسمٰعیل به بنهٔ خېرانهٔ شم په مینه
همه عمر به کومه هُم داکار زهٔ

اے دلبرہ لہ ډیر فکرہ سودائی شوم
ستا دَ مینې پہ سکوتو ډیر ستی شوم
دَ وفا پہ تورہ ډیر زخمي زخمي یم
وفا نہ پریږدم وفا باندِ پتی شوم
سمد ستی دې دیدن غوارم لہ خدایہ
ستا یارې کښې یارہ داسې محنتی شوم
دَ الفت آئین کښې ماتہ هر وخت ښکاری
دَ زړۀ سرہ ستا پہ عشق کښې کمالي شوم
باغیچہ مې دَ سینې ډکہ نہ ګلو
اسمٰعیل ځکہ پہ تاپسې مالي شوم




ستا یادونہ بہ پریږدم یوَ ساعت زۀ
همہ عمر بہ کومہ محبّت زۀ
ستا دَ مینې تیرې تورې پرهرې کړم
تیروُم پہ همیشہ دا غلالت زۀ
دَ فکرونو ډب کښې ډوب یم لہ پخوانہ
اے دلبرہ داسې کړمہ ستا زینت زۀ
ستا پہ یادو دَ حیرت دَ باغ مالیار شوم
لہ مرګي پورې بہ کړمہ دا خدمت زۀ

دَ الفت په رسئ کلک یمه تـــړے
ځکه کړم له دې کیله سلطنت زړه

له ډیر خوفه مې زړکے سینه کښې دانګي
یرَوے یم دَ مینې عدالت زړه

اسمٰعیل به ستاله غیرې چیرته تهٔ ځم
همیشه یه کړم ستا غــیر کښې سکونت زړه



دَ غمونو نارې کاندم عندلیب یــم
مئین شوے په زیبا بانډِ عجیب یم

همه زړهٔ مې له ډیر سوزه پوے شوے
همیشه په انتظار کښې دَ طبیب یم

دَ دلبر دَ در ستر وَر راته لید ے شي
نهٔ ترې ورایه یمه تهٔ ورته قریب یم

دَ هجران بوختنو کښې هر وخت خې روان یم
پوهه کړے زړهٔ زیبا په دا ترتیب یم

توره شپه کښې مې دَ حُب چراغ نیوے
دَ یار دره ته ځمه ځکه خوش نصیب یم


اسمٰعیل دَ چا بیان نه ځنکه غوږ شم
عادت شوے په بیان زړهٔ دَ خطیب یم

زۀ دَ مینې په دولت سرمایه دار یم
له ډېر حده پوره پوهه په اسرار یم
نور کاروونه مې همه نظر انداز کړۀ
یۀ دَ مینې کار یه کاندمه هوښیار یم
دَ بیلتون چاړۀ مې خمه دۀ جګر کښې
له مودو راسې دَ یار دلاسه ښکار یم
هر ساعت کښې زما حال ډېر تشویشناک وي
په دې حال کښې هم دَ یار فرمان بردار یم
مطمئن یمه دلدار به یۀ وار راشي
ما به بیایئ له هغې پورې حصار یم
انتظار راله دَ زړۀ زور اوبۀ کړے
خبر نۀ یم چې به څو په انتظار یم
کۀ دَ مرګ زیرے په ما اسمٰعیل اوشۀ
ځان به ورکړمه په زیري کښې تیار یم

ما زده کړې دَ دلبر دَ در ادا
بې له یادو به وا نخلم یوه سا
هرې ساځمه دَ یار استقبال کاندم
په انعام کښې راکوي دَ عشق وینا

زړه اچولے مې پازیب دَ محبّت دے
شړنګا شړنګ باندِ ئې مست یم له پخوا
دَ وفا په وَسله هر وخت ځان زهٔ اُولـم
رب راکاندي په دې مالــره جزا
تول بدن مې په سرو وینو ککړ کړے
دَ دیدن په بارانهٔ په شـم صفـا
دَ غمونو دَ وطن سپه سالار یـم
رانه نهٔ ځي دَ هجـران یـده بلا
اسمٰعیله تهٔ په مینه دَ جانان شوې
هر ساعت کوه دا چاره پـه دُنیا

——※——




ماته پته ده خدائیګو وفادار یم
بنهٔ پوهـیږمه چې سوے په انکار یم
زهٔ دَ عشق دَ کړاکړ[1] په سرولاړ یم
ځکه پوهه زهٔ دَ مینې په اسرار یم
دَ هجران سختو مې تن چوره چوره کهٔ
دَ یوسف په شان ګذار له کړه مار[2] یم
له مرګې پورې په مینه کښې مصروف یم
دا مې کار دے مړه خوا زهٔ له بل کار یم

---

[1] کړاکړ : [2] کړه مار : دَ غم ونو نوموته

په خپل وس زۀ د جانان ډېره ناوے کاندم
قربان شوے تري نه زۀ په څوڅو واریم
د چشمانو په ریائ زړونه سوري کړۀ
زۀ د داسې مه تابان د غاړې هاریم
دلربا ما اسمٰعیل نه زړۀ تختوے
څکه داسې په ژړا شام وسحاریم





ستا په سترګو کښې دلبره ډیر اثر دے
زخمي شوے پرې زما د زړګي سر دے
په تا دے تا دے باران کوم له سترګو
څکه جوړ زما د اوښکو سمندر دے
ستا خوږې مېنې زۀ تالره کره کړم
کونه نۀ یمه د استا په ما نظر دے
په دنیا کښې دې د ژوند چل راته خوږ دے
تن مې څکه په دې چل باندې کسکر دے
بندار کاه د وصل هر ساعت لټومه
سمندر کښې مې د غم زده دا هنر دے
ډیر ګوهر مې یاره تالره موندلي
لګیدلے په هر یو د مینې نمر دے
د سینې سیمه ئې تا ده قبضه کړې
اسمٰعیل څکه له ځانه نا خبر دے


راګیر شوے دَ حیرت په اهم جال یم
سرتاپایه زۀ له عشقه مالا مال یم
دَ هجران چا قومې زړۀ تول کندې کړے
په طبیب پسې به داسې پُر ملال یم
له پخوا دَ انتظار په کېدے ناست یم
انتظار به چرې پرېږدمه سیال یم
موده اوشوه بیلتانۀ خته نوکر یم
په خو واره دَ بیلتون په تیغ حلال یم
دَ جرس په شان مې زړۀ نه تنګا خیژي
خبر نۀ یمه له ځان په داسې حال یم
دَ جانان مینه په ما پسې بیکلې
له جفا نه دَ وفا په آب کنګال نیم
اسمٰعیل دَ زړۀ په نول بانداِ اخته یم
زۀ په داسې په دُنیا کښې تروصال یم



په نارو مې مرے بوغه شوه نګارته
دَ یار مینې خیژولے یمه دار ته
په ما هر وخت خپلې لوبې دلبر کاندي
زۀ ترې چرې اوزګار نۀ شومه بل کارته


همه ژوند مې دلربا ته وقف کړے
ګذار شوے له پخوا نه يمه نار ته
دَ اقدس سپيڅلې مينې ډير حيران کړم
دَ حيرت صحرا نه ګورمه ګلزار ته
انتظار مې همه تن ټکرې ټکرې کړۀ
غُرزَوے يې يم دَ فکرونو خامار ته
دَ فياض په مينه ډير شوم بې درکه
بې خودے کښې زۀ له ورايه ګورم يار ته
هر غزل دې دَ خوږې مينې ثبوت دے
اسمٰعيله غوږ به ږدمه ستا ګفتار ته






دَ غلبيل په شان سينه شوله زما
دا کانې اوکړې په ما جانانه ستا
بله داسې څيره ما اونۀ ليدله
لکه څنګه چې ده ښکلې يارَه ستا
دَ رُخسار په اور دې ډير پتنګان سوي
نور به داسې سوزَوې تر آرام ګاه
دَ باران په شان مې زړۀ باندې وريږي
هير به نۀ شي زما هيڅ ګله خوبا
ستا سترغم مې دَ زړګي دَ پاسه ناست دے
اخستے ترې په قلار نۀ شم يؤ سا

زۀ دَ ډیر قوّت ناک عشق څخه نخ یم
داسې نور غواړمه یم لاس په دُعـا
بې له عشقه به یۇ دړنګ چرې تیرنهٔ کړم
اسمٰعیل یمه په عشق باندې دانا



دهٔ راکړې ماله رب مینه جوره
څکه خیژی مې لمبې دَ زړهٔ له سره
دَ یارمینې له عالمو نه کنار کړم
دغه مینه دهٔ په ما بشهٔ زورورهٔ
بې له فکره مې یۇ وخت چرې تیرنه کهٔ
په دا تال یمه ختلې ډیر په برهٔ
له مرګې پورې به نور نور برهٔ کیږم
فن دَ مینې زده کومه مدام غورهٔ
حیدري توره مرشد ماله راکړې
هم اچولې ماته دهٔ دَ الفت زغره
دَ وفا میدان جنګ کښې جهاد کاندم
دَجفا نوغې مې ویستې له جګره
اسمٰعیل دَ یار په مینه ننګیالې شوم
څکه داسې غزا کاندمه بهتره


چې لیدلې مې دَ یار دَ مخ رنړا ده
لهٔ هغې راسې په ما باندِ غوغا ده
په رنړا ورځ ئې زړګے له مانه غلا کهٔ
دَ زړګا خونه مې په دې وجه تیاره ده
لګیدے زهٔ په غشو بڼهٔ رسا نسیم
جوړه کړې ځکه ما دا واویلا ده
دَ اُلفت ډاړه کښې پروت یمه ورنیږم
دا سزا راله لیکلې پاک مولیٰ ده
مطرّ واله هر رګ ځان پسې ویخ کړو
ځکه وژانه په ما هر ساعت دنیا ده
دَغم یُوم مې په سینه کښې دے خخ شوے
هم دې غم راته لار خودنې دَ وفا ده
له پخوا دَ عشق په باب باندِ حاوی دے
اسمٰعیل ځکه زده کړې دا ادا ده



چې ګذار راله په زړهٔ راکهٔ بناغلي
هغه دم ئې راحتونه تړې شړلي
په رَوِش دَ محبّت مې هر هیڅ مات شهٔ
داسې ډیر عاشقان مینې پرزولي

حقیقت راله زړګی دانه وانه کړه
ډیر کاروته ئې پرې همه عمر منلي
له پخوا ته دَ غمونو شهنشاه یم
هر ساعت راپسې ګرځي ملا تړلي
عجیبه ده خوشحالے لره مې بیائې
ملاقې به شم یوُوار دَ نازولي
دَ تفتیش په صحرا ځمه دَ یار د پاره
په دا لاره ډیر عالم دي کړیدلي
اسمٰعیل دَ کړاوُ چاره خوبنه کړې
دَ واړه لاسه ئې دَ رب د پاره نیولي






ډیر غمژن یمه جُدا رانه دلبر دے
ځکه شین یمې زما همه جګر دے
موده اوشوه چې ملا تیرې چورلن مات دے
دَ غمونو لوئې بامبیر زما په سر دے
زۀ یا دونو اندیښنو زرې زرې کړم
دَ شاندار ځنځه مې مینه دکا خبر دے
دَ دیدن دَ پاره ګا هر وخت بیره کاندم
دَ وفا دریاب مې لیدے بنۀ جوړ دے
یوُ ذره استقامت مې نصیب نۀ شه
ډیر ویرېږمه هجران رانه ببر دے

له جفا نه مې بنه ورایه کړه وړې
هر کلام مې ځکه داسې برابر دے

له محمدهٔ اسمٰعیله کهٔ خبر شوې
بیا به وائې چې رښتیا دے درپه درد دے



سوز و یم لمبو د انتظار
چې خاره مه به د کومه پورې لار

چې ترڅو مې مسیحا لیدلے نهٔ وي
ترهغې پورې به پروت یمه بیمار


د آهونو دُهند چاپیره دے له ما نه
ځکه اوښکې بهوُم شام وسحار

وضاحت راته ربیار د مینې کړے
پوهه کړے ئې په هر لفظ یمه باربار

مدتو راځنه قول د مینې کړے
پدا برخه یم شاکر د کوډکار


ځ به چرې زړهٔ وانهٔ ړوم له یاره
هر ساعت به یادومه شهر یار

اسمٰعیل د زیب وطن پسې خفه یم
مدام ځکه یادوم هغه بهار



دَ عاشق په زړګي هر ساعت اور بل وي
له عالمه وي جدا خدائے ئې مل وي
دَ فراق په هلوځلوئې زړۀ چودوي
دَ حيرت په سترګوئې هر ساعت کتل وي
په نينو دَ عاشقۍ کله مړيږي
کۀ هر څو مره ورته ګران دَ دې چيچل وي
لوئې انبارئې دَ غمونو په سر پروت وي
هميشه ئې دَ جانان په لوري تلل وي
دې سفر کښې دَ يادونو په آس سور وي
ټول هړونه ئې دَ بيلتون په ژړندۀ دل وي
عندليب غوندې نارې وهي ماليار ته
لګيدلے دے په عشقو مکمّل وي
اسمٰعيل هم دَ عشق اور کښې ژوند تيروَمه
هر غزل مې بشکلے ځکه له يوبل وي





دَ دلبر رخسار مې ياد شام وسحر دے
هير به نۀ شي زما ډير زيات معطّر دے
په دُنيا کښې ئې ثاني دَ سخا نشته
جاري کړے مې جانان دَ عشق لنګر دے

دَ زړهٔ تاخ کښې مې کلان وړله ا بېخودي
زړهٔ مې ځکه په هغهٔ پسې پرهړ دے


په دلبر پسې کاهل[1] مې جوړکهٔ ښکلے
روان کړے مې دَ اوښکو سترلښکر دے

په ذمه مې دَ عشق کار دے ځکه ژاړم
په دُنیا کښې دا دَ ټولو لوئ هُنر دے

په ژړا ژړا زما سترګې غلې خوبه شوهٔ
ما لیدلے په څو وار دَ حُسن نهر دے

اسمٰعیل دَ فکر تال یم پوره نه کړے
تو د تنور رابانددِ ځکه پیسنور دے





چې څوک ما په شان دُنیا کښې بندیوان شي
هر ساعت به وړنه یاد ښکلے جانان شي

په ځوانے کښې مې دهړ وته تول زاړهٔ شوهٔ
دَ عشق دیګ پسې مې کړي چې ځوانان شي

اندازه راته دَ خپلې مینې نشته
دومره پوهه یم چې یار به پښې خندان شي


سربراه به مې له زړهٔ چرې اونهٔ ځي
هغه نه ځي چې یؤ وار دَ چا مهمان شي

[1] کاهل : دَ یوسفزو د نوم

پې درپې چې زړه د یار ما تختي اوکړم
هله پوره به زما د عشق نشان شي

د یار مینه کښې له حده تیر کشش دے
چې څوک کش کاندي هغه وړته حیران شي

اسمٰعیل کشش کش کړے یمه عشق لـه
په داچاره به زما زړګے وران شي



همه عمر مې سفر د عشق په لار دے
هر ساعت مې سرومال له یاره زار دے

ما د یار په لاره تږ کښې برے بیا موند
دا برے راته ښوډلے شهریار دے

راحتونه مې له زړګه نه تختیدلي
د غمونو پرې مدام ګرم بازار دے

زړه رسا د زړګه په سر یم ټکیدلے
ځکه هر وخت مې طبیب ته انتظار دے

په زړګي مې د یا دونو لوئې بوج پروت دے
هر ساعت زما هم دا هجوم پکار دے

د فراق د تهوپک هر وخت نښانه یم
ځکه هر وخت په ما جوړ داسې ناتار دے

اسمٰعیل حقیقي مینې دره په دره کړم
عندلیب یم خوجدا راته مالیار دے

راښکاره چې مې ترڅو مه خوبا نهٔ شي
ترهغې به په ماچرې صبا نهٔ شي
په زړهٔ کې مې دَالفت ځوانګې خني
همه عمر به دے ځکه پوره نهٔ شي
خپل استاد راته دَعشق منطق راښائي
ترمرګي به مې پوره دا ادا نهٔ شي
اوچې شونډې به زماچرې ترنهٔ شي
څو دَ هجر ستره خونه تباه نهٔ شي
دَ یادونو سترکتاب وئیل مې کار دے
همیشه به دا له ما نه قضا نهٔ شي
له ازله مې تائید دَ میني کړے
دَ تاکید چاره به ما نه خطا نهٔ شي
اسمٰعیل له یاره ډیر متاثر یم
په ګریوان به مې اوچ چرې دریا نهٔ شي

هر ساعت په انتظار یم دَ پیغام
ترهغې به وي په ما باندِ صیام
زهٔ دَعشق دَ عروج په پوړو خیژم
نهٔ غوښیږي دا منزل دے ناتمام

په لا نجه دَ بیلتانهٔ یمه اؤوختے
نکه ګیر چي شي په دام کښي دیګرام


دَ یا دونو یاران هر وخت په ماؤوري
چرې نهٔ شومه له غمه په آرام

میني زړهٔ په خپل جانان پسې راستمند کړم
په دَوَ څمه دَیار درته صبح و شام

دَ همّت واګې په چرې زړهٔ پر سینږ دم
چې لیدلے مې څو نهٔ وې ګل اندام

خدائے زده چې په رګړه ترکومه خورمه
حیران کړے یم دَ میني دې نظام

اسمٰعیلؔ دَ بې خودے ځانګوکښې ځانګم
په دُنیا کښې به زړهٔ داسې یم مدام



خوش نصیب یم شهٔ نصیب الفت زما
رب په ډیر که په دا کار زینت زما

هر ساعت مې ترقي په دې کار کیږي
کړزوے دے رب دا عادت زما

دَ اُلفت چاري مې زړهٔ دے ډیر زورلے
قبول څکه کړو الله خدمت زما


په تعریف به دَ فیاض چرې موړ نهٔ شم
پرې ډیریږي وړځ په وړځ لذّت زما

همیشه به له حیرت څخه خلاص نهٔ شي
کهٔ چا اولید دَ حیرت دولت زما

له هجرانه څخه هر ساعت ویرېږم
سیوا کېږي دم په دم دهشت زما

اسمٰعیل به له کوکارو نه بس نهٔ کړم
شي نصیب به دَ جانان صحبت زما





هر ساعت ځانګمه زهٔ دَ عشق په تال
ځکه بیکمه غزلې دَ کمال

پیچیده الفت مې زړهٔ زړې زړې کهٔ
تو دې وینې به تږې څاڅي تر وصال

په سینه کښې مې مشال دَ مینې بل دے
دا بل کړے له پخوا نه ذوالجلال

له عالمه پرې زهٔ پټ دننه سوزم
راکوی به ماله رب ځکه جمال

په جلوو دَ یار دَ طور غوندې سنې شوم
په عقلې کښې به یم ځکه بل مثال

دَ خوبا په طفیل عشق زما نصیب دے
ځکه دؤ مې کړهٔ له دهٔ نه سر و مال

اسمٰعیل چې څو جانان لیدلے نهٔ وی
ترهغې پورې به ګرځي پر ملال

دَ جواد په یارانه باندِ هوښیار شوم
ما دَ عشق خزانه بیا مونده مالدار شوم

دَ عزّت در ګاه ته څمه په لار ژاړم
پداچاره یار زما او زهٔ دَ یار شوم

دواړه کاندُو سره هر ساعت خبرې
ډیر بنهٔ پوهه دَ اشنا په هر ګفتار شوم

دَ حیرت دَ باغ مفاد مې ډیر حاصل کړه
ځکه زهٔ دَ حیرت باغ لره مالیار شوم

اوبهٔ خورې زهٔ په خپلو اوخکو کاندم
زهٔ دې کار لره هر کار څخه اوزګار شوم

زهٔ له ځانه دَ عشق کار کولے نهٔ شم
څهٔ چې یار وائی هغه کوم تابعدار شوم

اسمٰعیل دَ خپل ساقي مینې ساقي کړم
ځکه داسې په ساقي پسې بیمار شوم

دلربا پسې په چغو چغو سر شه
دَ عشق باب لوله طالب دَ منوّر شه

لږ ترمیم هم پکښې څوک کولے نهٔ شي
دَ الفت داسې آئین دے نرې خبر شه


دَ توبې دریا سینه چې دې عبُور کـه
ورکړه هله بیا دَ حُبّ په سمندر شه


په دې بحر کښې مدام سکونت کانده
جواهر پکښې بسیار دي سوداګر شه

له دې شپې نه دَضیاء په نوري دروه
دَ اُلفت په توره تول پرهر پرهر شه

زړهٔ فراخه کړه چې ډیر څهٔ پکښې راشي
بار بردار له محبّته شه رهبر شه

اسمٰعیل له خپل آقا څخه نوکر یم
راشه تهٔ هم له آقا څخـه نوکر شه





دَ خزان باد ونه مانه کنار نهٔ شوهٔ
په خندا راته ګلان دَ بهار نهٔ شوهٔ

دَ هجران دَ تیرې تورې شرنګ ته غوږ یم
پرهر یم څوک له ما خبردار نهٔ شوهٔ


ما دَ خوبد و تمیز له پښوا کړے
غافلان خبر له ښکلي سردار نهٔ شوهٔ

بې له عشقه به زړګي ته یل روُ نهٔ کوم
چې عشق راغے غلیمان بیا حصار نهٔ شوهٔ

سمندر دَ عشق مې زړهٔ کښې دے ځاے شوے
ښهٔ پوهیږم ما په شان څوک خمار نهٔ شوهٔ

دَ یار مینه خو زما عقلمندي دَه
بې له مینې عالم ځکه هوښیار نهٔ شوَه
اسمٰعیل به دا مسلک چرې پرېږدم
منکران له دې مسلکه دَیار نهٔ شوَه

———✻———



په جانان پسې ورک شوے یم ژړېږم
ځکه اوښاندمه اور باندې سوځېږم
له مودو راتښتېدَیار کړهٔ وړهٔ معلوم دي
زهٔ به ولې بې له یاره خوشحالېږم
راسې کړهٔ وړهٔ په کوْنین کښې دَ جانشته
ډېر حسین دے ځکه زهٔ پسې کړېږم
دَ کوْنین واړه حسین له احسن زار شه
ځکه هر ساعت له دهٔ نه نهٔ صبرېږم
له محمودٌ څخه په مینه ډېر ماهر شوم
دَغلیم له چارې ځکه نهٔ وېرېږم
هم استاد یم هم شاګرد یمه دَ مینې
هر ساعت په دا سبق وهلے کېږم
کهٔ دَ عشق دَ باب سبق یادَول غواړې
ماله راشه زهٔ په دې ډېر ښهٔ پوهېږم
اسمٰعیل په زړهٔ راغونه هر وخت شمارم
سودائی شومه له ځان څخه کوږېږم

هر ساعت دې زړه یادونه دَ رخسار کړم
هیر به نۀ شې تۀ له مانه دا اقرار کړم

ستا خکالوځے چې مې ترغوږ وشوه درهسک شوم
بیا زړه لاړې ځکه اوس دې انتظار کړم

ستا دَ مینې ډیر قوّت دے زړۀ ئې زړۀ کړم
ستا راتګ ته هر ساعت دَ ورځو شمار کړم

زړۀ دَ وروغ صورت خاوند چرې هم نۀ شوم
چې یؤوارې خدائے تا پسې بیمار کړم

مسیحا چې به څو تا ته منتظر یم
چې تۀ راشې استقبال به دې شاندار کړم

دَ غمونو تا خانې ته به راو ځم
چاپیر چل به دړ ته تول ګل ګلزار کړم

اسمٰعیل به ستا دَ عشق ترانه وایم
خپل غزل به پکښې تا ته نمودار کړم



صبح وشام له ربه بنکلے صنم غواړم
زړۀ مې سوے ترنه ځکه مرهم غواړم

په هډونو مې دَ غم تورتپې جوړ دي
زړ تر زړه لرې کول دَ دې غم غواړم

ے زده: سنړے


راسي مينه مې په بل چا نۀ ماتيږي
څکه هر وخت د زړۀ سر غنچه فم غواړم


د حيرت تورو تيرو کښې پسې ورک يم
له خدايه زۀ نسبے د هاشم غواړم

د زيبا مينې زيبا آئين زۀ لولم
څکه هر ساعت سردار د عالم غواړم

د بورا په شان بهار پسې کړيږم
له مودو ته باغيچه د کرم غواړم

اسمٰعيل د ارمانونو لوئې بحير يم
په چپو کښې دلربا دم په دم غواړم





کاريگو راله زړگے په اور نيولے
خپل قانون ئې پرې پښوا راسي منلے

کۀ هر څو مې راسې سيزي تيخته نۀ کړم
رب مې راکړے ماله عشق دے ډير کوټلے


د يارونو ستر ببوزے راځغه دے
ځان ته خپله اور بلوم زړۀ مې بائيلے


د فراق مارغۀ مې زړۀ ته نزدې ناست دے
پرې تونکې وهي له حده ئې تيز تونکلے

د جناب د مينې څۀ عجيب قانون دے
هر عاشق ئې ترمرګې دے کړولے

دَ کړون په بیابان کښې زۀ هم ګرځم
په څو واریم دَ بیلتون خامار خوړلے

اسمٰعیل دَ جانان څنګ له ربه غواړم
ما ئې څنګ څنګه دے ځان له ځائے نیولے





له مودو راسې ژړیږم قلار نۀ شوم
په دُنیا کښې هیڅ خبر له بهار نۀ شوم

دَ هجران نیستي په ما باندِ راغلې
دَ دیدن په دولت چرې مالدار نۀ شوم

دَ دیدن شراب بنۀ وینمه له وړایه
زۀ قربت غواړمه راسې میخوار نۀ شوم

په زړګي کښې راله غم کندې کنستي
له راحته یؤ زره خبردار نۀ شوم

دَ فراق لانجې نه هر وخت خلاصے غواړم
موده اوشوه ملاقي دَ دلدار نۀ شوم

له زړګي مې وینې څاڅي په دې سپین شۀ
خبرځکه دَ دُنیا له بازار نۀ شوم

اسمٰعیل ځان نه خبریم چې کباب یم
لا تر اوسه له خپل تپه اوزګار نۀ شوم



ډیر عالم عاشقۍ پوهه په اسرار کړه
ارمانی یې همه عمر د ماليار کړه

د یار مخ ته ډیر تعجب یمه اخستے
عاشقان یې مخ په ځان پسې بیمار کړه

له ادبه په خپوسو یار له درومي
ذوالجلال ځکه دوستانو کښې دوی شمار کړه

رب پخپله په یار خلق عاشقان کړي
د هجران په تاترین کښې یې ګذار کړه

له دُنیا نه یې زړه توری کړه ترعمره
د عقبیٰ د غم په اس پاندې یې سوار کړه


دې دُنیا کښې یې د حیرت دنیا نه بوتله
راحتونه یې دې دنیا کښې ترې حصار کړه

مات کچکول یې هر وګړی لره ورکه
ګداګر دی ځکه یې ټول راسي مالدار کړه

عاشقانو دُنیا لوټ کړه ځکه مست دي
غافلان یې د غفلت په وجه خوار کړه


عاشقي په دواړه کوَنه بادشاهي ده
نور عالم یې د دوی ځکه تابعدار کړه

اسمٰعیل د دې شاهانو د در خاک یم
سرومال مې په څو وار ترې نه زار کړه




ګذار شوے یم د مینې تاتړین ته
همه عمر انتظار کړم ماه جبین ته
د بیلتون تر خوږو مې حلق راله ترېخ کړے
ځکه هر وخت طمعدار یمه شیرین ته
جوش خروش مې د دیدن هر وخت یادیږي
لاړ به اوښکو څرقاووم نازنین ته
کامیابي د عشق په لار کښې له رب غواړم
چې کړم وړاندې پیر زوني چېل حسین ته
د دلدار د مخ لیدو مې لوئ ارمان دے
ډیر لیوال یمه د زړه دغې تسکین ته
په سینه دننه هر ساعت سوزیږم
ځکه هر ساعت نارې وهم برین ته
اسمعیل د کلولختې پسې ژاړم
دواړه لاسه مې نیولي دي منین ته





له مودو ته د جانان په طمعه ګرځم
د دیر ښکلي عالشان په طمعه ګرځم
د حیرت په بیابان کښې سرګردان یم
ځکه داسې د مکان په طمعه ګرځم


دَ وفا دَ باغ باغبان مې ډېر یادیږي
هر ساعت دَ دې باغبان په طمعه ګرځم
دَ بیلتون له ناکردو یه کله خلاص شم
دَ دیدن دَ ګلستان په طمعه ګرځم
دَ غمونو په دریاب کښې ګوهر ګورم
زۀ غلام یم دَ سلطان په طمعه ګرځم
په طلب دَ رفوګرۀ[ا] دره په دره شوم
صبح و شام دَ وروغ ګریوان په طمعه ګرځم
اسمٰعیل په مینه ډیر ستر هنرمند شوم
دَ خوبانو دَ پاسبان په طمعه ګرځم




وایه نۀ وړۀ مه دَ مینې له عادته
کۀ مې ژوند شي په دُنیا کښې ترقیا مته
ستا له مخه مې مخونه دي خوبن شوي
ستا په مخ باندِ مئین یم خوبصورته
چې مې اولیدې زړه ورک شومه له ځانه
دا سې برخه رب راکړې له الفته
دا انعام ئې ستا په مخ باندِ راکړے
ستا په مخ عالم خیر دي له قدرته

[ا] رفوګر: پیوند لګوونکے

لږ ساعت دیدن دې راکړه اوبیا لاړې
خبر دار دې کړمه ډیر زړه له فرقته
دَ فراق بلا مدام ما پسې شوې
ځکه هرساعت تاړې وهم په زړرته[1]
په صحرا دَ بیخودے کښې دې لټومه
راشه راشه اے دَ کل عالم حضرته
ستا دَ مینې په کوټلې دام کښې ګیر یم
اسمٰعیل یمه عاجز ستا له صفته






دَ اُلفت چاره خدائے مالره راکړه
رانه ئې پاتې همه عمر دا دنیا کړه
تول کوګل مې دَ فرقت له وِیره ډک دے
دَ زړه خونه ئې په ژړا راله تباه کړه
دَ وفا دَ اس سورلي به کړم ترمرګه
په وفا مې خونه ورانه دَ جفا کړه
دَ وفا دَ تورې شرنګ مې هر خواخور شهٔ
په دا چاره ئې وفا زما سیوا کړه
چې ژوندوی نو دا به نوره هم سیوا شي
هره چاره رانه دې چارې خطا کړه

---


[1] په زړرته : په زوره


بصیرت راله بصیر دَ میني راکړه
شکریه زما په سترګوئ رڼرا کړه
اسمعیله نوریه هم بنه سیلانے شي
که نصیب دي کړدګار کله عقبا کړه



مئین شوے په جانان عظیم الشّان یم
په جانان پسې مدام ډیر سرګران یم
دَ تکلیف په سمندر کښې هروخت ډوب یم
دَحیرت سماء ته هر ساعت حیران یم
یم دَ میني لیونے تبې نیوے
له زبیرګوته اوزګار نهٔ شوم په لړزان یم
په زړګي باندِ مدام داغونه شمار م
شهنشاه په روئے زمین زهٔ دَ خفګان یم
دَ آهونو په لوګو مې فضا سیاه کړه
دَ یادونو په رڼرا پورته روان یم
له پښوا مې خوشحالو نه هجرت کړے
دَ هجران په ناکردو دَغم داستان یم
له ډیرغمه مې دَ سوز ترانې زده دي
هرساعت ځان ځنه پټ پټ په بیان یم
دَ الفت جائداد مې ډیر دے په سینه کښې
غریب نهٔ یمه عالمه زهٔ سلطان یم

هر ساعت دَ دې جائداد څوکیداري کړم
په دې کار کښې یم ما هر مردِ میدان یم
اسمٰعیل دَ خپل جلیل نه امداد غواړم
په څواره دَ جلیل لار کښې قربان یم





سپین رُخسار مې مدام یاد دَ عالي جا شي
ډیر رنځور یم هم هغه به مې شِفا شي
په فرقت دَ معشوق زمې زړګے اُسوځۀ
دائ حال وی چې جانان له چا جُدا شي
له مودو نه ئې استقبال ته زۀ ولاړ یم
خبر نۀ یم چې به کله رانما شي
له زړګي نه مې راحت په تیښته لاړ دے
چې یار راشي دے به هم ورځنه راشي
دَ غمونو په کړنګ کښې کۀ څوځاړے
خدائے شته کۀ دَ دلبر حق مې ادا شي
دَ زینت له شهنشاه څخه یاري کړم
په خدائے کۀ دا یاري له ما قضا شي
اسمٰعیل دَ یار یاري داسې یارباش کړم
چې ترعمره به مې دوئ پسې ژړا شي




چې په ما څو دَ هجران حکمراني وي
تر هغې به په ما ډېره پرېشاني وي
دَ دیدن په ورځ به خلاص له پرېشانۍ شم
ټول غمونه به په دغه ورځ فاني وي
خوشحالے له به زړه غاړه غړې ورشم
راپه غاړه به دَ مینې سلطاني وي
همیشه به دَ دیدن باغیچه کښې اوسم
همیشه به مې بیا هلته کښې ځواني وي
دَ جانان دَ څنګ خواږه به مې نصیب شي
ترمرګې به مې ټول ژوند بیاباني وي
بیابان مې پسې هر خوا لت په لت کړه
چې تر څو به په ما داسې ځان ځاني وي
اسمٰعیل به بیا نور هم بنهٔ مینه ناک شم
چې نظر په ما دَ شاهِ لاثاني وي



ستا په لوری در روان یم له پخوانه
چې به کله در رسیږمه جانانه
ټوله لار مې ترمواوښکو لونده کړې
چې تر کومه به دُنیا کښې یم پرېشانه


په يو منډه ستا په لوري ده روان يم
چې څه وايي هغه کاندم حکمرانه
له حديده دې هم سخته دَ عشق لار ده
پښې مې ماتې شوې پتا پسې سلطانه
يو ساعت زه له فرياده غلے نه شوم
له زړګي مې چې آهونه تر آسمانه
دَ آهونو چت له ما څخه روان دے
لړبه نه شي تر ديده دے له مانه
سودائي شوم ستا دَ مينې له ډير زوره
شو کومه زه تاروته له کړيواته
دَ الفت بيړے مې پښو کښې اچولې
څکه دومره شوم په تا پسې ستومانه
عندليب دې دا ناري له ما زده کړي
هيڅ خبر نه وو دَ اوښکو له بارانه
اسمٰعيل چې کله ستا غيري له ده شم
هغه وخت په يس کومه له ژړانه



ته به کله مرور له بدکردار شې
خوبرويانو نه به کله خبردار شې
دَ الفت په سيحون زړه له حسد پاک کړه
پاکيزه شه چې دَ يار دَ غاړې هار شې

ل حديد: وسپنه


دَ دُنیا په لږ ساعت غوړیږي شـــله
دَعقبیٰ غم دلته اوکانده چې پارشي
عندلیب غوندې په یار پسې ژړیږه
خدا مه کوه په دې ادا په خـــوارشي
زړ بنا دَیؤساقي په یارے اوکړه
دَ الفت شراب ترې نوش کړه چې خمارشي
دا ساقي به دَ باقي ځنګ له تا بوځي
نهٔ به خپله بیا ساقي شي چې رازدارشي
چې ساقي شي عجیبه منظر به وینې
له دې ځایه به ګلشن لره مالیارشي
هرساعت په دَیادونو تسبیح اړے
دا به تانه قضا نهٔ شي چې دَ یارشي
دَ لبّیک آواز به هر وخت ستا په خُلهٔ وي
دَ دُنیا له خواهشاتو چې کنارشي
اسمٰعیل دَ ګل اندام سره یاري کړم
نهٔ به هم کړې چې زما په شان بیمارشي



هیر لتانه ولې داسې خپل حضرت دے
په کونین له ټولو بنهٔ شے محبّت دے
دَ زړګي تاخچه کښې عکس دَ زیبا کیږه
هرساعت يې خکلوه داغنیمت دے

دَ یارے نړون دِ یار سره زړا وکړه
بې یارے ژوندون دې ټول کړے لعنت دے
دَ لعنت دې لوئې کړنګ ته کښناږ شویه
له الفتنه ولي داسې ستا نفرت دے
په چاقو دَ حُبّ زړه کے تیکې تیکې کړه
په دې پوهه شه چې دا لوئې شجاعت دے
دَ زیبا مخ ننداره به دِ نصیب شي
هغه ئې کاندي چې خپل کړے ئې صداقت دے
محبّت لره رؤوف ئې پیدا کړے
دَ دې چارې په بدله کښې ډیر زینت دے
دَ عدن په طمعه هر ساعت اوسیږه
دیدار غواړه دَ مولٰی دا عنایت دے
هر ساعت کوه باران دَ ترمو اوښکو
ژړیدَه دَ الله ﷻ در کښې شرافت دے
اسمٰعیل مدام دَ مرګ په انتظار یم
په دا چاره رب راکړے سلطنت دے

—— ✲ ——



اوچ په اوچه زړه اشنا دَ دلبر نهٔ یم
کړوے ئې پهه هسې نوکر نهٔ یم
دَ الفت کان مې موندلے له پخوانه
دَ زړهٔ کور ته ترې راوړم بې هُنر نهٔ یم

زۀ بنۀ دير سرمايه دار شومه دې کاربنې
په دُنيا کښې بې هوده مسافر نۀ يم


دَ هجران په کودالے ياندِ توک توک يم
خوجفاته لږ ساعت هم تيار نۀ يم

هر ساعت چې دَ فراق په لمبو سوزم
زۀ به ولې داسې هر وخت کسکر نۀ يم

توره شپه کښې له يادونو څخه اوسم
خبر شوے په دنيا له سحر نۀ يم

دا وفا ما اسمٰعيل له ربّ راکړې
ځکه داسې له خندا نه خبر نۀ يم





له قديم څخه ياري اوکړه چې بر شې
داسې کار مۀ کانده چرې چې پرې لړ شې

له حسده په دُنيا کښې خول پول کړې
چې له دۀ نه به نۀ کله مَه ور شې


دَ بيلتون نوبت غږول کورے زړ زده کړه
په دا چاره به نۀ يار دَ منوّر شې

دَ کوشش په اَس سوار شه تيز زغل کانده
خبردار به په دې زغل له بحر وير شې

له مرګي پورې کوشش چرې پرېنږدې
بيا به ناله شاهي دَر کاندي چې ور شې

دَ زړګي کوړ دې دَ مينې له اور ړک کړه
ډير به خوبښ شې دَ اشنا چې ډيرکسکرشې
اسمٰعيله په دې لاره تيغ روان يې
ملاقي به ته دَ صاحبِ کوثرشې





په مکتب دَ عاشقۍ کښې سبقي شه
کمالي نه کمال زده کړه کمالي شه
دَ سينې پټۍ کښې ګر دَ ګلو او کړه
خپلې وينې وړکوه داسې مالي شه
دَ آهونو لوئ قطار ترآسمان جوړ کړه
ګنده بوټو نه په داچاره خالي شه
دَ ياد و نو نمر پرې هر وخت نيزه وار کړه
خيرات ے له ئې له پاک ربه سوالي شه
دا ګل زار بيا خپل ګل رخ جانان ته پيش کړه
همه عمر ته نوکر دَ دې لالي شه
دَ وفا په تخت دَ يار په څنګ کښې کيته
له جماله جمال واخله جمالي شه
اسمٰعيله په دُنيا چې څو ژوندے يې
هر ساعت په دلربا پسې خيالي شه



سره ګلان ترو تازه دګلستان دي
ډیر عالم ئې ځکه هروخت په ارمان دي
دارمان په نهرئې هروخت غوټې سوزې
دیادونو په دُنیا کښې سرګردان دي
هرساعت دحُب سوداکړي بل څه نه کړي
له حسده ځنې مدام مشت وګریوان دي
دزیب اورئې په زړګي باندې بلیږي
په څو واره په جانان باندې قربان دي
له آهونو به دوئې خلاص نه شي ترمرګه
په داچاره هر ساعت پوره روان دي
نفس شیطان ځنې ئې بدي ده زور وره
جهاد کاندي دوئې نامتو پهلوانان دي
اسمٰعیل وځنې ځکه یاري کاندم
ترې خبریم چې دپاک الله یاران دي



دزړه خونه مې ویرانه کړه هجران
ماسیراب کړلو په اوښکو بیابان
دسینې صحرا مې شوه کندې کپرې
دغم یُوم ترې لرې نه شولو یوآن

ما يؤ واري له دنيا نه هجرت کړے
بل هجرت ته انتظار کړمه ناتوان


دَ وفا سودا کړے کښې کټوړ شوم
خدائے مه کړه چې په زړه اوکړم تاوان

په جانان پسې له خپله ځانه ورک يم
رب راکړے ماله عشق دے عاليشان

دَ عشق چاره هرې چارې ته ده ګرانه
فرياد ونه ځکه کاندي عاشقان

اسمٰعيل له عشقه عشق يم خبر کړے
ځکه کاندمه مدام دَ عشق بيان





دَ عشق کار کښې کوړے چرې تعطيل نشته
په يوځائے کښې مې ثانې دَجيل نشته


دَ عشق لاره ناتمامه ده خبر شه
رسيده وړته دَ تيز جبرائيل نشته


بس مزل پرې هر ساعت لوئ عبادت دے
داسې بل يؤ عبادت دَ جليل نشته

په دا لاره عاشقان په زړه غلبيل شوه
او دړيده ئې دَ چشمانو دَ نيل نشته

دَ عقبئ په غم ککړ يار لره دړومې
چرې غم وړځنه بې له خليل نشته

ارمانو نه يې له مودونه زړه کښې ډير دي
د چاوس کښې ر دې تولو تفصيل نشته
د فراق تورو تيرو نه به خلاص نهٔ شي
چې خوبا څو د کډا اسمٰعيل نشته






عاشقان مدام دلبر پسې ژړيږي
د خپل يار په لوري دروي نه اودريږي
په آهونو يې مرے وي سوزيدلي
د يادونو بيابان کښې تلے اوسيږي
په ډير شوق د معشوق مدحې ويل کړي
په دې مدحوې مدام زړونه غوټيږي
د فراق له ناکردو سره يې ژوند وي
يو ساعت پرې په قلاره نهٔ تيريږي
د صنم صنم ندا د دوي په خلهٔ وي
د غم تميل ورته هر ساعت غريږي
تول ههوونه يې د بيلتون په تبرمات وي
يو ساعت يې هم زيبا نهٔ په هيريږي
اسمٰعيل هم د جانان په ارمان کړي
په سينه کښې يې د هجر اور بليږي





ستا په لوري مې زړه تلې له پخوا دے
ځکه نا پسې مدام دے په ژړا دے
تول کوګل مې ستا د مينې په اور سوځي
هم دا اور مالره هر وخت رهنما دے
د غوغا په بنار يه کښې دې لسونومه
ستا په مينه کښې مې چل زده د وفا دے
د حيرت د زولنو په تماشه يم
دا حيرت جانانه مالره زيبا دے
هر ساعت زه نور حيرت له رب غوارم
په دا غوښتنه رب لما نه ډير رضا دے
زه خو ستا د ښکلې مينې لائق نه يم
دا په ما باندې بس فضل د مولى دے
ستاله رويه دواړه کوڼه پيدا شوي
اسمٰعيل ځکه دا ستا د در ګدا دے



د عشق ډوب کښې د خوبا په لور روان يم
هم ګدا يم په دا چاره هم سلطان يم
زړه مې يار پسې يا دونو ښه نس نس که
له آهونو څخه خلاص نه شوم پريشان يم

دَ فرقت په بیابان کښې سفر کاندم
دَ زینت په نمر سوزیږمه ناتوان یم
چې مې کله دَ وفا عُهده ترلاس کړه
لۀ هغې راسې دَ وصل په ارمان یم
دَ دلدار دَ یارانې سند مې خسته
دَ عشق باب نه زۀ مدام ځکه ګویان یم
زۀ دَ عشق په پسرلي پسې ژړیږم
خبر شوے ډیر جوړ زۀ له خزان یم
دَ هجران سوکړې مې تن همه نچوړ کۀ
ارمانې ځکه دَ وصل دَ باران یم
محبّت راله سینه فراخه کړې
هر ساعت کښې له جانانه زۀ قربان یم
دَ اُلفت دولت مې ډیر دے جمع کړے
غریب نۀ یمه عالمه زۀ سلطان یم
اسمٰعیل په عاشقۍ کښې دیوانه شوم
ځکه خپلې ګوتې شمارمه حیران یم





زۀ به نۀ شمه له تا نه بې پروا
ستا دَ یاره زما زده دَ عشق ادا
ستا په مخ پسې مې سترګې دارې کاندي
خپلو اوخکو کښې زۀ ډوب یم له پخوا


دَ دیدن سوال دې کوُم دَ زړهٔ له بېخه
کړې قبول به مې دا سوال غنی مولیٰ

ستا دَ سترګو تورې مژګانې پۀ زړهٔ څخ دي
په دې یا دو ځکه اخلم هره ساه

په ګریوان کښې مې ورګ ځائے نشته دلبره
تار په تار کړۀ دَ هجران تورې بلا

دَ غمونو په حیواد کښې کډا کریم
ستا له رویه مې نصیب ده دا کډا

اسمٰعیل به ستا دَ مینې شراب غواړم
چې ژوندے یمه ترڅو په دې دُنیا



یادَ وه مدام دَ حسن لوئ بازار
په هیر نهٔ کړې تهٔ بې مثله حسن دار


همیشه پوچه وینا کړې بل څهٔ نهٔ کړې
ولې نهٔ ویرېږې تهٔ له کردګار

دَ دُنیا لالچ اخستے ئې کم عقله
له عقل نه ئې غافله شه هوښیار

دَ حسد په خرهٔ سورشوِ په زړا کوزشه
چې دې رب کړې دَ الفت په اس سوار

دَ اُلفت په اس بنهٔ تیز جانان له دروهه
رسیدلے دیر عالم دے په دالار

دَ جفا نام و نشان له ځانه ورک کړه
دَ وفا دَ باغیچې کړه ځـان مالیار
اسمٰعیل دَ وفا لار معلومه کړې
همیشه پرې ځکه تیز کاندې رفتار



اے غافله له غفلته رابیدار شـه
له دُنیا نه په عقلې پسې کنار شه
دَ نیکې کار لره هر وخت چټ پټې شه
بدکارونه همه رد کانده هوښیار شه
په وفا دَ جفا خونه کړه ویـرانه
اے غریبه په وفا باندِ مالدار شـه
په دُنیا کښې ځان له یؤ رهنما خوښ کړه
چې څهٔ وائي هغه کانده تابعدار شـه
دَ بیلتون په اور زړګے ځان له سټی کړه
دَ دیدن په ارمان هر وخت ناقرار شه
دَ زیبا نګار یادونه هر وخت کانده
دَ آهونو دَ لښکر سپه سـالار شـه
په تفصیل دې ورته اُووې که پوهیږې
اسمٰعیله له غزله نـور قـلار شـه

دیر مئین په عالیشان یم ځکه ژاړم
د سرولبو په ارمان یم ځکه ژاړم
تول زړګي مې د الفت چونګاړ وخوړ که
د حیرت په لار روان یم ځکه ژاړم
منهقې بیلتون له برمه یم پرې ایستې
انتظار کښې د جانان یم ځکه ژاړم
د دیدن پسې غواړم له خدایه
لکه یا نړه د خزان یم ځکه ژاړم
د یار مینې د غم اور ته وړ کڼدار کړم
ډیره شوې په نیران یم ځکه ژاړم
خوشحالي ئې رانه ترمړکه یا تې کړې
زه په داسې مینه ځوان یم ځکه ژاړم
اسمعیل د ګل اندام یار زدره کړم
په جانان پسې پریشان یم ځکه ژاړم

همیشه به ستا په لوري کړم سفر زه
بنه به ستړی کړم په تا پسې جګر زه
له مرګي پورې په چړې مقیم نه شم
ستاله دره بغیر نه لرم بل دره زه

دَ رَهزن ملا مې چوړ لټه ماته کړي
ستا له رویه دې روان یم برابر زړهٔ


ستا په لاره کښې لعلونه زهٔ ډېر مومم
دَ زړهٔ تاخ کښې ئې ایږدمه په هُنر زړهٔ

ستا دیدن ته ډېر لیوال یم له پخوانه
ځکه هر وخت یادومه ستا بشر زړهٔ

ستا بیلتون راځخه ډیره وفا کاندي
یو ساعت ئې له تانهٔ کړم مسرور زړهٔ

اسمٰعیل له دې دنیا نه لاس اخستې
ځکه وائې هېر به نهٔ کړمه دلبر زړهٔ





دَ جانان کوتلي مېنې دیوانه کړم
زهٔ دې ښکلې بلې شمعې پروانه کړم

دَ زړهٔ سرې دَ وفا په تووره غوڅ دے
دَ یار مینې زهٔ بندي په جیلخانه کړم

دَ یار مینې راله وینې کړلې اوچې
زهٔ به څو داسې دنیا کښې ټکانه کړم

همه تن مې دَ وفا په غشو لګي
همه عمر ئې دَ غشو نښانه کړم


دَ ساقي دَ جام ادا ما ښهٔ زده کړي
میخوارانو له ئې ځکه میخانه کړم

عاشقۍ دَ لادو بادو یم پرې ایستې
په دنیا کښې ئې ښهٔ لویه افسانه کړم

مامدام دَ عاشقۍ دولت غوښتلے
ذوالجلال ځکه زۀ پیښ په خزان کړم

اسمٰعیل به بې له عشقه سا وانخلم
دغې چارې زۀ دا هسې جانانه کړم





نهٔ زما ما لیاړې زۀ دې یم لکه بُلبل
ځکه مې تو دکړے په چغاړ دے چاپیرچل

ستا مدحې به وایمه چې څو پورې ژوندے یم
غلے به ترې ښنګ شمه چې اور دے په ما بل

ستا دَ باغیچې خوشبو اطرافو کښې خوره ده
ځکه دې خوشبو کړهٔ بورا ګان ځان پسې دَل

مینې دې په زړونو اوربل کړے دے دَ ډیرو
څو واړې ځان قربان کهٔ ستا دَ زلفو په هرول

ټول له غمه ډک کوځې دُنیا کښې ستا له عشقه
ټول کوته په خلهٔ دې ترې نهٔ هیر ځانو نهٔ خپل

څو مره پرې عاشق ئې دومره دوئې په تاکید نهٔ شی
شکلے دې منشور دے نهٔ پوهیږي مکمّل

تا څخه به پرې نږدم یارې زۀ اسمٰعیل ګله
کهٔ اومې ترې زنه پس له مرګه په مسلمل

تول ګریوان مې ستا په مینه تار په تار که
ځان مې تاله په غمونو بنه سنګار که

ستا د یادو په یوکو مې زړه بل کړے
له مرګي پورې مې خوښ ځان له دا کار که

د آهونو دشت زما په زمه شوے
مقرر راله آهونه کردګار که

چې له کله مې د زړګي په کور میلمه کړې
هغه وخت مې ځان له هر څه نه اوزګار که

همه عمر به هم ستا میلمستیا کاندم
ستاله رویه رب زما کوهر بسیار که

ستا په مینه شهنشاه شومه احسنه
په خو واره مې ځان تا پسې په دار که

اسمٰعیل په عشق کښې هر وخت ترقي کړم
ډیر عالم راته حیران غني غفار که



له رخسار ه دې زیبا نښته رخسار یل
پیدا نه دے ستا په شان ګله ما لیار بل

ستا یا دونه مې مدام مازغه راکښي
زړه به ځنګه بې له دې کاندمه کار بل

په سینه کښې مې دَمینې بازار جوړ دے
اے دلبره زۀ په څۀ کوم بازار بل


دَ بیلتون سکروټو تن زما سټې کۀ
اوبه نۀ ویمه دا رنګې انګار بل

په نصیب کښې مې سختې ده رب لیکلې
ما په شان ته له دُنیا نشته کنار بل

دَ مشکل هجران سوکونو بانډِ لګم
څنګ به اوګاندي زما غوندې ناتار بل

اسمٰعیل دَ عشق شیبرې یم نیولے
اوبه نۀ ویم دَ ځان پښان بیمار بل

——— ※ ———



له الله نه هر ساعت غواړم جانان زۀ
له مودو راسې کومه هاځے سوران زۀ


دَ سوچونو لوئې بحیر مې سر کښې ځائے دے
دَ جانان مخ پسې ډیر شوم سرګردان زۀ

چې ترڅو مې خپل دلبر لیدلے نۀ وي
له هغې پورې به کاندمه خفګان زۀ

په عالم کښې مې ثاني دَ خوبا نشته
څنګ به هیر کړم داسې ښکلے عالیشان زۀ

دَ چشمانو وړخ مې نۀ ترے کیږي
چې ترڅو یم په دنیا کښې بندیوان زۀ

له عالم نه پسې پته ژړا کاندم
همه عمر به اوچ نهٔ کړمه ګریوان زهٔ
اسمٰعیل دَعاشقۍ تاج په سر کړے
ځکه یې بولمه په خاوړو کښې سلطان زهٔ




همه زړهٔ مې سوړے کړے دلربا دے
روان کړے مې له سترګو نه دریا دے
یؤ ساعت مې په آرام چرې تیر نهٔ کهٔ
ګیرچاپیره رانه تاؤ فوځ دَغوغا دے
دَیادونو وړدې چرې پریږے نهٔ دے
زړهٔ مې هر وخت په صنم صنم ګویا دے
له کریمه زهٔ دَعشق ګوهر نورغواړم
کریم ډیر یه دې غوښتو له ما رضا دے
په سینه کښې مې دَعشق فانوس بلیږي
زما زړهٔ مدام ژوندے په دې رڼا دے
دَعدن په لوړې هر ساعت پروان کړم
لرې پاتې دا جهان ځکه له ما دے
اسمٰعیل یه له عدنه بیا رانهٔ شم
همیشه یه پکښې اوسه زیبا دے

اوبه نهٔ اوځم دَ اوخکو له دریابه
اوزګار نهٔ یم دَ غمونو له ربابه
دَ فراق ګلې په ما بارانِ راووري
تول يې شين کړم ديدن غواړم له جنابه
هرساعت زهٔ دَعشق باب حفظ کومه
ډير سبق مې دے ياد کړے له دې بابه
دَ سيني تختې مې ورو په ورو ډکيږي
څو به يې ليکي خبر نهٔ يم له حسابه
دَ يار مينې په ځلکو کړمه بې دريغه
ځکه داسې شوم عاجز زهٔ له جوابه
نقاب پوش مې ډير ياديږي له پخوانه
چې به کله مخ څرګند کړي له نقابه
اسمٰعيل دَ ساقي جام نوش کول غواړم
خبر ځکه چرې نهٔ شوم له شيابه

—— ✻ ——


همه عمر به زهٔ چرې جفا نهٔ کړم
بې له مينې به زهٔ بله سودا نهٔ کړم
زما سترګو نه هر وخت باران ووري
چې مې يار ليدلے نهٔ وي خندا نهٔ کړم

دَ دیدن ورځ به په ما باندِ اختر وي
دَ بیلتون روژه به چرې قضا نهٔ کړم
دَ دیدن دَ اختر ورځ به همیشه وي
بیا به ځان له ځپله یاره جُدا نهٔ کړم
جدائے راله زړګے دے ډیر خوَړے
هیر به چرې زهٔ زیبا دلربا نهٔ کړم
شهنشاه په بنګلي مخ باندِ مئین کړم
ځکه زهٔ دَ بادشاهانو پروانهٔ کړم
اسمٰعیل کچکول کښې هروخت عشق تولومه
خلقه واوړے زهٔ به ولې ژړا نهٔ کړم



یوُ ساعت به مینه نهٔ کړمه کنړمه
هرساعت به ئې کومه بنهٔ محکمه
په زړګي مې دَ یار مدحې دي لیکلې
صُبح وشام ئې زوتومه له ډیرغمه
ترانو راله زړګے دے تول داغلے
دَ یار مینه ده له هرڅهٔ مقدّمه
دَغم سیند کښې له پخوا یم لاهوشوے
وابه نهٔ اوړمه چرې له صنمه
دَ حیرت غزګومې تن همه زخمي کهٔ
خلاص به نهٔ شمه ترمرګه له ماتمه

دَ زبیرکو سیمه کښې اوسم قرار نهٔ شوم
زبیرګي کاندمه ډیر پټ زهٔ له عالمه
اسمٰعیل دَ مسیحا په انتظار یم
زهٔ به ئې زار شم په څو وار له هرقدمه



ستا په لوری مې روان دي اسویلې
اسویلو کړمه جانانه کمالي
دَ کمال په اس سوار تا له درځمه
له جفا نه یمه تا پسې خالي
دَ خزان بادیم په تا پسې اوچ کړے
همیشه یم په ارمان دَ پسرلي
مشکلات راته جوړ کړي اوږد هجران دي
دَ راغلې په ما ځکه سیادلي[1]
دَ غمونو دَ دریاب په تل کښې ګرځم
ځکه لانهٔ ړه له مانه ملالي
چې مې اوبوختې په منډه به دراوځم
ما به بوځې خپل ګلشن لره مالي
اسمٰعیل به همه عمر ستا مالي یم
خدائے ځکه کړم مدام دا سې سوالي

---

[1] سیادلي : تیارهٔ

په ښوارمې له جانانه ځان قربان که
په سرو وینو مې رنګین دَعشق میدان که

په غمونو کښې شپه ورځ داسې مصروف یم
چې مې وروست په تړمو اوښکو ځپل ګریوان که

دَ صبر په انتظار دَعشق داستان شوم
ډیر عالم مې ځکه ځان ته ډیر حیران که

په آهونو مې فضا کړه تکه توره
ډیر آهونه مې سینه کښې بندیوان که

له سینې نه مې مدام بریخونه خیژي
له چشمانو مې دریا ځکه روان که

بیلتانه رابانډې ژوند همه اور سکور که
له مرګې پورې ئې جدا رانه جانان که


اسمٰعیل دَ جانان سترګو دیوانه که
دې عهدې پسې خدائے ډیر په ارمان که

خوښ مې ډیر له حده تیر عالي جناب دے
همه تن مې پدې اور بانډې کباب دے

له سینې نه مې هجران خوشحالي وړې
ځکه سُر پکښې له غمه ډک رباب دے

دَ غمونو ترانې مې ډيرې زده دي
په زړګي ئې ژاله ليکلې لوئ کتاب دے
ټول کوګل مې دَ يا دونو مدرسه ده
شپه او ورځ مې زړګے ځان ته په خطاب دے
تيرې چغې کړې مدام دَ عشق له موجه
نيزه وار ورته مدام دَ عشق آفتاب دے
په آفتاب دَ عشق مې تن همه سيزلے
نور به هم پرې داسې سيزمه ثواب دے
اسمٰعيل پدې ثواب بانډِ نواب يم
تا سو اوګورے څوک ما غوندې نواب دے






په دُنيا کښې ته دَ غم ترانې زده کړه
له غمونو څخه ځان ښهٔ اُموخته کړه
ټول زړګے دې په حسد دے خاړه کړے
دَ توبې په اوبو ئې زر زر پاکيزه کړه
دَ الفت چونه پرې اومږه چې سپين شي
همه عمر دې جانان پکښې ميلمه کړه
دَ غفلت په خوب اوده شابه راپاسه
دَ وفا وسله مدام له ځان څخه کړه
دَ جفا نام ونشان پرې مدام اوله
له سينې څخه جفا کوړے چپه کړه

جفا اوله چې يار تا اولې په غشو
دَ يار سترګو نه زړګے ځپل نيشانه کړه

اسمٰعيل مدام دَ غشو نيشانه يم
ځان زما پشان دُنيا کښې غمزده کړه



همه عمر به تيرومه په وفا کښې
لاهو شوے يم دَ مينې په دريا کښې

زړه دَ عشق جلاد څو واره يم وژلے
تو مرګې يه داسې مرمه په دنيا کښې


دَ يا دونو په پوکو ځان دمومه
ګرانه چاره ده راپيښه په صحرا کښې

عندليب زما ژړا نه حيران شوے
يوُ ساعت مې چرې تير نهٔ کهٔ خندا کښې

دَ دلدار تصوير مې زړهٔ باندِ جوړ شوے
ورنه ګورم هر ساعت په حيرانتيا کښې


دَ ديدن دَ يار ه ئې هر وخت ښکلومه
دا ادا زده کوم دَ هجر په قلا کښې

اسمٰعيل دَ هجر فن داسې ماهر کړم
چې مدام رضا لټوم دَ يار رضا کښې



زما زړۀ خو قبضه کړے محبّت دے
سرئې چودے په کنزار دَ معرفت دے
دَ يادونو په بنے ئې بلوګمه
هميشه به داسې کوم دا غنيمت دے
بې له يادو پها وخت کله تيريږي
ډير مټين يمه په يار دا حقيقت دے
ککوړے کښې مې دَ فکر تنال جوړ شوے
رب راکړے دَ فکرونو سلطنت دے
دَ غمونو تاج مې هر ساعت په سروی
په آهونو ئې جوړ شوے ډير زينت دے
دَ آهونو په لوګو مې تک تور کړے
يار مې دې ته زينت والئ دائې صفت دے
اسمٰعيل به همه عمر ګدا کاندم
ربّ راکړے دې ګدا کښې ډير دولت دے





زما زړۀ دَ فريادونو خزانه ده
راختلې ئې په سر غنته دانه ده
له ډير دړده مسيحا مسيحا وائې
دۀ زده کړې بس هم دايؤ ترانه ده


انتظار ئې رنګ شين کړے له پخوا دے
اداځکه دَ دَه داسې جانانــــه دَه

په جانان پسې سينې نه راوستــلے
ترې نه پاتې په سينه کښې خيلخـانه دَه

هميشه دَ بيلتانهٔ تبې نيوـــــلے
ترې نه لرې دَ ديدن شِفا خـانـــه دَه

دَ مرګي په ورځ به دے شِفا بيا مـومي
ترهغې ئې په نصيب دَ رنځ خانه دَه

اسمٰعيل له ډيره فکره حق دق شوے
نصيب شوې ئې دُنيـا کښې يارانه دَه



زَه دَ حُسن په دُنيا کښې تل اوسيږم
ځکه داسې په لمبو باندِ سوزيږم

دَ حکمت آئين نه ګورم ډيرحيران يم
ورو په ورو په داسې نور هم حيرانيږم

دَ يار مينې مې دنيا نه زړهٔ موړ کړے
په دې مينه باندِ ځکه نهٔ مـړيږم

هر ساعت دَ فريا دونو بيابان کښې
په طبيب پسې له ننده تيرژړيږم

دَ سينې ميره مې تندې ده اخستې
دَ ديدن په بارانهٔ پسې اوچيږم

هر ساعت مې په یادونو زړه داغې شي
په اشنا پسې په دې رنګ له کړیږم

له آهونو نه مې څتر په سر جوړ دے
له عالمه په زړهٔ ننه پټ پخیږم


د وفا په ناتمامه باغستان کښې
په څپل یار پسې زهٔ شپه او ورځ ګرځیږم

دلربا مې هر ساعت زړهٔ نه کړیادے
ځکه نور نور له دنیا کناره کیږم

د فراق د زولنو په څهٔ اووایم
بس دا وایم چې مدام پرې ډیر خوږیږم

دلربا راته د زړهٔ آئین کښې ښکاري
اسمٰعیل ترې صبح و شام ځکه زاریږم

—※—



غُس دې په خنجر یم اے دلبره بنهٔ مُحکم
سنا په بیلتانهٔ مې شهٔ زړګے قلم قلم


سنا په محبّت مې په زړګي دے اور بل شوے
ځکه هر ساعت کاندمه زهٔ داسې ماتم

حلق مې په لوګو باندِ تک تور دے دِل آرامه
کړمه زهٔ آهونه یاره تا پسې هر دم

زهٔ د فریادونو بیابان کښې ډیره شوے یم
بې لتا په وروغ نهٔ شمه خورم پدې قسم

زه دې د یادونو په چابک وهلې کېږمه
ځکه ستا په لورې زر زر اخلم هر قدم
ښه شوه چې کریم ج دنیا کښې راکړه ماله مینه ستا
ستا له رویه کړے کریم ج ما باندِ کرم
زه به اسمٰعیل ته راسې اووایمه خپله بیا
چې پرېښې دې دا مینه که پتاوی هرڅو غم





په دُنیا کښې ځان له غم د بوستان اوکړه
هسې مه کرځه عمل په قرآن اوکړه
د یاداشت خانه دې پاکه کړه له خیرې
ته یادونه په هر دم د سلطان اوکړه
خبر نه ئې چې ته څه له ئې پیدا شوے
لنډه دا پېژنګلې د سبحان ج اوکړه
په دُنیا کښې ژوند عبث کوے تیر ته کړې
د خوبدو زړه تو زړه پهچان اوکړه
محبّت له کردِکاره څخه غواړه
همیشه ئې پیروی د جانان اوکړه
په ماليار پسې بُلبل شه مدام ژاړه
له چشمانو اوربد باران په ګریوان اوکړه
اسمٰعیله نرمرګې په ژړا کاندې
خامخا مې ته عمل په بیان اوکړه

زه د اوخکو سمندر کښې تما شګیر یم
لا هو شوے له پخوا پدې بحیر یم
په ژړا مې زړه له هر آفته بچ دے
ژړیدلے ځکه یار پسې کثیر یم
دا پیښه به چرې پرینږدم دُنیا کښې
که هر څو مره زه پدې باندې زهیر یم
خندیده مې دې ژړا لما هیر کړې
پدې چاره باندې زه روښن ضمیر یم
په سبق د انتظار زړې زړې شوم
له پخوا راسې شاګرد د بیکلې پیر یم
په دیدن پسې مې تن په لمبو سوځي
اخته شوے له مودو راسې په ویر یم
اسمعیل لکه غلبیل سینه لـــرمه
صبح وشام زه نښانه د هر یؤ تیر یم



په نصیب مې د غمونو انبار شته
په زړګي کښې مې یادونه د یار شته
د عشق کار لره زه هر ساعت تیار یم
عندلیب یم پما حق د ماليار شته

حق ئې زړه پوره کوَلے چرې نۀ شـم
خو قانون کښې ئې ما دَ پاره دَا کار شته


دَ الفت بسار مې سینه کښې دے جوړ شوے
دَ خوبانو پکښې ګرم بازار شته

زړه پخپله میخانه یم ځان ته ګورم
هم مې هر وخت میخانې ته رفتار شته

زړه له دغې میخانې ته میخانه شوم
په سینه کښې مې کتاب دَ اسرار شته

اسمٰعیل په جام دَ میو څنګ تېر وم
چې ساقي څخه مې داسې اقرار شته





عجیبه مې دَ جانان بنکلي چشمان دي
ځکه څخ مې په زړګي تیرۀ مژګان دي

مدرسه دَ عشق په چرې شاړه نۀ کړم
مدرسۀ کښې مې کړلي سرۀ ګلان دي


فلسفه دَ عشق مې هر ساعت سبق دے
ځکه داسې ډېر عالم راته حیران دي

معلّم راله زړګي ته سبق بسائي
ادا ګانې ئې زده کړې دَ جانان دي

په دنیا کښې چې دَ عشق سبق څوک وائي
په دا دهر دوئي کنار له دې جهان دي


په مقراض يې دَ الفت زړونه غُس شوي
په جامه دَ ګدايئ کښې بادشاهان دي
چې ګذارما اسمٰعيل په زړګي اوخوړ
پس له هغې مې رکونه تول ګويان دي





سرومال مې هر ساعت دَ حُسن دار دي
ورته ايږې مې دَ مينې په انکار دي
همه عمر مې غوغا زړهٔ جوړه کړې
دَ يارے بنهٔ ډير داغونه پرې قطار دي
ډير غمونه مې سينه کښې دي پټ شوي
هر ساعت يې راله کړي تول خون کار دي
په يادونو مې سينه ننه پخه ده
اؤ آهونه مې هم يار پسې بسيار دي
پک کنډ ول دَ ميوغوارم چې پرې ترشم
سوزولې مې هډونه دَ عشق نار دي
دَ هجران له طوفانونو به په امان شم
دا خبرې ماته کړې خپل ربيار دي
اسمٰعيل يواځې دا انتظار نهٔ کړم
ډير عالم مې دَ اشنا په انتظار دي





په نصیب مې ډېر یادونه دَ خپل یار دي
ماموندلي له ښخوا په سر دَ دار دي

په ژړکي مې لاکړه کاکړه راختلي
فریادونه مې مدام ځکه بسیار دي

له حاکم ځخه نوکر یم بیابان کښې
خوږ ریکونه مې پراته ډېر په رخسار دي


دَ دلبر مینې له حده تیر ناتوان کړم
ټول هډونه مې مودوته ناقرار دي

دَ خزان باد مې کړیوان ټول تار په تار کړه
تنړے ئې ټولې خکته مزکې ته کزار دي

دَ یار درته زړه په لوُسه سینه دروم
پرې رضا یم راسې مالره پکار دي

دَ یار مینې اسمٰعیل له غمه ډک کړو
ځکه ئې هر ساعت آهونه په رفتار دي






تل یادونه به زړه ستا دَ بشر کاندم
ستا په لورې به نرمرکه سفر کاندم


ستا یارے مې په زړه اور دے لګولے
فریادونه ځکه شام وسحر کاندم

یوُ ساعت مې چرې تیر نۀ کۀ بې غمه
همه عمر زۀ فکرونه جوړ کاندم
دَ خفکان په بیابان کښې شپه ورځ ګرځم
خوشحالے لره زۀ داسې هنر کاندم
مدام ځان څخه دَ اوخکو لښکر بیاسیم
نندارې مدام دَ زړۀ دَ پرهر کاندم
دَ رضا له تخته چرې نۀ کوزیږم
همیشه په پیروی دَ رهبر کاندم
ډیر شاکریم چې پیدا زما رهبر دے
اسمٰعیل مینه دَ دۀ په نظر کاندم




ستا په مینه کښې له ځانه خبر نۀ یم
بې خودی ده له جهانه خبر نۀ یم
ستا دَ مینې فلسفې مې ماغزۀ شنۀ کړۀ
نوره شپه ده له صبا نه خبر نۀ یم
همه عمر مې هجران ملګرے شوے
زۀ تراوسه له خندا نه خبر نۀ یم
دَ جورې مینې اور را بانډ بل دے
دومره ډیر دے له میزانه خبر نۀ یم
په سینه کښې مې هر کوټ ته سانړ غږیږي
پدې وجه له جفا نه خبر نۀ یم

دَ الفت په کوَرنے کښې یم لوئ شوے
دَحسد تورې بلا نه خبر نهٔ یم
اسمٰعیل دَ زړهٔ رنځور یمه ښخوا نه
شفا غوارم له شِفا نه خبر نهٔ یم



دَیا دونو سمندر کښې دَ زیبا په انتظار یم
ډیر زړهٔ چودے پښې کړے مَین شوے په قرار یم
نهٔ ژوندے یمه نهٔ مړمه دا په ما باندِ څهٔ شوی
نور خبر نهٔ یم له هیڅه یؤله مینې خبردار یم
دَ وفا په اور سوځیږم له مودو راسې سینه کښې
داسې نور اور له ربّ غوارم یوه کړے سِنهٔ ربار یم
دَ کمال په آئینه کښې راته ځان غمژن لیدے شي
په جمال پسې کړیږم له مودو نه خوارو زار یم
دَ یار مینه همه عمر حیرانتیا ده بل څهٔ نهٔ دي
دَحیرت په بیابان کښې دَحیرت په آس سوار یم
حیرانتیا زما په سرکښې هر ساعت ماغزهٔ راکني
ځکه هر ساعت دُنیا کښې زهٔ ولاړ په سرِ دار یم
دَ یار مینې اسمٰعیل دَبیلتانهٔ کړمه ملګرے
ترموګې به ئې ملګرتیا کړم پرې به ئې نږدم وفادار یم



په سینه کښې مې دَمینې انګار شته
زما زړۀ بانديِ تصویر دَ نګار شته

زړۀ مې هر وخت دَ دلدار په مدحو مست دے
په نصیب کښې مې یارى د دلدار شته

له یارے څخه به لاس چرې وانۀ خلم
په دې چاره کښې دولت دَاسرار شته


همه زړۀ مې له اسرار څخه ډک دے
ځکه مالره غمونه بسیار شته

دَغمونو په ځنګل کښې تل اوسېږم
زما مخ بانديِ دَ اوښکو قطار شته

دا قطار به مې په مخ هر وخت روان وي
څنګ به ئې اوډوم چې دَهجر تاتار شته

اسمٰعیل به له هجرانه فلاح مومم
ما دَ یاره بنۀ خوشبو لاله زار شته






همه عمر به کومه زۀ ارمان
داسې کار راته خوړلے دے یزدان

په دیدن به مې همه هډونه سپک شي
ترهغې به پرې بوج پروت وي دَهجران

په جانان پسې مې داسې اوښکې ورېږي
لکه څنګ چې پشکال کښې وري باران
په سینه کښې مې دَ غم سیند غورځنګ کاندي
خپله زړهٔ یمه دې غم ته ډېر حیران
هر ساعت راته یار مخکښې مخکښې کېږي
هیر به نهٔ کړمه ترمرګه غالیشان
ډېر عالم ئې په دیدن پسې بینا شوهٔ
خپل جانان له وړایه وینې هر زمان
اسمٰعیل دَ یار دَ مینې لوئې ثبوت یم
کهٔ پوهیږې څوک زما پدې بیان






دَ فکرونو په کوڅو کښې ګرځنده یم
زهٔ دَ یار دَ تیرو غشو اموخته یم
په زړګي مې دي تبسپابې راختلې
مسیحا پسې مدام ډېر غمږنده یم
ما اوٓ یار مې له پخوا سمجوته کړې
چې به یار پسې خفه زهٔ همیشه یم
دَ تسکین تون به لما چرې هیر نهٔ شي
هم په دغه لوړ روان ډېر عجیبه یم
دَ سینې حجره مې ډکه ده له رنځه
ورو غو خلقو لره لویه تماشه یم

ډېر يادونه دي يما ميلمانهٔ شوي
همه عمر به دَدې تونوکوږ به يم
اسمٰعيل دَ فرياد ونو چم کښې اوسم
هسې ښکارمه ژوندے خوزهٔ مرده يم





ولې دې الفت بدې شي اے ډيره نادانه
پرېږده دَ حسد کار ونه پاک لاړ شه دُنيا نه
زړهٔ پوره دې خيرې تختې څکه ليدهٔ نهٔ کوې
څو پوړې به ځکړنې داسې بيله له جانانه
زړهٔ دې دَ توبې په اوبو پرې اينځه په بيړه
ولې خبر نهٔ شوې تهٔ تراوسه له وفانه
مينه دَ خوبانو چې تهٔ نهٔ کوې نو ځهٔ کوې
حيران يمه چې ځهٔ غواړې تهٔ شپه ورځ له جفانه
مينې له پيدا ئې نوله مينې ولې تختې بتهٔ
شابه زړه را اوګرځه چې بيا تهٔ ئې پښيمانه
لاړې نه دَ مينې بنهٔ په زوړ زير کاتهٔ اوکړهٔ
چرې هم اونهٔ دړيږې پرې ځه ترعاليشانه
لاړ دَ عاليشان دړنه ځکه ما دړ او خوله
روان يم پدالاړه اسمٰعيل ډيرله پخوانه




اے عالمه دَیار مینې حق حیران کړم
دَ غمونو زولتو کښې یې بندیوان کړم
دَ یارونو تاخانه کښې تل اوسیږم
ځکه هر ساعت خیرې دَ هجران کړم
دَ زړهٔ کور مې دَ هجران اور سوزوے
ځکه شپه ورځ زهٔ آهونو سرګردان کړم
لاس دَ مینې مې ورکړے دے جانان له
همه عمر به رضا زهٔ دَ جانان کړم
دَ رضا چارې سینه ماله رنړا کړه
دې رنړا زهٔ دَ جانان په لور روان کړم
همیشه به په دې لار باندِ روان یم
همیشه به دلربا پسې ارمان کړم
دَ مرګي په ورځ به زهٔ ملاقې کیږم
اسمٰعیل ځکه مدام دَ یار بیان کړم




په ژړنګي مې دَ یار مینې اثر کړے
پوخ ګزار پرې هجران ځکه په سر کړے
دَ طبیب په لور روان یم فریاد کاندم
دیر رنځور یم بنهٔ مې ځان ته نظر کړے

دَ یادونو امتحان لیا نه اخلي
ممتحن پیا دَ میني منتر کړے
دَ وفا په کړزمې هر ساعت وهل دي
دَ آشنا په لورې ځکه سفر کړے
ترمړګي به دا سفر دغسې کاندم
دې خبرې نه مې فکر جوړ کړے
دَ سرور دَ لیدو هروخت ارماني یم
له پښتوانه مې طلب دَ سرور کړے
اسمٰعیل دَ سرور میني ډیر خالسته کړم
رنج پیا پاندې دا بنکلي هنر کړے





دَ دلبر دَعشق دریاب کښې سیلاني یم
لاهو شوے پکښې زۀ ډیر پخواني یم
ملغلرې پکښې موسم دَ یار دره
په دې کارکښې زۀ خدے کو مړني یم
سرومال مې له خپل یاره تخه زار کړۀ
زۀ په یار پاندې تول عمر تالاني یم
بې خودي مې له ازله رسیدلي
ناخبره دَ یار عشق کښې له ځواني یم
اسمٰعیل به دَ یار در نه ضرور لاړشم
زۀ خپل یار له پردے نۀ یم کوړني یم



دَ یار مینې زۀ خبر له بحر و بر کړم
څکه هر څۀ نه زۀ ډیر دقیق نظر کړم

دَ وفا په رنګ رنګین یم سرتاپایه
ځان به داسې یار له نور هم برابر کړم

دا سنګار راته مدام ربیار راښائي
دې سنګار زۀ همه عمر در په در کړم


کۀ هر څو مې کړوي تیښته ترې نۀ کړم
زۀ خو داسې لوئې ماهر دَعشق هنر کړم

دَ الفت په لاره ځم بې څوکه سنۀ یم
خپل ربیار راځنه دروميي زۀ يې کسکو کړم

دَ الفت په اور مې سېزې بل څۀ نۀ کړې
ارمان څکه زۀ دَ صاحبِ کوثر کړم

اسمٰعیل دَ یار په مینه دېوانه یم
زۀ به نور هم په قلم عالم خبر کړم





راپه غاړه دَ یاری دَ خوږ اشنا
ربۀ مې مل دے پدا لاره دَ وفا

په سینه کښې مې ډیر رش دے دَ یادونو
زۀ به څنګ له دوئي نه خوب کړم په دُنیا


دَ دیدن دَ یارانهٔ ډیر ارماني یم
چې به کله دا یاران اوشي په ما

فریادونه مې ملګرې دي بیل نهٔ یم
کړي به ما څخه ترمرګه ملګرتیا

دَ زړهٔ سر مې دَ هجران په پلک چودے
زهٔ به ولې صبح وشام نهٔ کړم ژړا

په وطن کښې مینې زهٔ جلا وطن کړم
دَ یار دړته مدام دړومم له پخوا

اسمٰعیل دَ جانان مینې مړنے کړم
ځکه هر ساعت په مینه یم کویا



په رُخسار مې ترې اوخکې رابهیږي
دَ دلبر په لوړي دړومي نهٔ اودریږي

دا ژړا زما په برخه رسیدلې
تول ګریوان مې مدام لوند وي نهٔ اوچیږي


دَ عشق باب له خپل استاده څخه وایم
په ورو ورو مې زړګے ځکه رانړیږي

په دلبرېښې په منړه منړه کړځم
دَ عشق بوج را باندِ هر ساعت پریږي

محبّت راله دَ نن ویني کړې اوچې
خوشحالي رانه مدام بیرته اوسیږي


په زړګي مې دَ غمونو هجوم جوړ دے
ځکه هر ساعت فرياد کاندي وئيږي
په ګوګل کښې مې آهونو کوړ جوړ کړے
وار په وار دَ سمآء لور ته رُخصتيږي
دَ عشق تېر مې کړونج دَ زړګي مات کۀ
صبح وشام ځکه زيبا پسې ژړيږي
دَ يار مينې له دُنيا نه زۀ خارج کړم
بيله اوسم سرې لمبې پرې بليږي
دَ عشق کار به اسمٰعيل ترمرګه کاندي
له شغې پوړې به يار پسې کړيږي






دَ هجران چپو مې زړۀ دے ډير وهلے
دَ ارمان دُنيا کښې اوسې سوزيدلے
مودة اوشوه چې سينه مې غلبيل شوې
له هر ځايه ئې دَ فراق غشے وتلے
انتظار دَ مسيحا مې تن سُور اور کۀ
هائے افسوس دے چې يو وار ئې وے وژلے
دَ اُلفت ناسور کنار کړم له دُنيا نه
دَ فرقت سيلاب زۀ ډير يمه زپلے
دَ وفا دَ ګوند غلام زۀ هسې نۀ يم
خپل اشنا په تورو زلفو يم تړلے

دَ مژګانو غشي ئ هر وخت پما ووري
په دې غشوې زما زړهٔ دے بنړوے
اسمٰعيل دَغشو ډک زړهٔ کړځومه
دا انعام مې خلقه ډير غوره ګنړے



زړهٔ مې هر وخت دَهجران په ننداره دے
په دې چاره باندِ هر ساعت ګره دے
کوټه زړونه په الفت بنهٔ کره کيږي
زهٔ يم دلته زړهٔ مې هلته يار سره دے
له فرياد څخه مې ژوند دے بل څهٔ نهٔ کړم
هر اندام مې په ټوکا دَ غم کوتره دے
په خائست کښې مې کمے دَخوبا نشته
دَخوبا خائست مې بنهٔ په تول پوره دے
يؤ ساعت مې زړهٔ دمه چرې اونهٔ کړه
هر ساعت په دلربا پسې پاره دے
خپل واکې ئ له مودو راسې پريخلي
عادت شوے دَ ديار په اشاره دے
اسمٰعيل په زړهٔ ته خود هر وخت حيران يم
خپل دلبر ته له مودو په يؤ ناره دے

تن مې وریت شولو دَعشق په نمر خدایه
دخول غواړمه دَ یار په دَر خدایه
اے کریمه کرم اوکړه کَرَم غواړم
رانما کړه راته زر دلبر خدایه
له میشاقه راپه دیخوا په ژړا یم
دَ یار دَ لره مې لوئ کړه پَر خدایه
له مودو راسې دَ یار په نور پرواز کړم
حیران کړے یمه دې هُنر خدایه
دَ دنیا له خلقو ډیر یم ورا یه شوے
تالرمه یۀ سایه په سر خدایه
تمنّا دَ یار دَ وَصل مدام کاندم
تۀ آسان کړې راته دا سفر خدایه
اسمٰعیل کۀ خپل جانان یۀ وارې اولیده
سوے زړۀ به ئې په لید وشي تر خدایه



سید محمد اسمعیل بابا